# ګوانتانامو او پاېلې يې

## امريکايي بند او د پلټنو چارې
## او په پخوانيو قېديانو يې اغېز

لاريل اي. فليچر
ايرک سټوور

**سره د**

سټيفن پال سمته
اليګزا کونيګ
زلېخه عزيز
اليکسيس کيلي
سارا سټاويټيګ
نوبوکو ميزاګوچي

نومبر ۲۰۰۸ع

**د بشري حقوقو مرکز**
**د کاليفورنيا پوهنتون، برکلی**
او
د نړيوالو بشري حقوقو قانوني کتنځی
**د کاليفورنيا پوهنتون، برکلی، د قانون ښوونځی**

په شراکت د
**د ايني حقوقو مرکز**

ايي ايس بي اين # [دننه کېږئ]، د بشري حقوقو مرکز او د نړيوالو بشري حقوقو قانوني کتنځی،
د کاليفورنيا پوهنتون، برکلی،
د سرپاڼي انځور
کريډټ
ډيزاين

## د بشري حقوقو مرکز، د کاليفورنيا پوهنتون، برکلی

د بشري حقوقو مرکز په گرده نړۍ کې بشري حقوقو او نړيوال انصاف ته وده ورکوي او د بشري حقوقو د نوي نسل د محققينو او مدافعينو روزنه کوي. مونږ يقين لرو چې د تحمل وړ امن او پرمختگ يواځې د دې کوښښونو په لاره راتلی شي چې د بشري

حقوقو د سرغړاوي مخه ونيول شي او لاملين يې پېژندل شي. موږ د بشري حقوقو او نړيوالو بشري حقوقو د پام وړ سرغړاوی د تحقيق او پلټنې د عملي طريقو په استعمالولو سره افشاء کوو. موږ په خپلو څېړنو او راپورونو کې دولتونو او نړيوالو سازمانونو ته د مشخصو پاليسي اقداماتو سپارښتنه کوو څو د جګړو او سياسي او ټولنيز لاندي باندي پر مهال د کمزورو خلکو تحفظ وکړای شي.

## د نړيوالو بشري حقوقو قانوني کتنځی، د کاليفورنيا پوهنتون، برکلی، د قانون ښوونځی

د نړيوالو بشري حقوقو قانوني کتنځی (ايي ايچ ار ايل سي) د اشخصاو او هيله منو ټولنو لخوا د وکالت، څېړنې او پاليسيو ته د ودې ورکولو له لارې د انصاف د مبارزې د پرمختګ لپاره د بشري حقوقو نوښتګرې پروژې جوړوي او تطبيقوي. ايي ايچ ار ايل سي د زده کړې په زياتو شعبو مشتمل هغه موډل خپلوي چې د بشري حقوقو د راپورته کېدونکو مسئلو د نوښتګر حل لپاره د پوهنتون د فکري پانګې مرسته وکړي. ايي ايچ ار ايل سي په ګرده نړۍ کې د څېړونکو، پوهانو او د بشري حقوقو د کارکوونکو سره په شراکت باندې کار کوي. محصلين د ايي ايچ ار ايل سي د کار د ټولو پړاوونو مهمه برخه ده کوم چې د دې دور د بشري حقوقو د ټولو نه غټو او فوري مسئلو د حل کولو په لړ کې د معلوماتو د ترلاسه کولو او ستراتيژيو د جوړولو پر مهال بې مثاله تجربه لاس ته راوړي.

## د ايني حقوقو مرکز

د ايني حقوقو مرکز د هغو حقوقو د تحفظ او پرمختګ لپاره وقف دی چې د متحده ايالاتو په اساسي قانون او د بشري حقوقو په کايناتي اعلاميه کې ورکړای شوي دي. سي سي ار په ۱۹٦٦ کې د هغو ځارنوالانو لخوا جوړه شوې ده چې په جنوب کې يې د ملکي حقوقو د تحريکونو استازيتوب کاوه او هغه بې ګټې قانوني او تعليمي اداره ده چې تر شپږو کالو زيات يې د ګوانتانامو د قانوني جګړې مشري کړې ده. د نورو معلوماتو لپاره لطفاً وګورئ **www.ccrjustic.org**.

## د منځپانګې ترتيب

د مخففاتو ليست.................................. 6
سريزه........................................ 1
پايلې........................................ 9
سپارښتنې.................................... 18
لومړی باب: پېژندګلو: "نوی مثال".................. 23
"نوی مثال" جوړېږي............................ 25
ګوانتانامو ټاپو............................... 28
د پلټنو "پراخ" تخنيکونه...................... 34
د تشدد په اړه د حکومت تحقيقات................ 37
د قېديانو مطالعه............................ 39
پخوانيو قېديانو سره مرکې...................... 41
د مهمو معلوماتو ورکوونکو سره مرکې.............. 42
د رسنيو معلوماتغونډ........................... 43
د څېړنې محدوديتونه........................... 44
دويم باب: افغانستان: د اوږدۀ سفر پېل کېدل......... 48
کندهار او باګرام: رارسېدل...................... 53
ورځنی ژوند................................... 58
بربنډول...................................... 62
د قران سپکاوی................................ 63
جسماني تشدد................................. 65
پلټنه........................................ 70
ګوانتانامو ته وړل............................. 75
درېم باب: ګوانتانامو: د ماتې په لور وروړل.......... 81
د کمپ انتظام................................. 84
د قېدکوټو بلاکونه............................. 89
ټولنيزې اړيکې................................ 93
د قېديانو ترمنځ اړيکې......................... 93
د ګوانتانامو د پرسونل او قېديانو ترمنځ اړيکې... 95
مذهبي اعمال................................. 100
پلټنې....................................... 105
ظالمانه چلند................................. 112
په زنځيرونو کلک تړل او سخت حالتونه............ 113
چاپېريال بدلول................................ 114
جنسي سپکاوی................................. 118
د بهرنيو حکومتونو پلټنه او تهديد............... 122
څلورم باب: ګوانتانامو: وتل نشته................ 124
سزاوې....................................... 124

د نه خوړو اعتصابونه او نور شريک اقدامات....... 132
روغتيا ................................ 137
جسماني روغتيا...................... 138
ذهني روغتيا......................... 140
د چټي توب احساس.................. 144
ځانوژنې او د ځان وژلو کوښښونه ................ 146
د صحيح طريقه کار نشتوالی او مجهول قانوني حيثيت .. 149
خوشې کېدل ........................... 156
پنځم باب: واپسي: د گوانتانامو ورثه............. 162
قېد او محاکمه ........................ 164
له رسېدو سره سم خوشې کېدل.......... 167
بېرته اباديدل او د ټولنې لخوا قبلېدل.......... 167
فاميل ............................... 173
مرسته او معاش ...................... 176
روزگار .............................. 180
جسماني زيان او صدمه ............... 181
په مذهبي عقيده کې بدلونونه ........... 184
د احتساب په اړه عقيده ................. 185
د کفارې او اعادې اقدامات............ 187
د پخوانيو قېديانو نظر او سوچ ............ 190
کورنی حکومت.................... 191
متحده ايالات..................... 192
انعکاس ............................ 196
شپږم باب: پايلې او سپارښتنې ............ 200
پايلې ............................ 200
سپارښتنې.......................... 209
ليکوالان او منڼې................... 224

# د مخففاتو ليست

| | |
|---|---|
| ای ار بي | ايډمنسټرېټيو ريويو بورډ |
| بي ايس سي ټي | د چلند د علم او مشورو ډله |
| سي سي ار | د اييني حقوقو مرکز |
| سي ايي ای | د امريکا د استخباراتو مرکزي اداره |
| سي اي ټي ايف | د جنايي تحقيقاتو ځواك |
| سي ايس ار ټي | د وسله والو د حېثيت جاج اخيستونکی عدالت |
| ډي او ډي | د دفاع محکمه |
| ډي او جی | د انصاف محکمه |
| اېف بي ايي | د پلټنو مرکزي څانگه |
| اېف ايم | د جنگ نظامي نصاب |
| جي سي | د ژنيوا معاهدې |
| ايچ ار سي | د برکلی د کاليفورنيا پوهنتون د بشري حقوقو مرکز |
| ايي سي ار سي | د سره صليب نړيواله کمېټه |
| ايي ايچ ار ايل سي | د برکلی د کاليفورنيا د پوهنتون د قانون د ښوونځي د نړيوالو بشري حقوقو قانوني کتنځی |
| ايي ار ايف | د سمدستي غبرگون ځواك |
| جی ای جي | لوي څارنوال او قاضي |
| ايم پي | نظامي پوليس |
| اين ايل اي سي | نور دښمن جنگيالی ندی |
| او ايي جي | د انسپکټر جنرال دفتر |
| او ايل سي | د متحده ايالاتو د قانوني مشورو دفتر |
| پي او ډبليو | جنگي قېدي |
| پي ټي ايس ډي | له صدمې وروسته مريضتيا |
| ايس اي ار اي | بقا، بچ کول، مقاومت، او وتل |
| ايس او پي | سټېنډرډ اوپريټنگ پروسيجر |

# سریزه

د محترمې پاټریشیان ایم. والډ لیکنه

د برکلی د کالیفورنیا پوهنتون د څېړونکو دا سنګین راپور د دوه زره یو کال د سپتمبر د یوولسمې نېټې له ویرجنو پېښو راپدېخوا د امریکا لخوا بندیانو سره د ناروا چلند په زړه بوږنوونکي تاریخ کې د یو نوي باب زیاتوالی کوي. دا محتاطه او له لفاظۍ پاکه څېړنه د هغو غلطیانو پته لګوي چې په نړیوال کچ یو ستایل شوی قام يې بدنام کړ او د انساني چلند او انصاف د ټولو لپاره يې د ده خپل ټاکلي اهداف داغدار کړل. دا راپور د هغو پخوانیو بندیانو چې د افغانستان او د کیوبا د ګوانتانامو ټاپو په امریکایي بند کې ساتل شوي وو په خوله د هغه بې انصافه قېد د روانو پایلو او ناوړه طریقه کار په اړه نوي داخلي معلومات ورکوي چې په یوولسم سپتمبر پسې ناهیلو میاشتو کې يې وده وکړه.

په افغانستان کې نظامي اصول او نړیوالې معاهدې د انتظامي چارواکو د هغې وړې ډلې د نوښتګیر او ځینې وخت ناشنا سوچ ښکار شوې چې یو داسې ځای ته يې اړتیا لرله چېرې چې هغوی بندیان د نامعلوم وخت لپاره او د ملکي محکمو څخه لیرې وساتلای شي. په دا بل ځای، ګوانتانامو، کې هغو خلکو چې د متحده ایالاتو لپاره کوم سخت خطر نه و – حکومتي سرچینو د دوی اندازه د ټولو بندیانو د څلورمې برخې څخه نیولې تر سمې نیمې برخې پورې لګولې ده – هم د طالبانو او القاعده د تروریستانو برابر وځپل شول. د څېړنو داسې اغېزمن طریقه کار چې بې ګناه يې د خطرناکو (او یا هغه چې د متحده ایالاتو پر

ضد د راتلونکو بریدونو په اړه يې مهم معلومات لرل) څخه جلا کړي وای موجود نه و، او یا ډېر وروسته چې د یوې روانې قانوني ادعا تر فشار لاندې جوړ کړای شو نو هغه هم بېخي غږېر اییني وخوت. د ۷۷۰ څخه زیاتو هغو بندیانو چې ګوانتانامو يې د دې په نژدې اوه کلن ژوند کې زغملې، تر پنځو سوو زیات پکې پرته له رسمي تورونو او یا محکمې څخه خوشې کړای شوي دي. تراوسه پورې، د هغو دوو سوو یا زیاتو بندیانو څخه چې تراوسه پورې په قېد کې دي، یواځې درویشت په جنایت تورن شوي دي. د قېد د دې پروګرام غټ مدافعین ادعا کوي چې د دوی څخه يې مهم معلومات ترلاسه کړي دي؛ خو مونږ ته دغه معلومات نشي ښودلی.

کله چې یو قوم د بشري حقوقو او د نړیوال بشري قانون د کورنیو او نړیوالو مسوولیتونو څخه مخ واړوي نو تلفات رامنځته کېدل هم ورسره تړلي وي. دغه تلفات د هغو دوه شپېتو پخوانیو بندیانو په مزغو او بدنونو نقش شوي دي چې د دې راپور لپاره ورسره مرکې شوې دي؛ په دوی کې په ډېرو باندې ډول ډول جسماني او ذهني ظلمونه شوي دي، لکه تهدید، سخت حالتونه، په زور لغړول، جنسي سپکاوی او په مذهبي امورو کې مداخله. زه لا د هغو ظلمونو چې دوی سره شوي او هغه چې د بوسنیائي مسلمانانو سره د سربیانو په زنداني کمپونو کې شوي وو، په یوشانوالي حېرانه شوم. دغه ظلمونه مونږ د ملګرو ملتونو د نړیوالې جنایي محکمې په هغه محاکمه کې موندلي وو چې متحده ایالاتو يې بشپړ ملاتړ کاوه او د پخواني یوګوسلاویا په هیګ ښار کې شوې وه او زه يې یوه غړې وم. د دغو زنداني کمپونو مقامات او مسوولین او هغه ملکي رهبران چې د دې

منظوري يې ورکړې وه د جنگي جنايتونو، بشريت ضد جنايتونو، او په ځينو سختو قضيو کې، د ټولوژنې په تور محاکمه شول – زياتره وخت د پخواني امريکايي حکومت او هغو نظامي قانونپوهانو لخوا چې د دغې محکمې سره يې کار کاوه.

اوس د گوانتانامو د ۵۰۰ نه زيات "کارپوهان" دي چې په دېرشو هېوادونو کې ژوند کوي. اکثريت د هغو چې د دې راپور لپاره ورسره مرکې شوې دي د متحده ايالاتو خلاف ښکاره منفي نظرونه لري. د دوه شپېتو پخوانيو بنديانو څخه يواځې شپږ عادي کارونه لري. ډېرو پکې کورونه، کاروبارونه، شتمنۍ له لاسه ورکړي، او نور داسې دي چې گاونډيان ترې ډډه کوي او يا پرې د امريکايي جاسوسانو شک کېږي. "د گوانتانامو داغ" د دوی د راتلونکي هيلې له منځه وړي. د پخوانيو بنديانو دوه برخې داسې دي چې اروايي او احساساتي ضربه پرې پاتې معلومه شوې ده. پرته له يو پروگرام چې په سعودي عربيه کې شوی، نور د عوامي او شخصي سرچينو لخوا داسې کومه گټوره مرسته مخې ته نده راغلې چې پخواني قېديانو په خپلو ټولنو کې بېرته ځای کړي. او نه يې امريکايي نيوونکو بخښنه غوښتې ده – د علاج لپاره يې کفاره ورکول خو لا پرېږده.

د امريکې په کورنۍ جگړه کې امريکايي پوځ د ليبر کوډ په پېل کولو سره د جنگ پر مهال د نيول شويو جنگياليو او ملکي وگړو سره د بشري او مسوولانه چلند د مفکورې په ملاتړ غږ پورته کړ. دا چې د نړيوالو بشري معيارونو د خلاف ورزۍ په صورت کې فردي مسووليت ضروري دی، د نوريمبرگ قواعدو ته د نظامي قانون مهمه ورکړه وه. د يوې پېړۍ څخه د زياتې مودې پر مهال د جنگ د مېدان لپاره د امريکا پوځي نصاب بنديانو

سره د پوځي مقاماتو د چلند په اړه ښکاره لارښوونې ټاکلې دي. خو چې د یوولسم سپتمبر څخه وروسته (د قول اردو د نظامي څارنوال او ځینو زړورو پوځي مشیرانو د ښکاره هیلې خلاف) د سیاسي او پوځي مشرتابه په لور "مټې راونغښتل شوې" نو پوځي روایت هم سر وخوړ. د څو میاشتو دننه د انصاف او دفاع د محکمو لوړپوړو مقاماتو د پلټنو د "پراخو" تخنیکونو منظوري ورکړه او د ژنیوا د تړونونو ژمنې یې یوې خوا ته کړې. لدې وروسته ډېر ژر پلټنه په افغانستان او وروسته په ګوانتانامو کې د امریکایي بندیځانو مقصد وګرځېد چېرته چې پوځي افسران د هغو بندیانو د حېثیت د معلومولو لپاره ولېږل شول، چې د هغوی په وړاندې په زنځیرونو کې تړلي ولاړ وو، اکثر په طریقه کار نه پوهېدل، وکیل یا قانونپوه او یا د خپلو شاهدانو د راغوښتلو توان یې نه درلود.

دې تګلارو ان تر دې چې د متحده ایالاتو مرکزي محکمې هم اغېزمنې کړې. د بوش د ادارې هغه لومړني کوښښونه چې محکمې د ګوانتانامو د بندیانو سره د چلند د قضیو د اورېدو څخه لیرې وساتي ناکام شول – خو هغه هم د څو کلونو د ناحېرانوونکي تیري څخه وروسته. پخوانیو قېدیانو چې د دې راپور لپاره ورسره مرکې شوي وویل چې په کمپ کې موجود د "چټې کېدو" احساس ښایي په قېد کې د دوی د مورال د غورځېدو غټ اړخ و – ځکه چې تر ډېر وخته پورې د وتو هیڅ لاره نه ښکارېدله؛ نه د قضیو صفا سُوتره تحقیق و او نه داسې بې طرفه قاضي و چې ورته د خپلې بې ګناهۍ یا په خطا کې د نیول کېدو وویل شي. د ګوانتانامو بندیان بهر چا سره تماس ته نه پرېښودل یو ټاکل شوی تاکتیک و چې مقصد یې په نیوونکو د دوی اتکا زیاتول او

اعتراافاتو ته لاره هوارول وو. د نه خوړو اعتصابونه او د ځان وژلو کوښښونه (چې "پخپله ځان ته د زیان رسولو چلند" نوم ورکړای شوی و) د بندیانو یواځینۍ لاره وه تر هغې چې بالاخر قانونپوهان هلته ورسېدل او محکمو مداخله وکړه.

دا بې له شکه یو زړه بوگنوونکی وخت و. د دې راپور لیکونکي په پای کې د جبران ورکوونکو اقداماتو سپارښتنه کوي او دا د گوانتامو د بندولو د هغې مشورې څخه پرته ده چې ډېرو خلکو پرې اتفاق کړی دی. تراوسه پورې د هغو زیاتیو چې په دې او نورو راپورونو کې ښودل شوي د مسوولینو په اړه کوم بې طرفه او بشپړ تحقیق نه دی شوی، هر څو که بې شمېره خپرې شوې کیسې، دستاویزات او لوڅوونکي راپورونه د ځینو کسانو په اړه شک راپورته کوي. مصنفین د یو داسې "خپلواک بې طرفه کمیسیون" سپارښتنه کوي چې په افغانستان، گوانتانامو، عراق او نورو ځایونو کې بندیانو سره د شوي چلند په اړه تحقیق وکړي او ولس ته یې ښکاره کړي. دوی په حقه دا مشوره ورکوي چې دغه کمیسیون سره دې د خلکو د راغوښتلو واک وي، پټو موادو ته دې لاسرسی ولري او د دې پرېکړې واک دې هم ورسره وي چې ایا کوم خلک تورن بلل شوي د هغوی په اړه د نور جنایي تحقیق اړتیا شته او که نه. دوی په دې هم ټینگار کوي چې د کمیسیون کار دې د بخښنو ورکولو د احتساب د پټولو نورو طریقو پورې محدود نه وي. د داسې یو کمیسیون تمرکز باید ښکاره معلوم وي - د دې پرېکړه کول چې څه غلط شوي او ولې شوي او څوک یې مسوول دی - او هم دې نظر لرونکی وي - چې د هغو کسانو د پلټنې، نیولو، او تحقیق لپاره نوې تگلارې او ښې

طریقې وړاندیز کړي کوم چې د ملت امنیت ته سخت خطر مخامخ کوي.

مونږ د یو ملت په حېث باید نه یواځې خپل ماضي یاد وساتو بلکې کوښښ وکړو چې هغه تکرار نشي. دا راپور په دغه لور یو ارزښتناک گام اخلي.

پاټریشیا ایم. والډ

محترمې پاټریشیا ایم. والډ د متحده ایالاتو د کولمبیا سرکټ د ولسوالۍ د درخواستونو په محکمه (۱۹۷۹-۹۹) او د پخواني یوگوسلاویه لپاره په نړیواله جنایي محکمه (۱۹۹۹-۲۰۰۱) کې کار کړی دی. قاضي پارټیشیا د پراخې بربادۍ د وسلو په اړه د متحده ایالاتو د استخباراتو د وړتیا د ولسمشر د کمیسیون غړې هم وه (۲۰۰٤-۰۵).

## بشپړ لنډیز

دا راپور د هغو پخوانیو قېدیانو څخه د پلټنو په اړه معلومات ورکوي چې په افغانستان او د کیوبا په ګوانتانامو کې د متحده ایالاتو په بند کې ساتل شوي وو. د څېړنې اصلي هدف د دې خلکو تجربې ثبتول، په بند کې د دوی د وضعې اندازه لګول، او دا معلومول وو چې په بند کې د دوی حالت وروسته خپلو کورنیو او ټولنو ته د دوی ورتګ څرنګه اغېزمن کړ. د نیم جوړښت لرونکو ټولپوښتنو[1] په استعمالولو سره څېړنکارانو د جولای ۲۰۰۷ څخه تر جولای ۲۰۰۸ پورې د یو سل او دولسو تنو سره مرکې وکړې. په دوی کې دوه شپېته هغه پخواني بندیان دي چې په نهو هېوادونو کې ژوند کوي او د امریکا په بند کې اوسطاً درې کاله بې له محاکمې ساتل شوي وو. نور پنځوس څواب ویونکي د مهمو معلوماتو ورکوونکي وو چې په هغوی کې د امریکا د حکومت پخواني او اوسني چارواکي، د نادولتي ادارو استازي، هغه څارنوالان چې د بندیانو استازیتوب یې کاوه، او د امریکا پخواني پوځي او ملکي کارکوونکي چې په ګوانتانامو او یا هم په افغانستان کې په بندیځانو کې یې کار کاوه، شامل دي. څېړنکارانو د مرکو دا معلومات د ګوانتانامو د پخوانیو بندیانو په اړه د رسنیو د دولس سوه او پنځلسو پټو راپورونو، اړوندو دستاویزاتو چې د دفاع د محکمې لخوا خپاره شوي، او د امریکا د حکومت، د خپلواکو ادارو او رسنیو د راپورونو سره پرتله کړي دي.[2]

څرنګه چې د محدود شمېر پخوانیو بندیانو سره مرکې شوې دي، نو د دې څېړنې معلومات په هغو ټولو تر پنځو سوو زیاتو خلکو نشي تطبیقېدلای چې د تېرو شپږو کالو په موده کې د

گوانتانامو څخه خوشې شوي دي او يا اوس هم په بند کې دي. خو، بنديانو سره د چلند کومه طريقه او مېلان چې په دې راپور کې ثبت شوی د هغو معلوماتو سره يو شان دي چې د افغانستان او گوانتانامو په امريکايي زندانونو کې بنديانو سره د چلند په اړه د حکومتي او خپلواکو تحقيقاتو په ترڅ کې موندل شوي دي،[3] په دې توگه دا گڼل معقول ښکاري چې د دوی تجربې د نورو زياتو پخوانيو بنديانو استازې وگڼل شي.

# پایلې

زمونږ څېړنه د بوش د ادارې لخوا په جوړ شوي هغه سیستم کې سخت درزونه رابرسېره کوي چې د طالبانو او القاعده د شکمنو غړیو چې د ۲۰۰۱ د یوولسم سپتمبر څخه وروسته په امریکایي بند کې ساتل شوي دي د نیولو، بندي کولو، پلټنو او خوشې کولو لپاره یې جوړ کړی دی. د دې د ډېرو ناوړه اړخونو څخه یو د ۲۰۰۱ د سپتمبر څخه د ۲۰۰۳ د اپریل پورې په لوړ کچ د فرمانونو د هغې لړۍ صادرول وو چې پکې "د پلټنې د پراخو تخنیکونو" د استعمال اجازه ورکړل شوې وه.[4] د پلټنو په داسې ډېرو طریقو – که هغه په شخصي توگه استعمال شوي او که په اوږد وخت کې یو ځای استعمال شوي – کې ښکاري چې د تشدد او یا د نورو ظالمانه، غېر انساني او تحقیري چلند په اړه د نړیوالو او کورنیو ممانعتونو خلاف ورزي شوې ده. "د مټو د رانغښتلو" د سوچ[5] په خپلولو سره د متحده ایالاتو لوړوپوړو ملکي او نظامي مشرانو د افغانستان، گوانتانامو ټاپو او نورو ځایونو په امریکایي زندانونو کې بندیانو سره د چلند داسې لارې جوړې کړې چې مخکې یې مثال نه درلود. دې ازادانه ماحول امنیت ساتونکو او تحقیقکارانو ته اجازه ورکړه – که ډاډ یې نه وي ورکړی – چې بندیان سپک کړي، او په ځینو قضیو کې، تشدد پرې وکړي.[6] په مجموع کې دې تجربې د پخوانیو بندیانو – چې حکومتي چارواکي وایي ډېر یې په غلطۍ سره بندیان شوي ول – په ژوند ژور اغېز وکړ. د بند د داغ د لگېدو له امله، د دې بندیانو یو غټ شمېر د کارونو په موندلو کې د ستونځو سره مخ دي، او د ځینو په اړه ویل کېږي چې د ذهني او اروایي تشدد نښې پرې اوس هم پاتې دي.

زمونږ څېړنه د هغه طريقه كار په اړه ناكراره كوونكې پوښتنې راپورته كوي په كوم چې امريكايي پوځ د القاعده او طالبانو جنگيالي او ظاهراً د هغوی پلويان نيولي او پلټلي دي. په ځانگړې توگه، د امريكا د حكومت لخوا نغدو انعامونو په افغانستان او نورو ځايونو كې د نيولو يو داسې نامشخص او نامحتاط جال خور كړ چې له امله يې په زرگونو خلك ونيول شول، چې ډېر پكې ښكاري د القاعده او طالبانو سره يې هيڅ اړيكې نه لرلې او د امريكا امنيت ته هيڅ خطر نه وو.

يو ځل چې امريكايي قېد ته دننه شول، نو د بنديانو د پلټنو طريقه كار د جنگياليو څخه د ملكي خلكو په جلا كولو كې پاتې راغی. په ځای د دې چې د بنديانو د جنگي حېثيت د معلومولو لپاره د مېدان جنگ هغه سماعت شوی وای چې ژنيوا معاهدو اجازه وركړې وه،[7] ولسمشر بوش دا يوطرفه پرېكړه وكړه چې د "ترهگرۍ په وړاندې جنگ" كې نيول شوي ټول بنديان "قانون ضد دښمن جنگيالي" دي او تر نامعلوم وخت پورې په بند كې ساتل كېدای شي.[8] خو اداره د تحفظ په يو داسې بشپړ طريقه كار جوړولو كې ناكامه شوه چې په دغه درجه كې د خلكو د اچولو په اړه په غلطيو كې كمی راولي. بالاخر د القاعده او طالبانو د شكمنو غړيو د نيولو شوق ته د هغه احتياط او تحقيق څخه زياته ترجيح وركړای شوه چې په دقيقه توگه د دې خبرې د معلومولو لپاره ضروري و چې د چا بندي كول پكار دي او د چا نه.

لا وختي په سپتمبر ۲۰۰۲ كې، لوړپوړي امريكايي چارواكي په پوځي او استخباراتي كړيو كې دننه د دې انديښنې څخه خبر وو چې ايا كوم كسان د گوانتانامو ټاپو په امريكايي بحري مركز

کې نیول شوي وو په هغوی کې اصلاً څومره د القاعده او طالبانو خطرناك جنگيالي وو. د امريکا د استخباراتو د مرکزي اداري (سي ايي ای) يو مشر تجزيه نگار چې د منځني ختيځ ډېرې تجربې لري د ۲۰۰۲ په دوبي کې د دغه مرکز د بنديانو په اړه معلومات وکړل او په يو ډېر پټ راپور کې يې وليکل چې د دوی تقريباً درېمه برخه - يانې هغه مهال د شپږو سوو بنديانو څخه دوه سوو - د تروريزم سره هيڅ اړيکې نلرلې.[9] هغه وويل چې ډېر د دوی نه "د راښکلو په جال کې نيول شوي وو. دوی جنگيالي نه وو، دوی جهاد نه کاوه. دوی دغلته نه وو پکار."[10] د گوانتانامو قوماندان، بريد جنرال ډونلاوي، د هغه سره اتفاق وکړ او وروسته يې اندازه ولگوله چې په کمپ کې ساتل شوي نيم خلك په غلطۍ سره نيول شوي وو.[11] د تحقيق د مرکزي اداري (اېف بي ايي) د ترهگرۍ ضد يو ماهر تر دې هم وړاندې لاړ او د ملي امنيت د شورا کمېټې ته يې وويل چې يو اځې شاوخوا پنځوس بنديان داسې دي چې په گوانتامو کې د ساتلو وړ دي.[12]

د ناسمې پېژندگلو نتايج خراب وو. بنديان په گوانتانامو کې د کلونو کلونو بند سره مخ شول او هيڅ داسې مناسبه موقع يې نه لرله چې وښيي په غلطه نيول شوي دي. په جون ۲۰۰۸ کې، تر اتو کالو زيات وروسته له هغې چې لومړنی بندي گوانتانامو ته ورسېد، سترې محکمې د *بومېډيان په مقابله د بوش* قضيه کې پرېکړه وکړه چې کوم بنديان هلته نيول شوي دي هغه د امريکا محکمو ته د لاسرسي حق لري څو د دوی د پرله پسې قېد قانوني بنسټ وکتل شي، خو تر دې تاريخه پورې د بنديانو په موجودگۍ کې کومه اورېدنه نه ده شوې.[13]

په اکتوبر ۲۰۰۸ کې د ترلاسه شویو معلوماتو سره سم، د دفاع محکمه وایي چې شاوخوا ۲۵۵ قېدیان په ګوانتانامو کې پاتې دي.[14] په همدې توګه، تر ۵۲۰ تنو زیات بندیان د کمپ نه خوشې شوي دي او شاوخوا ٦۰ بندیان اوس هم په داسې حال کې بند ساتل شوي دي چې د پوځي حېثیت ادارو یې د خوشې کولو سپارښتنه کړې ده.[15] د ۷۷۰ نه زیاتو هغو کسانو چې په ګوانتانامو کې د څه وخت لپاره بندیان شوي دي، د امریکا حکومت پکې تر اکتوبر ۲۰۰۸ پورې یواځې درویشت تنه په جنګي جرمونو تورن کړي دي.[16] دا اعداد و شمار د یوې بشپړې پلټنې غوښتنه کوي چې معلومه کړي څنګه او ولې امریکا دومره زیات خلک د دومره اوږد وخت لپاره د کوم مناسب قانوني تحفظ نه بغېر ساتلي دي.

زمونږ څرنګیز معلومات او نورې سرچینې ښیي چې زیات شمېر هغه بندیان چې د افغانستان د باګرام او کندهار په امریکایي زندانونو کې ساتل شوي دي په پرله پسې توګه یې جسماني زیاتی، محرومیت، سپکاوی او بد حالت لیدلی دی. هغه شرایط چې بندیان پکې نیول شوي وو، او همدارنګه په دې بندیخانو کې ورسره شوی چلند، بندیانو سره د بشري چلند د نړیوالو لارښودنو سره په ټکر کې و، د سرِعام بربنډتیا په خلاف د بنسټیزو کولتوري او مذهبي ممانعتونو خلاف و، په دیني افعالو کې مداخله وه، او یوه داسې فضا یې منځ ته راوړله چې جسماني او اروایي ناکراري او بې چیني یې تر اخري درجې ورسوله. په ځانګړې توګه هغو بندیانو چې په باګرام کې ساتل شوي وو، وویل د وهل کېدو، سختو حالتونو، لاسونو نه د اوږد

وخت لپاره د زورندولو، د خوب نه د محرومولو، تهدید، او د سپو په واسطه د ترورولو په ګډون تېري وربانديې شوي دي.

په ګوانتانامو کې پوځي قوماندانانو په ښکاره د کمپ اداره او طریقه کار د پلټنې تر ترجیح لاندې راوستل او په دې توګه يې په بندو بلاکونو کې د نګرانۍ او مداخلې يو داسې روان ماحول پېدا کړ چې بنديان پکې تحقيرېدل. د دې لپاره په لار اچول شوی خيال دا و چې د کمپ شرايط بايد د بنديانو دفاعي قوت کمزوری کړي او تحقيق کوونکي په دې وتوانوي چې دوی په اروايي توګه مات کړي. بې شکه، د کمپ د سيستم هره برخه – د پېژندګلو د لمبرونو له استعمال څخه تر ځانله بند پورې – داسې جوړه شوې وه چې د کمپ د تحقيق کوونکو واک او ځواک زيات کړي او د بنديانو د يواځې والي، بې وسۍ او ناکرارۍ احساس ته وده ورکړي.

د کمپ طريقه کار داسې جوړ شوی و چې د تحقيق کوونکو د کار ملاتړ وکړي؛ خو د قېديانو او د کمپ د کارکوونکو ترمنځ شخړو او مخالفت ته يې هم لمن وهله. کله چې د بنديانو خپلواکي او کنټرول تر دومره زيات حده کم کړای شو، نو يوه د هغو څو لارو نه چې دوی پکې د دغو شرايطو خلاف احتجاج کولای شو، شريک مقاومت و. هغو کسانو چې مرګې ورسره شوي ووېل دوی په ځانګړې توګه هغه وخت سپکاوی او خپګان احساساوه چې کله به ساتونکو قران شريف غلط ونيو، يا به ترې پرېوت او يا به يې په ځمکه ګوزار کړ. داسې پېښو اکثر د نه خوړو د اعتصاب په ګډون اجتماعي مقاومت راپاراوه. د بنديانو مقاومت اکثر دکمپ د کارکوونکو لخوا د عکس العمل سره مخ کېده، دې کار بنديان نور راپارول، داسې يوه ناوړه لړۍ پېل کېده چې

نتیجه يې د ساتونکو لخوا د جسماني زور څخه کار اخیستل او د بندیانو ځانله ساتل راوتله.

د ګوانتانامو بندیان، چې د خپل بند د قانونیت د چېلنج کولو کومه اغېزمنه لاره يې نه لرله، د خپل برخلیک بې یقینۍ، چې اکثر د تحقیق کوونکو په وجه پېدا کېدله، راخیستي وو. د جنورۍ ۲۰۰۲ څخه تر جون ۲۰۰٤ پورې، د ګوانتانامو بندیانو محکمو یا قانونپوهانو ته لاسرسی نه لرۀ. په دې کې په ۲۰۰٤ کال کې د *رسول په مقابله د بوش* قضیه کې د سترې محکمې د پرېکړې، چې د بندیانو مرکزي محکمو ته د لاسرسي د اجازې غوښتنه يې وکړه تر څو په خپله د حاضرېدو په واسطه د خپل بند قانونیت چېلنج کړي، وروسته هم څه ماناخیز بدلون رانغی.[17]

پر دې برسېره، هغه تګلارې چې د *رسول* د قضيې د پرېکړې پر مهال جوړې شوې چې معلومه دې کړای شي چې بندیان "دښمن جنګیالي" دي که نه او لدې وروسته د اوږد وخت لپاره بندي پاتې کېدای شي، هم بې اغېزې او په بنسټیزه توګه له غلطیو ډکې وې. دېرو کسانو چې مرکې ورسره شوي وویل دوی د جنګیالیو د حېثیت د معلوملو عدالتونه او د انتظامي کتنې کلیزې اداري نه پېژني. نور یواځې په دې ښه پوهېدل چې دې تګلارو دوی ته کومه مناسبه موقع په لاس نه وه ورکړې چې د خپلې بې ګناهۍ ادعا ثابته کړي. بندیانو څارنوال ته لاسرسی نه درلود، د ګواهانو د ترلاسه کولو توان ورسره نه و، او په عمومي توګه هغو شواهدو ته د لاسرسي اجازه نه ورکول کېده چې د دوی خلاف وو، نو د قانون د حاکمیت نه په اغېزمنه توګه بهر وساتل شول.

پخوانیو بندیانو په مرکو کې د "چټي"، "اندېښمن"، "بې وسه" او "ناهیلي" توري د دې لپاره استعمال کړل چې په ګوانتانامو کې د قېد پر مهال خپل احساسات منعکس کړي. څرنګه چې میاشتې په کلونو واوختلې، نو د اوږدمهاله بند، د ماحول سره د تړلو فشارونو، او د تشدد د نورو شکلونو اجتماعي اغېز په ډېرو بندیانو باندې په اروایي توګه د فشار راوستل پېل کړل. د سرۀ صلیب نړیوالې کمېټې د ګوانتانامو د بندیانو په اروایي روغتیا باندې د بند د خطرناکو اغېزو په اړه اندېښنې وښودلې.[18] د بېلګې په توګه، کله چې ایي سي ار سي په جون ۲۰۰٤ کې د ګوانتانامو څخه ولیدل، نو لویه اندازه دماغي مرضونه یې په قېدیانو کې بیاموندل چې د اوږدمهاله ګوښبندۍ د فشار له امله پېدا شوي وو.[19] د دې تر څنګ، د ځانوژنې د ه څو هغه شمېره چې د دې څېړنې لپاره مرکه شویو پخوانیو بندیانو بیان کړې او لیدلې، د غور وړ ده.

د هغو ٥٥ تنو څخه چې په ګوانتانامو کې د پلټنو په مجلسونو یې خبرې وکړې د څېړنې تر نیمو زیاتو ځوابوونکو (۳۱ تنو) ورته "تذلیل" وویلو او پاتې نورو (۲٤ تنو) وویل چې دوی د کومې ستونځې سره ندي مخ شوي. په زنځیرونو د کلک تړلو، سختو حالتونو کې د ساتلو، د اوږد وخت لپاره د ځانله کولو، او د اوږد وخت لپاره په سخت یخ کې د ساتلو په ګډون هغه تشدد چې دې بندیانو بیان کړی کوم چې بالاخر خوشې شول - زیاتره یو شان دی. په ځینو مواقعو کې، دا تاکتیکونه د ډېرې تېزې موسیقۍ او په تېزۍ سره د بلېدونکې او مړې کېدونکې رڼا په ګډون دا ډول حساس تېري سره یو ځای استعمالېدل.

د کمپ مسوولینو کوښښ وکړ چې په ګوانتانامو کې د پلټنې په پروسه کې طبي عمله ورګډه کړي، دې کار د امریکن مېډیکل ایسوسي ایشن او د امریکن سایکاټریک ایسوسي ایشن دواړه اداري په ۲۰۰٦ کې داسې بیانونو ورکولو ته اړ ایستلې چې خپل غړي يې په پلټنو کې د برخې اخیستلو څخه منع کړل.[20] په سپتمبر ۲۰۰۸ کې، امریکن سایکالوجیکل ایسوسي ایشن په ګوانتانامو او یا هغو تش په نوم تورو ځایونو کې چې سي ایي ای چلول د اروایپوهانو د بندیانو څخه د پلټنو یا مشورو کولو نه د منع کولو لپاره رایه ورکړه.[21] د دغه مرکز پخوانیو طبي کارکوونکو ویلي دي چې د دوه زره درېیم کال پر مهال (او ښايي وروسته هم) تحقیق کوونکو د بندیانو طبي ریکارډ ته لاسرسی لارۀ او څه چې معلومول هغه یې بندیانو نه د معلوماتو د راایستلو لپاره استعمالول. پر دې برسېره، د ۲۰۰۲ د پای څخه راوروسته، پوځي اروایپوهانو او د اروايي ناروغیو کارپوهانو چې د بیهوریل ساینس کنسلټېشن (بي ایس سي) ټیمونو سره یې کار کاوه په ګوانتانامو کې د پلټنې د تګلارو په ټاکلو او پر مخ وړلو کې فعال رول ترسره کړی دی.[22]

په ګوانتانامو کې د پلټنو معیارونه او تګلارې د وخت سره بدلې شوې، خو معلومات ښيي چې ځینې اقدامات په هغه ټوله موده کې فعال پاتې شول چې د دې څېړنې لپاره مرکه شوي کسان هلته وو (د جنوري ۲۰۰۲ څخه تر جنوري ۲۰۰۷ پورې). په داسې حال کې چې په ګوانتانامو کې د پلټنو د مشخص تخنیک د رابرسېره کولو په اړه نور کار ته اړتیا شته، داسې ښکاري ډېرې هغه طریقې چې بندیانو ترې په سختۍ سره شکایت کاوه – په یخو کوټو کې په زنځیرونو کلک تړل کېدل، د اوږدمهاله ځانله بند

سره یو ځای – د امریکا د پوځي پلټنو د هغو لارښودنو له مخې ورته اجازه ورکړه شوې وه چې د اپرېل ۲۰۰۳ څخه تر سپتمبر ۲۰۰٦ پورې نافذ وې.[23] دا اقدامات د ۱۹٤۹ د ژنیوا د هغو معاهدو سره په ټکر کې وو چې متحده ایالاتو په ۱۹٥٥ کې منلې وې. خو ولسمشر بوش دا ممانعتونه په جنوري ۲۰۰۲ کې هغه مهال یوې خوا ته کړل چې هغه وګڼل چې د ژنیوا درېیمه معاهده، چې د جنګي بندیانو سره د چلند په اړه د ژنیوا د تړون په نامه هم پېژندل کېږي، د طالبانو او القاعده په هغو شکمنو غړیو نه تطبیقېږي کوم چې په افغانستان کې نیول شوي دي.[24]

تر دې تاریخ پورې د کمپ د کارکوونکو او همدارنګه د چارواکو د هغه رول د معلومولو په اړه چې د ملکي او نظامي قوماندې په کړیو کې یې په ګوانتانامو کې د پلټنې د تخنیکونو د تطبیق او جوړولو په اړه لوبولی دی، هیڅ خپلواک او بشپړ تحقیق ندی شوی. تراوسه پورې کوم ښکاره تحقیق دا ندي ویلي چې ایا دغه چارواکي دې د هغو جنایتونو، چې ښایي دوی یا د دوی لاندې کسانو ترسره کړي، مسوول وبلل شي او که نه.

زیات شمېر هغو کسانو چې مرګ‌ې ورسره شوي وویل چې له ګوانتانامو تر خوشې کېدو او خپل اصلي وطن یا بل هېواد ته له رسېدو وروسته دوی د ګڼ شمېر ستونځو سره مخ شول. یواځې د ګوتو په شمېر پخوانیو بندیانو وویل چې دوی مناسبه یا اغېزمنه مرسته ترلاسه کړې ده. دوی ګوانتانامو په داسې حال کې پرېښوده چې د "ګناه د تور" په کفن کې انغښتي او د "بدو نه د بدتر" ټاپه پرې لګېدلې وه، خصوصاً دا چې د دوی ګناه یا بې ګناهي د کومې قانوني محکمې لخوا نه وه ټاکل شوې. ځینو ځواب ورکوونکو دې حالت ته د "ګوانتانامو داغ" په ویلو سره

اشاره وکړه او وې ویل چې د نوکرۍ د موندلو او په خپلو ټولنو کې بېرته د ځای کولو په چارو کې دې داغ د دوی ستونځې نورې پسې زیاتې کړې دي. وطن ته په رسېدو بندیانو ته معلومه شوه چې د دوی کورنیو خپلې شتمنۍ له لاسه ورکړې دي او لوي پور پرې اوښتی دی. ځینې پکې د لویدلي جسماني او ذهني صحت سره وطن ته ستانه شول، او د بیا رغېدنې خدماتو وس یا ورته د لاسرسي توان یې نه و. تر دې دمه متحده ایالاتو د ګوانتانامو د یو بندي د قېد او ورسره د شوي چلند په اړه هم خپلې غلطۍ او ناسم اقدامات په رسمي توګه ندي منلي. یو پخواني قېدي ته هم د دغه بند له امله د رسېدلي نقصان او زیان معاوضه نه ده ورکړای شوې.

## سپارښتنې

دا راپور د هغو پخوانیو بندیانو نړۍ ته لومړنۍ سیستماتیکه کتنه ده چې په افغانستان او ګوانتانامو ټاپو کې د امریکا په بند کې ساتل شوي وو.[25] خو دا یواځې یوه کتنه ده، البته ناکراره کوونکې کتنه. د معلومولو لپاره نور هم ډېر څه شته، او زمونږ هیله دا ده چې په دې پسې به نورې پلټنې او څېړنې د رسمي راز د هغه کفن د اخوا کولو د مقصد سره وشي چې د ولس د بشپړې څارنې څخه یې هغه څه پټ کړي چې په ګوانتانامو او نورو بندیخانو کې ترسره کېدل.

د لومړي ګام په توګه، مونږ د یو خپلواک، بې طرفه کمیسیون د جوړولو سپارښتنه کوو چې پلټنه وکړي او په عوامي کچ په هغه بند او هغو بندیانو سره په شوي چلند خبره وکړي

چې د ۲۰۰۱ د سپتمبر د یوولسمې د بریدونو څخه وروسته په افغانستان، عراق، گوانتانامو ټاپو او نورو ځایونو کې ساتل شوي دي. کمیسیون سره دې دومره پراخ اختیار وي چې په دې اړه هم پلټنه وکړي چې څنگه دې بندیخانو د پخوانیو بندیانو خپلو وطنونو او نورو هېوادونو ته بېرته تگ او پکې شاملېدل اغېزمن کړي دي.

دا کمیسیون باید د لوړ استعداد لرونکیو شخصیتونو څخه جوړ شي، چې د هغوی شرافت، اعتبار او خپلواکي معلومه وي. د کمیسیون په غړو کې باید د امریکا د پوځ پخواني غړي او د امریکا د ایني او پوځي قانون، د نړیوال بشري او د بشري حقوقو د قانون، د عامې روغتیا، اروا پوهنې او طب ماهرین شامل وي. د دې لپاره چې د غړو استعداد یې نور هم ښه وي، دا کمیسیون باید په کاري ډلو باندې وویشل شي چې په جلا جلا موضوعاتو تمرکز وکړي.

کمیسیون باید د گواهانو د راغونډولو واک او د هغو بندیانو د نیولو، قېد، پلټنې او خوشې کولو، چې د امریکا په بند کې ساتل شوي دي، په اړه پټو موادو ته لاسرسی ولري. کمیسیون ته باید مناسبه بودیجه او ماهر کارکوونکي ورکړای شي چې خپل کار په ښه طریقه وکړي. د کمیسیون غړي او کارکوونکي باید خپل کار په تېزۍ سره وکړي څو ضروري امنیتي تصفیې او ټولو اړوندو موادو ته لاسرسی ترلاسه کړي. او تر ټولو مهمه خبره، کمیسیون باید دا واک ولري چې د ملکي او پوځي قوماندې په هره کچه د هغو تورنو کسانو په اړه د جنایي پلټنو سپارښتنې وکړي کوم چې د دې تشدد عاملین دي او یا یې د دې د ترسره کېدو اجازه ورکړې ده. د دې کمیسیون

کار دې په تشدد کې د ککړو کسانو داحتساب نه د ساتلو لپاره هغوی ته د بخښنو، معافیانو او نورو داسې اقداماتو په کولو کمزوری نه کړای شي.

د کمیسیون په واک کې دې په لاندې برخو کې تحقیق کول شامل وي – خو دې پورې دې محدود نه وي:

- **نیول او پلټل.** د شکمنو "قانون ضد دښمن جنګیالیو" د پلټلو لپاره څه تګلارې استعمال شوي او ایا دا قانوني، مناسب او اغېزمنې وې؟ که نه وې، نو د شکمنو دښمن جنګیالیو د پلټلو صحیح طریقه کار څه پکار دی؟ ایا امریکایي پوځ داسې کسان نیولي او ګوانتانامو ته وړي دي چې د القاعده او طالبانو سره یې اړیکې نلرلې یا په بله مانا د امریکا امنیت ته هیڅ خطر نه وو؟ ایا مالي انعامونو د داسې خلکو په نیولو او پلټلو کې لاس لرۀ چې پکار ده امریکا هیڅکله نه وای بندیان کړي؟ د ژنیوا د معاهدو د نه تطبیقولو پرېکړې د بندیانو نیول او پلټل څرنګه اغېزمن کړل؟
- **د قېد شرایط او چلند.** ایا په افغانستان او ګوانتانامو کې د امریکایي بندیخانو شرایط د چلند د بشري معیارونو سره برابر دي؟ ایا د ژنیوا معاهدو د نه تطبیقولو پرېکړې د بندیانو د بند شرایط اغېزمن کړي؟ امریکا د هغې "طلایي قاعدې" د معیار څخه څنګه واوړېده چې د مېدان جنګ په نظامي نصاب کې ښودل شوی او پکې ویل شوي چې یو هیڅ تحقیق کوونکی دې داسې تخنیکونه نه استعمالوي چې دغه تحقیق کوونکی یې د

امریکایي پوځي خلاف استعمالول نه غواړي[26] قېدیانو سره په شوي چلند کې طبي او د اروایي ناروغیو کارپوهانو څه رول لوبولی؟ ایا دوی مسلکي قوانین مات کړي او یا یې د کوم قانون خلاف ورزي کړې ده؟

- **پلټنې.** ایا د امریکا د پلټنې طریقه کار د تشدد، ظالمانه او بشرضد وضعې په ګډون قېدیان د تذلیلوونکي چلند سره مخ کړي دي؟ وروسته له هغې چې ولسمشر بوش د ۲۰۰۱ د سپتمبر په شلمه "د تروریزم په ضد جګړه" اعلان کړه د پلټنې تګلارې او طریقې څرنګه مخ په وړاندې لاړې؟ او د دې تګلارو په جوړولو او تطبیقولو کې د ملکي او نظامي چارواکو رول څه و؟

- **بېرته تګ او رغېدنه.** په هغو چې د ګوانتانامو نه خوشې شوي د مجهول بند اجتماعي اغېز څه و؟ هغه څه پروسه وه چې معلومه کړي چې د یو بندي بهرني حکومت ته سپارل خوندي دي که نه؟ څه حفاظتي اقدامات شوي وو، او ایا کفایت یې کاوه؟ ایا کوم پخواني بندیان چې نورو حکومتونو ته سپارل شوي دي د ظالمانه او بشرضد چلند سره مخ شوي دي؟ پخواني بندیان په خپلو اصلي وطنونو او یا نورو هېوادونو کې په بیا شاملېدو او ځای په ځای کېدو کې څومره بریالي شوي دي؟ دوی د کومو خنډونو سره مخ دي؟ که کوم بېرته تللي کسان امنیت ته خطره پېښوي، نو په دې اړه څه اقدامات شوي او د دوی د ترلاسه کوونکیو حکومتونو سره څه تړونونه شوي چې دا خطره کمه کړای شي؟ که مناسبه وي، نو کمیسیون دې د

(۱) شکمنو دښمن جنګیالیو د نیولو او پلټلو د پروسې د ښه کولو، (۲) د سپکوونکي بند او پلټونکو اقداماتو د مخنیوي، او (۳) د پخوانیو قېدیانو امریکایي قېد څخه تر خوشې کېدو وروسته د علاج د نګرانۍ لپاره د ایيني اصلاحاتو او نورو اقداماتو سپارښتنه وکړي.

که کمیسیون په دې نتیجه ورسېږي چې د امریکا حکومت د هغو خلکو حقوق پایمال کړي چې د دې په قېد کې وو، نو باید د تادیبي اقداماتو سپارښتنه وکړي، په شمول د بخښنې د غوښتلو، د معاوضې ورکولو، او د دغه تن د نوم د بې ګناه اعلانولو لپاره د یوې ښې طریقې د غوره کولو. که کېدلای شي نو کمیسیون باید د قوماندې د کړۍ په هر کچ د هغو خلکو د نور جنایي تحقیق سپارښتنه وکړي چې په جرمونو کې يې لاس لرلی دی.

په داسې حال کې چې یوه نوې امریکایي اداره راتلونکې ده، دا یو ښه وخت دی چې تګلارې وکتلای او سمې کړای شي او، که اړتیا ورته وي، داسې ایيني اصلاحات وشي چې دا خبره یقیني کړي چې د امریکا د امنیت تحفظ د امریکایي اقدارو او د امریکا د کورني او نړیوال قانون تر څنګ وي.

# لومړی باب: پېژندګلو: "نوی مثال"

د ۲۰۰۱ د سپتمبر په ۲۰مه، په پېنټاګون او د سوداګرۍ په نړیوال مرکز د بریدونو څخه نهه ورځې وروسته، ولسمشر جارج ډبلیو. بوش اعلان وکړ چې امریکا په یوه داسې "ترهګرۍ ضد جګړه" کې کېوتې ده چې تر دې پخوا ورسره کله نده مخ شوې.[1]

د دې جګړې د ګټلو بنسټ د پېژندل شوو او شکمنو تروررستانو څخه د معلوماتو لاس ته راوړل وګڼل شو. څلور ورځې وړاندې، د ولسمشر مرستیال ډیک چیني د این بي سي "میټ دي پریس" پروګرام سره په مرکه کې وضاحت کړی و چې د امریکا نوي دښمن ته د ماتې ورکولو لپاره، "بله لاره نشته بې لدې چې مونږ په تیارهٔ اړخ کار وکړو... بله لار نشته بې لدې چې د استخباراتو د نړۍ په سیوري کې وخت تېر کړو. که مونږ غواړو چې بریالي شو، نو یوه غټه برخه کار چې اړتیا ورته لیدل کېږي باید، بې له کومې مباحثې، چوپ په چوپه، د هغو سرچینو او طریقو په استعمالولو سره چې زمونږ د استخباراتي ادارو په لاس کې دي. همدا هغه نړۍ ده چې دا خلک پکې کار کوي. او، دا زمونږ لپاره ضروري ده چې زمونږ تر واک لاندې ټولې ذریعې په بنسټیزه توګه خپلو اهدافو ته د رسېدو لپاره استعمال کړو."[2] د چیني دا ناشنا تشریح د هغو پراخو قانوني قاعدو سره په تضاد کې ده چې د وروسته دوو کلونو په موده کې جوړې شوې تر څو د "پلټنو د پراخو تخنیکونو" – چې ډېر پکې قېدیانو سره د تشدد کولو څخه منع کوونکو

کورنیو او نړیوالو قاعدو سره په ټکر کې ښکاري - د بې مثاله استعمال لپاره جواز جوړ کړي.

د یوولسم سپتمبر څخه څو ورځې وروسته، د بوش اداري د "ترهګرۍ ضد جګړې" لپاره یوه داسې نوې تګلاره جوړول پېل کړل چې وروسته ورته "نوی مثال"[3] نوم ورکړای شو. د دې لاندې، د جېن مایر په ټکو کې، ولسمشر د "نیولو او پلټنو لپاره یو نوی او عارضي سیستم جوړ کړ چې د پخوانیو قانوني حېثیتونو څخه یې بهر کار کاوه."[4] د دې نوې پروژې مرکزي اصل په شکمنو تروریستانو باندې د پلټنو د داسې تاوېدونکو تاکتیکونو او طریقو د استعمال واک و چې ګومان کېده ارزښتناک معلومات به ترې ترلاسه شي.[5] لکه د امریکا د دفاع د محکمې د پالیسۍ مرستیال سکرتر ډوګلاس فیتهـ چې په بې فکرۍ کې وویل: "معلومات د دې خلکو په سرونو کې دي. مونږ یې راایستلو ته اړتیا لرو."[6]

خو د "راایستلو" د دې طریقو بلهاریان څوک وو؟ یو ځل چې دوی ونیول شي نو د دوی پېژندګلو، قېد او ورسره چلند به څنګه وي؟ د پلټنې کومې طریقې به په دوی باندې استعمالېږي؟ او چې "معلومات" ترې راوایستل شي نو د دوی نه به څه جوړېږي؟

په دې راپور کې مونږ کوښښ کوو چې دې پوښتنو ته د هغو دوه شپېتو پخوانیو بندیانو سره چې د کیوبا په ګوانتانامو ټاپو او افغانستان کې امریکایي قېدیان وو، او همداراز د پنځوسو امریکایي چارواکو، د نادولتي ادارو استازیو، د قېدیانو د څارنوالانو او د امریکا پخوانیو

پوځي او ملکي کارکوونکو سره چې په ګوانتانامو او افغانستان کې یې کار کړی، د مرکو له لارې ځوابونه پېدا کړو. مونږ دغه معلومات راخلو او د هغه څه سره یې جمع کوو او موازنه کوو چې د امریکا د حکومت او نادولتي ادارو لخوا د رسنیو د راپورونو په بڼه خپاره شوي تر څو د امریکایي بندیخانو - په ځانګړې توګه ګوانتانامو - د داخل یو جامع انځور او په پخوانیو بندیانو او د هغوی په کورنیو د دې قېد اغېزې وړاندې کړای شي. دا خبره باید یاده وساتل شي چې مونږ یواځې د هغو بندیانو سره مرکې وکړای شوې، کوم چې خوشې شوي دي، د هغو سره مو نه دي کړې چې په ګوانتانامو یا نورو ځایونو کې اوس هم بندیان دي. په داسې حال کې چې لا ډېر څه نابرسېره پاتې دي، دا ممکنه نده چې په ګوانتانامو او نورو بندیخانو کې څه شوي دي د هغې بشپړ انځور دې وړاندې کړای شي. خو زمونږ هیله دا ده چې نورې څېړنې او پلټنې به هم وشي.

## "نوی مثال" جوړېږي

په "تیارۀ اړخ" کې د دې ادارې لومړني راښکاره کېدل د ۲۰۰۱، د سپتمبر په ۱۷مه وو، چې کله ولسمشر بوش یو پټ فرمان صادر کړ او په هغې کې یې د استخباراتو مرکزي ادارې (سي ایي ای) ته د هغو بندیخانو د جوړولو واک ورکړ چې د متحده ایالاتو څخه بهر د "تورو ځایونو" په نامه پېژندل کېږي، او هغه څه په لاره واچوي چې د هغه په اصطلاح په شکمنو تروریستي مشرانو باندې د "پلټنې د طریقه کار متبادل سیستم" ورته ویلای شي.[7] دا نوی فرمان تر هغه وخته پټ ساتل شوی و چې په اکتوبر ۲۰۰۱ کې یو مشر

امریکایي چارواکي *واشنګټن پوسټ* ورځپاڼې ته وویل چې ولسمشر بوش سي ای اې ته امر کړی چې "په ۱۹۷٤ کې د دې ادارې له جوړېدو راوروسته د ټرټولو سخت چاروکښ او تباه کوونکي پټ اقدام څخه کار واخلي." چارواکي زیاته کړه "ولسمشر دې ادارې ته اجازه ورکړې چې هر څه ته اړتیا لیدل کېږي ودې کړي. هغه تباه کوونکي عملیات چې د یوولسم سپتمبر څخه وړاندې یې سوچ هم نه شو کېدای اوس په لاره اچول شوي دي."[8]

د بوش ادارې بیا دې خبرې ته مخ کړ چې د کومو اصولو له مخې د دې نوي جنجال لاندې نیول شویو کسانو سره چلند وکړي او په قېد کې یې وساتي. د ۱۹۵۰ راهیسې، درېیمې ژنیوا معاهدې، چې جنګي قېدیانو سره د چلند په اړه د ژنیوا د تړون په نامه هم پېژندل کېږي، د دښمن جنګیالیو د نیولو او ساتلو په اړه اصول ټاکلي دي. د ژنیوا درېیم تړون، چې د متحده ایالاتو په ګډون د ۱۹۵ هېوادونو لخوا امضاء شوی دی، تعریفوي چې څوک "جنګیالی" ګڼل کېږي او د دې حېثیت په اړه رامنځته شوې شخړه څنګه حل کېدای شي، او په دې اړه یو تفصیلي نظام ټاکي چې جنګي قېدیانو سره باید په بند کې څرنګه چلند وشي. دا تړون جنګي قېدیانو نه د پوښتنو لپاره هم یو حد ټاکي، د "جسماني یا ذهني زور زیاتي"، او "د زور هره بله بڼه چې د هر ډول معلوماتو د ترلاسه کولو لپاره استعمالولای شي،" نه ممانعت کوي[9]، او وایي چې کوم بندیان د معلوماتو د ورکولو څخه انکار وکړي هغوی "باید تهدید، تحقیر او یا د کوم ډول ناوړه چلند سره مخ نه کړای شي."[10]

د جنوري ۲۰۰۲ په پېل کې، قانونپوهانو د امریکا د دفاع د محکمې د قانوني مشورو په دفتر (او ایل سي) کې یو شمېر قواعد تیار کړل چې پکې وویل شول د ژنیوا دریم تړون د القاعده او طالبانو په هغو غړو نه تطبیقیږي چې په افغانستان او نورو ځایونو کې نیول شوي دي.[11] د دغه کال د جنورۍ په ۲۵مه، د هغه مهال د سپینې ماڼۍ کونسل البرټو گونزالیز، ولسمشر ته یو یادابښت ولیږهٔ او ادعا یې وکړه چې د "ترهگرۍ ضد جگړې" د "دښمنو قېدیانو څخه د تحقیق کولو په اړه د ژنیوا سخت محدودیتونه منسوخ کړي دي."[12] هغه سپارښتنه وکړه چې ولسمشر دې القاعده او طالب بندیانو ته د ژنیوا د دریم تړون د تحفظ ورکولو څخه ښکاره انکار وکړي څو "اوښتون پېدا" شي او وروسته په جنگي جرمونو کې د ادارې د چارواکو او پوځي کارکوونکو د محاکمه کولو "خطره کمه" شي.[13] هغه چې مورخ ارتهر شیزینگر یې "د قانون د حاکمیت په اړه د امریکا د تاریخ تر ټولو زیات ډرامایي، قابل برداشت او سخت دريځ چېلنج"[14] معرفي کوي، ولسمشر بوش د گونزالیز دغه سپارښتي یادښت څو ورځې وروسته تصویب کړ.[15] ولسمشر اعلان وکړ چې کوم کسان امریکا نیولي دي هغوی به جنگي قېدیان نه گڼل کېږي بلکې "انساني، او د پوځي ضرورت ترمخه تر څومره حده چې مناسب او معقول، او په داسې لاره چې د ژنیوا د دریم تړون" سره برابر وي، چلند به ورسره کېږي.[16] د بوش ادارې چې نیول شوي کسان یې د "قانون ضد دښمن جنگیالي" په توگه وساتل، دا یوه داسې درجه ده چې د ژنیوا په تړونونو کې نده پېژندل شوې.[17]

## ګوانتانامو ټاپو

د سي ایي ای د پټو بندیخانو یا "تورو ځایونو" نه علاوه، د بوش اداري یو داسې محفوظ ځای ته اړتیا لرله چې په افغانستان کې نیول شوي بندیان پکې وساتل شي. یو داسې ځای پکار و چې بندیان پکې د پلټنو لپاره تر نامعلوم وخته وساتل شي او د هغو ملکي محکمو د لاسرسي څخه لیرې وي چې معیاري ثبوتونه غواړي او د مدعا علیه د حقوقو په تحفظ زور راوړي. په اکتوبر او نومبر ۲۰۰۱ کې، د ایجنسۍ سره ملګري یو ځواک چې د سپینې ماڼۍ، دفاع، مملکت او انصاف د محکمو څارنوالان پکې شامل وو، په بېلابېلو امکاناتو بحث وکړو. د انصاف د محکمې یو پخواني څارنوال جان یُو چې په دې ځواک کې شامل و لیکلي، "یوه خبره چې مونږ ټول پرې متفق شو دا وه چې بندیخانه دې د متحده ایالاتو څخه بهر وي."[18]

مونږ په دې تحقیق وکړ چې ایا محکمې به په دې ځای واک لري که نه، او په دې نتیجه ورسېدو چې که مرکزي محکمې په... کمپونو باندې واک ولري، ښایي هغوی یې په خپله رنړا کې وچلوي، هغوی به د امن د وخت د جېلونو معلوم معیارونه پلي کړي. مونږ په دې هم سخت اندېښمن وو چې هسې نه بل داسې ځای جوړ کړو چې د تروروستانو هدف وګرځي.... یو ځای هم برابر نه و، خو د کیوبا د ګوانتانامو په ټاپو کې بحري اډه داسې ښکارېده چې برابره ده.[19]

په ګوانتانامو ټاپو کې د امریکا بحري اډه د دې د ۱۱۰ کلن تاریخ په زیاته برخه کې د تېلو د بدلولو مرکز و[20]، او په وروستیو وختونو کې زیاتره د کیوبا او هیتي د کډوالو د پروسې لپاره کارېده. لومړني بندیان، چې په افغانستان کې د امریکا د بند نه راوړل شول، د ۲۰۰۲ د جنوری په ۱۱مه ګوانتانامو ته راورسېدل، او د کمپ ایکسری په نامه یوه بندیخانه کې کولپ کړای شول، کومه چې د ونو او له کوټو بهر د پنجرو یوه سلسله وه او د نویو راغلیو خلکو لپاره په ځانګړې توګه جوړه شوې وه. درې میاشتې وروسته ایکسری کمپ وتړل شو، او بندیان یوې نوې او غټې بندیخانې ته یوړل شول چې نوم يې و کمپ ډیلټا.

د ۲۰۰۲ له پېل راهیسې، یو شمېر حکومتي محکمو او ادارو – زیاتره د دفاع محکمه، ایف بي ایي او سي ایي ای – ګوانتانامو ته تحقیق کوونکي وړي دي. دې ادارو د مختلفو قواعدو سره او مختلفو اهدافو او لارښودنو لپاره کار کاوۀ، نو اکثر يې ترمنځ د پلټنو د منلو وړ اغېزمنو تخنیکونو په اړه د مختلفو نظرونو لرلو له امله شخړې راپېدا شوې دي.[21] په روایتي توګه د ایف بي ایي ابتدایي تمرکز د کورني قانون په تطبیقولو و، کوم چې د داسې معلوماتو په لاس ته راوړلو زور ورکوي چې د تېرو او راتلونکو جرمونو د محاکمې لپاره په تحقیق کې استعمال شي. ایف بي ایي بیا بیا ویلي چې د دقیقو معلوماتو د ترلاسه کولو تر ټولو اغېزمنه طریقه د دوستانې جوړولو او بیا مرکې کولو تخنیکونه دي.[22] د دفاع د محکمې کار په

هغو لارښودنو چې د دفاع سکرتر يې ورکوي او د پلټنو په هغو قواعدو چې د امريکا د *پوځ په نصاب* کې شامل دي پورې تړلې دی، لدې امله دا داسې پلټنې کوي چې په لنډ وخت کې پوځي اهداف ترلاسه کړي[23]. د امريکا د دفاع د محکمې له مخې، د پوځ نصاب د نړېغه پوښتنو برسېره "نظامي تحقيق کوونکو ته اجازه ورکوي چې داسې طريقې استعمال کړي چې ښايي د ايف بي ای په پاليسيو کې اجازه نه وي ورکړای شوې، لکه "ډارول ("سخت"، مانا د يو بندي د ځکيني ډار نه ناجايزه ګټه اخيستل چې په هغې کې جيګ او ډرکې ورکوونکی غږ هم شامل دی."[24]

د پلټنو په اړه د سي ايي ای عمومي او په ځانګړې توګه د ګوانتانامو د رول په اړه ډېر کم څه معلوم دي، خو دا خبره يقيني معلومېږي چې دې ادارې هلته يوه پټه بنديخانه لرله او دا چې د دې ايجنټانو د القاعده په تورنو غړو باندې د تشدد او غېر انساني چلند په ګډون د پلټنې سختې او جبري طريقې استعمال کړې دي.[25] د اکتوبر ۲۰۰۲ په ۲مه، د سي ايي ای د ترهګری ضد څارنوال جوناتهن فريډمن په ګوانتانامو کې د راغونډو شويو پوځي او استخباراتي چارواکو يوې ډلې ته د پلټنو د حدودو په اړه د دې ادارې سوچ داسې تشريح کړ: "سي ايي ای د هغو قاعدو نده پابنده د کومو چې پوځ پابند دی.... [تشدد] په اصل کې خپل ادراک لري. که قېدي مړ شو نو دا غلطه ده."[26] (د دې غونډې د تفصيلاتو لپاره وګورئ ضميمه ب).

| د تشدد او ظلم، غېر انساني |
| --- |

يا تحقيري چلند يا سزا ممانعتونه

په نړيوال قانون کې هم څو داسې اصول ايښودل شوي چې په بنديانو تشدد او ظلم غېر قانوني گرځوي.[27] د تشدد او غېر انساني سلوك ممانعتونه، د نورو نړيوالو معاهدو ترڅنگ، په لاندې تړونونو کې هم شامل دي: د انساني حقوقو کايناتي اعلاميه[28]، کومه چې د م م عمومي اسامبلې دويم نړيوال جنگ ته نژدې منظوره کړه او په تيارولو کې يې متحده ايالاتو ملگرتيا کړې وه؛ د ملکي او سياسي حقوقو په اړه نړيواله معاهده[29]، کومه چې متحده ايالاتو په ۱۹۹۲ کې منظوره کړه؛ د ۱۹٤۹ د ژنيوا تړونونه[30]، کوم چې متحده ايالاتو په ۱۹۵۵ کې ومنل؛ او د تشدد پر ضد د ملگرو ملتونو تړون[31]، چې متحده ايالاتو په ۱۹۹٤ کې ومنلو. د تشدد ممانعت له ډېره وخته د روايتي نړيوال قانون برخه پاتې شوې ده، خو اوس دا ممانعت د "اعلی قانون" درجې ته رسېدلی چې هيڅ يو مملکت ترې سرغړاوی نشي کولای[32].

د تشدد او د غېر انساني چلند ممانعت د امريکا د قانون مهمه برخه ده[33]. د امريکا په هغو قوانينو کې چې د تشدد او غېر انساني چلند ممانعت کوي، د تشدد د بلهاريانو د تحفظ قانون (۱۹۹۱)[34]، د تشدد د تړون د تطبيق قانون (۱۹۹٤)[35]، د جنگي جنايتونو قانون (۱۹۹٦)[36]، قېدي سره د چلند قانون (۲۰۰۵)[37]، د پوځ د کميسيونونو قانون (۲۰۰٦)[38] او همدارنگه د امريکا د اساسي قانون پنځم، اتم او څوارلسم ترميمونه شامل دي. د جنگي جنايتونو قانون، په هر هغه حالت باندې تطبيقېږي

"چېرته چې د متحده ایالاتو د نظامي ځواکونو یو غړی یا د امریکا اوسېدونکی وي داسې جنګي جرم وکړي،" چې هغه "تشدد" او "نور ظالمانه یا غېر انساني چلند" وي."[39]

د ۲۰۰۲ د دوبي په اخر کې، لوی درستیز په دې نتیجه رسېدلی و چې په ګوانتانامو کې د پلټنو څخه هغومره معلومات لاس ته نه وو راغلي څومره چې دوی هیله لرله نو سپارښتنه یې وکړه چې پوځ او ایف بي ایي دې "د قېد د کمزورو اړخونو نه د کار اخیستلو یو نوی" پلان جوړ کړي.[40] د دې طریقو د وړاندې بوتللو لپاره پېنټاګون هغه پروګرام ته وکاته چې د امریکا د نظامي پرسونل لپاره جوړ شوی و. د دې لپاره چې د دښمنو نیوونکو د پلټنو مقاومت وکړي. په دې پروګرام کې چې د "بقا، بچ کولو، مقاومت، او تېښتې" (ایس اي ار اي) په نامه پېژندل کېږي، پوځي پرسونل پکې په سختو حالتونو کې ساتل کېږي، د ستړیا تر وخته تمرین ته اړ ایستل کېږي، د حسي کمي زیاتي او د اروایي سختیو د نورو حالتونو سره مخ کېږي – دا ټول د دې لپاره چې د بهرنیو استخباراتي ادارو احتمالي تشدد او زور زیاتي ته یې چمتو کړي.[41] (ضمیمه ث).[42] د ۲۰۰۲ د سپتمبر په ۱۶مه، د ګوانتانامو د تحقیق کوونکو یو پلاوی د شمالي کېرولینا د فورټ برېګ سیمې ته د سي اي ار اي په اړه یو کنفرانس، چې د جواینټ پرسونل ریکوري ایجنسي (جی پي ار ای) لخوا جوړ شوی و، ته ولاړ، کوم چې د پوځ لپاره د روزنې پروګرامونه تنظیموي.[43] دوه میاشتې وروسته د ایس اي ار اي د ښوونکو یوه ډله پوځي اډې ته لاړه چې خپلو هم منصبو ته دا تخنیکونه وښيي.

د ۲۰۰۲ د سپتمبر په ۲٦مه، د بوش د ادارې د ډېرو مهمو قانونپوهانو یوه ډله ګوانتانامو ته لاړه. په دې ډله کې د ډیک چیني مشیر ډیوېډ اډینګټن، د سپینې ماڼۍ کونسل البرټو ګونزالیز او د دفاع د سکرتر ډونالډ رمسفیلډ لوړپوړی مشیر ولیم جی. هاینز دویم شامل وو. دا پلاوی د خپل سفر پر مهال کمپ ډیلټا ته ورغی، د پوځي قوماندانانو سره یې ولیدل او د لېن تر لېږه دوو پلټنو تماشه یې وکړه.[44] د ۲۰۰۲ د اکتوبر په یوولسمه، د ګوانتانامو قوماندانانو لوړې قوماندې ته یو خواست واستاوه څو د سي اي ار اي تخنیکونه او د پلټنو نورې "پراخې" طریقې – چې ځینې یې لا د مخه هلته استعمالېدلې – په رسمي توګه منظورې کړي.[45]

په عین وخت کې، په ګوانتانامو کې د ځینو پوځي افسرانو دا اندېښنه زیاتېدله چې هسې نه د سره صلیب نړیواله کمېټه، هغه بشري اداره چې مرکز یې په ژنیوا کې دی او د دې بحري اډې څخه یې وخت په وخت لیدل، د پوځ د لا زیاتو جارحانه پلټنو څخه خبره شي. د بېلګې په توګه، د ۲۰۰۲ د اکتوبر په ۲مه، د پوځ د قول اردو څارنوالې ډګروالې ډیان بیور د پوځي او استخباراتي چارواکو یوې ډلې ته چې په ګوانتانامو کې راغونډ شوي وو، وویل چې د پلټنو سخت تخنیکونه زیات پټوالی غواړي. د غونډې د تفصیلاتو له مخې، هغې دې ډلې ته وویل،"ایي سي ار سي چې دلته وي نو مونږ د سختو عملیاتو پناه کولو ته اړتیا لرو." "ښه دا ده چې هغوی ته د متنازعه

تخنیکونو په اړه څه ونه ویل شي.... دا به ډېره زیاته منفي پاملرنه راواړوي."[46]

## د پلټنو "پراخ" تخنیکونه

د پلټنو د سختو تخنیکونو د واک لپاره د بوش د ادارې د غوښتنې پته د هغه قانوني یادښت نه لګول کېدای شي چې مرستیال لوېي څارنوال جی ایس. بیابي د جان یُو سره په شریکه په اګست ۲۰۰۲ کې ولیکلو.[47] د تشدد په اړه د مخکې نه په نړیوال قانون کې د شویو ټولو تعریفونو برعکس، په دې یادښت کې راغلي چې تشدد د امریکا په قانون کې د ظلم درجې ته تر هغه وخته نه رسي تر څو چې تشدد دومره درد نه وي پېدا کړی چې "د سخت جسماني زخم د درد سره برابر نه وي، لکه د یو اندام کار پرېښودل، د بدن دکومې برخې زخمي کېدل، او یا هم مرګ."[48] په دې مشکوک قانوني سوچ کې ذهني تشدد "صرف د درد د رسېدو په وخت کې دردېدلو ته نه بلکې... تلپاتې اروایي زیان، لکه په ذهني مرضونو کې چې لیدل کېږي لکه د صدمې نه وروسته د فشار مرض" ته ویل کېږي.[49] د دې لپاره چې تشدد منل شوی وای، د درد رسول باید د زور زیاتي "مشخص هدف" وای نه دا چې د دې له امله راپېدا شوی. یو تحقیق کوونکی پوهېده چې د هغه اعمال درد رسولای شي، خو "که داسې زیان رسول یې هدف نه وي، په تشدد د تورن کېدلو لپاره د "مشخصې ارادې د ضرورت کمبوت دی."[50] دغه

یادابښت، نړیوال قانون ته د امریکا د تړون سره په ښکاره سپکاوي سره، په دې خبره هم زور راوړو چې کوم کورني قوانین په تشدد بندېز لګوي په ایینې توګه په هغو پلټنو نشي تطبیقېدای چې امر يې ولسمشر د پوځي ځواکونو د اعلی قوماندان په حېث ورکړی دی او دا چې د پلټنې په خاطر په شکمنو تروریستانو تشدد کول د "ضرورت" او "د ځان د دفاع" لپاره قانوني او جواز لرونکی دی.[51]

د ۲۰۰۲ تر اواخرو پورې، د ایف بي ايي هغو ایجنټانو چې په ګوانتانامو کې يې تقرر شوی و هلته د پوځ د تحقیقي تخنیکونو په اړه د خپل مرکز سره پوښتنې راپورته کول شروع کړي وو. په ورته توګه، د امریکا د پوځ او د دې د جی ای جي قول اردو یو شمېر چارواکو په ګوانتانامو کې د پلټنو د جبري طریقو او په ولس کې د هغو د اغېز په اړه پوښتنې کولې.[52] څرنګه چې د پلټنې د تخنیکونو د وړاندیز شوي پراخوالي په اړه د پوځ د هرې څانګې سره مشوره شوې وه، هغوی په همدغه ترتیب د خپلو اندېښنو څرګندونه وکړه.[53] (اختتامیه د)[54] د قانون او پالیسۍ په اړه د یو ژور او تدبیر شوي تحلیل لپاره د دوی د غوښتنو باوجود، د ۲۰۰۲ د دسمبر په ۲مه، د دفاع سکرتر رمسفیلډ یو فرمان جاري کړ، کوم چې د دفاع د محکمې د جنرال کونسل ویلیم جی. هاینس دویم لخوا جوړ شوی و، چې پکې په یو وخت د دېرشو ورځو لپاره د ځانله قېد، دولس ساعته پلټنو او د "زور اچولو لپاره د شخصي ویرو (لکه د سپو نه ډار)" د غلط استعمال واک ورکړای شو.[55] هغه تحقیق کوونکو ته دا واک هم ورکړ چې بندیان د رڼا نه محروم او

د اوریدو توان یې کم کړي، په زوره یې لغړ کړي، زوړند یې کړي او "سختو حالتونو" کې یې کېنوي.[56] ځینې د دې طریقو د سي اي ار اي پروګرام نه اخیستل شوې وې، او ډېرې یې د هغه څه نه لیرې وې چې د مېدان جنګ په نصاب کې یې اجازه ورکړای شوې وه. په هماغه ورځ چې رمسفیلډ دا فرمان جاري کړی و، د دفاع د محکمې د جنایي تحقیقاتو د ځواک قوماندان خپل ایجنټان په ګوانتانامو کې په داسې پلټنو کې د برخې اخیستلو څخه منع کړل چې "د تر پوښتنې لاندې تخنیکونو څخه کار اخیستل کېده... او د هر هغه چاپېریال نه د ځان ایستلو یې ورته وویل چې دوی یې نامناسب احساس کړي."[57] د ۲۰۰۲ د دسمبر په ۱۷مه، د بحري ځواک د جنایي تحقیق د ځواک (این سي ایي ایس) پرسونل د سي ایي ټي ایف سره یو ځای د بحریې یو جنرال کونسل البرټو جی. مورا ته خبر ورکړ چې په افغانستان او ګوانتانامو کې قېدیانو سره "جسماني زیاتی او تحقیري چلند" کیږي.[58] درې ورځې وروسته مورا د دفاع د محکمې جنرال کونسل ویلیم هاینز ته ورغی څو د رمسفیلډ د دویم دسمبر د هدایت په اړه ورته خپله اندېښنه وښیي. مورا هاینز ته خبرداری ورکړ چې رمسفیلډ په ګوانتانامو کې د پلټنې د کومو طریقو د استعمال واک ورکړی دی هغه "د تشدد درجې ته رسېدای شي" او "حېران شو چې سکرتر د دې د امضاء کولو اجازه ورکړې وه."[59]

د ۲۰۰۳ د جنورۍ په ۱۵مه، رمسفیلډ د دویم دسمبر فرمان[60] منسوخ کړ او یوه کاري ډله یې جوړه کړه چې د پلټنې د نویو تخنیکونو پرمختګ وګوري. د ۲۰۰۳ د اپرېل په ٤مه دې

دلې خپل راپور وړاندې کړ، چې پکې د پلټنې د دري دېرشو طريقو تکامل او وړانديز شوی و[61]. دوه اونۍ وروسته، د اپرېل په ۱٦مه، رمسفيلډ په داسې حال کې چې زياته تکيه يې د بيابي-يُو د اگست ۲۰۰۲ د يادښت په قانوني دلايلو کوله، يو نوی امر جاري کړ چې پکې د پنځه دېرشو څخه څلېرويشت تخنيکونه تاييد شول، په دې کې د خراب چاپېريال استعمال، د خوب لپاره برابرتيا او اوږدمهاله گوښبندي شامل وو.[62]

## د تشدد په اړه د حکومت تحقيقات

په وروستيو کلونو کې د امريکا گڼ شمېر محکمو او ادارو د افغانستان، عراق، گوانتانامو او نورو ځايونو په امريکايي بنديخانو کې بنديانو سره د زور زياتي د راپورونو تحقيقات کړي دي. برسېره پر جنايي تحقيقاتو، د دفاع محکمې د بنديانو پلټنو ته يو شمېر غوټې کتنې کړې دي.[63] په ۲۰۰٤ کې د پېنټاگان د دفاع د محکمې د ۱۸۷ پلټنو په يوه کتنه کې وموندل چې د شپږو قېديانو د مرگ په گډون ۷۱ (۳۸ فيصده) پېښې د زور زياتي وې.[64] په يوه بله کتنه کې چې په ۲۰۰۵ کې وشوه دا نتيجه اخيستل شوې چې په گوانتانامو کې زور زياتی شوی و، خو د ناوړتيا باوجود، د پلټنو زياتره پېښې داسې وې چې د پوځ په نصاب کې يې اجازه ورکړای شوې وه.[65]

په نژدې وختونو، د ۲۰۰۸ په مئ کې، د انصاف د محکمې د جنرال انسپکټر دفتر په "گوانتانامو ټاپو، افغانستان

او عراق کې د قېدیانو په پلټنو کې د ایف بي ایي نګرانۍ او ګډون ته کتنه" (او ایي جي/ډي او جی راپور) تر سرلیک لاندې د ۴۳۷ څونو یو راپور خپور کړ.[66] د انصاف د محکمې تحقیق کوونکو د ایف بي ایي ۴۵۰ هغو کارکوونکو سره مرکې یا يې ترې پوښتنې کړې وې چې په مختلفو وختونو کې په ګوانتانامو کې مقرر شوي وو. تقریباً ۲۴۰ ایجنټانو وویل چې دوی "په ګوانتانامو کې بندیانو سره زور زیاتی نه کله لیدلی او نه يې د چا نه څه اورېدلي دي." خو تر دوو سوو زیاتو ایجنټانو وویل چې دوی "بندیانو سره سخت او جارحانه چلند لیدلی یا يې په دې اړه اورېدلي کوم چې زیاتره د پوځي تحقیق کوونکو لخوا کېده. ډېر هغه تخنیکونه چې په اړه يې دوی خبرې کړې بې خوبه کول، تر اوږد وخته پورې تړل، سخت حالتونه، یواځې والی، د ډېرې رڼا او یا تېزې موسیقۍ استعمال پکې شامل وو."[67] د او ایي جي/ ډي او جی راپور له مخې، ایف بي ایي "د ۲۰۰۲ په دوبي کې پرېکړه وکړه چې بندیانو نه نورو ادارو سره په هغو شریکو پلټنو کې به برخه نه اخلي کومو کې چې داسې تخنیکونه استعمالېدل چې ایف بي ایي يې اجازه نه ورکوله."[68]

دې راپورونو ته په یو ځای کتلو سره په ګوانتانامو او نورو ځایونو کې بندیانو سره د سیستماتیک زور زیاتي او د پلټنې د خاصو طریقو د استعمالولو په سر د امریکا د بېلابېلو محکمو او ادارو ترمنځ تراخه اختلافات لیدل کېږي.[69]

د اکتوبر ۲۰۰۸ سره سم، د لاندې درجې د پوځي پرسونل کم شمېر غړي په افغانستان او عراق کې بندیانو سره په زور زیاتي کې د لاس لرلو له امله محاکمه شوي دي؛ خو په ګوانتانامو کې د تشدد په تړاو څوک نه دي محاکمه شوي. په نظامي او ملکي قومانده کې دې تشدد سره د لاس لرلو په تړاو څوک نه دي محاکمه شوي. په عین حال کې، کوم خپلواک کمیسیون د ۲۰۰۱ د سپتمبر د ۱۱مې څخه راپدېخوا د امریکا د بند او د پلټنو طریقو ته کتنه نه ده کړې. نه داسې کومه اندازه لګول شوې چې کوم تر پنځو سوو زیات بندیان د ګوانتانامو نه خوشې او خپلو یا نورو هېوادونو ته لاړل هغوی سره څه پېښ شول.

## د قېدیانو مطالعه

د دې تشې د ډکولو لپاره په ۲۰۰٦ کې زمونږ درېو ادارو لاس یو کړ څو د هغو پخوانیو بندیانو په اړه څېړنه وکړي چې د کیوبا د ګوانتانامو په ټاپو او افغانستان کې د امریکا لخوا قېد کړای شوي وو. د دې لپاره چې د خپلو ادارو د مهارت د بېلابېلو مېدانونو څخه استفاده وکړو، مونږ په دې متفق شو چې د یو سي برکلی دوه ادارې - د بشري حقوقو مرکز (ایچ ار سي) او د نړیوالو بشري حقوقو کتنځی (ایي ایچ ار ایل سي) - به دا څېړنه کوي، معلومات به تجزیه کوي، او د څېړنې لاس ته راوړنې به لیکي، په داسې حال کې چې د ایيني حقوقو مرکز (سي سي ار) به پخوانیو قېدیانو ته په لاسرسي کې د برکلی د محققینو مرسته کوي، معلومات به په لاس ورکوي او د اخري

راپور په کتلو کې به مدد کوي. د راپور د متن په اړه اخري پرېکړې د يو سي برکلي ادارو کړې دي.

د دې راپور لپاره تحقيق په اګست ۲۰۰٦ کې پېل او په اکتوبر ۲۰۰۸ کې پای ته ورسېد. تر دغه مهاله معلومه شوې وه چې د ګوانتانامو په بحري اډه کې ۷۷۰ قېديان ساتل شوي دي. د دوی څخه ٥۲۰ يا خو خوشې شوي وو يا د نورو حکومتونو بند ته سپارل شوي وو.[70] محققينو د کېفيت او تعداد د طريقو په استعمالولو سره د اصلي معلوماتو درې سيټه د دې موخې لپاره راغونډ کړل چې د ګوانتانامو دننه د قېديانو او د هغوی په ژوند او کورنيو باندې د دې بند د اغېز يو بشپړ انځور وړاندې کړي. د معلوماتو په لومړني سيټ کې د دوه شپېتو پخوانيو بنديانو چې اوس په نهو هېوادونو کې ژوند کوي بشپړې مرکې وې. په دوهم سيټ کې د پنځوسو هغو مهمو معلوماتو ورکوونکو سره مرکې وې چې پخواني حکومتي چارواکي، د نادولتي ادارو استازي، د بنديانو څارنوالان او د امريکا پخواني نظامي او ملکي کارکوونکي چې په ګوانتانامو او افغانستان کې مقرر شوي وو پکې شامل وو. د معلوماتو په دريم سيټ کې د ګوانتانامو په اړه د رسنيو د ۱۲۱٥ راپورونو تحليل و.

د څېړنې اصلي اهداف دا وو:

- د هغو پخوانيو بنديانو د بند او پلټنو د تجربو ثبتول چې د افغانستان او ګوانتانامو په امريکايي قېدخانو کې ساتل شوي وو؛

- دا اندازه لګول چې څرنګه د دوی بند او ورسره چلند د دوی خپلو کورنیو او ټولنو ته بېرته ورتلل او خپل ژوند جوړول اغېزمن کړل؛ او
- د دغو معلوماتو د بند او تحقیق د تګلارو په اړه د هغو دستاویزاتو او راپورونو سره پرتله کول چې د دفاع د محکمې، د امریکا د حکومت، د خپلواکو ادارو او رسنیو لخوا خپاره شوي وو (د یو منتخب لیست لپاره وګورئ ضمیمه د).

### پخوانیو قېدیانو سره مرکې

محققینو په نهو هېوادونو کې د دوه شپېتو پخوانیو قېدیانو سره بشپړې مرکې وکړې. اوسط وخت چې دې د دې څېړنې ځوابوونکو ګوانتانامو ته له وړل کېدو وړاندې په افغانستان کې د امریکا په قېد کې تېر کړی دولس اونۍ و.[71] دا معلومات د هغوی د قېد، د افغانستان او ګوانتانامو په امریکایي قېدخانو کې ورسره د چلند او له خوشې کېدو وروسته د هغوی د تجربو په اړه یوه پراخه او اړونده شهادتنامه جوړوي. د مرکه شویو کسانو د تحفظ په خاطر دا مرکې د نوم نه ښکاره کولو په شرط شوې وې او په همدې توګه په دې راپور کې یې نومونه ندي ورکړای شوي. وروسته د مرکو تفصیلي مطالعه وشوه، او د برکلی د انساني موضوعاتو د تحفظ د کمېټې لخوا یې منظوري وشوه. د مرکو لپاره د پوښتنو لیست د هغو محققینو په ملګرتیا جوړ شوی و چې په ګوانتانامو کې د قانوني مسلو سره اشنا وو.[72] کومو ځایونو کې چې یو محقق د مرکه شوي تن په ژبه نه پوهېده نو د مرکو لپاره د مسلکي ژباړونکو څخه

کار واخیستل شو. د ټولو مرکو نقلونه جوړ شوي دي. نقلونو ته بیا د Atlas.ti سافټ ویر پروګرام چې په ټولنیز علم کې د معیاري معلوماتو د کوډولو لپاره ډېر زیات استعمالېږي کوډونه ورکړای شول. کوډونه هم استخراجي وو، داسې کوډونه ورته وټاکل شول چې د مرکو د پوښتنو نه اخیستل شوي وو، او هم استقرایي، څو محققینو ته د معلوماتو د کوډولو په ټوله پروسه کې د دې د خاصو خیالاتو او طریقو پېژندل اسان وي.[73] په ټوله کې، تر دوو سوو زیات کوډونه جوړ او ونومول شول، چې د دې نه ۲۱۷۹ ځله کوډ شوي معلومات جوړ شول. په کوډونو کې ګڼ شمېر موضوعات شامل کړای شوي دي، د بېلګې په توګه، د (زېږون، مړینې وغېره) نېټو بنسټیز معلومات، د قېد حالات، د پلټنو د هغو طریقو ډولونه چې استعمال شوي، قران سره چلند، او قېدیانو سره د ګوانتانامو نه وړاندې په امریکایي بند کې چلند، طبي علاج ته لاسرسی او د کورنیو د غړیو سره بېرته لیدل. محققینو په هغو ځایونو کې د کوډونو د موضوعاتو د یو ځای کولو کتنه وکړه چې د پخوانیو بندیانو موافقې یا مخالفې تجربې راتللې. په دې توګه، دا کوډونه د عامو تجربو یو فهرست شو.

## د مهمو معلوماتو ورکوونکو سره مرکې

د پنځوسو مهمو معلوماتو ورکوونکو سره مرکې وشوې څو د قېدیانو معلومات نور هم وسنجول شي او د څېړنې لپاره اضافي معلومات لاس ته راوړل شي. اتلس مرکې د هغو څارنوالانو سره وشوې چې د ۱٦٤ بندیانو استازیتوب یې

کړی و. تقریباً ۴۳۰ قېدیانو د قانوني استازیتوب حق درلود. یوولس مرکې د امریکا د حکومتي چارواکو سره وشوې. څلور مرکې د هغو امریکایي کارکوونکو سره وشوې چې پخوا یې په ګوانتانامو کې کار کړی دی. یوه مرکه د یو پوځي افسر سره چې په افغانستان کې کار کوي وشوه. او په اخر کې، شپاړس مرکې د امریکا د حکومت د پخوانیو چارواکو او په امریکا کې د نړیوالو نادولتي ادارو د استازو سره وشوې. دې مهمو معلوماتو ورکوونکو په ګوانتانامو کې بندیانو سره د خپلو تجربو او لیدنو، د حکومتي تګلارو د جوړېدو او تطبیق، او د دې تګلارو د ګټورتوب په اړه د خپل نظر په باره کې معلومات ورکړل.

د مهمو معلوماتو ورکوونکو مرکې، لکه د پخوانیو قېدیانو په څېر، د پوښتنو د هغو تفصیلي طریقو د استعمال په واسطه وشوې چې منظوري یې یو سي برکلی ورکړې وه. دې مرکو کې یو اځې د هغو کسانو نومونه ښودل شوي چې په خپله یې د خپلو نومونو ښودل غوښتل.

### *د رسنیو معلوماتغونډ*

د اصلي معلوماتو درېیم سیټ هغه څه وو چې د خوشې شویو بندیانو په اړه د رسنیو د ۱۲۱۵ راپورونو چې د اوریسل په معلوماتغونډ کې وو، څخه راخیستل شوي. د رسنیو راپورونه د ۲۰۰۷ څخه وړاندې د نړۍ د اوو غټو خبري ادارو څخه په یوه یا زیاتو کې خپاره شوي وو.[74] دې معلوماتغونډ محققین د پخوانیو قېدیانو د مهمو نېټو د مېلاناتو، د ګوانتانامو د ښودل شویو شرایطو، او د

خوشې کولو د حالاتو په پېژندلو کې د اعدادي طريقو په استعمال وتوانول. دا معلومات د مرکو د معلوماتو او نورو سرچينو سره پرتله شول. (په ټول راپور کې مونږ د رسنيو د هغو راپورونو حوالې هم ورکړې دي چې په ۲۰۰۷ او ۲۰۰۸ کې خپاره شوي دي، خو دا راپورونه په دغه معلوماتغونډ کې نه وو داخل شوي.)

په معلوماتغونډ کې هغه کنټرول شوې ويي پانګه استعمال شوه چې محققينو جوړه کړې وه. د معلوماتغونډ په جوړولو او د کوډولو په پروسه کې بشري حقوقو څخه د سرغړونې د هغه اعدادي تحليل د اصولو څخه کار اخيستی شوی چې هيومن رايټس ډاټا انالېسسز ګروپ تيار کړی دی.[75] دې تفصيلي مسودې د معلوماتغونډ بېلابېلو موضوعاتو ته د رسنيو د هر راپور د متن نه د اړوندو معلوماتو په ترجمه کولو کې اسانتيا پېدا کړه. کله چې د معلوماتو داخلول بشپړ شو،[76] نو معلومات ښکته کړای شول او د "ر" حسابي پېکج سره تحليل کړای شول.[77] بيا د هر بندي په اړه د رسنيو راپورونه يو ځای کړای شول څو تر امکاني حده بشپړ معلومات ترې واخيستل شي. دې معلوماتغونډ د ۳۱۰ هغو کسانو څخه درې برخې نومونه (۲۱۹) راواخيستل چې تر دسمبر ۲۰۰٦ پورې معلومه وه د ګوانتانامو څخه خوشې شوي دي.[78]

## د څېړنې محدوديتونه

د پخوانيو قېديانو د مرکو، د مهمو معلوماتو ورکوونکو د مرکو او د رسنيو د معلوماتو تحليل د

پخوانیو قېدیانو د تجربو او یو شانوالي ثبوت یو درې اړخیز نظر جوړوي چې د دې لاسته راوړنو ارزښت زیاتوي. محققینو طریقې او تولپوښتنې داسې جوړې کړي چې د دې راپور د باور او ارزښت په اړه احتمالي تعصب یا ویره کمه شي. خو بیا هم، امکاني محدودیتونه باید یاد کړای شي.

لومړی، هغه لاس ته راوړنې چې په دې راپور کې راوړل شوي زمونږ د مرکې د بېلګې تر حده دي. محققینو لدې امله چې پخوانیو قېدیانو ته د ولس لاسرسی او د هغوی په اړه معلومات کم دي هغوی سره د مرکو لپاره یوه اسانه بېلګه استعمال کړې ده. دا بېلګه تصادفي نه وه او دا معلومات ښایي د خلکو د هغه اصلي شمېر انځورګري ونه کړي چې د ګوانتانامو څخه خوشې شوي دي.[79] د یو شمېر وجوهاتو له امله، د مرکه شویو اکثریت په هغو کسانو پورې محدود و چې خوشې شوي او په هغو هېوادونو کې دي چې لاسرسی ورته کېږي. برسېره پر دې، د مرکو داوطلبانه نوعیت ښایي تر څه حده تعصب پېدا کړی وي، وجه یې دا ده چې د بندیانو یوه خاصه ډله امریکایي محققینو سره د خبرو لپاره لږه یا زیاته لېوالتیا لري.

دوهم، د بندیانو په مرکو کې د بشري حقوقو د خلاف ورزی، ظالمانه چلند، صدمې، د امریکا د حکومت په اړه نظرونو او د خپلو حکومتونو د سلوك په ګډون په حساسو موضوعاتو خبرې شوې دي. دا امکان لري چې پوښتل شویو کسانو د عکس العمل یا بدنامۍ له امله او یا لدې امله چې د دردناکو او صدمه لرونکو پېښو په اړه یې اجنبیانو

سره خبرې نه شوې کولای، پوره یا ریښتیني ځوابونه نه وي ویلي.[80] مرکو لپاره د اجازت اخیستلو په فورمه کې د پېژندګلو په پټ ساتلو زور راوړی شوی و او نومونه نه وو ثبت شوي څو پخواني قېدیان په خاصو موضوعاتو باندې د ژورنالستانو په نسبت محققینو سره په زیاته ازادۍ خبرې وکړي.[81] پر دې برسېره، د پوښتنې کولو د دې درېو طریقو په واسطه د ثبوت اخیستلو د سیستماتیکو غلطیو خطره کمه کړای شوه.

درېم، امریکایي اتباعو یا اوسېدونکو د پخوانیو قېدیانو د مرکو د اخیستلو لپاره مسلکي ترجمانان استعمال کړل. دا امکان لري چې د امریکایي محققینو موجودګی اضافي جانبداري پېدا کړې وي، په ځانګړې توګه د هغو پوښتنو د ځوابونو پر مهال چې د امریکا د حکومت او یا یې د استازو د چلند په اړه شوې وې. په همدې توګه، د مرکه اخیستونکي جنس یا بل شخصي صفت ښایي د ځواب ورکوونکي مخه نیولې وي چې د تشدد په خاصو موضوعاتو یا په ځانګړې توګه په حساسو مسلو لکه جنسي تحقیر، اروایي مسلو، کورنۍ رابطو او یا اقتصادي ستونځو باندې په ازادۍ سره خبرې وکړي.

په پای کې، محققین په دې ندي توانېدلي چې د هغو کیسو تصدیق وکړي چې پخوانیو قېدیانو او مهم معلومات ورکوونکو سره په مرکو کې مخې ته راغلي دي. بې له شکه چې د دې څېړنې مقصد پلټنې کول نه بلکې د پخوانیو قېدیانو د تجربو طریقې پېژندل، او چېرته چې یې امکان لرلو، د دې معلوماتو د هغو پېښو او مېلاناتو سره پرتله

کول وو چې د رسنيو د راپورونو او نورو سرچينو په معلوماتغونډ کې راټول شوي وو.

مونږ په څو وجوهاتو باور لرو چې د مرکو دا معلومات په مجموع کې سم او باوري دي. لومړی دا چې زيات شمېر د ځواب ورکوونکو، چې اوس د نړۍ په بېلابېلو هېوادونو کې ژوند کوي او له يو بل سره تماس نلري، د يو شان پېښو تجربې بيان کړې. دوهم، نتيجې د کوم يو ځواب ورکوونکي د راپورونو په ځای د غټو بېلگو نه اخيستل شوې دي. مرکه کوونکو په دې ټينگار کړی چې ځواب ورکوونکي - که هغه پخواني قېديان دي او که مهم معلومات ورکوونکي - دې يواځې هغه پېښې بيان کړي چې پخپله ورسره مخ شوي او يا يې پخپله ليدلې دي. په دې توگه د مرکې او د رسنيو د معلوماتو تجزيه په بشپړه توگه په مستقيمو راپورونو ده. په پای کې، مونږ د دې مرکو د معلوماتو د مېلاناتو او طريقو او د بند او پلټنو د طريقه کار په اړه د دفاع د محکمې لخوا د خپرو شويو دستاويزاتو او د امريکا د حکومت، خپلواکو ادارو او د رسنيو لخوا د خپرو شويو راپورونو د پرتله کولو پر مهال په لوي کچ يوشانوالی وموند.

# دويم باب: افغانستان: د اوږدۀ سفر پېل کېدل

د ۲۰۰۱ د اکتوبر په ۷مه، نژدې څلور اونۍ وروسته له هغې چې په دوو برجونو او پېنټاګون بريدونه وشول، امريکا په افغانستان کې خپله جګړه پېل کړه. په داسې حال کې چې کروز توغنديو په کابل، جلال اباد او کندهار کې د طالبانو ځايونه بمباروول او ايف ای-۱۸ الوتکو هره ورځ د تورې بورې په غرونو کې د القاعده مرکزونه لټول، په زرګونو ملکي خلك او همدارنګه بهرني او افغاني جنګيالي په سرحدي سيمه پاکستان ته واوختل. زيات يې په سرحدي سيمو کې ونيول شول ځکه چې امريکا هلته "د القاعده او طالب قاتلانو" د نيولو په اړه پاڼې خورې کړې وې چې پکې د غټو انعامونو ژمنه شوې وه.[1] ځينو د سيمه ايزو قبايليانو سره پناه واخيستله، او نور د خپلوانو او دوستانو په کورونو کې پټو ځايونو ته لاړل، يا د پاکستان دننه په ښارونو کې ننوتل.

د نغدو انعامونو خبره په سرحدي سيمو کې خوره شوې وه، سيمه ايزو ملېشو او د کليو مشرانو هغه کسان نيول او د پاکستان پوځ ته سپارل پېل کړل چې په تېښته وو. د پاکستان ولسمشر وروسته په خپل ژوندليك، *د اور په کرښه: يو ياداښت*، کې وليکل چې پاکستاني پوځيانو د يوولسم سپتمبر نه وروسته د القاعده ۶۸۹ شکمن غړي ونيول، او بيا يې ۳۶۹ سي ايي اى ته وسپارل، او سي ايي اى په "بدل کې" په "مليونونو ډالر" ورکړل.[2] په عين وخت کې د

نورو هېوادونو امنيتي ځواکونو د امريکا په غوښتنه د شکمنو اورپکو نيول پېل کړل، په کومو کې چې ځينې امريکايي چارواکو ته وسپارل شول.

د دې خبرنې لپاره د دوه شپېتو ځواب ورکوونکو درې برخې کسانو وويل چې يا په شخصي توگه خبر دي او يا ورته د امريکايي يا پاکستاني چارواکو لخوا ويل شوي چې په امريکا خرڅ شوي دي. يو پخواني بندي وويل چې د کلي خلکو هغه او د هغه ملگرو ته د استراحت لپاره د ځای وړانديز وکړ او بيا يې پاکستاني پوځيانو ته وسپارل. هغه وويل، "مونږ فکر وکړ چې دا ښه خلک دي، خو دوکه يې کړو." هغوی مونږ د پېسو لپاره خرڅ کړو او دوهمه خبره چې مونږ پرې پوه شو دا وه چې مونږ د امريکا په قېد کې وو.... زمونږ په اړه چا سره هېڅ ثبوت نه و، هيچا مونږ ونه کتلو چې مونږ سره وسلې وې يا مونږ جنگېدلو يا مونږ خطرناک وو که نه." يو بل ځواب ورکوونکي د امريکايانو د خبرو د اورېدو خبره وکړه چې د هغه او نورو بنديانو د اخيستلو لپاره يې پېسې شمارلې، بيا پټ او وتړل شول او الوتکې ته د خېژولو په انتظار شول کومه چې يقيني وه چې افغانستان ته به تلله. "مونږ [د امريکايانو] خبرې واورېدلې چې پېسې يې شمارلې او پاکستانيانو ته يې ويل: "د هر يو تن پنځه زره ډالر، د پنځو تنو پنځه ويشت زره ډالر، د اوو تنو پنځه دېرش زره ډالر."

په افغانستان کې، د دې خبرنې ديارلسو ځواب ورکوونکو وويل چې يا د امريکايي ځواکونو په چاپو کې

نیول شوي او یا افغاني عسکرو امریکایانو ته سپارلي وو. ځینو وویل په پېژندګلو کې د غلطۍ له امله نیول شوي، نورو وویل چې د وسلو د لرلو له امله نیول شوي، هغوی دعوه کوله چې هلته وسلې د هر چا سره وې او د ځان د حفاظت لپاره ضروري وې. د یو تن پېښه داسې وه چې یواځې د پاسپورټ درلودو یې په اړه پوره شک راپورته کړ. دې تن وویل چې امریکایي عسکرو د هغه بریف کېس قبضه کړ او د کور لټون یې پېل کړ. دننه پکې د هغه افغانی پاسپورټ و چې د سعودي وېزه پرې لګېدلې وه. هغه امریکایي نیوونکو ته وویل چې دا قانوني پاسپورټ او وېزه دي، خو عسکرو بیا هم ونیولو. "کله چې زه کندهار ته یوړل شوم، نو ورته ومې ویل "پاسپورټ وګورئ، که پاسپورټ غېر قانوني وي، که وېزه غېر قانوني وي، نو بیا ستاسو حق دی چې ما ونیسئ. خو که دا غېر قانوني نه وي نو مهرباني وکړئ خوشې مې کړئ."

ځینو نورو ځواب ورکوونکو وویل چې شخصي شخړې او سیمه ایزو چاروکو ته د رشوتونو نه ورکول د هغوی د نیول کېدو سبب شو. لکه یو ځواب ورکوونکي چې وویل "بالکل، خلکو امریکایي پوځیانو ته غلط معلومات ورکول. خلکو هر څه چې غوښتل وې کړل، په تېره بیا چې خبره د پېسو وه." یو بل ګومان کاوه چې د هغه د بدقسمتۍ وجه په هغه سیمه کې یوه شخړه وه چې هغه پکې اوسېده. "دا یو کاروبار و. خلک په امریکایي پوځیانو خرڅېدل. زما قضیه چې وه، نو ما په خپله سیمه کې د خلکو سره شخصي دښمنۍ لرلې." درېم تن وروسته له هغې امریکایي عسکرو

ته وسپارل شو چې هغه د ګردېز په یوه پوسته باندې افغاني پوځیانو ته د خپل موټر د ورکولو څخه انکار وکړ؛ وروسته هغه واورېدل چې امریکایانو د هغه د ورسپارلو لپاره د ولایت والي ته پنځه سوه ډالر ورکړي وو. یو بل ځواب ورکوونکي وویل په دې وجه نیول شوی و چې د خپل سټلایټ ټلیفون د ورکولو څخه یې انکار کړی و، او یو بل وویل چې هغه په یوه پوسته باندې د دوربین د لرلو له امله نیول شوی و، کوم چې هغه د مرغیو د ښکار لپاره استعمالولو.

هغو ټولو کسانو چې زمونږ د څېړنې لپاره یې ځوابونه ورکړي وویل چې ګوانتانامو ته په لاره د هغوی اول ځای یو د هغو دوو امریکایي قېدخانو نه و چې د کندهار او باګرام سره دي.[3] د کندهار قېدخانه د ښار په هوایي ډګر کې د خېمو، د هوایي ډګر د ودانیو، او د اوسپنیزو کوټو یو کمپ و. د ۲۰۰۱ د اکتوبر د پېل څخه، کله چې لومړني پلټونکي ورته راورسېدل، دا د هغو بندیانو نه د معلوماتو ټولولو ځای و چې په افغانستان او نورو هېوادونو کې نیول شوي وو.[4] دویم زندان، چې په کابل کې د باګرام په هوایي اډه کې دی، د اکتوبر ۲۰۰۸ پورې شته او د پراخوالي پلانونه یې ښیي چې تر کلونو به کار وکړي. د شورویانو لخوا په ۱۹۷۹ کې د الوتکو د ماشینونو د دوکان په توګه جوړه شوې د باګرام اډه یوه اوږده، راتاو او سخته ودانۍ ده، په هغو ځایونو چې پخوا به چېرته کړکۍ وې اوس پرې سخت اوسپنیز ځادرونه لګېدلي دي. کله چې امریکایي ځواکونو دا ځای د ۲۰۰۱ د دسمبر په پېل کې

ونیولو، نو دوی وربانـدې پنځه غټ اوسپنیز جالونه او نیم درځن نهه په اوه انچو کې د پلایي ووډ لرګي پنجرې ولګولې. په دې قېدخانه کې د هغو بندیانو چې ګوانتانامو ټاپو ته د وړل کېدو احتمال يې و د تحقیق او پلټنو لپاره د ساتل کېدو تمه کېده. خو په سپتمبر ۲۰۰٤ کې ګوانتانامو ته د ډېرو بندیانو انتقال ودرېد، چې له امله يې په باګرام کې د قېدیانو شمېره وختله. دا مهال په دې قېدخانه کې ٦٣٠ قېدیان دي چې زیاتره يې افغانان دي.[5] د دې ټولو خبرو وروسته، امریکایي ځواکونو په کندهار او باګرام کې په لسګونو زره بندیان ساتلي، چې پکې په معلومه توګه تر اتو سوو کم د ګوانتانامو ټاپو قېدخانې ته انتقال شوي دي.[6]

## د متحده ایالاتو قېدخانې

د دویم نړیوال جنګ د پای او د ۲۰۰۱ د سپتمبر د پېښو ترمنځ په نیمه پېړۍ کې د امریکا پوځ په شپږو جنګونو کې قېدخانې ساتلې وې او له هېواده بهر يې پوځي عملیات کړي دي.[7] په دې جنګونو کې د امریکا په ښودل شوې نظامي پالیسۍ باندې جنګي قېدیانو سره د چلند په اړه د ژنیوا تړون (ژنیوا تړون درېیم) او د جنګ پر مهال د ملکي خلکو د تحفظ اړوند تړون (ژنیوا تړون پنځم) او نور اړوند تړونونه او نړیوالې تګلارې تطبیق شوې وې.[8] په افغانستان کې د جګړې او د عراق د دویم جنګ نه وړاندې، د جنګ په وخت کې د امریکا د قېدخانو تر ټولو وروستی

استعمال د ۱۹۹۱ د "صحرا د توپان په عملياتو" کې و.[9] په دې نښته کې امريکا او اتحاديانو يې ۸٦،۷۴۳ عراقيان ونيول. ټول ٦۹،۸۲۰ جنگي قېديان او ملکي بنديان د جنوري ۱۹، ۱۹۹۱او مئ ۲، ۱۹۹۱ تر منځ په عراق، کويت او سعودي عربيه کې په امريکايي قېدخانو کې ساتل شوي وو.[10] د بنديانو خپلو هېوادونو ته بېرته انتقال په دومره منظمه طريقه شوی و چې د سره صليب د نړيوالې کمېټې چارواکو وويل څومره چې دوی ته معلومه وه د عراقي بنديانو انتقال د درېم ژنيوا تړون مطابق په تر ټولو ښه طريقه په دې جگړه کې وشو.[11] خو همدا خبره وروسته په افغانستان، عراق او نورو ځايونو کې د امريکا د بنديخانو په اړه نشي کېدای.

## کندهار او باگرام: رارسېدل

کريس ماکي، چې کندهار او باگرام کې د امريکا پوځي پلټونکی و او د "پلټونکي: ۵۰۰ ځواک او د القاعده خلاف د امريکا پټه جگړه" نومې کتاب شريک مصنف دی، د کندهار قېدخانې ته د بنديانو د راوړلو پروسه بيانوي:

> لکه د تل په څېر، دا د شپې وشو. يوه باروړونکې الوتکه په تياره کې راښکته شوه، د بريد نه د ځان بچ کولو لپاره يې رڼاگانې بندې کړې وې، او په رن وی باندې په زور سره په هغه لور لاړه چې پخوا د کندهار هوايي ډگر د سپرليو ټرمينال و. د دې شاتنۍ برخه ښکته شوه او په سپېرو پښو او

چیرړیو کې دښمن جنګیالي یې د سور سیوري په رڼا کې په عجیب حالت کې راښکاره کړل. د دوی سرونه د بوجیو په خلتو کې پټ کړای شوي وو، خو بیا هم دوی په کنګل هوا کې ساه اخیستله. ځینې ټپیان وو، نورو ځانونه ارام کړي وو، بویي د ټولو نه تلو. دوی په اوږدو زنځیرونو کې یو بل سره تړل شوي وو. کله چې دوی په رېبنده لار راښکته کول کېدل، نو که یو به ښويي شو، نور به یې د ځان سره راګوزار کړل.[12]

واټ ته په رارسېدو، نظامي پولیس چې رڼاګانې یې په لاسونو کې وې او په چیغو او ښکنځلو یې امرونه ورکول، د بندیانو نه راتاو شول او په اوسپنیزو جالونو کې بند د فوټبال د مېدان په اندازه ځای ته یې ننویستل. ماکي لیکي، "بندیان په یو غټ درز سره یو په یو د شګو د بوجیو یوې درې اړخیزې کندې ته ورګوزار کړای شول." نظامي پولیسو چې لاسونو ته یې دستانې اغوستې وې او جراحي قینچیانې یې په لاسو کې وې بندیان پرمخ واچول او د چیرړو په غوڅولو یې پیل وکړ.[13] هغو پخوانیو بندیانو چې د دې څېړنې لپاره یې ځوابونه ورکړي دا پېښې په ځانګړې توګه تذلیل کوونکې وبللې. یو پخواني قېدي وویل:

> هغوی هغه نری ډول سیم چې زمونږ د مټو سره تړل شوی و استعمال کړ او داسې یې راښکلو لکه د څاروو جوپه. کله چې به سیم سخت شو نو د وینو حرکت یې بندولو او څنګلې بېکاره کېدلې... داسې

چې ځه دې لیدلای نه شو، نو دا پته هم نه لګېدله چې څکې وروسته څومره کسان وو... داسې معلومېده لکه مونږ چې د بې مزغو څاروو یوه جوپه یو.

یو بل دا حالت داسې بیان کړ:

زه فکر کوم لومړنی شی چې امریکایي عسکرو غوښتل وښیي دا و چې وضعه په بشپړه توګه د دوی په کنټرول کې ده. لدې وروسته، دوی زمونږ تحقیرول غوښتل. بلې، تحقیرول یې واضح هدف و. ...که د نورو خلکو په څکې یې لغړولې، که په کونه کې یې شیان درمنډل، نو عزت یې درله له منځه وړو... داسې وه لکه چې درته وایي: "مونږ انسانان یو، او تاسې خوشې څاروي یاست."

ګڼ شمېر پخوانیو بندیانو د باګرام همداسې تجربې بیان کړې. یو وویل، "کله چې زه باګرام ته راورسېدم، نو زما نه شپږ یا اوه امریکایي پوځیان او یو ترجمان راتاو شول. یو پوځي زما لاسونه ایله کړل او زما پرتوګ او کمیس یې وشلول. دا مونږ افغانانو، خاصکر پښتنو، او هغو دپاره هم چې زمونږ دښمنان دي، یو لوی سپکاوی دی، هغوی (زمونږ دښمنان) به هم هیڅکله داسې ونکړي - چې جامې رانه وباسي. دغه وخت ما د خدای نه سوال وکړ چې مرګ راته راولي. ما غوښتل چې مړ دې شم خو چې په دې حالت کې مې څوك ونه ویني."

ځینو ځواب ورکوونکو وویل چې کله باګرام ته په رارسېدو د دوی د سرونو نه خلتې لیرې کړای شوې نو مخې

ته یې یو غټ امریکایي بېرغ ښکاره شو چې د نیو یارک د پولیسو او د نیو یارک د اطفايې د محکمو د نښانونو، چې یوولسم سپتمبر یې رایاداوه، په لاس جوړ شوي انځورونه پرې رسم شوي وو. بندیان د بربنډولو نه مخکې د ساتونکو په وېنا "د نیولو د درد" سره مخ کېدل څو نوي راغلي بندیان پاسته کړي. ساتونکو د بندیانو د ډارولو لپاره په تېز غږ موسیقي غږوله او غپېدونکي سپي یې نژدې ورپرې ښودل. ځینې نېغ د تحقیقاتو لپاره بوتلل کېدل، خو نور د تحقیقاتو نه وړاندې څلیرویشت ساعته په یواځې کوټو کې ساتل کېدل.[14]

په کندهار کې پوځیانو قېدیان په بربنډ حالت کې د کندې نه یوې غټې خېمې ته یوړل چېرته چې یې یو ډاکټر مختصره طبي معاینه کوله. په دې پروسه کې د مقعد لټون هم کېدهٔ. ماکي لیکي، "یو نظامي پولیس به خپله ګونډه د قېدي د یوې ګونډې په شا کې واچوله او بل به په ورمږ لاسونه ورته کېښودل او بندي به یې لاندې راښکو څو چې به په برابره زاویه شو. د ډاکټر تحقیق به همېشه د بندیانو نه چیغې ویستلې ځکه هغوی ګومان کاوه چې جنسي زیاتی ورسره کېږي."[15] د دې نه وروسته قېدیان "د خېمې په غاړه کې په یو خیرن او داغدار پوزي" اچول کېدل."[16]

دا داسې و لکه د ابو غریب هغه یو عکس. مونږ زیاتره بربنډ وو او هغوی به مونږ یو د بل د پاسه ډېری کولو. زما خپل پرتوګ په غاړه و، خو بره نور کسان بېخي بربنډ وو... هغوی مونږ ته وویل، "که وخوځېدئ نو وبه مو ولو." بس مونږ ونه خوځېدو.

هماغلته پاتې شو چېرته چې وو. هغوی نور کسان
دننه راوستل او زمونږ دپاسه یې ډېری کول. او
هیڅ د خوځېدو جرائت نه شو کولای.

اخرکار به یو نظامي پولیس زنځیرونه لیرې کړل، په قېدیانو به یې د سپږو پوډر راښکل او د دې پروسې بل قدم ته به یې وړاندې کړل. وروسته له هغې چې د قېدیانو عکسونه او د گوتو نشانونه به واخیستل شول او د سر او ږیرې ویښته به یې پاک کړای شول، نو بیا ورته یو نری زیړ کمیس، اوږد پرتوگ، د ربړ دوه بوټان، دوه کمپلې، او په ځینو وختونو کې، یو پکول ورکول کېده. دوی ته د "دښمن جنگي قېدي" یو کارت هم ورکول کېده چې په شا یې یو لمبر لیکل شوی و. دا لمبر د هغوی د کمیسونو په مخ او شا لیکل کېده څو تر دې وروسته د هغوی "پېژندگلو" جوړه کړي. لدې وروسته خلته بېرته د هغوی په سرونو تړل کېده او د زندان مرکزي ودانۍ ته بوتلل کېدل.[17]

د دغې پروسې د سیمې نه وروسته بندیان یوې غټې ودانۍ ته، چېرته چې "عمومي خلک" ساتل شوي وو او یا یوې وړې قېدخانې ته چې د اوسپنیزو پردو نه په خاورین فرش جوړه شوې وه، وړل کېدل. د دې دویمې ډلې بندیان په سختو او یواځې کوټو کې ساتل کېدل چې د اوسپنې په دېوال یې بېلتون شوی و. په هره کوټه کې یو کیناراب او یو د اوبو پلاستیکي بوتل و. بندیان به تل د یوې قېدخانې نه بلې ته یا نورو ځایونو ته وړل کېده راوړل کېده.[18] یو ځواب ورکوونکي وویل چې باگرام ته له وړل کېدو وړاندې یې په دې په نامه "تورتمي زندان" کې څو

میاشتې تېرې کړې دي.[19] هغه وویل د یوې داسې ودانۍ په تورتم کوټه کې ساتل شوی و چې ساتونکو به هلته په پرله پسې توګه په تېز غږ موسیقي غږوله. هغه زیاته کړه، "هم ساتونکو او هم پلټونکو به هر وخت خپل څونه پټ ساتل." د هغه په وېنا، یو ساتونکي ورته وویل چې هغه "په داسې ځای کې دی چې د دنیا نه بهر دی. یو داسې ځای چې هیچا ته یې پته نشته او هیڅوک دې دفاع نشي کولای."

د "عمومي خلکو" په سیمه کې، د اتو یا نهو بندیانو ډلې به په داسې شریکو کوټو کې ساتل کېدلې چې یو کیناراب به پکې و. په لومړي سر کې دوی ته اجازه نه وه چې یو بل سره خبرې وکړي، او هر وخت به ناست وو. د وخت په تېرېدو دې حکم کې اسانی راغی، او بندیانو بیا په شریکه عبادت کولای شو.

## ورځنی ژوند

په کندهار کې د قېدیانو ورځنی ژوند د خپلسري او تحقیري چلند زړه خوړونکی معمول و - ساتونکو به دوی ته ښکنځاوې کولې، د خپل شخصي استعمال لپاره یې د دوی عکسونه اخیستل او فیلمونه یې جوړول، او داسې نور. خوراکونه عموماً د پوځ د راشن د تیارو خوراکونو نه ورکول کېدل. قېدیانو له خوراك د کڅوړو نه خوړل وو، پیالې به یې کېږولې او د غوښې نه جوړ شوي شیان به یې خولو ته رسول. ساتونکي به شپه او ورځ د کوټو په کتار ګرځېدل، او بندیان به یې یا د نظم لپاره ودرول یا به

يې د پلټنې لپاره رابنکل. اکثر به يې د بنديانو د تهديدولو لپاره سپي استعمالول. د کندهار يو پخواني بندي وويل، "زه پړمخې پروت وم، نظامي پوليس راغی او زما په ملا يې پښې کېښودې. بيا زما مخې ته يو سپی رابنکاره شو، چې خوله او يوه پنجه يې زما د مخ سره لګېدلې وه. زما يقين و چې خوله به رابندې لګوي، نو سترګې مې پټې کړې او غلی پرېوتلم." يو بل بندي وويل چې سپو به کله کله پرې بريدونه کول: "هغوی به کله کله يو سپی راسره نژدې ونيو او زمونږ د ډارولو لپاره به يې غپېدو ته پرېښود. خو داسې به کېدل چې کله کله به سپی ډېر نژدې راغی، لېونی به شو او د چا په پښه به يې خوله ولګوله."

د شپې پر مهال د بنديانو لپاره اوده کېدل اکثر ګران وو. د ژمي په مياشتو کې چې ټمپرېچر به د صفر نه هم پرېوت، نو د يخ سيمټي فرش نه د ځان بچ کولو لپاره دوو کمپلو کار نه ورکاوه. پوځيانو به هم کله کله بنديان د تالاشۍ لپاره راويښول او تېزه موسيقي به يې غږوله. هغه قېديان چې د باګرام په لومړي پوړ د اوسپنو په پنجرو کې ساتل شوي وو شکايت يې وکړ چې هر ساعت به ډېره زياته رڼا پرې ورپرېښودل کېده: "د شپې پر مهال مونږ له د اوده کېدو په وخت څونه د پوځيانو په لور کول وو څو هغوی مو ويني. مونږ ته اجازه نه وه چې کمپله په سر راکاږو او يا په بل اړخ واوړو. هرې خوا ته زورداره رڼا وه، او چې مونږ به هر خوا هم مخ اړولو نو داسې معلومېده چې رڼا هر ځای کې ده."

کله چې به یو قېدي د شپې د پلټنې لپاره ویستل کېده نو په کوټه کې د هغه ټول ملګري به هم راویښولای شول او چې بندي به، اکثر په سخت زور، د کوټې نه ویستل کېده نو ملګري به یې اړ ایستل کېدل چې یو ګوټ ته غونډ شي. د باګرام یو پخواني بندي په خپل یادانښت کې لیکي: "[پوځي] وړونکی ټیم...په شتاب دننه راغی او زه یې په زنځیرونو او زولنو کې وتړلم. یو پکې په ملا په سُوك ووهلم. بل په خپلو مټو کې جیګ کړم. یو د شا لخوا زما ویښته ونیول او په سر یې راله ښکته زور کړ. زه لکه د ځیندخې په څېر بهر یوړل شوم."[20]

په هرو دوو یا درېو اونیو کې به د سره صلیب د نړیوالې کمېټې (ایي سي ار سي) استازي باګرام او کندهار ته د خپل کار په سلسله کې راتلل. دوی په ټوله نړۍ کې د جګړې او سیاسي شخړو سره تړلي قېدیان ګوري. دا کتنې د معیاري طریقو سره سم ترسره کېږي، کوم چې د بند چارواکو ته واضحه کولای شي. د ایي سي ار سي پلاوي د بندیانو او د هغوی د کورنیو ترمنځ د خطونو د وړلو راوړلو برسېره د قېدیانو مرکې هم کوي؛ قېدخانې ګوري؛ او چارواکو ته یو داسې باوري راپور تیاروي چې پکې په ستونځو یادونه کېږي او چېرته چې ضروري وي د حالت د ښه کولو غوښتنه کوي.[21]

د کندهار او باګرام پخوانیو قېدیانو په زندانونو کې د ایي سي ار سي د رول په اړه بېلا بېل معلومات ورکړل. دوو ځواب ورکوونکو وویل چې د امریکایي پوځ پرسونل د ایي سي ار سي استازي د ځینو خاصو قېدیانو د

لیدلو نه منع کړل. یو پخواني قېدي وویل: "کله چې سور صلیب والا زمونږ زندان خانې ته راغلل نو هغوی هیڅوك ونه لیدل ځکه چې د هغوی د راتلو نه مخکې یې مونږ یو پټ ځای ته وړي وو." یو بل ځواب ورکوونکي، چې وایي د ایي سي ار سي د لیدنې پر مهال هغه هم پټ کړای شوی و، شك ښکاره کړ چې "امریکایي عسکرو فکر وکړ، "که دا سړی ایي سي ار سي والا ولیدو نو هر څه به ورته ووایي."" هغه زیاته کړه چې د ایي سي ار سي د چارواکو سره وروسته له هغې په خبرو وتوانېده چې نورو بندیانو د ایي سي ار سي یو پلاوي ته د ده د موجودګۍ په اړه یادګیرنه وکړله.
نورو بندیانو فکر کاوه چې ایي سي ار سي د وضعې د ښه کولو وس نه درلود. یو ځواب ورکوونکي وویل، "سره صلیب مونږ سره د مرستې هیڅ قوت نه درلود." یو بل قېدي وایي کله چې یې د هغې پرله پسې او تېزې موسیقۍ په اړه شکایت وکړ چې بندیان ورسره مخ وو، نو د ایي سي ار سي استازي د بې وسۍ خندا وکړه او ورته وې ویل چې د هغه اداره د دې وضعې په اړه "د څه کولو توان نلري."

نورو پخوانیو بندیانو لیدلي چې د ایي سي ار سي د کتنو پر مهال ورسره ساتونکو ښه چلند کاوه. یو ځواب ورکوونکي وویل، "یواځینی وخت چې مونږ په ډکه خېټه ډوډۍ خوړله هغه و چې د سره صیب والا به راتلل." هغه ته یاد دي چې د داسې یوې لیدنې پر مهال ورته د خوراك لپاره وریژې او غوښه ورکړای شوې وه، په عامو حالاتو کې دا خوراك یواځې د پوځي پرسونل لپاره و. یو بل پخواني بندي وویل د ایي سي ار سي استازي د هغه لپاره چپلکې

او جرابې ترلاسه کړې وې، او یو بل وویل چې سره صلیب د ډېرو سپړو نه خلاص کړی و. د ځینو نورو لپاره د ایي سي ار سي لیدنې بیا د هیلې یوه رڼا وه: "مونږ پوهېدلو چې په بشپړه توګه هېر کړای شوي نه یو... چې یو څوک خو شته، یوه اداره خو شته چې د څه کولو کوښښ کوي. په دې خبره مونږ ته یو څه سکون رارسېده."

### بربنډول

د هغو زور زیاتیو نه چې په کندهار او باګرام کې شوي، تر ټولو زیات تحقیرونکی په زور بربنډول وو.[22] ډېرو ځواب ورکوونکو وویل د بربنډ لټون سپکاوي او د اجتماعي لمبا تحقیر، د خلکو په مخکې ډکې متیازې کول، او داسې نورې د زور بربنډتیاوې د هغوی شخصي عزت او د مسلمانانو په توګه پېژندګلو دواړو ته سپکاوی و. قران د بربنډتیا خلاف خبرداری ورکړی دی، ځکه چې دا ناپاک ګڼل شوی دی.[23] تنزانیا کې د سوشیالوجۍ د یو پروفېسر عبدالوهاب بوډیبا له مخې، "د یو مسلمان ژوند مسلسل پاکوالی دی.... ناپاک انسان په خطرناکه توګه بدۍ ته نژدې کېږي.... هغه پرښتې چې عموماً د انسان نګراني او ساتنه کوي هم هغه وخت ځي چې انسان ناپاک شي. نو لدې امله هغه بې تحفظه، بې روحيې او ان تر دې چې ذلیل پرېښودل کېږي."[24]

معظم بېګ، په خپلو یادښتونو "دښمن جنګیالی: په ګوانتانامو، باګرام او کندهار کې زما قېد" کې واضح کوي چې ولې هغه او د هغه ملګرو عام بربنډتوب ځانګړی

سپکاوی گڼلو: "هلته داسې سړي وو چې له خپلو مېرمنو پرته د هیچا په مخکې هیڅکله بربنډ شوي نه وو؛ چې هیڅکله یې د خپل مخ ویښته نه وو لیرې کړي، پرته د ږیرې او برېتو د تراشلو؛ چې هیڅکله یې فحاشي نه وه کړې او نه یې زغملی شوه. ما احساس کاوه چې هر شی چې زه یې مقدس گڼم د هغې سپکاوی کېده، او هغوی هم داسې احساسوله."[25]

گڼ شمېر ځواب ورکوونکو همدا یو احساس لارڅ. یو پخواني قېدي وویل،"د ټولو نه غټ سپکاوی زما بربنډول وو. که د دغې نه وروسته یې مونږ وژلي وای نو مونږ به خپه نه وای." بل وویل، "تر ټولو بدتره تجربه په ما باندې زما جامې په زور ایستل او بیا زما عکس اخیستل وو. تاسې پوهېږئ، مونږ افغانان او مسلمانان یو... زه د داسې چلند په ځای مرگ غواړم." ځینو لا وویل ډېر سپکاوی هغه و چې د لامبلو په وخته ورته ښځینه پوځیانو کاته. یو پخواني بندي په دې اړه وویل، "هلته څه ښځې پوځیانې وې. مونږ چې بربنډ وو نو هغوی مونږ ته کاته او خندل یې. مونږ داسې وو لکه په تشنابونو کې دننه شادوگان."

### د قران سپکاوی

دولسو ځواب ورکوونکو په کندهار او باگرام کې د ساتونکو لخوا د قران د سپکاوي پېښې بیان کړې. د مسلمانانو لپاره د قران عربي متن د خدای کلام دی، چې د جبرایل(ع) په واسطه په محمد (ص) نازل شوی دی او د ټول مخلوق لپاره د لارښودنې یوه خدایي سرچینه ده. په ارادې

سره د قران سپکاوی کول گستاخي ګڼل کېږي او په ځینو هېوادونو کې د قران د سپکاوي سزا قېد دی.[26]

د باګرام یو پخواني بندي وویل، "یوه ورځ ما د قران تلاوت کاوه، پوځي راته د تلاوت د نه کولو امر وکړ. خو ما انکار وکړ. ما ورته وویل، "نه، دا زما مذهبي کتاب دی، زه د دې درناوی کوم، زه یې تلاوت کول غواړم." بیا پوځي زما نه قران په زور واخیست او زما د کوټې نه بهر یې ګوزار کړ چېرته چې تر شاوخوا درې ورځو پروت و تر څو چې بیا یو بل پوځي راغی او وې وړو." د کندهار یو پخواني قېدي یوه پېښه بیان کړه چې یو پوځي یو قران داسې ونیو لکه فوټبال چې وي او د بل پوځي په لور یې په پښه وواهه، د هغه لاس ته چې ورغی نو "هغه کیناراب ته د دې وېنا سره ګوزار کړ چې دا د دې ځای دی." د کندهار یو بل بندي وویل چې د هغه د کوټې ملګرو یو پوځي ته سوال وکړ چې په قران دې نه کېني، خو د دې په ځای هغه قران خلاص کړ او لاړې یې پرې وتوکلې.

یو ځواب ورکوونکي یوه پېښه یاده کړه چې یو سهار په کندهار کې یو پوځي قران په هغه کانتینر کې واچوو چې د کثافاتو د لیرې کولو لپاره استعمالېده. هغه وویل، "زه څلوېښت میتره لیرې ناست وم...یو پوځي د چا قران راجیګ کړ، مونږ ته یې وښووده او هغه کانتینر ته یې واچاوه په کوم کې چې کثافات اچول کېدل. مونږ د هغه د منع کولو کوښښ وکړ، مونږ چیغې کړې. ...او بیا ډېر پوځیان د وسلو سره راغلل، وسلې یې زمونږ په لور ونیولې لکه مونږ چې همدغلته ویشتل غواړي. نو مونږ غلي شو."

## جسمانـي تـشدد

ګڼ شمېر څېړنې وايي چې يو ځل د قېديانو جسماني او اروايي تذليل وشي، نو ساتونکي پرې د تشدد لپاره نور هم ازاد شي.[27] دا پديده په اروا پوهنه کې د "زور جريان" په نامه پېژندلای شي. د امريکا د بحريې جنرال کونسل البرټو جی. مورا د جولای ۲۰۰٤ په خپل هغه يادښت کې چې په پينټاګون يې پېکې د پلټنو د اجباري تخنيکونو په استعمال نيوکې کړې دي، د دې پديدې د تشريح په لړ کې وايي چې د معلوماتو د راايستلو لپاره د زور استعمال د سختو نه د نورو سختو طريقو په لور روان وي. "هغه ليکي، "که لږ زور ښه دی نو [پلټونکي] فکر کوي چې د نور زور راوړل به د دې نه هم ښه وي. په دې توګه د همکاري نه کوونکيو شاهدانو خلاف د زور د استعمال درجه ورو ورو لوړېږي تر دې چې که مخنيوی يې ونشي نو د تشدد درجې ته هم رسېدای شي."[28]

د سخت جسماني تشدد په اړه د ولس په وړاندې لومړنی راپور په مارچ ۲۰۰۳ کې راغی، کله چې نيو يارک ټايمز راپور ورکړ چې تر دغې مياشتې په تېر دسمبر کې په باګرام کې د قېد پر مهال دوه بنديان مړه شوي وو.[29] يو دېرش کلن بندي ملا حبيب الله د ۲۰۰۲ د دسمبر په ۳مه مړ شو. يو شل کلن افغان ټېکسي چلوونکی چې دلاور نومېده يوه اونۍ وروسته په ۱۰م دسمبر مړ شو. دواړه سړي په پرله پسې توګه په داسې حال کې وهل شوي وو چې په زولنو او زنځيرونو کې تړلي وو او لاسونه يې د سرونو نه پورته غځول شوي وو.

هر څو که د پوځي طبي معاینې په راپورونو کې ویل شوي وو چې په دوارو پښو کې "داخلي اندامونو ته د سخت زور له امله رسېدلي ټپونه" د مرګونو سبب شوي او دې ته یې "وژنه" ویلې وه، خو د باګرام ابتدايي خبرپاڼه بیا هم د زنځیرونو او د وهلو په یادونه کې پاتې راغله.[30] د حبیب الله طبي معاینې د هغه په سینه، څنګلو او سر باندې ګڼ شمېر داغونه او ټپونه، او په پنډیو، ګونډو او ورنونو باندې ژور ټوکونه وښودل. د هغه په چپه پنډۍ باندې یو نشان و چې ښکارېده د بوټ د نال دی. د هغه د مرګ سبب د وینې یوه غوټه وښودل شوه، چې ښايي د هغه په ګونډو باندې د سختو ټپونو له امله جوړه شوې او بیا زړه ته تللې وه او هلته یې سږو ته د وینو تګ بند کړی و. د دلاور طبي معاینې هم ورته ټپونه وښودل. د هوايي ځواک د هغه طبي معاینه کوونکي په وېنا چې دا معاینه یې کړې وه، د دې ځوان سړي پنډۍ دومره ډېر ځله وهل شوې وې چې "رګ یې شلېدلی" و او "په اصل کې وچ شوی و."[31]

زمونږ د څېړنې لپاره یو ځواب ورکوونکي وویل چې هغه په باګرام کې د یو ځوان افغان د تشدد نه ډک مرګ لیدلی دی. وې ویل "هغه دومره سخت وهل شوی و چې سهار دوه بجې زما په مخکې مړ شو. زه اخري سړی وم چې د هغه سره مې وخت تېر کړی و. مونږ هم د هغه په څېر تمه لرله چې مړه کېږو به ځکه چې نه خوراک و او نه خوب. د هغه له وژلو وروسته به مونږ ویل چې مونږ هم ولې نه وژني؟"

نیو یارک ټایمز د حبیب الله او دلاور په اړه د پوځ د جنايي تحقیق د دوه زره مخونو د یوې پټې دوسیې ("د

باګرام دوسیه") پر بنسټ بندیانو باندې د تشدد ډېرې پېښې بیان کړې دي چې د ۲۰۰۲ د دوبي او ۲۰۰۳ د پسرلي ترمنځ په باګرام کې شوې دي. په دې کې د جارحیت پېښې لکه په زنځیرونو کې تړل شویو بندیانو باندې حملې، د خوب نه محرومول، سخت حالتونه، د اوږد وخت لپاره د لاسونو نه زوړندول، وهل، د قېدیانو د ترور کولو لپاره د سپو استعمال، او جنسي تېری شاملې دي.[32] د جارحیت ټولو نه سخت ډول "عام شخصي برید" و، دا د پنډۍ په یوه خوا، د ګونډې نه بره، داسې ماتوونکی ګوزار و چې حبیب الله او دلاور ته یې مرګ راوړی و.[33] د هغو ساتونکو یا پلټونکو له مخې چې په باګرام کې یې کار کړی، کوم قېدیان چې مهم یا ستونځې زېږوونکي ګڼل کېدل د هغوی لاسونه اکثر تړل کېدل او د خپلو کوټو د چت یا دروازو سره په زنځیرونو تړل کېدل.[34]

د ځېنې لپاره ډېرو ځواب ورکوونکو د جسماني تشدد دې ته ورته کیسې بیان کړې. د باګرام د یو ډېرشو پخوانیو قېدیانو نه شپږو وویل چې په خپلو یواځې شوېو کوټو او یا پنجرو کې تر اوږد وخت پورې په چت پورې تړل شوي دي.[35] د پلټنو د کوټو په څنګ کې یوه تخته وه چې پلټونکو به پرې د هغو ساعتونو شمېر لیکلو چې په کومو کې به قېدیان د لاسونو نه په چت پورې تړل کېدل او په کومو کې چې به هغوی په فرش باندې ارام ته پرېښودای کېدل.[36] ویل کېږي چې د ایي سي ار سي د لیدنو پر مهال د زنځیرونو نه ایله کېدل او "د بې خوبه کولو" تخته پاکول کېده.[37]

يو پخواني قېدي خپله کيسه بيان کړه چې څنگه هغه او د هغه د کوټې نور کسان باگرام کې بيا بيا په هغه اوسپنه پورې د اتو يا نهو ورځو پورې تړل کېدل چې د چت نه راخلاصه شوې وه:

کله چې به هغوی ما ته خوراك راوړ ، نو د چت نه به يې زما لاسونه راخلاص کړل او قاب به يې راکړ. خو خوراك خولې ته وړل گران وو ځکه چې زما لاسونه به اوس هم يو بل سره تړل شوي وو. که کومو [ساتونکو] به ما سره ښه کول غوښتل نو راته به يې وويل، "په فرش کېنه او ډوډی دې وخوره." ...کله کله به زه په خوب کې لاړم او ما به سوچ کاوه چې دا هر څه زه په خوب کې وينم. ځينې پوځيان چې زمونږ ساتنه يې کوله مونږ سره ښه نه وو. دوی به د چت نه زمونږ لاسونه خلاص کړل، او په داسې حال کې چې لاسونه به مو لا هم تړلي وو په ښوييدلو به يې مجبورولو. څنگه چې زمونږ لاسونه تړلي وو نو مونږ ښوييدلی هم نه شو. نو لدې امله به هغوی مونږ وهلو او ويل به يې "وښوييږئ!"

د باگرام يو بل پخواني قېدي وويل چې د خبرو کولو د سزا په توگه سر لاندې پښې پورته زوړند کړای شوی و. "ساتونکي راغلل او راته وې ويل، "ته ډېرې خبرې کوې. مونږ بايد ستا په اړه څه وکړو." بيا هغوی زه د چت سره وتړلم، زما سر فرش پله و. زه دغسې تر ډېره ساعته تړل شوی وم، ښايي له درېو تر څلورو ساعتو پورې." نورو ځواب ورکوونکو وويل چې دېوالونو سره وهل شوي، قصداً په زينو کې ديکه شوي، او يا په سختو حالتونو کې د اوږد

وخت لپاره ساتل شوي دي. د باګرام يو پخواني قېدي وويل، "کله به چې ساتونکو زه کيناراب ته بوتلم نو اکثر به يې د دېوال په طرف ټېل وهلم. کله به يې د زينو سر ته کېنولم او راته ويل به يې چې خپل لاسونه پښو سره ونيسه. بيا به يې په زينو کې ښکته ديکه راکړه." په بله موقعه، پوځيانو د هغه لاسونه په چت پورې وتړل او د هغه خېټه يې د وهلو د کڅوړې په توګه استعمال کړه. هغه وويل، "دوه يا درې ځل زه ډېر کمزوری شوم او هغوی روغتون ته يوړم. خو کله چې لږ ښه شوم نو بېرته يې [کوټې ته] راوړم او په چت پورې يې د پخوا په څېر وتړلم." د کندهار يو پخواني قېدي وويل چې ساتونکو يې سر په اوبو کې غوپه کړ.[38] نورو وويل چې اکثر د وړو وړو غلطيو لکه نورو قېديانو سره د خبرو په وجه په زوره په داسې حال کې د اوږد وخت لپاره ګونډو يا ولاړ ساتل شوي وو چې لاسونه يې دواړو طرفونو يا د سرونو دپاسه غځېدلي وو.

پلټنو ته د وړلو او بېرته د راوړلو پر مهال هم په قېديانو زياتی شوی دی. د کندهار د قېدخانې يو پخواني قېدي وويل "د خپلې خېمې نه د پلټنې تر ځای پورې وهل خوړل وو." او "چې کله به بېرته خپلې کوټې ته راوړل شو نو بيا به د ګونډو حالت ته ښکته کړای شو، او تاسو ته معلومه ده، د ټوپک په کنداغ به يې وهلو، يا به يې په سوکانو، يا په لتو وهلو او يا به يې ويښته رانه راښکل." د پلټنو خونو ته په لاره، بنديان به اکثر په "منډه د راښکلو" په حالت کې وړل کېدل، د کوم په وجه

چې به د هغوی د پښو زنځیرونو د هغوی ښنګري وینې کول. تقریبا ټولو ځواب ورکوونکو د زنځیرونو له امله د درد یادونه وکړه؛ دوو ځواب ورکوونکو، چې ګوانتانامو نه تر خوشې کېدو څو کلونه وروسته ورسره مرکې وشوې، اوس هم په لاسونو او پښو باندې د زولنو او زنځیرونو نښې لرلې.

## پلټنه

په افغانستان کې د جګړې له پیل څخه په سپتمبر ۲۰۰٦ کې تر بیا کتنې پورې، د پوځ د مېدان جنګ نصاب ۳٤-۵۲ (ایف ایم ۳٤-۵۲) په رسمي توګه د "پلټنو مشن" تعریف کړی دی او داسې اصول او قواعد یې ټاکلي دي چې هیله کېده په په جنګځایونو کې د استخباراتي معلوماتو په لړ کې به د امریکا د پوځي پلټونکو لارښودنه وکړي.[39] د ۱۷۷ مخونو دا نصاب چې په سپتمبر ۱۹۹۱ کې خپور شوی بیانوي چې پلټنې باید څنګه د ژنیوا د تړونونو او د امریکا د کورنیو قوانینو په رڼا کې وشي. دا نصاب "په واضحه توګه ممانعت کوي د تشدد یا تهدید د اقداماتو، په ګډون د جسماني یا ذهني زورونې، دړکو، سپکاوي، او یا هم پلټنې سره د مرستې لپاره د غیر انساني چلند." په نصاب کې د تشدد تعریف داسې شوی "د معلوماتو یا اعتراف اخیستلو او یا هم د ناوړه خوند لپاره بدن یا ذهن ته سخت درد رسول." ایف ایم ۳٤-۵۲ [نصاب] د جسماني تشدد بېلګې ورکوي، په ګډون د "یو چا د ډېر وخت لپاره په زور ودرول، کېنول، او یا غیر عادي حالتونو ته په ګونډو

کول" او "هر ډول وهل." دا د جبر تعریف هم کوي: "یو داسې عمل کول چې په غیر قانوني توګه بل تن دې ته اړ کړي چې د خپلې خوښې خلاف عمل وکړي." د جبر په بېلګو کې "نیول شوي تن، د هغه کورنۍ، او یا هغه چا ته چې هغه ورسره تړلی وي، ګواښونه کول او یا جسماني او ذهني درد ورکول" او "ارادتاً د طبي مرستې نه انکار کول او یا د معلوماتو او یا نورې همکارۍ په بدل کې ورته ویل چې پام به پرې وکړي." نصاب خبرداری ورکوي چې کوم پلټونکي د دې ممانعتونو خلاف ورزي وکړي هغوی ښایي د نظامي عدالت د قانون سره سم د محاکمې سره مخ شي.[40]

بې شکه چې ایف ایم ۳٤-٥٢ [نصاب] پلټونکو ته خبرداری ورکړی چې احتمالي غیر قانوني حالت ته د ورتلو نه مخکې دې په دې خبرو سوچ وکړي:

د دې پرېکړې د کوښښ کولو پر مهال چې ایا دا وسیله یا تخنیک دې روا که ناروا وګڼل شي، په دې دوو ازمېښتونو غور وکړئ:

- د ټولو مېشتو واقعیتونو او حالتونو څخه پرته، ایا یو معقول تن که د هغه چا په ځای وي چې پلټنې ترې کېږي، دا سوچ به وکړي چې هغه حقونه چې نړیوالو او امریکایي قوانینو ورکړي دي، دې ترې اخیستل شوي او سرغړونه ترې شوې وي، یا د همکارۍ نه کولو په صورت کې دې ترې واخیستل شي او سرغړونه دې ترې وشي.
- که هغه اقدامات چې ستاسې تر سوچ لاندې دي د دښمن لخوا د امریکایي جنګي قېدیانو سره وشي، نو ایا تاسې فکر کوئ چې دغه اقدامات د نړیوال او امریکایي قانون خلاف دي.

که په دواړو صورتونو کې ستاسې ځواب "هو" وي، نو هغه اقدام مه کوئ چې تاسې پرې سوچ کړی دی. که بیا هم

د دغه اقدام په اړه شك لرئ نو ستاسې په وظيفه كې د شامل څارنوال نظر وپوښتئ.[41]

په دې توګه، كوم پلټونكي چې د يو خاص اقدام په اړه په شك كې وو، ثمه كېدله چې قانوني نظر به وپوښتي. د ماكي له مخې، په باګرام كې د پلټنې طريقه كار دوه غټ اهداف لرل. لومړی، پلټونكو د "ګټورو استخباراتو" څخه كار اخيسته، يانې داسې تاكتيكي معلومات رايستل چې د جنګ په سيمه كې د قوماندانانو مرسته وكړي.[42] د باګرام يو پخواني پلټونكي دا خبره داسې بيان كړې، "پوځيان مړه كيږي، معلومات ترلاسه كړئ. ټوله خبره همدا ده: معلومات ترلاسه كړئ."[43] دويم، پلټونكو دا پرېكړه كوله چې څوك ګوانتانامو ته ولېږل شي. پېنټاګون د دې انتقال لپاره معيار ټاكلی و، خو د هغوی قواعد ډېره پراخه بڼه درلوده. ټول القاعده، طالبان، غېر افغان بهرني جنګيالي، او "هر هغه څوك چې د امريكا ګټو ته زيان رسولای شي، مهم معلومات لري، او يا يې محاكمه د امريكا په ګټه وي" ګوانتانامو ته انتقالېدل.[44]

پلټونكو سره د پلټنو د پروسې لپاره محدود وخت و، او د امريكا د يرغل په لومړنيو څو مياشتو كې قېدخانو ته په سلګونو بنديان راوړل كېدل. ميخايل ګېلاس، د بحريې يو ارواپوه چې د قېديانو پلټنې يې كړې وې، دې پروسې ته "سمه ګډوډي" وويله.[45] لدې وېرې چې غلطي ترې ونشي يا كوم خطرناك او مهم قېدي خوشې نه كړي، پلټونكو به اكثر د هغو قېديانو د انتقال منظوري هم وركوله چې هغوی يې په اړه فكر كاوه چې كېدای شي بېګناه وي. دا د دغسې قېديانو لپاره خراب حالت و، وجه يې دا وه چې "يو ځل د

يو قېدي نوم د کيوبا په ليست کې راښکاره کېده نو بيا يې د بېرته ليږې کولو ډېر کم امکان و."[46]

په کندهار او باګرام کې پلټنې د هرې ورځې معمول و – ځينې وخت به د يو تن نه په ورځ کې دوه يا درې ځله هم کېدلې، خو ځينو قېديانو ته به د بل ځل پوښتنو لپاره څو ورځې هم ورکول کېدې. د پلټنې مجلس کېدای شو چې پنځه دقيقې، يو ساعت، پنځه ساعته، لس ساعته او يا زيات وای. پلټنې به يو يا دوو پوځي پلټونکو کولې. خو داسې وختونه هم وو چې د سي ايي ای پلټونکو به هم نګراني يا ګډون کاوه. ځينې وخت کې به د سي ايي ای پرسونل يو بندي راوړ، يا، لکه چې اکثر به کېدل، يو نوم به يې راوړو او که هغه تن به هلته و، نو يو پټ او نامعلوم ځای ته به يې بوتلو.[47] د دې څېړنې د ځواب کوونکو څخه لږ تر لږه يو تن فکر کوي چې په افغانستان کې د سي ايي ای په پټه قېدخانه کې ساتل شوی دی.

ګڼ شمېر ځواب کوونکو وويل چې د پلټنې د مجلسونو پر مهال ګواښل شوي يا ورسره زياتی شوی دی. يو پخواني قېدي په باګرام کې پلټونکو سره د خپلې شخړې کيسه داسې بيان کړه:

يو امريکايي صرف په جانګي کې و. بل سره يو غټ زنځير و چې په لاس کې يې مخکې وروسته کولو. دوی د وړو شرمخانو په څېر ښکارېدل. دوی په ځانونو ماران او لړمانان او د شرمخانو غاښونه رسم کړي وو. کوم تن سره چې په لاس کې زنځير و هغه بس ما ته کاته. لومړنۍ پوښتنه چې هغوی وکړه دا وه چې زما

نوم څه دی. بیا د جانګي والا امریکایي پوځي زه د ښځ نه ونیولم او زما سر يې د دېوال سره ووهلو. او په چیغو چیغو يې وویل، "ته دروا غجن يې!"

په یو بل مثال کې، یو ځواب ورکوونکي وویل چې د جراحۍ پر مهال ترې پلټنه کېدله: "نو دوه کسان وو چې زما نه يې پلټنې کولې او یو ډاکټر و چې زما په ملا کې يې جراحي کوله، بالکل درد يې کاوه، ما احساسوله، ما احساسوله، بېخي زیات درد نه و ځکه چې زه نیم بې هوښ وم، خو پوره بې هوښ نه وم. او همدغه مهال هغوی زما نه پوښتنې کولې، او هر ځل يې د اسامه په اړه کولې، د بل څه په اړه نه."

ځینو پلټونکو په قېدیانو د جسماني او ذهني تشدد، یا د هغوی کورنیو ته د زیان رسولو، یا مرګ ګواښونه کول. یو ځواب ورکوونکي وویل، "پلټونکو مونږ ته هیڅ کله څه نه ویل، او چې څه به يې ویل نو دروا غ به وو. دوی به وویل "ته به وویشتل شې، ته به ووژل شې، تا ته یوه پیچکاري لګوو، او یا دا چې اعداموو دې." او داسې نورې خبرې." یو پخواني قېدي وویل، "درې یا څلور ځل په باګرام کې پلټونکو ما ته وویل چې که همکاري ونکړم نو یو داسې ځای ته به مې ولېږي چې بېرته به هیڅکله ژوندی رانشم." یو بل ځواب ورکوونکي وویل، "[پلټونکو] راته وویل چې زه به نور ټول عمر په باګرام یا ګوانتانامو کې تېروم.... ما ویل زه به ډېر بختور یم که مړ شم... دا ډېر مشکل و ځکه مونږ ولیدل چې هلته هیڅ قانون نه و."

د پلټنې د يوې ناستې پر مهال يو پخواني قېدي ته د هغه د کورنۍ عکسونه وښودل شول: "هغوی زما مخې ته يو تليفون وخوځاوه او ويې ويل، "دوی صرف د يو تليفون په واټن دي." بيا يې پوښتنه وکړه، "پوهېږې چې دوی چېرته دي؟ فکر کوې چې دوی خوندي دي؟"" د دې پلټنې پر مهال هغه واورېدل د يوې ښځې په نږدې کوټه کې چيغې وهلې. هغه وويل، "دا نو ډېر بدتر و. د ټولو تذليلولو نه بدتر، د سوکانو او لتو او وهلو نه، د خلتې د اغوستلو د وېرې نه او د گونډو کولو او په ځمکه د راښکلو نه.... دغه [د ښځې د چيغو] اواز اورېدلو... ما ته دا فکر راواچاوه چې کېدای شي زما کورنۍ ته زيان رسېدلی وي. دا ډېره بدتره وه."

## گوانتانامو ته وړل

ډېرو ځواب ورکوونکو وويل چې دوی ته د گوانتانامو د موجودگۍ پته د پلټونکو يا ساتونکو نه وشوه. خو دوی ته دا هيڅکله هم نه وو ويل شوي چې هلته ولې وړل کېږي. ډېرو ته ويل شوي وو چې دا يو داسې ځای دی چې دوی به ترې بېرته هيڅکله رانشي. د هغو کسانو د برخليک په اړه چې دې کمپ ته وړل کېدل په قېدخانو کې افواهات خورېدل. يو ځواب ورکوونکی وايي چې د کندهار د يوې خېمې په گوټ کې يې د نارنجي جامو يوه ډله وليدله. "ما نو بس دا سوچ وکړ چې هرکله دوی [قېديانو ته] دا نارنجي جامې ورکړي هغوی بېرته هيڅکله نه راځي. زه پوی شوم چې دا لباس په

امریکا کې جنایتکارانو ته اغوستل کېږي. او زیاتره دغسې جنایتکارانو ته د مرګ سزا ورکړای شوې وه." هغه وویل په سي این این یې سزاوار شوی تروریست ټیموتهي میکویغ په همدغو نارنجي جامو کې ولید چې اعدام ته وړل کېده. همدغه مهال ده ته احساس وشو چې د ګوانتانامو په لور به ځي، چېرته چې د هغه ګومان و چې اعدامېږي به.

یوې نظامي الوتکې ته چې ګوانتانامو ته تلله د خېژولو نه وړاندې قېدیان یوې کوټې یا خېمې ته یوړل شول، هلته یې سرونه وخرییل شول او جامې ترې وویستل شوې. یو ساتونکي یو پخواني قېدي ته وویل چې هسې نه دوی په ویښتو کې کوم تېره شی یا وړه وسله نه وي پټه کړې.[48] یو ځواب ورکوونکي وویل، "ډېره ګرمي وه. [ما ته] په ساه اخیستلو کې مشکل و ځکه چې زمونږ سرونو ته خلتې اغوستل شوې وې، او دغسې مونږ دوه یا درې ساعته ناست وو. بالاخر یې یوې بلې کوټې ته راښکلو، او ... بالکل یې بربنډ کړو او عکسونه یې راله واخیستل." د دې پروسې پر مهال د قېدیانو یو په یو تالاشي واخیستل شوه. بیا ورته یوه جوړه نارنجي جامې، او د همدې رنګ خولۍ او واسکټ ورکړای شول او په زنځیرونو کلک وتړل شول. زولنې او د پښو کړۍ یې په ملا کې د یو زنځیر سره کولپ کړای شوې. دوی اول ماسکونه او سترګۍ واغوستلې، او بیا یې مونږ یوې بلې کوټې ته یوړلو چې هلته یې زمونږ په غوږونو کې د غوږونو کړۍ واچولې. مونږ په دغه ځای کې ډېر وخت انتظار وکړ."

یو زیاته کړه، "ځکه لدې چې مونږ الوتکې ته وخېژوي، یوې کوټې ته يې بوتلو او په اوسپني څوکیو يې کېنولو. زمونږ لاسونه تړل شوي وو، او چې کله به پوځیان په خوا تېرېدل نو زمونږ تندي به يې داسې وهل لکه مونږ چې څاروي یو." گڼ شمېر نورو قېدیانو الوتکې ته د ختو نه وړاندې ورسره شوی چلند د کندهار او باگرام نه ډېر بدتر وبللو. د یو ځواب ورکوونکي په وېنا:

مونږ يې یوې کوټې ته بوتلو او په زور يې یوه پښه په بله کېنولو... مونږ په دغه کوټه کې ډېر تحقیر شو. مونږ يې په ملا باندې ووهلو او داسې فقرې يې راته وویلې لکه "ودې غېم، خوله بنده کړه، خبرې مه کوه." او مونږ په دغه حالت کې درې یا څلور ساعته ناست وو. بالاخر مونږ د درد او غم له کبله په چیغو شو.

د یو بل پخواني قېدي له مخې، "کله چې دوی مونږ الوتکې [ته] یوړلو نو داسې يې ورواچولو لکه گډې. زمونږ لاسونه تړل شوي وو او مونږ هیڅ نه شو کولای."

د یوې برخې نه زیاتو ځواب ورکوونکو وویل چې الوتکې ته د خېژولو نه وړاندې دارو ورکړای شوي وو. ځینو وویل چې گولۍ ورکړای شوې وې، خو ځینو نورو وویل چې دوی داسې احساس کړه لکه د یو غوږ شا ته چې يې څه شی ایښودی شوی وي. یو پخواني قېدي وویل، "ما د خوځېدو توان نه درلود. ماته سمه معلومه نه شوه چې دا څه شی و. خو زما سر دروند شو او پرېشانۍ واخیستم. زما پوزه بنده شوه، ساه مې په مشکله اخیستله." گوانتانامو ته

له رسېدو وروسته، دا سړی وایي چې د طبي معاینې لپاره یوړل شو او "همدغلته دغه شی لیرې کړای شو." د ځینو لپاره دغه دارو یو رحمت و: "ما سوال وکړ چې دوایي راکړي ځکه چې ډېر په درد کې وم. ما وویل چې د نشې دوایي دې راکړي، او هغوی بالاخر راکړه. نو زه په ګوانتانامو کې راویښ شوم."

ډېرو ځواب ورکوونکو په الوتکه کې ورسره د شوي چلند نه شکایت وکړ. ټول قېدیان په زنځیرونو داسې کلک تړل شوي وو چې ډېر حرکت ونکړي. یو پخواني قېدي وویل، "دا هماغه څه دي چې درې بره جامې ورته وایي. د دې مانا ده د لاسونو د ملا سره زنځیرول او د هغې د یو بل زنځیر سره تړل چې د پښو زنځیر ته رسېده. په غوږونو مفلرې هم تړل شوې وې، سترګۍ په سترګو او ماسک په سر. او بیا په الوتکه کې په دغسې تکلیف او درد رسوونکي حالت کې چې شپږ دېرش ساعته پروت یې." ځینو وویل چې په بارووړونکو الوتکو کې په سیټونو پسې تړل شوي وو، خو نورو وویل چې په ځمکه تړل شوي وو. دوی ته د خوراك لپاره لږ څه ورکول کېده؛ ځینو ځواب ورکوونکو یواځې د یوې مڼې یا یو سېنډوچ د ورکول کېدو یادونه وکړه، خو په دغسې بند حالت کې د دې دواړو خوړل ګران وو. په الوتکه کې ډېره یخني وه، یو پخواني قېدي وویل، "مونږ په ټوله لاره رپېدلو." ځینو وویل دا سفر دومره نازغمونکی و چې دوی فکر کاوه ژوندي به پاتې نشي: "زما په سر سترګۍ لګول شوې وې، د پلاستیك یوې پټې دا سترګې نیولې وې. زما یو

غوږ يې دننه رانویستلی و. دا د ټولو نه بدتر درد و. بس ما غوښتل چې مړ شم."

د دې بندېزونو او دوایانو له امله په سپرلۍ کې تشناب ته تلل یو عذاب و. یو ځواب ورکوونکي وویل:

یو ځای کې ما غوښتنه وکړه چې تشناب ته ځم. زما یاد شي چې یوې ښځې بوتلم. دوی پوځیان وو - یو سړی او یوه ښځه. او دروازې خلاصې وې. دروازې به خلاصې وې او پرتوګ به یې درله ښکته کړ. نو دې ښځې زما پرتوګ ښکته کړ. ما په اصل کې متیازې کول غوښتل. او زه هلته شاوخوا لس دقیقې ولاړ وم. بس ما هیڅ ونکړای شو، هیڅ نه کېدل. هغې د شا د خوا نه ما ته کاته، زه پوهېدم چې هغه راته ګوري. په دې وجه زما بدن همداسې و، کار يې نه کاوه، هیڅ نه کېدل. حال دا چې ما د ډېر ساعت نه تشناب ته تلل غوښته. او اوس زما د تشو متیازو نلکې، او زما خېټې، زه سم خوږولم. او زه په داسې درد کې وم چې حاجت مې خلاص نه شو... نو زه لاړم او بېرته کېناستم، او یوه دوه ساعته وروسته مې بیا تشناب ته د تللو غوښتنه وکړه. او دا ځل لس یا شل دقیقې ولګېدې... خو دا ځل ما حاجت پوره کړ، هر څه په فرش خواره شو. او هر څه په ما هم راغلل ځکه ما چې څه کول لیدلای مې نه شول... الوتکه روانه وه نو هر څه په ما راغلل. نو بس زه بېرته کېناستم. ... دا ډېر تحقیر و. ...لږ تصور وکړئ چې یوه ښځه وي، او د ډېرو سړو په مخکې ورته تشناب کې حاجت پوره کول وي."

د ځواب ورکوونکو يو غټ اکثريت وويل چې الوتکه ګوانتانامو ته د تللو پر مهال په لاره کې کوزه شوې وه. د موسم د حالت او د هغه واټن نه چې دوی وهلی و، ځينو قېدیانو ګومان کاوه چې دا به ترکيه او يا تر امکاني حده جرمني و. يو ځواب ورکوونکي وويل: "د سفر په مېنځ کې مونږ ته الوتکې بدلول وو. الوتکه ښکته شوه او يو شمېر عسکرو مونږ په ناست حالت کې اوچت کړو او بلې الوتکې ته يې يوړو."

بالاخر ګوانتانامو ته په رسېدو، د باروړونکې الوتکې شاتنۍ لاره خلاصه کړای شوه او قېديان لاندې ښکته کړای شول. زيات ځواب ورکوونکي د هغه ځه نه ډار شوي چې په دې ناآشنا ځای کې ورسره مخ شول، خو په پېل کې لږ تر لږه دوی آرام شول چې پښې يې وخوځولې او د هغه دردناک حالت نه راووتل په کوم کې چې کېنول شوي وو.

خو لږ تر لږه يو قېدي هيله من و. "کله چې الوتکې نه د ويستلو زما لمبر راغی، نو ما د هغو سترګيو د ګوټونو نه چې اغوستې مې وې [ځينې شاوخوا ځايونه] ليدلای شول. کله چې ما د امريکې بېرغ وليد، نو فکر مې وکړ، "اوس مونږ په امريکا کې يو. دلته به راسره ښه وضعه کوي.""

# درېم باب: ګوانتانامو: د ماتې په لور ورودل

د ۲۰۰۲ د جنورۍ په ۱۱مه، يوه بارورونکې الوتکه چې د افغانستان شل قېديان پکې وو د کيوبا په ګوانتانامو بحري اډه کې ښکته شوه، دا د قېديانو لومړۍ انتقال و چې وروسته د شپږو سوو نه هم زيات شول. قېديان چې په سرونو يې خلتې او په غوږونو مفلرې تړل شوې وې کله چې امريکايي عسکرو د الوتکې نه ښکته کول او يو بس ته يې ديکه کول نو توده او نمجنه هوا يې احساس کړه. دوی د اوبو نه پورې غاړه يوې غټې ودانۍ ته يوړل شول کومه چې د پنځه څلوېښت مربع ميله اډې په شمال ختيځه برخه کې پرته وه. يو ځل چې ودانۍ ته دننه شول نو قېديان د هماغسې پروسې سره مخ شول چې په کندهار او باګرام کې يې ليدلې وه. د کمپ پرسونل د دوی بهرنۍ جامې او د غوږونو مفلرې لرې کړې، د دوی سترګۍ يې ښکته کړې او جامې يې ورته وشلولې. يو بندي وايي، "يو چا د ګوتو نښانونه اخيستل."

يو بل تن ډي اين ای پاکول. يو چا عکسونه اخيستل. او يو بل چا داخلي معاينه او نور کارونه کول. هلته دومره زياتو پوځيانو کاته او ولاړ وو چې "زه نه پوهېږم دوی ټولو څه کول. خو د هر تن په مخکې دوی، بس لکه، زمونږ جامې چې شلوي."

قېديان څو مياشتې وروسته په لومړي ځل شريکو لمباځايونو ته يوړل شول، چېرته چې پوځيانو په سختو

برشونو وسولول او لاندیني لباسونه او نارنجي جامې يې ورکړې. اخري تمځای یو مېز و چېرته چې قېدیانو ته موقع ورکړای شوه چې خپلو کورونو ته خط ولیکي. یو پخوانی قېدي وايي چې ساتونکي ته يې شکايت وکړ چې په زنځیرونو تړلو لاسونو خط لیکل گران دي: "ما ساتونکي ته وویل، "نو څنگه زه لیک وکړای شم؟" او هغه وویل "په خپلو لاسونو." ما ځواب ورکړ، "نو هغه خو بند دي... نو زه د لیکلو توان نلرم.""

په راتلونکو څلورو کلونو کې امریکایي پوځي الوتکو دې کمپ ته ۷۷۸ قېدیان یوړل.[1] د زیاتره قېدیانو پېژندگلو د افغانستان (۲۲۱)، سعودي عربیه (۱٤۰)، یمن (۱۱۰)، یا د پاکستان (۷۰) د اتباعو په توگه شوې وه.[2] په کمپ کې د بندیانو شمېر په جولای ۲۰۰۳ کې په ٦٦۰ تنو سره عروج ته ورسېد[3] او د همدغه کال د نومبر په میاشت کې بېرته په کمېدو شو. (عکس ۱) په اکتوبر ۲۰۰۸ کې، تقریباً ۳۵۵ قېدیان په گوانتانامو کې پاتې وو.[4] پر دې برسېره، د "کمپ ۷" په نامه په دې اډه کې یوه بله قېدخانه هم شته چې ویل کېږي شاوخوا ۱۵ تنه "مهم" قېدیان پکې دي چې په اړه يې چا ته ډېر معلومات نشته.[5] دې څېړنې لپاره د ځواب ورکوونکو په گوانتانامو کې د قېد اوسط وخت تقریباً درې کاله (شپږ دېرش میاشتې او اته ورځې) و، اگرچې ځینې نورو، په گډون د هغو چې تراوسه پورې هلته دي، تر شپږو کلونو پورې وخت تېر کړی دی. (عکس ۲)

**عکس ۱: د گوانتانامو ابادي، له ۲۰۰۲ څخه تر اوسه**




سرچینه: د ۲۰۰۳ څخه راوروسته د دې ابادۍ شمېره د امریکا د دفاع د محکمې د خبري اعلامیو نه اخیستل شوې (خپرې شوې انلاین په http://www.defenselink.mil.releases). د ۲۰۰۲ د ابادۍ د شمېرې بنسټ په درېو سرچینو دی: سي این این "په زنځیرونو تړل شوي قېديان گوانتانامو ته ورسېدل،" جنوري ۱۱، ۲۰۰۲؛ ورتینګټن انډي، *د گوانتانامو دوسیې: د امریکا په غېر قانوني زندان کې د ۷۷٤ قېديان کیسې*، لندن، فلوټو پریس؛ او globalsecurity.org، "د گوانتانامو ټاپو قېديان،" http://www.globalsecurity.org/facility/guantanamo-bay_detainees.htm

**عکس ۲: د هغه وخت موده چې پخواني قېديان وايي په گوانتانامو کې يې تېر کړې دی**




سرچینه: د ۲۰۰۳ څخه راوروسته د دې ابادۍ شمېره د امریکا د دفاع د محکمې د خبري اعلامیو نه اخیستل شوې (خپرې شوې انلاین په http://www.defenselink.mil.releases). د ۲۰۰۲ د ابادۍ د شمېرې بنسټ په درېو سرچینو دی: سي این این "په زنځیرونو تړل شوي قېديان گوانتانامو ته ورسېدل،" جنوري ۱۱، ۲۰۰۲؛ ورتینګټن انډي، *د گوانتانامو دوسیې: د امریکا په غېر قانوني زندان کې د ۷۷٤ قېديان کیسې*، لندن، فلوټو پریس؛ او globalsecurity.org، "د گوانتانامو ټاپو قېديان،" http://www.globalsecurity.org/facility/guantanamo-bay_detainees.htm

# د کمپ انتظام

لومړني قېدیان چې ګوانتانامو ته ورسول شول نو د کمپ د عملیاتو او پلټنو مسوولیت په دوو ډلو ویشل شوی و. برید جنرال ریک بېکس د "۱۶۰ ګډ ځواک" مشري په غاړه درلوده چې کمپ یې اداره کاوه. تورنجنرال میخایل اې. ډنلاوي د ۱۷۰ ګډ ځواک" مشري کوله چې د پلټنو مسوولیت یې لاره.[6] ویل کېږي چې دواړه جنرالان به نښتل؛ په بېکس تور لګول شوی و چې قېدیانو سره "نرمي" کوي او ډنلاوي د پلټنو په لا زیاتو سختو تخنیکونو باندې زور راوړه. په نومبر ۲۰۰۲ کې پېنټاګون د کمپ جوړښت ومانه او د اداري او پلټنې دواړه ډلې یې په یوه ډله کې مدغم کړې، چې نوم یې شو "۱۶۰/۱۷۰ ګډ ځواک"، او برید جنرال جیوفري میلر یې د دوی قوماندان وټاکه.

ډېرو ځواب ورکوونکو وویل چې د جنرال میلر د قوماندان جوړېدو سره حالات ډېر زیات بدل شول. د ټېکساس دې دوه ستوري جنرال چې "د ډېر زیات باور ښتن و"[7] د پلټنې مشخص ټیمونه جوړ کړل "چې د لومړي ځل لپاره یې د پوځي استخباراتو پرسونل او د پوځي پولیسو ځواک یو بل سره ګډ وډ کړل - یوه داسې داغداره چاره چې تر دې وړاندې په پوځ کې نه وه لیدل شوې."[8] هغه داسې پوځي او ملکي د وضعیت ساینسپوهان په کار وګومارل چې "اروایي کمزورتیاوې، نرم ځایونه، په قېدیانو د اغېز کولو لارې" معلومې کړي چې "... هغوی همکارۍ کولو ته جوړ کړي، او ... جسماني او کولتوري کمزورتیاوې یې [ولټوي]."[9] میلر د معلوماتو راغونډول د کمپ تر ټولو لوي هدف وګرځاوه

او په دې پروسه کې يې د کمپ نه د مورخ الفريډ مکای په اصطلاح "د وضعيت د ساينس يو ريښتونی لابراتوار" جوړ کړ."[10]

ميلر د کمپ ساتونکي دې ته اړ کړل چې "د شرايطو په برابرولو" يا د پوښتنو نه مخکې د قېديانو په پستولو سره د پلټنو ملاتړ وکړي.[11] ميلر همداراز د هغه په وېنا د قېديانو ترمنځ د توپير کولو لپاره "درجاتي سيستم" جوړ کړ. دې سيستم کې قېديان په څلورو درجو تقسيمېدل او پلټونکو سره د هغوی د همکارۍ پر بنسټ ورته "اسانتياوې" او امتيازات ورکول کېدل. اوله درجه د ډېرو "تابعدارو" بنديانو لپاره وه چې د اغوستلو لپاره سپين - دا رنګ په اسلامي کولتور کې "اوچت حېثيت" لري - کميس ورکول کېده او د داسې اسانتياو لکه جانماز او د تشناب د کاغذ شخصي بنډل ساتلو اجازه ورته وه.[12] څلورمه درجه د هغو لپاره وه چې ډېر "سرکښ" ګڼل کېدل. دوی ته زيړې جامې ورکول کېدې او داسې اسانتياوې لکه څادر او توشک نه ورکول کېدل.[13] قېديان د پلټونکو لخوا "د معلوماتو د راغونډولو په خاطر" پنځمې درجې ته هم وړل کېدای شو چې د ځانله استخباراتي بلاک په يو کور ساتل کېدل.[14] ميلر دا بحري اډه په مارچ ۲۰۰٤ کې پرېښودله څو په عراق کې خدمت وکړي،[15] خو د هغه درجاتي سيستم په ګوانتانامو کې پاتې شو.

## نړيوال قانون او د زندان شرايط

نړيوال قانون جنګي قېديانو سره د چلند لپاره واضحې لارښوونې کړې دي. د ژنيوا تړونونه وايي چې نيول شوی پوځي جنايتکار نه دی، بلکې "بس يو دښمن چې نور وسله نه شي اخيستلای"[16] او لدې امله تشدد او جبر پرې نشي کېدلای، او د سزاوار کېدو نه وړاندې حق لري چې د لږ تر لږه پروسو نه تېر شي.[17] خو ولسمشر بوش پرېکړه وکړه چې د طالبانو او القاعده جنګيالي د ژنيوا د تړونونو د تحفظ نه ګټه نشي اخيستلای؛ هغه وويل دوی سره به انساني چلند کېږي خو د هغوی [امريکا] د خپلو "اصولو" سره سم.[18] په جون ۲۰۰٦ کې، [د امريکا] سترې محکمې د *همدان په مقابله د رمسفيلډ* قضيه کې فېصله وکړه چې د ګوانتانامو قېديان د ژنيوا د تړونونو له مخې د پروسې په طريقه کار کې د هغه تحفظ حق لري چې په جنايتونو تورنو ملکي خلکو ته ورکړای شوی دی.[19] خو هيڅ يوې محکمې په دې فېصله ورنکړه چې ايا په دغه اډه کې د قېد شرايط هغسې دي چې د ژنيوا تړونونه يې غوښتنه کوي که نه.[20]

د دې څېړنې لپاره ګڼ شمېر ځواب ورکوونکو وويل چې کمپ ته د ميلر د راتلو نه وروسته پلټونکي داسې معلومېدل چې په بلاکونو کې قېديانو سره د چلند او شرايطو په اړه لا زيات اختيار لري. يو ځواب ورکوونکي چې د نورو پخوانيو قېديانو د نظرونو عکاسي کوي، داسې وضاحت وکړ:

> ساتونکو به د پلټونکو سره يو ځای کار کاوه. قېديانو چې په خپلو پنجرو کې هر څه کول دوی يې ياداشت اخيسته... پلټونکو ساتونکو ته ښودل چې

> قېديانو سره څه کولو ته اړتيا لري. د بېلګې په توګه يو پلټونکی چې ځان "ښه سړی" ښيي. ...هغه پوهېږي چې زما موټرسايکلونه خوښ دي.... نو هغه ما ته وايي، "ما سره د موټرسايکلو په اړه دا يوه ښه مجله ده. ته دا اخيستلای شې، په خپله کوټه کې يې ځان سره ساتلای شې." نو زه مجله راخلم او خپلې کوټې ته ستنېږم. خو کوم ساتونکي چې ما [د پلټنې د کوټې نه بهر ته] وړي هغوی ته وايي چې مجله رانه بېرته واخلي. او بيا د بلې پلټنې په وخت راته وايي، "څه، مجله درنه هغوی بېرته واخيستله؟... نه پوهېږم چې داسې يې ولې کړي، دغه ښه خلك نه دي، احمقان دي، او... زه به تا ته يوه نوې مجله راوړم." نو قېدي دا سوچ کوي چې، "اوه، دا خو ښه سړی دی، دا ما سره د مرستې کولو کوښښ کوي."

په ګوانتانامو کې يو شمېر سرچينې داسې وايي چې پرسونل پرې بنديانو سره د طريقه کار لپاره تکيه کولای شوه. په داسې حال کې چې د پوځي نصاب او د کمپ د احکامو څخه دوی لارښودنه اخيستله، د امريکا د پوځي پرسونل لپاره دوهمه غټه سرچينه د ګوانتانامو لپاره جوړ شوي د عملياتو د پروسې معياري نصابونه (ايس او پيز) وو، چې عموماً به د مشخصو وختونو لپاره جاري کېدل. دغه معياري نصابونه دغلته پوځيانو ته د وړاندې بوتلو د پروسې، خوراکونو او په قېديانو د بنديزونو په اړه هدايات ورکوي. دا نصابونه په عامه توګه ولس ته نه ښودل کېږي خو د ۲۰۰۳ او ۲۰۰۴ لپاره جوړ شوي يو شمېر

نصابونه په ۲۰۰۷ کې د رسنيو په لاس ورغلل[21] کوم چې لږ تر لږه د دغو دوو کلونو د هرې ورځې د لارښودنو يو عکس وړاندې کوي. دا دوه کاله هغه وخت دی چې د دې څېړنې لپاره د ځواب ورکوونکو غټ شمېر په دغه اډه کې تېر کړی دی. برسېره پر دې سرچينو، د اډې چارواکو د کمپ د اداري او عملياتو لپاره پرسونل ته خاص احکام هم ورکړي دي. د معياري نصابونو په ځای دا احکام زيات ورکول کېدل؛ يو پخوانی ساتونکی وايي چې ځينې وخت کې به دا احکام هره ورځ او يا هم د سهار او ماښام ترمنځ نوي کېدل.

د کمپ ډيلټا په معياري نصابونو کې په خاصه توگه راغلي چې قېديان څنگه کمپ ته ورسېږي نو لږ تر لږه څلور اونۍ دې د "وضعيت د انتظام د پلان" لپاره په يواځې کوټه کې وساتل شي.[22] د دې يواځې کولو غټ هدف په پلټونکو باندې د قېديانو اتکاء زياتول او د قران، خط و کتابت او ايي سي ار سي د استازيو نه په ليرې ساتلو سره د "نوي قېدي د پرېشانۍ او بې نظمۍ احساس زياتول" وو، تر هغې چې پلټونکي په بلاکونو کې د دوی د ورگډولو پرېکړه وکړي. د دغو نصابي معيارونو له مخې د دې اجازه ورکړای شوې وه چې قېديان په دې وخت کې "هيڅ شي ته لاسرسی ونلري. د ايي سي ار سره هيڅ ډول تماس ونلري."[23]

د دې څېړنې ډېرو ځواب ورکوونکو وويل چې کمپ ته له رسېدو وروسته په يواځې کوټو کې ساتل شوي وو. يو وويل "[د يواځې کوټې] په دروازه کې يوه وړه کړکۍ وه چې

ساتونکو به پرې زمونږ خوراك رادننه کاوه. ځينو پوځيانو به دا کړکۍ پنځه دقيقې خلاصه پرېښودله چې دې سره به مونږ ډېر خوشحاله شو. کله کله به مو د شپې عجيبه اوازونه اورېدل. زما د کوټې څنګ کې يو قېدي و چې لېونی شوی و." ځينو وويل چې تر دېرشو ورځو زيات په ځانله کوټو کې د پلټنو سره ساتل شوي وو.

## د قېدکوټو بلاکونه

هغه قېديان چې د ۲۰۰۲ په اولنو مياشتو کې ګوانتانامو ته ورسول شول، د کمپ ايکسرى په نامه د يوې قېدخانې په کوټو کې اچول شوي وو.[24] په دې کمپ کې د سيخانو نه جوړې شوې اته اعشاريه شپږ پنجرې وې چې د اوسپنې په لوړژور چت باندې يو بل سره تړل شوې وې، او د لرګيو يو کتار وړې وړې کوټې د پلټنو د کوټو په توګه استعمالېدلې. يو شمېر پخوانيو بنديانو وويل چې په خلاصو پنجرو کې يې داسې احساسول لکه په بېديا کې چې اوسېږي. يو پکې داسې وويل:

> کله چې به باران شو نو که مونږ به ولاړ هم وو په سرونو به مو پرېوتو.... واړه حېوانات – لکه لړمان، کوني کاټران، منږکان، مږې او ماران – به دننه راتلل، نو مونږ به د پردې نه ټال غوندې جوړ کړ او پکې اوده به شو، هر څو که د دې اجازه نه وه.... هره کوټه کې دوه سطلونه وو. يو د اوبو لپاره و چې د کلورينو نه به ډکې وې او څښل يې ګران وو. دويم سطل د تشناب لپاره و. کيناراب ته

به د نورو کسانو په مخکې تلو. یو دوه ورځې وروسته به په خپله گندگۍ ککړ شو.... مونږ ته یو یو دسپاک، یوه کمپله، یوه پرده، یو صابون او یو ورکوټی بوتل د شامپو راکړل شوي وو. د غاښونو د برش د اړې په ځېر لاسته و.... او په دې حال کې مونږ درې میاشتې وو.

ځینو ساتونکو به قېدیان د دې نه هم منع کول چې خپل دسپاکونه د اوسپنې په دېوال د ځان د پټولو یا د سخت لمر نه د بچ کولو لپاره واچوي. څنگه چې د اونیو شمېر زیاتېده، نو د دوی د ویرې او ناهیلۍ احساس هم زیاتېده. یو تن وویل، "ما فکر کاوه چې زه یو خوب وینم. زه ډېر لیرې وم؛ زه په یو جلا ماحول کې وم؛ او ما دا سوچ کاوه چې زه به هیڅکله بېرته کور ته لاړ نه شم. ما د یوې داسې زلزلې سوال کاوه چې یا مونږ ټول مړه کړي او یا دا پنجرې خلاصې کړي."

په اپرېل ۲۰۰۲ کې د ایکسری کمپ وتړل شو او قېدیان د ډیلټا کمپ ته انتقال کړای شول، کوم کې چې بالاخر تر اتو سوو زیاتې قېدکوټې جوړې شوې. اوس ایکسری کمپ بېخي خوشې شوی او د وښو او د مچیو د جالو نه ډک شوی دی.[25] د کمپ ډیلټا د قېدکوټو بلاکونه د کانتینرو د دوو کتارونو نه جوړ دي، چې د قېدکوټو نولس بلاکونه او ٤٨ قېدکوټې ترې جوړې شوې دي. په هره قېدکوټه کې یو اوسپنیز کټ، کیناراب او د روانو اوبو بهنځ شته او د شنو اوسپنیزو سیخانو دېوالونه لري چې قېدیان ترې په څنگ ته

قېدکوټو کې مېشت کسان لیدلای شي.[26] په قېدکوټو کې د خلوت څه انتظام نه و او ډېرو ځواب ورکوونکو د ساتونکو د سختې نګرانۍ شکایت وکړ. ځینو خو وویل چې د کمپ ډیلټا شرایط هم هغسې یا له هغې هم سخت وو چې په کمپ ایکسرې کې وو. یو تن وویل چې کله به باران شو "نو هغه تن به په سخت مشکل کې و چې قېدکوټه یې [د ډیلټا کمپ] په اخري بلاک کې وه... ځکه چې د هغه پنجره هغه لور ته نږدې وه.... زه یو ځل په دغه اخري قېدکوټه کې وم او لوند خیشت شوم. دسپاک به لوند شو، کمپله به ټوله لمده شوه. پردې به لمدې شوې. سړی به ټول لوند شو. نورې وچې جامې نه وې. د څملاستو ځای به لوند شو، سړی اوده کېدی نه شو." د کمپ ایکسرې په څېر واړه حېوانات به دلته هم قېدکوټو ته ننوتل. "دننه به ماران هم راتلل.... دا د وښو ماران وو، خو وو." قېدیانو به خپل ټول هغه وخت چې پلټنې به ترې نه کېدلې په قېدکوټو کې تېراوه. یو پخواني قېدي وویل: "هره اونۍ به زه پنځلس دقیقې د ورزش لپاره بوتلل کېدم، او هره اونۍ راته پنځه دقیقې وخت راکول کېده چې تشنابونو ته لاړ شم او ځان ووینځم.... دې ټول وخت کې به زه په زنځیرونو تړلی وم."

کمپ ډیلټا پخپله په څو نورو وړو کمپونو کې ویشل شوی و، چې پکې کمپ ایکو او د ۱ نه تر ٦ لمبرو نور کمپونه وو. د ایکو کمپ چې هغه قېدیان پکې اچول کېدل کوم چې پوځ په لومړي سر کې د خاصو پوځي کمیسونونو په واسطه د محاکمې لپاره بېلول، خو وروسته ورته بیا نور قېدیان هم وړل کېدل، د وړو وړو کوټو یو کلیکسون و او

د اډې په یوه جلا برخه کې جوړ شوی و.[27] درېم لمبر کمپ د جزا ورکولو یوه برخه وه چې قېدیان به پکې یواځې ساتل کېدل.[28] د اول لمبر کمپ د قېدکوټو شرایط هم بېخي هغسې وو چې د درېم لمبر کمپ وو، خو قېدیان پکې یو بل سره څنگ په څنگ اچول کېدل څو یو بل سره خبرې وکړای شي.[29] په اگست ۲۰۰۸ کې د شویو معلوماتو له مخې په څلورم لمبر کمپ کې شاوخوا ۷۵ د هغې درجې قېدیان وو چې ډېره همکاري یې کوله او یا یې خوښې کېدو ته انتظار ایسته.[30] قېدیان دغلته د لیلیې په څېر اوسېدل، یانې په یوه کوټه کې لس تنه؛ د خپل دغه استوگنځي د نظم په خپله مسوول وو او خوراک به یې په شریکه کاوه.[31]

په داسې حال کې چې زمونږ د دې څېړنې لپاره ځواب ورکوونکو کې یو تن هم په پنځم، شپږم یا اوم لمبر کمپ کې وخت ندی تېر کړی، خو په دې کمپونو کې هم قېدیان ساتل کېدل. پنځم او شپږم لمبر کمپونه د مستقیمو قېدخانو په توگه د امریکې د سختو امنیت لرونکو زندانونو په څېر جوړ شوي وو. په دې کمپونو کې د ځانله قېد شرایط په امریکا کې د هغو "سوپرماکس" قېدخانو نه زیات سخت وو چې بندیان پکې په کلونو کلونو تر اخره پورې یواځې ساتل کېږي.[32] په اگست ۲۰۰۸ کې د ورکړل شوي راپور له مخې، پنځوس قېدیان په پنځم او ۷۵ په شپږم لمبر کمپ کې ساتل شوي، گڼ شمېر پکې داسې دي چې په یو یا بل کمپ کې یې د یو کال نه زیات شوی دی.[33] په اډه کې د اوم لمبر کمپ ځای نه دی ښودل شوی، خو په یقین سره داسې ویل کېږي چې

په دې کې ۱۵ داسې قېديان ساتل شوي چې د سي ايي اې د قېد نه انتقال شوي دي او خپله جلا قومانده لري.[34]

په ګوانتانامو کې يوه بله قېدخانه، چې د کمپ ايګوانا په نامه پېژندل کېږي، اصلاً د ۱۳ څخه تر ۱۵ کلونو پورې کم عمره قېديان ساتي.[35] په دې قېدخانه کې درې کم عمره قېديان چې د ټولو عمرونه د شپاړسو کالو نه کم وو ساتل شوي وو او وروسته خوشې شول. کمپ ايګوانا د ۲۰۰٤ په ژمي کې بند کړای شوی و خو په ۲۰۰٥ کې بېرته د هغو قېديانو د ساتلو لپاره پرانيستل شو چې د "نور دښمن جنګيالي ندي" درجه ورکړای شوې وه، مانا دوی نور امنيت ته خطر نه ګڼل کېدل.[36] ګڼ شمېر ځواب ورکوونکو د دې نوې قېدخانې د ښو شرايطو په اړه خبرې وکړې: خوراک ښه و، دوی د فيلمونو د کتلو او بهر ته د تللو توان درلود، او سمندر يې ليدلای شو.

## ټولنيزې اړيکې

هغه نږدې اته سوه کسان چې په ګوانتانامو کې له لومړي سره پاتې شوي د ٤٦ بېلابېلو هېوادونو وو.[37] اګر چې دوی ټول مسلمانان دي، خو ژبې، کولتوري روايات او نظرونه يې د يو بل نه مختلف دي.[38] دې تنوع د کمپ په محدود چاپېريال کې د قېديانو ترمنځ ټولنيزو اړيکو ته وده ورکړه.

### *د قېديانو ترمنځ اړيکې*

یو شمېر ځواب ورکوونکو وویل چې بخت دوی د ملګرو قېدیانو سره یو ځای کړي وو. یو وویل، "په اصل کې د نارنجي رنګ جامو هر تن په هماغه حالت کې و چې زه پکې وم." یو بل وویل چې یو بل سره د همکارۍ اړیکې جوړول ضروري وو: "ته به د خپلو شاوخوا خلکو سره په سمدستي توګه ملګرى کېږې، که نه شوې نو لېونى کېږې به. د دې نه خلاصون نشته، د ژوندي پاتې کېدو لپاره." یو ښه باسواده افغان په ځلورم لمبر کمپ، چې قېدیان پکې شریک اوسېږي، کې د خپل وخت د استعمال په اړه وویل چې ملګرو قېدیانو ته به یې تعلیم ورکاوه: "ما ۲٤ افغاني بندیانو ته لیک لوست وښوده. بیا مې ورته قران، عربي، فارسي او حساب زده کړل. نو ما هلته وخت هسې نه دى تېر کړى."

هر څو که ځینې کسانو ته اجازه وه چې نورو سره دوستي وکړي خو ویل کېږي چې د قېدیانو ترمنځ د یوې داسې ژبې نشتوالي چې ټول پرې وپوهېږي، او ډېر ځل ځایونو بدلولو د دوی ترمنځ د دوستۍ جوړولو کې مشکل پېدا کړى و. بې له شکه یوه وجه چې پوځ د دوی ځایونه زیات بدلول دا وه چې "غېر رسمي مشرتابه یې ګډوډ کړي" کوم چې چارواکو ویل چې وده کوي.[39] د قېدیانو ترمنځ سخت اختلافات هم پېدا شوي دي. د دې ځینې درې افغاني ځواب ورکوونکو وویل چې عربي قېدیانو د القاعده او طالبانو په مخالفت دوی د خپلې حلقې نه ایستلي وو. په لومړي سر کې عرب بنسټپالو دې "نه طالب، نه بنسټپال" قېدي سره د خبرو کولو نه انکار وکړ، بیا یې پرې کثافات ورواچول او د ساتونکو نه یې

غوښتنه وکړه چې دا "کافر" د هغوی د بلاک نه وباسي، لدې امله دا قیدي چې د کمپ بل ځای ته انتقالیده نو بیا د هماغه پخوانی پروسې سره مخ کیده.

### د ګوانتانامو د پرسونل او قیدیانو ترمنځ اړیکې

د ګوانتانامو سخت پابند چاپیریال د قیدیانو او د هغوی د نیوونکو ترمنځ اړیکې سختې اغیزمنې کړې وې. د دې اړیکو تحرک په کندهار او باګرام کې پیل شوی، ګوانتانامو ته د داخلولو په پروسه کې تکرار شوی، او د هغو اصولو او قواعدو سره مخکې تللی و چې قیدیان او پوځیان یې یو شان پابند وو. د ټولنیزو چارو پوهاند ایروینګ ګوفمېن په بندو حالاتو باندې خپل بې ساري کتاب کې لیکلي چې په زندانونو کې د کارکوونکو او قیدیانو ترمنځ حد نه ماتېدونکی دی او دواړو خواوو ته مخالفت وي. هغه لیکي، "هره خوا د بلې په اړه د تنګ نظره مخالفت سوچ کوي، کارکوونکي تل قیدیانو ته د بدو، پټو او بې باورو په توګه ګوري، او قیدیان هغوی ته د سپکو، بدمعاشانو او ذلیلو په توګه."[40] څرنګه چې قیدي په یوه خاص لباس کې وي او د نوم په ځای په لمبر بلل کیږي،[41] لدې امله دوی د ساتونکو په نظر کې بې شخصیته کیږي، او په دې توګه دې ته لار برابروي چې قیدیانو ته د انسانانو نه په کم نظر وګوري. تقریباً هغو ټولو قیدیانو چې مونږ ورسره مرکې کړي وویل چې د ګوانتانامو د واکمنو لخوا یې تحقیر او سپکاوی شوی دی. یو داسې وویل:

هغوی زمونږ د انساني عزت د ختمولو، بلکې خاورې کولو لپاره هر څه کول. زه به دا ونه وایم چې مونږ سره د ځاروو په څېر چلند کېده، ځکه چې مونږ ته ډوډی او نور هر څه راکول کېده، خو ما احساسوله چې دا [دې پوځیانو] لپاره یوه بېخي نوې وضعه ده چې په مونږ یې تجربه کوي، هغوی نه پوهېدل چې څه وکړي.... هغوی په پرله پسې توګه زمونږ ځارنه کوله او هر څه چې مونږ کول هغه یې لیکل. داسې ښکارېده لکه په مونږ باندې چې کومه ساینسي څېړنه کېږي. او مونږ هسې لمبرونه وو.

په ګوانتانامو کې د کمپ د وړو وړو قواعدو سخت او خپلسرى تطبيق د یو شمېر قېدیانو په نظر کې نور هیڅ اغېز نه لاره خو دوی ته یې خپله بې وسي وریادوله. یو دا خبره داسې تشریح کړه:

مونږ ته د خپلو ځانونو د وینځلو لپاره پنځه دقیقې راکول کېدې. کله چې به مونږ د لامبلو ځای ته ننوتو نو مونږ به په ځان صابون او شامپو ولګوله – په دې به یوه یا دوه دقیقې ولګېدې. درې دقیقې به لا پاتې وې خو ساتونکو به نارې کړې چې "وخت پوره دی!" او مونږ به ځواب ورکړ، "صبر وکړه، یواځې دوه دقیقې تېرې شوې دي...." په دې به ساتونکو ویل، "نه، نه، نه، راوځه، راوځه." ایا دا امکان لري چې په یوه دقیقه کې جامې وباسې؟ او دا څنګه کېدای شي چې په خپل ټول بدن په یوه دقیقه کې صابون او شامپو ووهې؟

یو بل پخواني قېدي د هغه په بلاك كې دا پېښه بيان كړه:

نو ما خپل كميس ووينځه.... او د سهار له خوا ساتونكي ته مې وويل چې دلته يې زوړند كړم نو سمه ده. او هغه راته وويل، "ولې نه، هيڅ خبره نه ده، دغلته يې زوړند كړه." بيا د غرمې والا ساتونكى راغى او وې ويل، "دا ليرې كړه.... ته دا دغلته نشې اچولاى." ما ځواب وركړ، "ښه، د سهار والا ساتونكي ويلي وو چې سمه ده." په دې هغه وويل: "گوره، اوس غرمه ده، كه د سهار والا ويل چې دا سمه ده نو دا د هغه كار و، اوس زه يم.... ليرې يې كړه." نو بس سزا يې راكړه.

يو پخواني ساتونكي چې دې څېړنې لپاره ورسره مركه شوې وويل چې ساتونكو كوم رول لوباوه هغې په كمپ كې دښمنۍ ته وده وركوله:

جوړه شوې قاعده دا وه چې څومره كېداى شواى مونږ [د قېديانو سره] خراب واى او چې څومره يې امكان درلوداى محروم مو ساتلاى، دا چې مونږ [هغوى سره] د انسانانو په توگه خبرې بېخي ونكړو.... هركله چې به ساتونكو قېديانو سره خبرې كولې نو زياتره به يې ورته په چيغو كولې. هو، په عامه توگه يو جارحانه چاپېريال.... هر څه چې [ساتونكو] كولاى شول كول يې لكه يو څه نا څه وهل، يا ورپورې ملنډې كول.... هره ورځ نه وه غلطي چې به قېديانو وكړه، ساتونكو به د هغې په اړه راپور

لیکلو.... په دې به قېدیان یوه درجه شاته لاړل او ځینې اسانتیاوې به یې له لاسه ورکړې. ساتونکو د قېدیانو د ژوند د بترولو لپاره هر څه کول.

د ګوانتانامو هغه پخواني پرسونل چې د دې راپور لپاره ورسره مرکې شوي وویل چې د ساتونکو او قېدیانو ترمنځ اړیکې همېشه ترینګلې وې. د یوې پخوانۍ ترجمانې له مخې، په ځانګړې توګه د کمپ د اولني کال د فعالیت پر مهال دا خبره ډېره صحیح وه. هغې وویل ساتونکو به دا سوچ کاوه چې هلته "هر یو تن د [یوولسم سپتمبر] په بریدونو کې ککړ و. کېدای شي [کوم ساتونکي] په نیو یارک کې یو دوست لرلو چې د سوداګرۍ په نړیوال مرکز باندې برید کې وژل شوی و. نو هغه د ډېرې کرکې او انتقام سره راغلی و."[42] دا ترینګلتیا لدې امله نوره هم زیاته شوې وه چې ساتونکو سره د قېدیانو په اړه معلومات کم وو. یو پخواني ساتونکي دا خبره داسې وکړه: "د پوځیانو غټه مسئله دا وه چې ایا دا سړی ریښتیا او په حقیقت کې د امریکایي عسکرو په وژلو کې لاس لري، ایا دا په ریښتیا او په حقیقت کې د یوولسم سپتمبر مسوول دی؟" هغه زیاته کړه چې ساتونکو د قېدیانو دوسیو ته لاسرسی نه لاره، او هغه روزنیزې غونډې او نور معلومات چې د کمپ پرسونل ته د قېدیانو په اړه ورکول کېده دا وو چې دا قېدیان "د تشدد نه ډک، خطرناک" خلک دي. یوې بلې ترجمانې یوه پېښه بیان کړه چې په یوه روزنیزه غونډه کې یو پوځي د یو راتلونکي قېدي تمثیل "د یو خطرناک ځناور" په توګه وکړ. هغې هم په دې تمثیل کې برخه اخیستې وه.

هغې وویل، "په پای کې ماته پته ولګېده چې په ما ډېر اثر شوی و. دغه چې څنګه قېدیانو ته چیغې ووهل شي، څنګه غبرګون ورسره وشي.... دا زړه بوږنوونکی و."

ځواب ورکوونکو وویل چې ساتونکو سره د مقابلې لپاره یې بې‌لابېلې "ستراتیژۍ" جوړې کړې وې، چې د چوپتیا نه تر بشپړ مخالفت پورې رسېدې. خو یو څو پکې توانېدلي وو چې ځینو ساتونکو سره دوستي جوړه کړي، دا د ګوفمېن د دې تبصرې تایید کوي چې "په هره اداره کې داسې ښکاري چې څه غوره اعمال وده کوي – که هغه غېر ارادي وي او که نقلي – د کومو په واسطه چې کارکوونکي او قېدیان یو بل ته دومره نژدې راځي چې د یو بل تر څه حده خوښېدونکی انځور ومومي او د یو بل حالت په همدردانه توګه وپېژني."[43] دغه "دوستي جوړول" عموماً هغه وخت نور هم اسان وو چې قېدي په انګلیسي خبرې کولای شوې. یو پخواني قېدي څرګنده کړه چې څنګه یو ساتونکی د هغه قېدکوټې ته ورغی او د هغه څه له امله یې بخښنه وغوښته چې د امریکا حکومت ورسره کړي وو. د هغه په وېنا ساتونکي ورته وویل،"که ما څه وویل نو زه به هم ستا په څنګ کې قېدکوټه کې پروت یم. او دا زما نوکري ده. زه دومره دومره کاله مخکې پوځ ته راغلی یم، او دا به کوم."

په ګوانتانامو کې د ۲۰۰۳ او ۲۰۰٤ معیاري نصابونو د پوځ له نظره په دې ضرورت زور راوړو چې د ساتونکو او قېدیانو ترمنځ دې یو ذهني واټن موجود وي. په خاصه توګه د "ګپ شپ او لنډو خبرو" او د دوستۍ جوړولو د هر ډول ممانعت شوی و.[44] یو پخواني ساتونکي موندلې ته وویل چې هغه

د قېدکوټو د بلاک د ساتلو د نوکرۍ نه بل ځای ته لدې امله ولېږل شو چې قېدیانو سره یې دوستانه چلند کاوه. هغه وویل، "ما هغوی سره بس د هغوی د شخصي ژوند په اړه خبرې کولې. دا د کمپ د رسمي پالیسۍ خلاف ورزي نه وه، خو دا د یونټونو د ځینو فعالیت کوونکو تګلارو خلاف ورزي وه."

## مذهبي اعمال

د مذهبي اعمالو د ترسره کولو حق تقریباً د نړۍ د ټولو زندانونو په قوانینو کې ورکړای شوی دی.[45] د ژنیوا تړونونه غوښتنه کوي چې جنګي قېدیانو ته دې "د خپلو مذهبي فرایضو د ترسره کولو بشپړه ازادي ورکړای شي."[46] د امریکایي پوځ لخوا د ګوانتانامو د ډیلټا کمپ لپاره د ۲۰۰٤ په معیاري نصاب کې د قېدیانو د مذهبي اعمالو په اړه د پوځیانو د رول لپاره تفصیلي اصول ورکړای شوي دي. پرسونل ته لارښودنه شوې وه چې "هر چېرې چې امکان لري د قېدي د [قران] سره د لاس لګولو نه دې ځان بچ وساتي." او خبرداری ورکړای شوی و چې "هر چا [د قران] سپکاوی وکړ هغه سره ښایي همکاري ونشي او د قېدیانو لخوا سخت غبرګون راوپاروي."[47] که د قران په لاس کې نیول ضروري شي نو "د راخیستلو نه مخکې دې د قېدیانو مخې ته پاکې دستانې [خامخا] استعمال کړای شي" او احتیاط دې وکړای شي "چې [د قران] هره برخه راخلي نو چپ لاس سره د کولتوري تړون له امله دې په ښي لاس راواخلي." لا زیات دا چې قران دې "په ناولي ځای لکه ځمکه، تشناب یا د لاس

وینځلو د ځای سره نژدې، د ښځو سره نژدې یا مردار/لوند ځای باندې د کېښودلو نه ډډه وکړای شي."[48] د ګوانتانامو پرسونل ته لارښودنه شوې وه چې هر قېدي ته یو سرجیکل ماسک ورکړي چې د قېدکوټې د دروازې سره زوړند کړای شي او قران پکې کېښودای شي.

ډېرو ځواب ورکوونکو وویل چې دوی ګوانتانامو کې په ازادۍ سره عبادت کولای شو. یو تن په ځانګړې توګه وویل چې د هغه په غوښتنه یو ساتونکي هغه د سهار د لمانځه لپاره هم پاڅولو. بیا هم یو شمېر پخوانیو قېدیانو داسې پېښې بیان کړې چې ساتونکو پکې د قران سپکاوی کړی او یا یې د دوی په مذهبي اعمالو کې مداخله کړې. په دې زیاتي کې د عبادت پر مهال په قېدیانو ملنډې وهل، او د لمانځه پر مهال سندرې ویل، موسیقي غږول او یا د قېدکوټو تالاشي اخیستل شامل دي. یو شمېر پخوانیو قېدیانو شکایت وکړ چې د لمانځه څخه منع کړای شوي او یا یې په لمانځه کې مداخله شوې، د رسنیو د راپورونو زمونږ معلوماتغونډ دا خبره تاییدوي.[49]

زمونږ د څېړنې لپاره د هغو درې ډېرشو ځواب ورکوونکو څخه چې قران سره یې د ساتونکو د چلند په اړه خبرې وکړې، دیارلسو وویل چې دوی پوځي کارکوونکي لیدلي چې قران یې په ځمکه پریښی دی.[50] ځواب ورکوونکو ادعا وکړه چې په پنځو پېښو کې په قران باندې پښه هم ایښودای شوې یا لته ورکړای شوې ده.

یو ځواب ورکوونکي وویل چې په ډېرو موقعو ساتونکي د هغه قېدکوټې ته ننوتي او د هغه قران یې راخیستی دی:

دوی به [قران] بېرته کړ، یوه خاص پاڼه به یې پکې راواړوله، هغې ته به یې وکاته او بیا به یې په زور سره په ځمکه وویشت. دا زمونږ لپاره ډېره دردناکه وه ځکه چې قران یو پاك او مقدس کتاب دی، دا یو داسې کتاب دی چې د سړي اودس نه وي نو په لاس کې یې نه شي نیولای. نو ما به ساتونکو ته وویل، "ما پرېږدئ چې پاڼې یې درته بېرته کړم، مهرباني وکړئ تاسې لاس مه وروړئ." خو هغوی به زما خبرې ته غوږ نه ایښووده.... په نورو وختونو کې به هغوی په قران باندې اوبه واچولې او بیا به یې په ځمکه گوزار کړ، او مونږ به قېدکوټو له لتې ورکول شروع کړل څو هغوی منع کړو.

په مذهبي اعمالو کې مداخله او د قران سپکاوی ځینې وخت د قېدکوټو په بلاکونو کې د احتجاجونو، د نه خوړو د اعتصابونو، او د ځان وژلو د پېښو سبب کېده. یو پخواني قېدي دوه اونۍ د نه خوړو د اعتصاب کیسه وکړه، چې یو شمېر نورو یې هم ذکر کړی. دا اعتصاب په فبروري ۲۰۰۲ کې په کمپ ایکسری کې قران سره د خراب چلند په ځواب کې تنظیم شوی و:

یو قېدي لمونځ کاوه چې یو پوځي د هغه پنجره په زور زور ډبول پیل کړل. زمونږ د زنداني جامو د پرتوگونو په شا کې سوري وو، نو کله چې به مونږ لمونځ کاوه نو مونږ به د ملا نه یو دسپاك تړلو. نو دې قېدي دسپاك تړلی و او لمونځ یې کاوه چې پوځي یې قېدکوټه په زور زور ووهله او ورته وې ویل،

"دسپاك دې اخوا كړه." تاسې به په دې پوهېږئ چې
يو ځل مونږ لمونځ پېل كړو نو په منځ كې خبرې نه
كوو تر څو چې مو لمونځ پاى ته نه وي رسولاى. دې
پېښې زما نه څلوېښت ميتره وړاندې صورت نيولو او ما
پوځي ته چيغه كړه چې هغه لمونځ كولو ته پرېږدي نو
بيا به دسپاك ليرې كړي. خو پوځي ما ته هيڅ پام
ونكړ. بالاخر هغه د پنجرې دروازه خلاصه كړه، قېدي
يې په ځمكه راگوزار كړ، او دسپاك يې ترې اخوا
كړ.... او بيا لاړو. له همدې امله د نه خوړو
اعتصاب پېل شو.

د "يي" په نامه د پوځ يو پخواني كپتان په گوانتانامو كې د اسلامي علومو د ماهر په توگه د خپلو شپږو مياشتو د دورې په اړه ليكلي كتاب كې د مذهبي چارو خلاف د تشدد ځينې هغه پېښې تاييد كړي چې د دې څېړنې ځواب وركوونكو يې يادونه كړې ده.[51] هغه ليكلي چې ساتونكو به د عبادت پر مهال په قېديانو ملنډې وهلې، د قېدكوټو د تالاشۍ پر مهال به يې قصداً په قران پښې ايښودلې، د دغه مقدس كتاب وقايې به يې ماتولې، او په پاڼو به يې ورته "انگليسي چټيات" ليكل.[52]

"يي" په ډېر ښه وضاحت سره د يوې خاصې پېښې ذكر كوي چې كله قېديانو ته معلومه شوه چې يو پلټونكي د پلټنې د مجلس پر مهال قران په ځمكه گوزار كړى او پښې يې پرې ايښې دي. د دې سپكاوي په خلاف د احتجاج په توگه قېديانو د ډله ييزې ځانوژنې يو منظم كوښښ وكړ چې چارواكي ورته حېران شول:

هر پنځلس دقیقې وروسته به یو قېدي خپله د بسترې پرده د خپل ورمېږ نه په تاوهلو او د پنجرې د دېوال د اوسپنو سره د تړلو په واسطه د ځان د زندۍ کولو کوښښ کاوه.... دې نه یوه عجیبه ګډوډي جوړه شوه. د بلاک قېدیانو به چیغې وهلې او د خپلې پنجرې دروازه به یې په لتو ډزوله او ساتونکو به د معالجینو د راغوښتلو لپاره ښکته او پورته منډې وهلې او کوښښ به یې کاوه چې کوم سړی د ځان وژلو هڅه کوي چې هغه په زنځیرونو کلک وتړي. چې ځنګه به دغه قېدي روغتون ته ورسول شو نو بل قېدي به په دغه حالت کې وموندل شو.... او ګډوډي به بیا له سره شوه.[53]

د دې څېړنې یو ځواب ورکوونکي په دې پېښه کې خپل رول داسې بیان کړ:

د مقدس قران د سپکاوي په نتیجه کې ما د ځان د وژلو پرېکړه وکړه. ما د خپل ورمېږ نه د ځان د زوړندولو کوښښ وکړ.... بیا زه روغتون ته یوړل شوم. کله چې یې رانه پوښتنه وکړه چې داسې مې ولې کړي، ورته مې ویل چې ما د پاک قران سپکاوی زغملای نه شو.... وروسته چې زه ډیلټا بلاک [د ذهني ناروغانو لپاره] ته یوړل شوم... نو خبر شوم چې اته ویشتو نورو کسانو هم زما په څېر د ځان وژلو کوښښ کړی دی.

د رسنیو د راپورونو نه جوړ شوی زموږ معلوماتغونډ هم په ګوانتانامو کې قران سره د زیاتي ذکر کوي. دغه

معلوماتغونډ د نومول شویو پخوانیو قېدیانو د لس فیصده نه زیاتو کسانو په حواله د مذهبي تهدید لکه سپکاوي او ډارولو په اړه راپورونه لري. یو پخواني قېدي د داسې ښځو اکونو یادونه وکړه چې شراب پکې ګډ شوي وو، حال دا چې شراب په اسلام کې حرام دي؛[54] یو بل ویل چې ساتونکو کوښښ وکړ د خنزیر د غوښې یو تود خوراك پرې وخوري.[55] په پای کې، هر څو که ګوانتانامو ته د داخلولو پر مهال په زور ویښته لیرې کول لازمي وو، د رسنیو معلوماتغونډ د پنځو پخوانیو قېدیانو داسې راپورونه لري چې وایي وروسته یې هم ویښته (ږیرې) تش د جزا په توګه لیرې کړای شوي وو، حال دا چې ږیره خرول د هغوی د مذهب خلاف وو.

د دې هر څه برعکس، دا مهمه ده چې د دریو برخو څخه زیاتو ځواب ورکوونکو ویل چې د دوی عقیدې او اسلامي عمل د قېد د حالاتو سره د مقابلې په لړ کې د دوی مرسته کړې. لکه یو تن چې ویل: "اسلام مونږ ته د صبر او عبادت په اړه ډېر څه راښيي. ته صبر کوه خدای به ستا خیال ساتي. نو زما عقیدې او عبادت زه وساتلم." نورو د مسلمانو ملګرو په ملګرتیا کې قوت موندہ. یو پخواني قېدي د ډېرو کسانو ژوندي پاتې کېدل د دې برکت وباله چې "قران سره زمونږ رابطه او هم د نورو قېدیانو سره همکاري او ملګرتیا وه."

### پیلټنې

هغو ټولو پخوانیو قېدیانو چې مونږ ورسره مرکې کړي ویل چې په ګوانتانامو کې ترې پلټنې شوې دي. ځینو

وویل چې هره ورځ یا په اونیو اونیو به هره اونۍ ترې پلټنې کېدلې، نورو بیا ویل چې هر وخت به ترې پوښتنې کېدلې خو د پوښتنو پروسه به بیا ودرېده او میاشتې به تېرې شوې مگر بیا به د پلټنو ځای ته ونه غوښتل شول.

په جنوري ۲۰۰۵ کې، د راپورونو له مخې پلټونکو د قېدیانو د درېمې برخې څخه فعالې پلټنې کولې.[56] زیاتو ځواب ورکوونکووویل چې د پلټونکو بېلابېلو ډلو – چې ځینې به په پوځي درېشیو او ځینې په ملکي جامو کې وو – د دوی څخه پوښتنې کړې. ځینې پلټنې د شپې شوې دي. د یو متقاعد پوځي افسر لیري سي. جېمز، چې د ۲۰۰۳ په پېل کې په گوانتانامو کې د پوځي اروپوه په توگه ټاکل شوی و، له مخې د شپې پلټنې د دې لپاره وې چې "د بندي سر وڅرخول شي، چې د ستړیا پر مهال بې توازنه کړای شي."[57] گڼ شمېر ځواب ورکوونکو وویل چې بېلابېلو پلټونکو به یو شان پوښتنې ترېنه کولې، دې دا تاثر ورکاوه چې د دوی ځوابونه نه وو ثبت شوي. د دغې ادې یو پخواني ترجمان وویل د پلټونکو څرخېدنه بې گټې وه، د پلټونکو هرې ډلې له اول سره پېل کاوه، او دا منظره یې رامخې ته کوله:

> هر [نوي پلټونکي] به خپل ځان داسې ښوده چې هغه د قېدیانو د قضیې مسوول دی، لکه "یواځې زه دې خوشې کولای شم یا دا چې زه به دې خیال ساتم او ریکارډ به دې بند کړم." بیا، یوه دوه میاشتې وروسته، به بل تن راغی او همدا خبره به یې وکړه. ما به ترجمه کوله او ناارامي به مې محسوسوله ځکه

چې تاسې پوهېږئ ما به احساس کاوه چې دروا غ وایم، هر څو که ما صرف د هغوی خبرې ژباړلې.

په ټاکل شوي سیستم کې د قېدي په اړه د ورکړل شویو امتیازاتو تر څنګ، د کمپ چارواکو به د ډول ډول تاکتیکونو څخه کار اخیسته چې قېدیان پلټونکو سره همکارۍ ته وهڅوي. یو تن د هغو لوحو ذکر وکړ چې په کمپ کې ځای په ځای لګول شوې وې او د زمانې په دوران کې یې د یو فامیل ژوند انځوراوه. د بېلګې په توګه، په یوه لوحه د یوې پېغلې انځلۍ د ژوند څرخ ښودل شوی و – په اولنۍ چوکټه کې هغه د یوې ماشومې انجلۍ په توګه ښودل شوې وه، په دویم کې د بالغې ښځې په توګه، او درېیم د هغې د واده ورځ ښودله. پاس یې پرې لیکلي وو: "پلاره، ته به کله کور ته راځې؟ [د کمپ پلټونکو سره] همکاري وکړه نو ما به ووینې. زه واده کېږم. ته به چېرته یې؟" ویل کېږي چې دې لوحو په هغو قېدیانو په زړه پورې اغېز کاوه چې بچي یې درلودل. یو تن وویل هغه د بچو پلاران ولیدل چې دې لوحو یې سترګو ته اوښکې راوستې: "ما هغه بندیان چې پلاران وو لیدل چې دا لوحې پرې اغېز کوي.... او [د کمپ چارواکو] د داسې لوحو سلسلې لرلې.... په هر یو به یا مور وه، یا لور، یا څوی."

ځینو ځواب ورکوونکو دې خبرې ته اشاره وکړه چې د کمپ پرسونل داسې معلومېده چې د پلټونکو د همکارانو په توګه کار کوي.[58] یو پخواني قېدي وویل چې د هغه د بلاک ساتونکو ورته د پښې د زخمي شوې ګوتې د علاج لپاره پټۍ ورکړې. د هغه پلټونکي چې پټۍ ولیدله نو وې پوښته چې

ایا د ډاکټر لیدل غواړي. پخواني قېدي وویل "نه، خېر دی، چې څه مې پکار وي ساتونکي یې راکوي." کله چې هغه خپلې قېدکوټې ته ستون شو نو ساتونکو ترېنه پټۍ بېرته واخیستلې او د نوې پټۍ د ورکولو څخه یې انکار وکړ.

څو تنو وویل چې دوی قصداً د خپل روغتیایي حالت په اړه معلومات د پلټونکو نه پټ ساتل ځکه ډارېدل چې پلټونکي به دغه معلومات د دوی خلاف استعمال کړي. د پلټنو او د کمپ د ادارې په اړه د جنرال میلر د جوړ شوي سوچ اتکاء د همدې معلوماتو په شریکولو وه. د هغه د راتګ څخه سمدستي وروسته، پوځي اروا پوه لیرې جېمز ولیدل چې پلټونکي به طبي کلینک ته تلل او د قېدیانو طبي ریکارډ ته د ازادانه لاسرسي غوښتنه به یې کوله:

> هغه څه چې ما معلوم کړل دا وو چې هره ورځ به ایف بي ايي، سي ايي ای، پوځ، بحریه، او قراردادي پلټونکي روغتون ته تلل او په سمدستي توګه به یې د قېدیانو د ریکارډ کتلو غوښتنه کوله. که کوم ډاکټر یا نرسې به تامل وکړ - او عادي خبره وه چې هغوی به د طبي معالجانو په توګه داسې کول - نو دا پلټونکي، چې ځینې به یې یواځې اتلس کلن یا شل کلن وو، به په خپله د روغتیایي ریکارډونو خونې ته ننوتل او هر څه به یې وکتل.

د پوځ د مېدان جنګ نصاب او د ژنیوا تړونونه دواړه پلټونکو سره د همکارۍ په خاطر د قېدیانو روغتیایي علاج ته د لاسرسي ممانعت کوي.[59] دوو بهرنیو قېدیانو وویل چې پلټونکو طبي اسانتیاو ته د دوی د لاسرسي سره دا شرط

ایښی و چې پوښتنو ته به د اطمینان وړ ځوابونه وایي. د دوی نه یو وویل "په کمپ ایکسری کې زما په غاښ درد و [او]... پلټونکو دا د یوې وسلې په توګه د استعمالولو کوښښ وکړ. هغوی وویل، "که ته راته دا وواېې، دا امضاء کړې، نو مونږ ستا مرسته کولای شو، مونږ درته د غاښونو ډاکټر راوستلای شو، یا ته کور ته هم تللای شې او هلته د غاښونو ډاکټر ته مراجعه کولای شې." ما تر هغې د غاښونو ډاکټر ونه لیدلو تر څو چې پنځه کاله وروسته خوشې شوم." یو څارنوال چې د دې څېړنې لپاره ورسره مرکه شوې راته بیان کړ چې څنګه د هغه د مؤکل طبي علاج په پلټنو کې د هغه د ځوابونو سره تړل شوی و: "یو زمونږ له مؤکلانو څخه دوه اندامونه نه لرل او مصنوعي اندامونه یې په سمه طریقه نه برابرېدل او هر وخت چې به هغه د دې غوښتنه وکړه نو ورته وبه ویل شول چې د پلټونکو له لارې یې ترلاسه کولای شي – هغوی طبي علاج د یو څه اعترافاتو سره مشروطولو."

## پلټنې او طبي او اروایي اخلاق

په دې وروستیو کلونو کې، د امریکا درېو سترو طبي او د اروایپوهنې سازمانونو داسې قراردادونه تصویب کړي چې پکې په پلټنو کې د طبي او د اروایپوهنې د پرسونل په ګډون بندېز لګول شوی یا په دې اړه پخواني بندېزونه بیا تایید شوي دي. یو پوځي اروایپوه متقاعد افسر لېري سي. جېمز، چې په جنوري ۲۰۰۳ کې ګوانتانامو ته لېږل شوی و، په خپل کتاب "جوړ شوی دوزخ" کې د یو بل پوځي اروایپوه سره چې پلټونکو سره په شریکه د کار کولو په

موخه د وضعیت د علم په اړه د ځانګړي یونټ بیهورل ساینس اېنډ کنسلټېشن ټیم (بي ایس سي ټي)[60] سره یې کار کاوه، د خپل لومړني ملاقات ذکر کوي: "[هغه] ما ته د یوې اشنا ښځې، د یو ملګري طبي کارکوونکي، او د هغه په ګومان د یو مشر په توګه ښه راغلاست ووایه. زه پوه شوم چې هغه خبرو کولو ته اړتیا لري... په لومړنیو دېرشو دقیقو کې... د هغه په سترګو کې خپګان راښکاره شو. هغه ما ته وویل چې هغه داسې محسوسوي چې د پلټنو د طریقو او تاکتیکونو د ښودلو لپاره وربانديې زیات فشار راوړل شوی او دا کار د یو ارواپوه په توګه د هغه د اصولو او د یو انسان په توګه د هغه د اخلاقي معیارونو لپاره یو چېلنج دی.... هغه د پلټنو یو شمېر سخت او غیر انساني تاکتیکونه لیدلي لکه جنسي سپکاوی، سخت حالتونه، قېدیان بربنډول، او د ډارولو لپاره یې د سپو نه کار اخیستل. هغه سره د واک قومانده نه وه، مانا هغه ته داسې احساس کېده چې په قانوني توګه چا ته د دې خبرې کولو حق نلري چې دا کار وکړه او دا مه کوه. هلته داسې د لارښودنې او د حوالو کتابونه نه وو چې هغه ورته مراجعه کړې وای، نه د کالج پخواني پروفېسران چې هغه ورسره مشوره کړې وای. دا ځوان افسر دې زړه بوږنوونکي حالت ته په داسې حال کې ورووړل شوی و چې نه یې ټرېننګ درلود، نه د پس منظر معلومات، نه پوځي منصب یا تجربه چې د پاټلۍ څخه د دې وتلي او مات شوي اورګاډي لپاره ضروري وو.[61]

هر څو که چېمز ظاهراً د هغه څه په اورېدو بېدار شو چې د هغه ملګري لیدلي وو، بیا هم هغه د ۲۰۰۳ د مئ تر

پېل پورې په ګوانتانامو کې د بي ايس سي ټي سره څو میاشتې کار کول غوره وګڼل.[62] ګڼ شمېر ارواپوهانو د بي ایس سي ټي په پروګرام او په هغو معالجینو چې په دې کې يې ګډون کړی باندې سختې نيوکې کړې دي.[63] د بي ايس سي ټي غړ کار دا و چې د کمپ د "ترجيحي" قېديانو تجربې راغونډې او پلټنې زیاتې ګټورې کړي. د بي ایس سي ټي پرسونل پلټونکو ته زده کول چې د قېديانو نه د معلوماتو د ترلاسه کولو لپاره په هغوی څنګه فشار راوړي، زور پرې وکړي او تشويق يې کړي. د بي ایس سي ټي پرسونل "د پلټونکو د استعمال لپاره [د قېدیانو] د ارواېي معلوماتو دوسيې چمتو کولې؛ دوی په ځينو پلټنو کې کېناستل او د ځينو نورو يې په يو طرفه ښيښو کې نګراني کوله، او په دې اړه به يې پلټونکو ته مشورې ورکولې."[64] د پوځ طبي پرسونل هم پلټونکو ته طبي معلومات په لاس ورکول.[65] د سرۀ صليب نړيوالې ادارې په يو رازدارانه راپور کې، د پلټنو د پلانونو په جوړولو کې د ډاکټرانو ګډون "د طبي اصولو ښکاره خلاف ورزي" بللې ده.[66] په ۲۰۰٦ کې، په ګوانتانامو کې په پلټنو کې د طبي کارکوونکو د اجباري ګډون د مشهورېدو په پایله کې، امریکن مېډيکل ایسوسي ایشن او امریکن سايکاټريک ایسوسي ایشن د پوځي ډاکټرانو او ارواپوهانو لپاره چې په پلټنو کې د ګډون غوښتنه ترې شوې وه لا زياتې لارښودنې وضع کړې.[67] په ۲۰۰۸ کې، د څو کلونو د سختو مباحثو څخه وروسته، د امریکن سايکالوجيکل ایسوسي ایشن غړيو په ګوانتانامو يا د بهرنيو هېوادونو په هغو "تورو ځايونو"

کې چې سي ايي اى چلول، قېديانو څخه په پلټنو کې د دې ادارې د غړيو د مشورو د ممانعت لپاره رايې ورکړې.[68]

يو بل ځواب ورکوونکي وويل چې پلټونکو ده ته وويل چې قېديان يواځې هغه وخت د خپل فاميل خطونه ترلاسه کولاى شي چې د پلټونکو سره همکاري وکړي: "هغوى د سړي خلاف خطونه استعمالول.... هغوى به ويل، "مونږ سره همکاري وکړئ او مونږ به درته [ستاسو خطونه] درکړو. څه چې درته معلوم وي مونږ ته يې ووايئ، خطونه به درکړو." هغوى چې څه غوښتل، تا نه شو ورکولاى ځکه چې هغه ستا کيسه نه وه. او بيا به هغوى بهر ولاړل. او بيا به بېرته راغلل او وبه يې ويل، "دا دې اخري چانس دى، اخري چانس."

## ظالمانه چلند

ځواب ورکوونکو په گوانتانامو کې د پلټنو د مجلسونو بېلابېل ډول چلند بيان کړ. د هغو ۵۵ ځواب ورکوونکو نه چې په زندان کې د پلټنو د ناستو په اړه يې خبرې وکړې، څلرويشتو وويل چې کومه ستونځه يې نه ده ليدلې. يو څو تنو وويل چې پلټونکي يې "ډېر ښه وو"، او يو وويل چې د هغه پلټونکې "يوه ډېره ښه او په زړه پورې ښځه وه.... هغې به ما ته شامپو، د غاښونو برش او د ويښتو لپاره تېل راکول." هغه په دې اړه نور تفصيل ورنکړ چې ايا دا شيان ورته پلټونکې سره د همکارۍ په نتيجه کې ورکول کېدل که نه. خو تر نيمو زياتو (۳۱ تنو) هغو چې په

ګوانتانامو کې د پلټنې ناستې يې بحث کړې، ورته تشدد وويلو.

### په زنځيرونو کلک تړل او سخت حالتونه

دولسو تنو پخوانيو قېديانو وويل چې دوی د يوې نه په زياتو مواقعو د پوښتنو پر مهال په دردناکه توګه تړل شوي او په سختو حالتونو کې ساتل شوي وو. د رسنيو په معلوماتغونډ کې تر پنځلس فيصده زياتو (۳۲ تنو) پېژندل شويو پخوانيو قېديانو ويلي چې دوی په ګوانتانامو کې په ساعتونو په دردناکو حالتونو کې ساتل شوي وو. د دفاع د محکمې سکرتر رمسفيلډ، چې ځکې يې يادونه شوې، د ۲م دسمبر ۲۰۰۲ په يادابښت کې په مشخصه توګه په زنځيرونو د تړلو او سختو حالتونو د استعمال منظوري ورکړې وه؛[69] دا يادابښت په ۱۵مه جنورۍ، ۲۰۰۳ کې منسوخ کړای شو.[70] په داسې حال کې چې زمونږ د دې خبرې زياتره ځوابوونکي په دغه وخت کې په ګوانتانامو کې وو، خو زمونږ معلومات وايي چې په لنډو زنځيرونو تړل او نور سخت حالتونه د دې نه ځکې او وروسته هم استعمال شوي دي، او دا خبره د رسنيو د راپورونو لخوا هم تاييدېږي[71] او د پوځي پلټنو په اړه د او ايي جي/ايف بي ايي د راپورونو نه هم تصديق شوې ده.[72]

يو شمېر ځواب ورکوونکو وويل د پلټونکو لخوا د دوی څخه پوښتنې شوي او بيا په کوټه کې يواځې د ساعتونو ساعتونو لپاره په يوه چوکۍ يا ځمکه باندې په داسې حال کې پرېښودل شوي دي چې لاسونه يې شاته او پښې يې په

ځمکه د یوې اوسپنیزې کړۍ سره په زنځیر تړل شوې وې. دوو ځواب ورکوونکو وویل دا ډول چلند ورسره وروسته له هغې وشو چې بیا بیا یې د پلټونکو لخوا په دوی د تروریستی تورونه رد کړل، پلټونکو دا خبره د دې ثبوت وبللو چې دوی "همکاري" نه کوي. یو پخواني قیدي وویل چې هغه یو ځل ټوله ورځ په کوټه کې په زنځیر تړلی پریښودل شوی و، او د هغه پلټونکی ساعت په ساعت ورښکاره کېده او پوښتنه به یې کوله چې "تراوسه اعتراف کولو ته تیار شوی یې که نه؟" د او ایي جي/ډي او جی د راپور له مخې: "د ایف بي ایي تر دېرشو زیاتو اجنټانو د انصاف د محکمې تحقیق کوونکو ته وویل چې په ګوانتانامو کې یې د قېدیانو د اوږد وخت لپاره په زنځیرونو تړل کېدل یا په سختو حالتونو کې ساتل کېدل یې لیدلي یا یې په دې اړه اورېدلي دي.... ګڼ شمېر اجنټانو د شپې پر مهال د قېدیانو په زنځیرونو د تړل کېدو یا په یخ ټمپریچر، تېزه موسیقۍ او بریښوونکې رڼا سره د ساتل کېدو کیسې بیان کړې."[73]

### چاپېریال بدلول

"چاپېریال بدلول" د اپرېل ۲۰۰۳ څخه تر سپتمبر ۲۰۰۶ پورې په ګوانتانامو کې د پلټنې یو منل شوی تخنیک و.[74] دې طریقه کار پلټونکو ته اجازه ورکوله چې د پلټنو پر مهال د کوټې ټمپریچر بدل کړي خو دا خبره یقیني کړي چې قېدیانو سره به هر وخت یو څوك ورسره وي څو ځانونه زخمي نه کړي.[75] په هغه فرمان کې چې د دې تخنیک اجازه پکې

ورکړای شوې وه، سکرتر رمسفيلډ ويلي چې "په پلټنو کې دې تل ارادتاً داسې اقدامات وشي چې... د يو قېدي جذباتي او جسماني کمزورۍ.... معلومې کړي.... [او] داسې وي چې د همکارۍ د ترلاسه کولو لپاره د قېدي د جذباتي او جسماني کمزوريو نه کار واخيستل شي."[76] په ګوانتانامو کې د ايف بي ايي يو شمېر اجنټانو ويلي چې "د نامعلومو پلټونکو لخوا قېديان ظاهراً د دې لپاره چې د همکارۍ په اړه د قېدي مقاومت مات کړي، هغوی په سخت ټمپرېچر کې ساتل کېدل."[77]

نولسو ځواب ورکوونکو وويل چې د اوږد وخت لپاره په يخ ټمپرېچر کې ساتل شوي دي؛ د پنځو نه علاوه نورو ټولو قېديانو وويل چې داسې ورسره په ګوانتانامو کې د پلټنو پر مهال شوي او داسې ښکاري چې په هغه ټوله دوره کې شوي چې دوی په دغه اډه کې بنديان وو.[78] ځينو وويل چې د پلټنې د يوې برخې په توګه د اوږد وخت لپاره ځانله په يخو کوټو کې په زنځيرونو کې تړلي پرېښودل شوي دي. يو تن وويل چې نهه ساعته ځانله په هغه کوټه کې په زنځيرونو تړل شوی و چې ايرکنډيشن پکې لګېدلی و. هغه وويل "ډېر زيات يخ و، ما ته د کيناراب د استعمالولو اجازه هم نه وه، او سخت زکام مې و." يو بل پخواني قېدي داسې وويل: "هغوی زمونږ نه تقريباً ډېرش دقيقې پلټنې وکړې او بيا يې دروازه کولپ کړه، لاړل، مونږ به عموماً هم هغلته په چوکۍ کې تر درېو ساعتو زيات پراته وو... موسيقي او ايرکنډېشن به لګېدلي وو څو کوټه يخه وي."

اتــو ځـواب ورکـوونـکـو چې پـه ځنو کـوټو کې یـواځې سـاتـل شوي وو دا د هغـو ټـولـو تـکـلـیـفـونـو نـه بـدتـر وښودده چې پـه ګـوانـتـانـامـو کې یې تېر کړي وو. یـو پـکې داسې وویـل:

"هر وخت چې بـه پـلټنې کېدلې نـو دا ډېره ګـرانـه وه چې ځانـلـه بـه یې پـه کـوټه کې ګـوزار کړې. هلـتـه بـه پـه سـاعـتونـو سـاعـتـونـو پـروت وې، پـه ځمکـه بـه پـه زنځیـرونـو تړل شوی او د خوځېدو تـوان بـه دې نـه لارۀ. د دې نـه هم بـدتـره دا چې تـه نـه پـوهېدلې چې څه کېږي. بـس دغلـتـه بـه پـروت وې، ایـرکـنډیـشن بـه لګېدلی و او تـه بـه پـه ځمکـه پـروت کـنـګـل کېدلې.... کـه د خوځېدو کـوښښ بـه دې کـاوه نـو زنځیـرونـه بـه دې پـه لاسونـو او پښو کې ننوتـل او درد یې کـاوه.... دغـه زمـا لـپـاره، پـه ذهني او جسمـانـي تـوګـه، تـر ټـولـو بـدتـر وخت و."

پـه دې شرایـطـو کې د ځانـلـه قېد تـکـلـیـف هغـه وخت لا پسې زیـاتېده چې د پـای پـتـه بـه یې نـه وه. یـو پـخـوانـي قېدي وویـل: "د ټـولـو نـه زیـات دردنـاک هر وخت دا اوږد انـتـظـار و چې څه بـه کېږي. مـونږ پـه یـخ کې وو، مـونږ زخمیـان وو، او بـس دې تـه مـو انـتـظـار ایـسـتـه چې څه بـه کېږي." یـو پـخـوانـي سـاتـونـکي چې قېدیـان بـه یې د یـواځې کـولـو کـوټو تـه وړل تـایـیـد کړه چې هلـتـه یـوه "کـوټه وه چې د ځینې وخت لـپـاره، مـا مـعـلـومـه کړې وه چې اکـثـر تـر لـسـو سـاعـتـونـو زیـات، بـه پـکې قېدیـان پـه زنځیـرونـو تړل کېدل. او لاسونـه او پښې بـه یې پـه زنځیـرونـو د ځمکې سره تړل شوې وې څو مـسـلـسـل پـه

داسې کوږ حالت کې وي چې په ځمکه نه شي کېناستلای. او کوټه به سمه یخه وه."

د شمیت-فرلو په راپور کې هم معلومه شوې چې د ۲۰۰۲ د جولای او ۲۰۰٤ د اکتوبر ترمنځ "څو ځله" بریښوونکې رڼا او/یا تېزه موسیقي د پلټنې د "تشویق او چټیتوب" د تخنیك په توگه د قېدیانو د چاپېریال د خرابولو لپاره استعمال شوې وه او د دې اجازه د پوځ په جنگي نصاب کې ورکړای شوې وه.[79] پر دې برسېره، د ایف بي ایي تقریباً پنځوسو اجنټانو چې په گوانتانامو کې یې کار کړی و د انصاف د محکمې محققینو ته وویل چې دوی "په قېدیانو باندې تېزې رڼاگانې، ځینې وخت د نورو سختو غېر قانوني تخنیکونو په ملگرتیا، د قېدیانو خلاف په استعمالېدو لیدلې او یا یې په اړه اورېدلي دي."[80] د ایف بي ایي یو اجنټ د انصاف د محکمې محققینو ته وویل چې:

گوانتانامو ته د هغه د ورتگ تقریباً په نیمه کې، هغه د پلټنې په یوه تیاره کوټه کې یو قېدي ولیدو چې په ښکاره د گونډو په حالت کې په ځمکه پورې تړل شوی و، سټروب لایټ یې مخ ته لگول شوی و او تېزه موسیقي په کوټه کې غږېدله. اجنټ د دغسې موسیقۍ په اړه وویل چې دا د "میټالیکا" په نامه د یوې ډلې د تېزې موسیقۍ په څېر درنده موسیقي وه او اواز یې دومره تېز و لکه په یو کنسرټ کې چې غږېږي. اجنټ وویل چې هغه او یو بل ملگري یې په دې اړه راپور ورکړ.[81]

ګڼ شمېر ځواب ورکوونکو وویل چې په زنځیرونو تړل شوي قېدیان په داسې حال کې په کوټه کې یواځې د نامعلومو ساعتونو پورې پرېښودل شوي چې سټروب لایټونه به یې مخ ته لګېدلي او کوټه به تېزې موسیقۍ خوځوله. یو پخواني قېدي دا تجربه په دې ډول بیان کړه:

څه وخت وروسته.... سړي نه د وخت لاره ورکه شي.... ځکه چې سړی په یوه وړه کوټه کې بند وي، د ګونډو په حالت کې تړل شوی وي، د تېزې موسیقۍ درزا وي او سټروب لایټونه مخ ته دومره تېز لګېدلي وي لکه په ثانیه کې د لسو ځلو پورې – نو دا سړی لېوني کوي. په پېل کې په سړي ډېر اغېز نه کوي. خو یو څه ساعت وروسته، لکه شل دقیقې یا لس دقیقې وروسته، په پنډیو، کوناټو، او اوږو کې، او بیا کرار کرار په پښو کې درد شروع کېږي او بې اثره کېږي. سړی کمزوری شي، او کنټرول له لاسه ورکړي. او کله چې سړی خوځېږي، [نو زنځیرونه] غوڅول شروع کوي.... او که سړی سترګې هم پټې کړي خو رڼا بیا هم ښکاري نو د سړي مازغه په خرابېدو شي... او چې کله کله پکې لتې او سوکان هم وي.

## جنسي سپکاوی

زمونږ د خېړنې درېو ځواب ورکوونکو وویل چې ښځینه پلټونکو یې د پلټنو پر مهال سپکاوی کړی دی، اسلامي ښودنو ته د دوی په هغه احترام پورې یې ملنډې وهلي چې د نامحرومو ښځو او سړو ترمنځ د لمس ممانعت کوي. یو تن وویل

چې هغه د داسې پېښې تفصيلات بحث کول نه غواړي. زياته يې کړه "هغوی د کوټې ټمپرېچر زياتولو، او همدغه مهال هغې ښځې زه وارخطا کولم." يو بل تن وويل چې د پلټنې پر مهال ترې سړي پلټونکي پوښتنه وکړه چې ايا زه د القاعده غړی يم. د هغه په وېنا هغه ورته وويل چې نه.

بيا يوه ښځه په ملکي جامو کې کوټې ته رانټوتله او [سړي پلټونکي] وويل، "سمه ده، مونږ دې د دې سره پرېږدو، کېدای شي دا دې ذهن بدل کړي." ما خپل سر ښکته کړ، زه نه پوهېدم چې څه روان دي، ما کوښښ کاوه چې هغې سره خبرې ونکړم، خو هغې جامې ايستل پېل کړل. او څرنګه چې هغې ما سره په انګليسي خبرې کولې، نو دې ډېر وخت واخيست. ما بيا هم ښکته کتل، او هغې ته مې نه کتل، ماته معلومه نه شوه چې هغه پوره بربنډه وه او که جانګی يې په غاړه و. خو هغې ما له لاسونه راوړل شروع کړل او څه ساعت وروسته، شاوخوا يو ساعت وروسته، يو ساتونکی دننه راغی او وې ويل، "سمه ده، داسې کار نه کېږي، بس دی." او ما د هغو کسانو خندا اورېدای شوه چې د يو طرفه ښيښې د بلې خوا نه يې دا هر څه ليدل. ما هغه خندا اورېدای شوه او دا يوه ډېره تحقيري تجربه وه.

د شميت-فرلو راپور ليکونکي تاييدوي چې د ښځينه پلټونکو لخوا دا ډول تحقيري تخنيکونه په ګوانتانامو کې د دې لپاره عملي کېدل چې "د مسلمانو سړو سره په اړيکه کې د خپل جنس نه ګټه پورته کړي"[82] خو زياتوي چې د دې

اجازه په پوځي تګلارو کې د "چټي توب" او "وړوکي او بې ضرره جسماني لمس" په توګه ورکړای شوې وه.[83] د او ايي جي/ډي او جی راپور ليکي چې د ايف بي ايي تر شلو زياتو اجنټانو ويلي چې "دوی ښځينه پلټونکې قيديانو سره په جنسي لمس يا وروړاندې کېدو ليدلي او يا يې په دې اړه اورېدلي دي."[84] د ايف بي ايي يو اجنټ وويل چې کله هغه په ګوانتانامو کې و نو "نورو اجنټانو ورته وويل چې د پوځ ښځينه پلټونکې يې قيديانو نه د خپلو پښو په تاوولو، د هغوی په غوږونو کې په پټو خبرو کولو او عموماً د قيديانو د بدن په پټو برخو باندې په تېري کولو ليدلې دي."[85]

ايا په زنځيرونو تړلو، سخت حالتونو، د چاپېريال غلط استعمال او جنسي سپکاوی څنګه چې پورته بيان شول ته "تشدد" يا "ظالمانه او غېر انساني تحقيري چلند" ويل کېدای شي؟

د دې پوښتنې په قانوني اړخ باندې ګڼ شمېر نړيوالو او سيمه ايزو قانوني اسنادو خبرې کړې دي. د "تشدد" پر ضد د ملګرو ملتونو د ۱۹۸٤ تړون د دې په تشريح کې وايي هر هغه عمل چې ارادتاً پکې "سخت درد يا تکليف ورسول شي، که هغه ذهني وي او که جسماني،" چې چارواکي پکې لاس لري يا د يو خاص مقصد لپاره ترسره شوی وي.[86] نور قانوني اسناد، په ګډون د ملکي او سياسي حقوقو په اړه د نړيوالې معاهدې[87] او د بشري حقوقو په اړه د اروپايي معاهدې،[88] په سختو تورو کې د ظالمانه او غېر انساني يا تحقيري چلند ممانعت کوي. نړيوال انساني قانون هم همداسې د

زیاتي (جسماني یا ذهني) او ظالمانه، تذلیلي یا تحقیري چلند، او همدارنګه د هر ډول تحقیري یا اخلاقي جبر ممانعت کوي.[89]

دلته مهم څه دي – هغه څه چې په بشپړه توګه پرې زور د بشري حقوقو نړیوالو اسنادو نه، بلکې د لوړ کچ په رسمیت پېژندل شویو روغتیایي مسلکیانو، چې د تشدد د بلهاریانو او زندان د قېدیانو علاج کوي، راوړی[90] – هغه اروایي نقصان دی چې نه یواځې د شخصي زیاتي له امله پېدا کېږي بلکې د وخت په تېرېدو د اجتماعي طبعې د ظاهراً لږو سختو اقداماتو لکه په زنځیرونو تړلو، سختو حالتونو، د چاپېریال د غلط استعمال، او جنسي سپکاوي څخه هم منځته راځي. د دې مطلب دا دی چې دا طریقې ظالمانه، تحقیري، او تذلیلي چلند جوړوي، او په ځینو حالتونو کې، د تشدد درجې ته هم رسېږي. همداسې لکه د پخواني یوګوسلاویا لپاره چې نړیوال جنایي عدالت په ۲۰۰۲ کې پرېکړه وکړه:

> [تشدد] ښایي په یو واحد اقدام کې وشي او یا د ډېرو اقداماتو په اجتماعي صورت کې، کوم چې په شخصي توګه او بې له سیاق و سباقه ښایي بې ضرره ښکاري.... د ناوړه چلند د وخت د اوږدوالي، د دې د تکرار او ډولونو او سختوالي اندازه باید په شریکه او یو ځای واخیستل شي.[91]

د سرهٔ صلیب د نړیوالې کمېټې هیرنان رییس لیکي، "د دې طریقو شریک (یا یو ځای) استعمال یواځې تیوري نه ده: د داسې "ګډو اغېزو" قانوني حېثیت په دې وروستیو کې د

ولس په خارنه کې راغلی دی.... په پای کې، سختوالی او [د دې شریکو عملونو] له امله پېدا شوی تکلیف به [د قېدي] قانوني حېثیت د موجودې بې یقینۍ سره خاخا ګډوډ کوي."[92]

## د بهرنیو حکومتونو پلټنه او تهدید

ګڼ شمېر ځواب ورکوونکو وویل چې د خپلو هېوادونو د استازیو لخوا دوی نه د پوښتنو پر مهال ورته بېرته هېواد ته د ستنېدو په صورت کې د قېد او/یا مرګ ګواښونه شوي دي. د دفاع سکرتر رمسفیلډ په پېل کې دې قېدخانې ته د بهرنیو حکومتونو د استازو د ورتګ خلاف و، خو بیا یې یواځې د هغو لیدنو سره اتفاق وکړ چې د "استخباراتي" (نه د مشورې) د مقصد لپاره وې.[93] یو پخواني قېدي وویل چې د هغه د هېواد یو چارواکي ورته وویل: "کله چې ته بېرته مونږ ته راوړل شې نو بیا پوهېږې چې مونږ درنه خبرې څنګه راوباسو." یو بل قېدي وویل چې هغه د حکومت د زورونو له امله خپل وطن پرېښی و خو بیا په افغانستان کې امریکایي قېدخانې او له هغه ځایه ګوانتانامو ته یوړل شو. بیا یوه ورځ په ګوانتانامو کې هغه د هغه د هېواد د یو حکومتي پلاوي مخې ته راوړل شو. هغه وویل چې د پلاوي یو غړي ورته ګواښ وکړ چې هغه او د هغه کورنۍ ته به نقصان ورسوي. د پلاوي یو غړي ورته وویل: "زه به دې په زور ونیسم... او ښه پوهېږې چې که بېرته راغلې نو تا او ستا د کورنۍ سره به څه وشي، پویې شوې که نه؟" دې تن ګومان کاوه چې سره

د خپلې کوږنۍ سره به ووژل شي نو د ځان د وژلو کوښښ يې وکړ. په سبا چې پلاوی روغتون ته د پوښتنو لپاره ورغی، نو هغه چیغې پیل کړې او د خپلې بسترې نه د بهر راوتلو کوښښ يې وکړ خو څنیوی يې وشو. دا پخوانی قیدي وروسته يو ځانګړي بلاک ته چې د ذهني ناروغانو لپاره دی يوړل شو، او هلته يې يو نیم کال تېر کړ.[94]

هغه قیدیان چې ګوانتانامو ته راوړل شول د بوش ادارې د هغو چارواکو د نیولو او پلټنو لپاره د نوي سیستم لاندې راتلل چې ادعا يې کوله دوی يې د القاعده او طالبانو پر جګړه کې نیولي دي. ادارې په داسې حال کې چې د ژنیوا د تړونونو سختې قاعدې يې ښکاره ماتولې، د ولس د نظر نه تقریباً په پټه دا قیدخانه جوړه کړه چې د جوړېدلو موخه يې د قیدیانو عزم ماتول او ګټور معلومات ترې رااېستل وو. دې نوي سیستم د اوسېدو شرایط سخت نه سخت کړل، د قیدیانو مذهبي احساسات يې که راونه پارول نو زیان خو يې ورورساوه، او قیدیان يې د پلټنو هغو "سختو" طریقو ته څامخ کړل چې نوې منظور شوې وې. په دې سیستم کې د اوسېدو اغېز ژور و. په دې پسې باب د قید د سیستم او د هغې د اغېز د څو نورو اړخونو جاج اخلي، په ګډون د دې چې سزاګانې څنګه ورکول کېدلې، د قیدیانو روغتیایي حالت، او د خوشې کېدو لپاره د هغوی هلې ځلې.

# څلورم باب: گوانتانامو: وتل نشته

په گوانتانامو ټاپو کې د متحده ايالاتو قېدخانه د بشپړه قېد يوه داسې اداره ده چې د جوړولو غټ هدف يې د پلټونکو او د هغوی د مشرانو اړتياوې پوره کول دي. د دې قېدخانې قواعدو او اصولو ساتونکو او پلټونکو ته د قېديانو د ژوند د تقريباً هر اړخ واک په لاس کې ورکړی دی. زيات شمېر د هغو پخوانيو قېديانو نه چې د دې څېړنې لپاره ورسره مرکې شوي په گوانتانامو کې د قېد تجربه خپلسرې او سپکوونکې وبلله، چې وخت په وخت به پکې ذهني او جسماني تکليف ورکول کېده. يو شمېر پکې د کمپ د پرسونل د بې انصافيو ځواب د مقاومت په اجتماعي او شخصي اقداماتو سره ورکړ، چې د امرونو د نه منلو څخه تر د نه خوړو د اعتصابونو او د ځانوژنې تر کوښښونو رسېدل. د کلونو کلونو قېد د قېديانو په جسماني او ذهني روغتيا بد اغېز کړی ځکه چې د علاج لپاره د دوی اتکاء صرف د کمپ په پرسونل وه. همداراز قېديانو د کومې محکماتي لارې پرته د خپلې بې گناهۍ د ثابتولو لپاره په کلونو مبارزه کوله. د دوی د خوښې کولو طريقه هم هغسې خپلسرې وه څنگه چې يې دغې جزيرې ته د وړلو وه.

## سزاوې

د هغو ٦٢ قېديانو څخه چې د دې څېړنې لپاره ورسره مرکې شوي نولسو ويل چې گوانتانامو کې د مختلفو خلاف ورزيو له امله سزاوې ورکړای شوې دي. دا يو غټ شمېر دی

ځکه چې د ټولو ځواب ورکوونکو نه د سزاو په اړه پوښتنې نه وې شوې. که د هر یو ځواب ورکوونکي نه په مشخصه توگه د سزاو په اړه پوښتنې شوې وای نو بیا به د داسې پېښو شمېر ډېر زیات و. د سزا زیات عام ډول د قېدیانو په وېنا د هغه څه نه بې برخې کول وو چې د کمپ پرسونل به ورته "اسانتیاوې" ویلې، او په ځانله قېد کې ساتل وو چې عموماً به د څو ورځو نه تر دېرشو ورځو پورې رسېدو، په داسې حال کې چې د قواعدو د خلاف ورزیو په صورت کې، او یا لدې امله چې "پوځي ضرورت پرله پسې قېد روا گڼي"،[1] د لا زیاتو ورځو د ځانله قېد اجازه هم ورکوله.

دوو ځواب ورکوونکو چې د ذهني روغتیا د مسلو علاج یې شوی وویل د هغه چلند له امله سزا ورکړای شوې وه چې هغوی پرې کنټرول نه درلود. یو پخواني قېدي وویل چې د شپې یې په ځان کنټرول نه لاره او چیغې به یې وهلې: "کله چې به زه غلی نه شوم نو هغوی به د سزا ځای ته بوتلم." د یو بل قېدي په وېنا ساتونکو د هغه په ذهني ناروغۍ باندې ملنډې وهلې: "ما یو مرض درلود چې خپل سر به مې د دېوال او دروازې نه واهه. عسکر به راغلل او ویل به یې چې زه لېونی یم او ملنډې به یې راباندې وهلې. نو لدې امله چې زه په ملنډو قهرېدلم، په هغوی به مې توکل یا به مې پرې اوبه وراچولې. هغوی به زه د شلو یا پنځه ویشتو ورځو لپاره په ځانله قېد کې واچولم. زما یو ځل دوه دا تجربه شوې ده."

يو ځواب ورکوونکي وويل چې د هغه د ځانله قيد کوټه "ډېره يخه وه، او يو اوسپنيز کټ پکې و. نور پکې هيڅ نه وو. نه صابون او نه بل څه. بس يو لغړ توغړ د قيد بلاک." يو بل وويل چې د هغه د ځانله قيد په کوټه کې يو څه "اسانتياوې" وې، لکه يو قران، خو کټ پکې نه و. هغه وويل چې کوټه يې يخه وه او په اوسپنيز فرش به اوده کېدۀ. هره شپه به د نيمې شپې په وخت يو عسکر د هغه قيدکوټې ته ورتلو او يوه وړه کمپله به يې ورکوله او بيا به سهار درې بجې راتلو او بېرته به يې ترې اخيستله.

د چلند ګڼ شمېر ډولونه داسې وو چې پايله يې د ګوانتانامو د ځانله قيد په کوټو کې د بند په صورت کې راوتله. په دې کې د اجتماعي احتجاجونو نه د مخالفت د شخصي اقدام پورې راتلل، لکه په ساتونکو باندې حمله او د حکمونو نه منل. يو ځواب ورکوونکي هغه کيسه بيان کړه چې څنګه هغه او د هغه ملګرو شريک احتجاج وکړ:

> نظامي پوليسو ستونځې پېدا کولې، د قران لټون به يې کاوه او [قيديان] به يې تکليفول، او [قيديان] به يې بهر ايستل.... او [قيديانو] به چيغې او سورې وهلې، او [قيدکوټو] ته به يې لتې ورکولې او مقاومت به يې کاوه. نو کله چې مونږ په دې اړه واورېدل، مونږ د هغوی مرسته کول غوښتل، نو مونږ هم چيغې جوړې کړې او قيدکوټو ته مو لتې ورکړې.

ساتونکو هغه کسان وپېژندل چې په دې گډوډۍ کې یې برخه اخیستې وه او بالاخر یې د ځانله قېد ځایونو ته بوتلل.

یو بل قېدي وویل چې د مستو جوړولو په وجه ځانله قېد ته اچول شوی و: "مونږ ته شوده راکړای شوي وو او ما سره یو لېمبو و نو ما لېمبو په شودو کې واچاوه. د دې نه ماسته جوړ شول او ما دې مستو سره روژه ماتوله. کله چې امریکایي عسکرو زما دا کار ولیده نو زه یې یوې تیاره کوټې ته بوتلم او هلته یې شل ورځې او شپې بند کړم." یو بل خپله کیسه بیان کړه چې څنگه وروسته له هغې ځانله قېد ته واچول شو چې یوه ورځ یې د ناهیلۍ او صبر کاسه ډکه شوه. هغه د هغو قېدیانو د ډلې نه و چې د خوشې کېدو لار یې صفا شوې وه او یوې خاصې ودانۍ ته انتقال شوي وو. هغوی په ورځو ورځو د خوشې کېدو امر ته انتظار ایسته. هغه وویل: "ستونځه دا وشوه چې ما کوم شیان غوښتل هغوی نه راکول. زما ملا او پوزه خوږېدل. نو ما د یوې طبي معاینې غوښتنه وکړه. خو هغوی زما لپاره ډاکټر نه راغوښته. زه دومره مایوسه شوم چې د [ساتونکو] نه مې د مسوول تن، د قوماندان، د راغوښتلو غوښتنه وکړه څو زه ورسره خبره وکړم. خو هغوی هغه ته هم نه ویل. نو بس ما تلویزیون ته لاس کړ، بهر [مېدان ته] مې راوویست، په ځمکه مې [وویشت] او مات مې کړ." د دې په نتیجه کې دې تن پنځلس ورځې په ځانله قېد کې تېرې کړې. یو بل ځواب ورکوونکي وویل هغه ته په دې وجه سزا ورکړای شوې وه چې په یوه ښځینه ساتونکې یې لاړې توکلې

وې ځکه چې هغې يو بل قېدي په زنځيرونو په داسې طريقه تړلو چې تکليفوونکې وه: "هغې زنځيرونه په زوره زوره راښکل او هغه چيغې وهلې. ما په هغې لاړې توکلې، د دې لپاره... چې هغه خوشې کړي." په ځواب کې هغې ساتونکې د بېړني غبرگون د ځواک (ايي ار ايف) ډله راوغوښته، چې دا قېدي يې ونيو او د ځانله قېد کوټې ته يې بوتلو.

## د بېړني غبرگون د ځواک ډله

د بېړني غبرگون د ځواک ډله پنځه يا زيات ساتونکي وي چې په شريکه "قېدکوټو نه د راايستلو د ډلې" په توگه کار کوي او "د هغو قېديانو په راايستلو کې مهارت لري چې جنگيالي يا مقاومت کوونکي وي" او يا داسې ښکاري چې وسلې ورسره وي.[2] په خوندي وسايلو سمبال او کلک ډالونه ورسره، د بېړني غبرگون ځواک اجازه لري چې د هغو قېديانو قېدکوټو ته ننوځي کوم چې "مقاومت" کوي او لاندې يې کړي. قېدخونې ته د دې ډلې له ننوتلو وړاندې يو ساتونکی د قېدي پوزې ته نژدې د مرچو د اوبو د ډول[3] يو سپری شيندي څو له هوښه يې وباسي. يو پخواني ساتونکي چې د دې خبرې لپاره ورسره مرکه شوې وويل چې دا سپری د مږو د هغې نه "لس ځلې زياته اغېزمنه" ده. هغه د بېړني غبرگون د ځواک د يوې روزنيزې غونډې يادونه وکړه چې پکې په هغه باندې د مږو د دارو په څېر دې شيانو سپری شوې وه: "دې [سپری] تر درې ورځو پورې زه په عذاب کې اچولی وم.... په دغه ټوله شپه ما چيغې

وهلې او بله ورځ هم په پوره عذاب کې وم." په داسې حال کې چې د بېړني ځواك استعمال د سزا لپاره نه دی،[4] خو يو شمېر ځواب ورکوونکو وويل چې د وړو وړو غلطيانو او مخالفتونو له امله يې په خلاف دغه ځواك راغوښتل شوی و. يو ځواب ورکوونکي هغه پېښه ياده کړه چې څنگه به ساتونکو د لمبا پر مهال د قېديانو د تهديدولو لپاره په هغوی باندې اوبه بندولې: "د لمبا په منځ کې چې مونږ به په ځان صابون وهلی و، [ساتونکو به] اوبه بندې کړې... هغوی به ويل، "که اوس را ونه وتې نو مونږ به د سخت غبرگون ځواك راوغواړو."" که قېديانو به انکار وکړ نو د بېړني ځواك يوه ډله به د دوی د نيولو لپاره ورغله، بيا به يې يوې بلې کوټې ته يوړل او د مخ ويښته به يې ورله وخريبل. د دې هر څه به فيلمونه جوړېدل. د دې نه وروسته به بنديان ځانله قېد کې اچول کېدل.

ځانله قېد يا يواځې بندول[5] – که د قېديانو د بې هوښه کولو، ماتولو او که د سزا ورکولو لپاره و – د کلونو په تېرېدو سره په گوانتانامو کې سختې اندېښنې راپېدا کړې. ايي سي ار سي په اکتوبر ۲۰۰۳ کې د گوانتانامو د چارواکو سره د ليدنې پر مهال، ويل کيږي چې د اوږد وخت لپاره د ځانله قېد په اړه د گوانتانامو امريکايي چارواکي د خپلو اندېښنو نه خبر کړل،[6] خو په اکتوبر ۲۰۰۸ کې هم دا عمل ليدل شوی دی. قېديان د دوی په وېنا په پنځم او شپږم لمبر کمپونو کې په داسې تشو کوټو کې د ځانله قېد په توگه ساتل شوي چې رڼاگانې پکې هيڅکله هم نه بندېدلې.[7] په ۲۰۰٦ کې د گوانتانامو د

قېديانو په حالت باندې د ملګرو ملتونو د ماهرانو د يو ټيم په راپور کې وويل شول چې "د دوی د قېد شرايط د دېرو په ذهني روغتيا باندې ژورې اغېزې کړې دي... دا شرايط [په ګډون د اوږد وخت د ځانله قېد] په ځينو حالتونو کې د سختې ذهني ناروغۍ، يواځې په ۲۰۰۳ کال کې تر ۳۵۰ زيات ځان ته د زيان رسولو پېښو، د ځانوژنې د انفرادي او اجتماعي کوښښونو او د پراخو، اوږدمهاله اعتصابونو سبب شوي دي.[8]

سټوارټ ګراسيان، د اروايي ناروغيو يو ډاکټر چې د قېد په سختو شرايطو کې د اروايي اغېزو د ارزيابۍ تجربه لري، په دې نتيجه رسېدلی چې ځانله قېد، په ځانګړې توګه چې تحرک او فعاليت پکې هم سخت محدود وي، "د ذهن فعاليت ته ژور ضرر رسوونکی اغېز" رسولای شي[9] او د لږ او زيات وخت لپاره د اروايي او جسماني نقصان سبب جوړېدلای شي. د طب او قانون پنځه اويا متخصصين چې په ۲۰۰۷ کې په استنبول کې راغونډ شوي وو په دې نتيجه ورسېدل چې ځانله قېد "سختې روغتيايي ستونځې راولړلای شي، پرته له مشخصو شرايطو، پرته د وخت او ځای، او پرته له مخکنيو موجودو شخصي ستونځو."[10] د ځانله قېد د روغتيايي اړخونو څېړنې وايي چې د دې په علامو کې ادراکي ناروغۍ او وارخطايي، سخته پرېشاني، عداوت، ګنګستيا، پوهېدلو کې مشکل، زيات حساسيت، داخلي پارېدنه، د خوب ورکېدل او جنون شامل دي.[11] "منفي روغتيايي اثرات د ځانله قېد په يو څو ورځو کې راتلای شي، او د روغتيا خطرې په داسې حالاتو کې د هرې ورځې په تېرېدو سره زياتېدای شي."[12]

د هغو اتلسو څارنوالانو نه چې د دې څېړنې لپاره ورسره مرکې شوي دولسو وويل چې د مؤکلانو ذهني حالت يې په ګوانتانامو کې د قېد له امله خراب شوی و. په دوی کې نهو په واضح ډول وويل چې د اوږد وخت لپاره ځانله ساتل او ځانله قېد د دوی د مؤکلانو ذهني حالت په خاصه توګه اغېزمن کړی و. يو څارنوال دا خبره داسې بيان کړه:

> تاسې پوهېږئ، غټه مسئله اوس دا ده چې.... دوی په دې لوی شپږم لمبر کمپ کې دي.... دوی دلته په عملي توګه يواځې کړای شوي دي. زما مطلب دا دی چې دوی د پنجرې په څېر دغو شيانو کې وو چېرته چې سړی د اوسپنې نه اخوا څو تنه ليدلای شي او خبرې ورسره کولای شي خو اوس په داسې کوټو کې دي چې په بشپړه توګه بندې دي او يوه وړه کړکۍ ده چې هغوی پکې نور خلک سم نشي ليدلای، او [يواځې] د دروازې لاندې يې اورېدلای شي.... دوی په حقيقت کې يواځې دي.

يو بل څارنوال يوه دردوونکې پېښه بيان کړه چې د هغه په ګومان د هغه د مؤکل د يواځې قېد او د دې احساس له امله راپېدا شوې وه چې هيڅکله به هم د ګوانتانامو نه خلاص نشي:

> "[زما مؤکل] د څه دپاسه يو کال راهيسې د پېر دېوال په يوه داسې قېدکوټه کې ساتل شوی و چې هغه ترې څه ليدلای نه شول، نورو قېديانو سره يې خبرې نه شوې کولای، او هلته به هغه د ورځې دوه ويشت يا څليرويشت ساعته و. هغه يو ټولنيز شخص و او دا ځانله قېد په هغه باندې يو ظلم و. په اصل کې، په

یو ملاقات کې چې هغه ما سره د دغه ډول ژوند په اړه خبرې وکړې نو په ناهیلۍ یې راته وکاته او وې ویل، "زه خپل ځان د لېوني کېدو نه څنګه ساتلای شم؟" بالاخر هغه پرېکړه وکړه چې داسې نه شي پاتې کېدای. نو د یو ملاقات پر مهال چې زه په نیمه کې ترې بهر لاړم هغه ځان وځړاوه او لاسونه یې مات کړل. زه یو څو دقیقې وروسته بېرته ورغلم او هغه مې ځړېدلی او بې هوښه ولید. مونږ د هغه په راښکته کولو وتوانېدلو، د هغه جراحي وشوه او ژوندی پاتې شو. دا د اکتوبر ۲۰۰۵ پېښه ده. لدې وروسته هغه څلور ځل بیا هم د ځان وژلو کوښښونه وکړل، او دا ټول د ځانله قېد له امله وو...لدې امله چې هغه ته ویل شوي وو چې ټول عمر به په ګوانتانامو کې همدغسې تېروي او د هغه په مزغو کې د هیلې کوم دلیل نه و پاتې شوی. د دې کال [۲۰۰۷] په جولای کې هغه خوشې شو او اوس [په کور] دی او ډېر ښه دی.

### د نه خوړو اعتصابونه او نور شریک اقدامات

د نه خوړو انفرادي او شریك اعتصابونه په ګوانتانامو کې د هغه وخت راهیسې د احتجاج یوه عامه بڼه وه چې قېدیان ورته د ۲۰۰۲ د پېل څخه رارسېدل شروع شو. د جنایي چارو کارپوه کیران مکوای، چې د شمالي ایرلېنډ په ریپبلیکن زندانیانو باندې یې کتاب لیکلی، لیکي چې د نه خوړو اعتصابونه ښايي د قېدیانو لپاره یوه عقلي لاره "په داسې حالاتو کې جوړه شي چېرته چې د

زندان دننه اقدامات هغومره سیاسي اهمیت ولري لکه د زندان نه بهر جګړه، او نورې لارې تنګې وي."[13] د ۱۹۷۰ په اواخرو کې ایرلېنډي قېدیانو د دوی د سیاسي قېدیانو د حېثیت د نشتوالي په وړاندې ګڼ شمېر احتجاجونه پېل کړل او خپل ځانونه یې د "مقاومت د آلو" په توګه استعمال کړل. زندانیانو د جامو اغوستلو او لمبا ځایونو ته د تللو نه انکار وکړ او خپلې کوټې یې د احتجاج په توګه د غولو او متیازو نه ډکې کړې.[14]

نیم د هغو کسانو نه چې د ګوانتانامو په اړه یې زمونږ په خبرنه کې ځوابونه ویلي د نه خوړو په اعتصابونو کې برخه اخیستې کوم چې د څو ورځو نه تر څوارلسو ورځو پورې وو. په دوی کې یو هم دا ونه ویل چې په زور ډوډۍ ورکړای شوې، خو داسې په ځانګړې توګه په ۲۰۰۵ کې د نه خوړو په غټو اعتصابونو کې شوي وو. تر سپتمبر ۲۰۰۵ پورې، په ګوانتانامو کې د نه خوړو د اعتصاب کوونکو شمېر تر ټولو زیات یانې ۱۳۱ تنو قېدیانو ته رسېدلی و چې مسلسل درېو ورځو پورې یې د خوراک کولو نه انکار کاوه. تر اپرېل ۲۰۰۸ پورې د نه خوړو د اعتصاب کوونکو قېدیانو شمېر تقریباً لس تنه و، په دې کې به اعتصاب کوونکو ته هره ورځ دوه ځل په پوزه کې د یو ټیوب د ورمنډلو له لارې خوراک ورکول کېده.[15] د هغو پخوانیو قېدیانو نه چې د دې خبرنې لپاره ورسره مرکې شوې دي یو هم د ۲۰۰۷ څخه وروسته په بند کې نه و.

د دې سروی ځواب ویونکو وویل د نه خوړو په اعتصابونو کې د شرکت غټ وجوهات د قران سپکاوی او د

قېدیانو په مذهبي اعمالو کې مداخله وه. ځینو قېدیانو لدې امله هم د نه خوړو اعتصاب کړی و چې د هغوی د شخصي قېد پر ضد احتجاج وکړي. یو وویل: "وجه تل همدا یوه وه چې: زه د دې ځای وړ نه یم." کله چې قېدیانو د نه خوړو یو اجتماعي اعتصاب تنظیمولو، نو بیا په ټولو باندې عمومي غږ کېده چې برخه پکې واخلي. یو شمېر پکې داسې غږونو ته پام نه کاوه. د هغو نه چې ویل یې د نه خوړو په اعتصابونو کې یې ګډون نه دی کړی ګڼ شمېر د دې نه انکار وکړ چې ګوندې دا په جسماني توګه ډېر مشکل کار و او یا یې د اجتماعي سزا نه ځان بچ کول غوښتل.

یو ځواب ویونکي د نه خوړو د یو اعتصاب کیسه وکړه چې سبب یې د یو ملګري قېدي وهل کېدل وو، یو ځوان هلك چې پلټنو ته د تللو لپاره یې د خپلې قېدکوټې نه د وتلو څخه انکار کاوه:

> هغه یو ځوان عرب زنداني و او ما سره د قېدکوټو په یو بلاك کې و. هغه اولس کلن یا اتلس کلن ښکارېده.... هغه [ساتونکي ته] وویل، "زه بې ګناه یم او نیول شوی یم. هغوی زه په غېر قانوني توګه نیولی یم نو ولې رانه دغسې پوښتنې کوي؟" له دغې وروسته شاوخوا لس پوځیان په وسله والو جامو کې راښکاره شول. هغوی د هغه قېدکوټې ته ننوتل او د هغه په وهلو یې پېل وکړ. او ما پخپله ولیدل چې... د هغه د کوټې نه وینه راووتله.... نو مونږ ولیدل چې هلك په سټرېچر اچول شوی و او په ملا کې تړل شوی و... هغه خوځېدی نه شو، هغه په زنځیرونو

او پړو تړل شوی و.... بیا هغه روغتون ته یوړل شو. او له دغې وروسته ګڼ شمېر قېدیانو د نه خوړو اعتصاب وکړ... ما په دغه اعتصاب کې ګډون ونه کړ خو ما هم هیڅ ونه خوړل ځکه چې زه خپه وم.... ما هغه [قېدي] بیا هیڅکله ونه لیدو، هیچا بیا ونه لیدو. خو هغوی به په لوډسپیکرو کې چیغې وهلې چې هغه ښه دی، خپله ډوډۍ وخورئ، هغه بهتر شوی دی. ټول قېدیان سخت غوصه وو هغوی دېوالونه په لتو ډزول او چیغې یې وهلې. او عسکر به د تالار په یوه غاړه کې ولاړ وو، د تالار منځ ته نه راتلل.

د نه خوړو د اعتصابونو نه علاوه قېدیانو په ګوانتانامو کې هغوی سره د کېدونکي چلند په وړاندې د احتجاج نور شریک اقدامونه هم کړي وو. وخت په وخت به قېدیانو د بلاکونو کثافات ګډول چې هغوی به "موربه" بلله او په ساتونکو به یې ورګوزارله. پوځي اروپوه لېري سي. جېمز چې په ۲۰۰۳ کې په دغه اډه کې د څو میاشتو لپاره ټاکل شوی و، وایي چې یو ماښام د قېدکوټو د بلاك په لور روان و چې وې لیدل قېدیان په ساتونکو باندې دغه مرداری ورګوزاري:

په دغه شپه، زه نه پوهېدم چې بغاوت په څه خبره پېل شو، خو ما ولیدل چې ساتونکي او نور کارکوونکي د ځانونو نه متیازې، غول او نور مرداری لیرې کوي.... وروسته نظامي پولیسو سره د خبرو نه راته معلومه شوه چې.... طریقه هماغه یو شان وه: شیان په یوه پیاله کې واچوه، او د تشناب کاغذ ورسره ولګوه چې

د وار کولو په وخت کې کلک وي، ښې ازادۍ تشې متیازې پکې وکړه، بیا دا مرداری په خپله قېدکوټه کې د لږ وخت لپاره پټ کړه چې خمیره شي. بیا یو داسې مناسب وخت ته انتظار وباسه چې ساتونکی بې پامه گرځي راگرځي او ناخاپه... يې د هغه سوري په واسطه چې ډوډۍ پکې درکول کېږي "په یو شغ" باندې.... ورووله.[16]

هغه وجوهات چې اجتماعي مقاومت يې راپاراوه، ډېر وو. یوه کیسه داسې ده:

زه به د پلټنې په ځای کې په یو ځل د اتو ساعتونو لپاره پرېښودل شوم، په زنځیرونو تړلی، موسیقي به غږېدله، او ایرکنډیشن به یخني شیندله. داسې په پرله پسې توگه درې میاشتې کېدل. دا [ډول چلند] به د احتجاج سبب کېده، دا به د نه خوړو اعتصاب نه، بلکې دا به د نه همکارۍ اعتصاب و. مطلب دا چې ټول بلاک... به د پلټنو د مجلسونو پر مهال خبرې نه کولې. بیا به هغوی .... سړی په زور پلټنو ته بوتلو. د سړي ږیره به يې ورخریيله، د سر ویښته به يې هم پاک کړل. او په کېمره به د دې فیلم جوړېده. نو په دې تناسب سره چې سړي سره څرنگه چلند کېږي، هغه ډول اعتصاب منځ ته راځي.

یو بل تن د هغه شریک اعتصاب کیسه وکړه چې قېدیانو پکې د لمبلو څخه انکار وکړ او وجه يې د ښځینه پوځیانو لخوا د قران لټون و. هر څو که قېدیانو ته د هغوی د اقداماتو سزا ورکړای شوه، خو اعتصاب کامیاب و:

بلې، هغوی ومنل، خو مونږ ته يې د اعتصاب سزا راکړه. هغوی په مونږ اوښکې بهيونکې گاز استعمال کړ. او زمونږ ډيرې يې وخريلې او په وړو قېدکوټو کې چې د پنجرو په څېر او ډېرې يخې وې، کې يې بند کړو؛ هلته زمونږ د سرونو دپاسه ايرکنډيشنونه وو. زمونږ اعتصاب لږ امله کامياب شو چې د شپېتو نه تر اويا پورې قېديانو د ځانونو وژلو کوښښ وکړ. هغوی غوښتل چې د خپلو جامو په واسطه د چت څخه ځانونه وځړوي، نو همدا وجه وه چې لوړپوړي افسر ومنله چې ښځې به نور د قران لټون نه کوي.

## روغتيا

د هغه وخت نه چې د ٢٠٠٢ په جنوری کې د لومړي ځل لپاره گوانتانامو ته قېديان راورسول شول، د روغتيايي علاج چې په گوانتانامو کې قېديانو ته ورکول کېده معيار او ښه والی ډول ډول و. گڼ شمېر ځواب ويونکو وويل چې طبي کارکوونکي به ژوند اخيستونکيو ناروغتياو ته ژر ورتلل او وې ويل چې نرسانو او ډاکټرانو سره يې اړيکې ښې وې. زمونږ د څېړنې اتلس تنو ځواب کوونکو وويل چې دوی د هغه طبي علاج څخه، چې په گوانتانامو کې ورکول کېده، مطمين وو. خو ځينو پخوانيو قېديانو وويل چې طبي کارکوونکي ناتجربه وو او قصداً به يې سم علاج ورته نه کاوه.
درويشتو ځواب ورکوونکو وويل چې علاج يې ځنډېدلی، بې اثره و او يا بېخي نه و ورکړای شوی. پنځو دا هم وويل چې دوی ته د طبي پرېکړو په اړه معلومات نه ورکول کېده

او طریقه کار یې نه و خوښ.[17] د ایف بي ایي ګڼ شمېر اجنټانو ویلي چې قېدیانو ورته د علاج د نشتوالي په اړه شکایتونه کړي وو.[18]

## *جسماني روغتیا*

د غاښونو ستونځې په خاصه توګه په ګوانتانامو کې عامې وې. یو ځواب ورکوونکي تور ولګاوه چې د ځښلو "مردارو او ککړو" اوبو د هغه غاښونه داسې خراب کړل چې وې ویستل. په داسې حال کې چې زیاتو پخوانیو قېدیانو ویل چې د غاښونو علاج یې کېده، یو شمېر نورو شکایت وکړ چې ورته ویل شوي وو چې د غاښونو د علاج اسانتیا نشته او یو ځینې لار یې ویستل دي، او یا به د غاښونو ډاکټر ته انتظار باسي، چې لدې امله ځینې وخت علاج ان تر یو کاله پورې ځنډېده. یو پخواني قېدي شکایت وکړ چې د علاج د ځنډتیا له امله هغه څو غاښونه له لاسه ورکړل.

یو شمېر پخوانیو قېدیانو وویل چې ځکیني طبي حالتونه (کوم چې د سختې پرېشانۍ د معدې تر مرضونو او ساه لنډي او د نظر تر خرابولې رسېدل) په ګوانتانامو کې یا خو بې علاجه پاتې وو یا یې خراب علاج کېده. یو پخواني قېدي د خپل یو پخواني مرض، چې د هغه رګونه یې متاثره کول، لپاره د علاج د غوښتنې د خپلو بې ګټې کوښښونو یادونه وکړه چې د بدبینه ساتونکو د مطمین کولو لپاره یې کړي وو. کله چې هغه بالاخر روغتون ته یوړل شو، نو د هغه خبره سمه وه او دوایانې ورکړای شوې چې د هغه د حالت په ښه کولو کې یې مرسته وکړه. ځینو ځواب ویونکو وویل چې

په کندهار او باګرام کې د ملا، ګونډو او پښو د زخمونو له امله له زوره لویدلي وو. یو پخواني قیدي وویل:

کله چې پوځیانو زه د باګرام د هوایي اډې د دویم پوړ نه ښکته وړلم نو زما سترګې کلکې تړل شوې وې. کله چې مونږ زینو ته راغلو نو پوځیانو زه پرېښودلم او ښکته پرېوتم او په ملا مې څه چل وشو. په ګوانتانامو کې هغه زما ایکسری وکړه او معلومه شوه چې د ملا په هډوکي کې مې خالي ګاه شوې ده. هغوی ما ته درد لیرې کوونکې دواګانې راکړې. هلته یو سپورتي ډاکټر و چې زه یې درې یا څلور وارې ورزش ته بوتلم، خو ښه نه شوم.

یو بل تن وویل چې ګوانتانامو ته د هغه په پښه کې د مرمۍ د یو زخم له امله په سټرېچر کې راوړل شوی و. په ځانله قېد کې له اتو ورځو وروسته چارواکو ته معلومه شوه چې زخم یې خراب شوی دی نو روغتون ته یې یوړلو چېرته چې د هغه د ژوندیو انساجو د مړینې (necrosis) عملیات وکړای شول او د دې وجه هغه ته په لومړي سر کې نه پاملرنه وه.[19]

ګڼ شمېر ځواب ورکوونکو په ګوانتانامو کې د علاج د ځنډ خبره وکړه. یو پخواني قیدي وویل چې خپل انساج یې غوڅ کړي وو او په خپله ښي پښه یې زور نه شو کولای. هغه د درد لیرې کوونکو دوایانو لپاره شل ورځې انتظار وویسته. ځینو وویل چې د جراحۍ او نورو تعرضي طریقو نه تېر شوي وو او د درد دوایانې ورته لیکل شوې وې خو بیا

ورته ساتونکو ویلي وو چې د هغوی نومونه د هغو کسانو په لیست کې نشته چې دوایانې ورکول کېدای شي.

### ذهني روغتیا

مجهول قېد قېدیان په ګوانتانامو کې په ذهني توګه سخت متاثره کول. د اتلسو هغو ځارنوالانو څخه چې د دې څېړنې لپاره ورسره مرکې شوي دولسو په ډاګه کړه چې د مؤکلانو دماغي حالت يې د قېد پر مهال خراب شوی و. ډېرو ځواب ورکوونکو وویل چې د هغوی د قېد ځینې ډېر بد وختونه هغه وو چې کله به بې له کومې وجې د نیول کېدو د بې انصافۍ شدید احساس پرې غالب شو او یا دا چې د خوشې کېدو وخت ورته نه معلومېده او یا دا سوچ چې خوشې به هم شي که نه. ډېر هغه قېدیان چې دماغي مرضونه يې لرل جلا کړای شوي او د ډیلټا کمپ په دماغي وارډ ډیلټا بلاک کې ساتل شوي وو. د یو ملکي محکماتي اروا پوه ډاکټر ډاریل مېتهوس، چې د دې قېدخانې له پرانیستل کېدو لږ وخت وروسته يې د دې جاج اخیستی و، له مخې په دغه یونټ کې د دماغي چارو یو کوچني پرسونل کار کاوه خو یو ته يې هم پراخ ټرېننګ نه و ورکړای شوی. هغه ته معلومه شوه چې معالجینو "ظاهري" علاج کاوه په کوم کې چې تشخیص او دوایانې ورکول شامل وو. یو پخواني ساتونکي چې په دې کمپ کې يې په ۲۰۰٤ کې کار کړی و، وویل چې د دماغي یونټ داخلي منظره ګډه وډه وه. هغه وویل: "ډیلټا بلاک ته ورتګ داسې و لکه یوې عامې پاګل خانې ته... ځینې

[قېديان] تقريباً لېوني شوي وو. ځينو به بس ځان سره ګډې وډې ويلې. ځينو به ټوله ورځ، هره ورځ چيغې وهلې."

هغه کسانو چې د دماغي روغتيا په يونټ کې ساتل شوي وو عموماً وويل چې هلته د خپلو مرضونو نه ښه شوي وو. يو ځواب ويونکي وويل چې داسې يو مرض ورته لګېدلی و چې هر وخت به يې خپل سر د دېوال نه واهه او په ساتونکو به يې لاړې تُوکلې. هغه د دماغي روغتيا يونټ ته يوړل شو او وې ويل چې هره ورځ علاج يې د حالت په ښه کېدو کې مرسته وکړه. يو بل وويل چې هغه په دغه يونټ کې پاتې کېدو ته ترجيح ورکوله ځکه چې د هغه تشخيص شوی و او هر څه يې چې کول سزا نه ورکول کېده.

دوو ځواب ورکوونکو وويل چې د دماغي روغتيا يونټ ته په غلطۍ کې وړل شوي وو. د دوی دواړو نه يو وويل چې زخمي پښې لپاره د طبي علاج د بيا بيا غوښتنې نه وروسته يو ساتونکي هغه لومړی دماغي وارډ ته ولېږلو. خو چې هلته يوړل شو نو هغه بيا بيا احتجاج وکړ چې "لېونی" نه دی او د علاج نه يې انکار وکړ. يو ورځ د بېړني ځواک ډله رابښکاره شوه، او يو ساتونکی د هغه کوټې ته ننوت چې د مرچو د سپری په واسطه يې لاندې کړي. هغه وويل، "هغوی دننه راغلل او زه يې ووهلم. زما په مخ وينه راغله. هغوی شپږ عسکر وو." يو معالج بالاخر د قېديانو په روغتون کې هغه وکوت او تاييد يې کړه چې د هغه پښه زخمي ده. په دې يونټ کې د ٤٥ ورځو له تېرولو وروسته هغه عمومي بنديخانې ته انتقال کړای شو.

مېتهوس د دې خېړنې لپاره په مرکه کې څو وجوهات وښودل، چې د هغه په وېنا، د قېد د جذباتي اغېز د کمولو لپاره يې د "دماغي ناروغۍ د مناسبو خدمتونو رسول کېدل ناشوني" کول. د هغه په وېنا اول دا چې په ګوانتانامو کې ژباړونکي ډېر لږ وو: د دومره زياتو خلکو د علاج لپاره ډېرې زياتې ژباړې ته اړتيا وه، ډېر زيات ژباړونکي پکار وو. هلته ډاکټران مجبور وو چې يواځې په هماغو ژباړونکو اتکاء وکړي چې نورو هم پرې کوله....

هغوی خپل ژباړونکي نه لرل نو لومړی کار چې يو اروا پوه د مريض د ليدو لپاره کاوه دا و چې د ژباړن لپاره به يې ټول ځای کاته او تليفونونه به يې کول او کله کله به يې ورځ دوه انتظار هم ورته ايسته." ګڼ شمېر ځواب ورکوونکو وويل چې د ژبې د خنډ له امله په ګوانتانامو کې هغوی د دماغي او جسماني علاج په ترلاسه کولو نه توانېدل او يا غلط تفاهم رامنځته کېده. يو خوشې شوي قېدي دا خپله خوش قسمتي وګڼله چې کومې نرسې د هغه د ټپونو علاج کاوه د هغه په مورنۍ ژبه پوهېدله: "که ما به د کومې طبي پاملرنې غوښتنه کوله نو يو چا به هغه خبرې ليکلې او بيا به د ډېرو لارو نه تېرېدلې - ځينې وخت به د ځواب په راتلو کې ورځې او اونۍ ولګېدلې.... خو، بالاخر، د دې نرسې په برکت زما ډېر ښه علاج وشو ځکه ما هغې سره نېغ په نېغه خبرې کولای شوې او هر څه چې مې په زړه کې وو ورته مې ويلای شول.... نو زه خوش قسمت ووم."

دویم، د مېتهوس او نورو سرچینو له مخې،[20] دا چې ډېرو قېدیانو په کمپ کې د دماغي روغتیا په مسلکیانو[21] اعتماد نه کاوه ځکه چې هغوی سره شریک کړای شوي معلومات پلټونکو ته ورکول کېدل. او په پای کې، مېتهوس وایي چې، "معالجین بېخي ناتجربه کاره وو،" په ځانګړې توګه د دې خاصو خلکو په علاج کې. هغه وویل، "دا په پوځ کې د دماغي ناروغیو په اړه د ټولو نه زیات ناتجربه کاره کسان وو چې هلته لېږل شوي وو."

ګوانتانامو ته تګ د اسلامي کولتور په خاصو اړخونو کې زما ځانګړې علاقه پېدا کړه او ما د هغې د مطالعه کولو کوښښ وکړ. هغه څه چې زه هلته لاړم او ومې لیدل دا وو چې په دغه ځای کې هېڅوک ترې خبر نه وو.... یقیناً، د روغتون مشر ترې نه و خبر. یقیناً، د دماغي روغتیا کارکوونکي ترې نه وو خبر. ساتونکي چې ما ورسره خبرې وکړې، یو هم د کولتوري مسئلو د هغو حساسیتونو نه خبر نه وو چې د هغوی [قېدیانو] د مرض او علاج کوم اړخ کېدای شو. نو راځئ چې زه درته یو غټ، ډېر غټ مثال درکړم. هغه دا دی چې د روایتي اسلامي کولتورونو دغه خلک د دې سوچ سره علاقه نلري چې د اروایي ناروغیو ښه علاج دوایانې دي، او هلته دوایانې یواځینی علاج و چې دوی ته ورکول کېده. نو په دې وجه ستونځه نه حل کېده. خامخا به... له دوایانو انکار کېده. خامخا به دوایانې کتل کېدې [بهانه به یې کوله چې

دوایانې خوري]. او خاځا به د دوایانو له خوړل کېدو وروسته هم خوشحالي نه وه.

### د چټي توب احساس

ډېرو پخوانیو قېدیانو چې مونږ ورسره مرکې کړي وویل داسې وختونه راغلي وو چې دوی فکر کاوه چې ټول عمر به یې په ګوانتانامو کې تېرېږي، او ځینو پلټونکو هم دوی ته دا سوچ ورکاوه. یو ځواب ورکوونکي وویل چې پلټونکو ورته ویلي وو چې، "د امریکا د محکمې له مخې، ته به ۹۵ کاله په زندان کې یې." یو بل پخواني قېدي خپل د چټي توب احساس په دې توګه بیان کړ:

زما په فکر د ټولو نه بدتره دا وه چې مونږ ته معلومات نه وو.... دا معلومات چې مونږ ولې هلته وو، او کله به کور ته ځو. او یا دا چې کله به مو محکمې ته بوځي. تاسې پوهېږئ چې کله به داسې کېږي؟... که هغوی داسې ځواب راکولای چې راروانه اونۍ تاسې محکمې ته ځئ، او تاسې ته یو قانونپوه نیول شوی او داسې نور، نو دې د سړي ذهن ته سکون ورکولای شو.

یوې څارنوالې تشریح کړه چې څنګه د کمپ د ژوند تنګ ماحول، بې یقینۍ او یواځې والي د هغه په مؤکل قېدي اغېز کړی و:

چې سړي به د خپل مؤکل نه پوښتنه وکړه چې هغه ټوله ورځ څه کوي.... نو هماغه یو شی و، سهار درې

نیمې یا څلور بجې لمانځه ته پاڅي، بیا اوده کیږي، ویښیږي، لمونځ کوي، په خپله قېدکوټه کې ښکته پورته ځي، دوی ټول درته وایي چې دا [کوټې] اته قدمه پراخې او اته قدمه اوږدې دي او بیا بس تشو دېوالونو ته ګوري. او په څو ورځو کې یو ځل دوی تفریح ته وړل کیږي او په شپږم لمبر کمپ کې یوې وړې پنجرې ته چې دوه پوړه ده او د سیمټو دېوال ترې تاو دی او دپاسه پرې جالۍ ده، او چې کله دوی نېغ بره ګوري نو لږ شان اسمان ویني او دې ته هغوی "د تفریح وخت" وایي. نو دوی لېوني کیږي، او بله غټه خبره دا ده چې ځینې پکې په دې اړه ډېر شعور لري. هغوی ته یاد دي چې مخکې څه وو، او په اوسني حالت باندې پوهېدو کې د مشکل سره مخ کیږي.... دا هغه کسان دي چې ټوله ورځ په یوه قېدکوټه کې د کېناستو په ځای به یو څه نا څه کول غواړي.

د میاشتو او کلونو په تېرېدو، د قېدیانو څارنوالانو په خپلو مؤکلانو کې د یواځې والي او بې وسۍ یو احساس ولیده. یو څارنوال چې د یو شمېر قېدیانو استازیتوب یې کړی، وویل:

د نور هر څه نه علاوه، د ټولو نه زیات دردناك د مؤکلانو سره خبرې کول وو. زه به چې هلته ورغلم نو وبه مې لیدل چې هغوی هیڅ هیله نه لرله. زما یو مؤکل وویل، "ګوره، ته زما مرسته نشې کولای. دا هسې د وخت خرابول دي. د امېد د بې ګټې خیالونو نه دا ښه ده چې په دې قېدکوټه کې پروت یم."

# ځانوژنې او د ځان وژلو کوښښونه

د امریکا د زندانونو د زیات امنیت د یونټو په زندانیانو کې د ځانوژنې په کچ شوې څېړنه وایي چې ځانله قېد، سخت شرایط، او د څه کار یا تحرك نشتوالی د قېدیانو د ذهني حالت د خرابولو غټ لاملونه دي.[22] د ګوانتانامو ځینو قېدیانو، چې د راتلونکي نه ناهیلي او مایوس وو، د قېد خنډونه یې مات کړل او د ځان وژلو کوښښونه یې وکړل. تر اکتوبر ۲۰۰۸ پورې، امریکایي چارواکو د درېو ځانوژنو تصدیق کړی چې ټول په جون ۲۰۰٦ کې واقع شوي. د بحریې د جنایي تحقیق اداری (این سي ایي ایس) محققینو د درېواړو قېدیانو په چېبونو او قېدکوټو کې د ځانوژنې خطونه پېدا کړل.[23] یوې څلورمې ناتصدیق شوې ځانوژنې ویل کېږي چې په مئ ۲۰۰۷ کې صورت نیولی، او یو بل قېدي په دسمبر ۲۰۰۷ کې مړ شو، ویل کېږي د داسې یو طبي حالت له لاسه مړ شوی چې علاج یې کېدای شو.[24] د دې مړینو په اړه یوه سخته تنازعه شته خو تراوسه پورې د دوی د علت د معلوملو لپاره کومه خپلواکه څېړنه نده شوې.[25]

شپږو قېدیانو چې مونږ ورسره مرکې کړي ومنله چې یو یا د یو ځل نه زیات یې د ځان وژلو کوښښ کړی و؛ ځینو نورو خپل ملګري قېدیان د ځانوژنې په کوښښ لیدلي دي. که په اسلام کې د ځان وژلو سخت ممانعت ته وکتل شي نو دا شمېر ډېر زیات دی – او په دې توګه د داسې کوښښونو شمېر ښایي تر هغې زیات وي چې معلوم شوی دی.[26] یو

پخواني ساتونكي وويل چې هغه په كمپ كې د هغه د لسو مياشتو د دورې پر مهال د ځانوژنې د دولسو هڅو نه خبر شوی و. د دفاع محكمه د ځانوژنې د كوښښونو راپور نه وركوي، بلكې دا په يوه بله غټه درجه كې شامليږي چې ورته د "ځان ته د زيان رسولو غلط چلند" نوم وركړای شوی دی. خو تر اگست ۲۰۰٦ پورې دا ډول تر ٤٦٠ زياتې پېښې شوې وې. تقريباً ۱۲۰ د ځان اعدامولو "اشارې" (د دې چلند يوه بله كنايه) يواځې په ۲۰۰۳ كې پېښې شوې وې.[27] د همدغه كال د اگست په مياشت كې د اتو ورځو په موده كې درويشت تنو قېديانو د ځان اعداملو كوښښ وكړ، چې د يو قېدي مازغو پكې په مستقيمه توگه كار پرېښود.[28] د ځانوژنې د كوښښونو په اړه د معلوماتو نشتوالی د دې د رواني ستونځو د پراختيا او سختۍ د اندازې په معلومولو كې مشكل پېدا كوي. خو د څېړنې معلومات وايي چې دا يوه غټه ستونځه ده او د بشپړ تحقيق حق لري.

لدې امله چې قېدخانې ښكاره وې، نو د ځانوژنې كوښښونه او د ساتونكو مداخله داسې واقعات وو چې ټولو ليدل.[29] گڼ شمېر ساتونكي او د كمپ چارواكي ادعا كوي چې د ځانوژنې كوښښونه د احتجاج د يو اوږد كمپاين برخه وه. د بېلگې په توگه د كمپ يو قوماندان هېري هاريس د جون ۲۰۰٦ درې ځانوژنې د ماهرو جنگياليو لخوا د "بې تناسبه جگړې" اقدامات وبلل.[30] خو، گڼ شمېر ځواب وركوونكو وويل چې كله به يو چا د ځانوژنې كوښښ كاوه نو نورو قېديانو به ساتونكي خبرول. يو وويل:

بلې، چې ته هلته ناست يې ...او ناڅاپه ته شور واورې. او ته سوچ کوې چې دا څه کيسه ده؟ او بيا ووينې چې يو سړى ځان ځړوي. او ته د هغه مخ وينې چې شين کيږي. نو ته خپلې کوټې ته لټې ورکول شروع کړې. او د بيړني ځواک کارکوونکو ته چيغې شروع کړې، او نظامي پوليسو ته، او چيغې وهې. او هغوى راځي، بچ کوي يې، يا هر څه چې کوي. دا ستا د ژوند کومه د ليدو وړ پېښه خو نه ده.

د ځانوژنې هڅې د کمپ د ساتونکو او قېديانو دواړو لپاره لويه خطره ده. يو ځل چې خبر ورته وشي نو ساتونکي بايد ژر ځان ورسوي، ځکه چې مرگ په دريو دقيقو کې واقع کيږي.[31] د يو پخواني ساتونکي له مخې چې د ځانوژنې په يوه هڅه کې يې مداخله کړې وه، ساتونکي له لومړى گاونډۍ قېدکوټې ته ننوتل وو، هغه قېدي په زنځير تړل وو، او بيا ورسره کوټې ته منډه کول او د قېدي د مرۍ نه سخته رسۍ لېرې کول وو. ساتونکي دا هر څه په دوو دقيقو کې کول. هغه وويل "زما مطلب دا دى چې ساتونکي له دا هر څه په ډېره تېزۍ سره کول وو ځکه چې د هغه نوکري په خطره کې کېدله. دا په دغه کمپ کې معلومه خبره وه چې که يو قېدي ستا د نوکرۍ په وخت کې مړ شو، نو ته به هم ورسره ځې. همداسې کېدل! ته دومره په مشکل کې گېرېږې چې څومره دې زړه غواړي."[32]

## د صحیح طریقه کار نشتوالی او مجهول قانوني حېثیت

په افغانستان کې د عملیاتو په لومړنیو میاشتو کې د امریکا پوځ په زرگونو داسې افغانان او بهرنیان ونیول چې ادعا یې کوله چې پوځیان یا تروریستان ندي بلکې په غلطۍ سره نیول شوي دي. که دا کسان له نیول کېدو سمدستي وروسته د خپلې بې گناهۍ په اړه کې امریکایي چارواکو ته د باور په ورکولو نه بریالي کېدل نو د دوی انجام گوانتانامو و او هلته نه یې په خوښه کېدو کې بیا کلونه لگېدل.

وختي لا په سپتمبر ۲۰۰۲ کې، لوړپوړي حکومتي چارواکي د پوځي او استخباراتي کړیو دننه په دې اړه د اندېښنو نه خبر وو چې کوم او څومره قېدیان د القاعده خطرناك جنگیالي وو. د سي ای اي یو مشر تجزیه نگار چې د منځني ختیځ ډېرې تجربې لري د ۲۰۰۲ په دوبي کې د دغه مرکز د بندیانو په اړه معلومات وکړل او په یو ډېر پټ راپور کې یې ولیکل چې د دوی تقریباً دریمه برخه – یانې هغه مهال د شپږو سوو بندیانو څخه دوه سوو – د تروریزم سره هیڅ اړیکې نلرلې.[33] هغه وویل چې ډېر د دوی نه "د راښکلو په جال کې نیول شوي وو. دوی جنگیالي نه وو، دوی جهاد نه کاوه. دوی دغلته نه وو پکار."[34] د گوانتانامو قوماندان، برید جنرال ډونلاوي، د هغه سره اتفاق وکړ او وروسته یې اندازه ولگوله چې په کمپ کې

ساتل شوي نيم خلك بې گناه وو.[35] د ايف بي ايي د ترهگرئ ضد يو ماهر تر دې هم وړاندې لاړ او د ملي امنيت د شورئ کمېټې ته يې وويل چې يواځې شاوخوا پنځوس بنديان داسې دي چې په گوانتامو کې د ساتلو وړ دي.[36] يو شمېر پخوانيو قېديانو وويل چې د هغوئ پلټونکو ورته اعتراف کړئ و چې په دې نه پوهېږي چې دوئ ولې نيول شوي دي. يو ځواب ورکوونکي وويل "کله چې ما د خپل پلټونکي نه پوښتنه وکړه چې زه ولې په گوانتانامو کې قېد کړائ شوئ يم، هغه وويل چې هغه هم زما د دوسيې له کتلو وروسته په دې خبره حېران دئ." خو دا تن بيا هم هلته قېد و.

بې شکه چې پوځ د قېديانو په خوشې کولو کې په ځو وجوهاتو له احتياطه کار اخيسته. اول دا چې د ۲۰۰۲ د مئ په سر کې د سي ايي په يو راپور باندې د خبرو پر مهال د بوش د اداري سخت دريځو، خاصکر د ولسمشر د مرستيال قانوني مشاور ډاويډ اډينگټن، د قېديانو د حېثيت د معلومولو وړانديز رد کړ. د اډينگټن دليل دا و چې داسې کول به د ولسمشر د مطلق واک د کمولو برابر وي. دويم دا چې پوځ د دې نه ډارېده چې هسې نه خطرناک قېديان خوشې کړي. او بل دا چې د گوانتانامو لوړپوړي قوماندانان، په گډون د ډونلاوي او د هغه ځائ ناستي جنرال ميلر، فکر کاوه چې قېديانو سره اوس هم داسې معلومات شته چې ښکاره کړي يې نه دي، نو د ښو پايلو د لاس ته راوړلو لپاره يې د پلټنو د نويو او نورو سختو تاکتيکونو څخه کار واخيست.[37]

لدې امله، د عملیاتو په لومړنیو کلونو کې، قېدیانو تقریباً هیڅ واسطه نلرله چې امریکایي چارواکو ته باور ورکړي چې دوی په غلطۍ نیول شوي او "د بدو نه بد خلک" نه دي. د سرهٔ صلیب نړیوالې کمېټې په ګوانتانامو کې د قېد بندیانو څخه لیدنې کولې، خو هغوی هیڅ واک نه درلود، بې لدې چې قېدیانو سره د چلند د بدلولو لپاره زباني او لیکلې غوښتنې وکړي، او د هغوی د خوشې کولو لپاره نوره هیڅ لاره نه وه. ځینو پخوانیو قېدیانو وویل چې د ایي سي ار سي "بې وسۍ" ته یې د شک په نظر کاته او فکر یې کاوه چې هغوی هم د پلټونکو سره په ملګرتیا کار کوي. دا شک ښایي د دې حقیقت له امله په یقین بدلېده چې پوځ به، د او ایي جي/ډي او جی د راپور له مخې، "سرهٔ صلیب سره له لیدلو سمدستي مخکې او وروسته [قېدیان] ځانله قېد ته اچول."[38] د نورو دا خیال و چې ایي سي ار سي بس هیڅ اغېز نه درلود؛ یو ځواب ورکوونکی دې اداري ته په اشارې کولو سره وویل چې دا نور هیڅ ندي خو بس "ښه ډاک رسوونکي" دي.

او نه قېدیانو د خوشې کېدو لپاره په خپلو وطني حکومتونو باندې اتکاء کولای شوه. تقریباً ټولو ځواب ورکوونکو وویل چې په کمپ کې د خپل قېد پر مهال، زیاتره په لومړنیو اونیو کې، یې د خپلو وطني حکومتونو د استازو سره لیدلي وو. ځینو پکې محسوس کړې وه چې د هغوی وطني حکومتونو د هغوی د بې ګناهۍ د دعوو سره څه علاقه مندي نه لرله او نه یې د هغوی د خوشې کولو لپاره څه فشار راوړ.

يو پخواني قېدي د خپل وطن د استخباراتو د يو افسر سره له ليدلو وروسته خپل احساس داسې بيان کړ:

> هغه ما ته وويل چې ما ورته هر څه ويلي ټول دروغ دي، او دا چې زما نور ټول عمر به په ګوانتانامو کې تېرېږي. او دغه وخت په ګوانتانامو کې زما ايله اته څلوېښت ساعته شوي وو.... د امريکايي چارواکو نه داسې خبرې اورېدل بله خبره وه. زمونږ بيا هم څه نا څه هيله وه. خو د خپل حکومت نه دا خبرې اورېدل، سره د دې چې هيڅ غلطي مو نه وه کړې، دا نو ډېره ګرانه وه.

دا د جون ۲۰۰٤ خبره ده، د کمپ ايکسرى د پرانيستل کېدو نه تر دوو کالو زيات وروسته، چې د امريکې سترې محکمې د *رسول په مقابله د بوش* قضيه کې پرېکړه وکړه چې د ګوانتانامو قېديان د خپل قېد د قانوني بنسټ په اړه د امريکا محکمو ته د لاسرسي حق لري. د ايينې حقوقو مرکز، چې *رسول* يې د نورو ډېرو قانونپوهانو سره راوستى و، په سمدستي توګه په لسګونو قېديانو د کورنيو د پېدا کولو لپاره کار پېل کړ. د پرېکړې څخه وروسته په لومړۍ اونۍ کې، د ايينې حقوقو مرکز د ګڼ شمېر قېديانو لخوا د بې ځايه بند عريضې ورکړې او د لسګونو قانوني ادارو او قانوني کتنځيو انتظام يې وکړ، چې غړيو يې داوطلبانه ورېيا مرسته وکړه.

د *رسول* د قضيې په ځواب کې، امريکايي پوځ په مرکزي محکمو کې د قېديانو د ساعتونو په ځاى، د جنګيالي د حېثيت د معلوملو (سي ايس ار ټي) په نامه په پوځ کې

یو داخلي سیستم جوړ کړ څو د هر قېدي معلومات وګوري او اندازه ولګوي چې ایا هغه "دښمن جنګیالی" دی که نه.[39] د دې عدالتونو طریقه کار قېدیانو لپاره د خپلې درجه بندۍ یوا ځینۍ قانوني لاره شوه. تر جنوري ۲۰۰۵ پورې پوځ د ۵۵۸ قېدیانو دوسیې وڅېړلې او د ۳۸ نه علاوه یې نور ټول د دښمن جنګیالیو په توګه په قېد کې وساتل. په رسمي توګه امریکایي پوځ دا ۳۸ تنه "بې ګناه" یا ګناه ګار ونه بلل بلکې په دوی کې یې هر یو ته د "نور دښمن جنګیالی ندی" نوم ورکړ او په دې توګه یې د خوشې کېدو حقدار وبلل.[40] د پوځ د اداري کتنې اداري (ای ار بي) کال په کال د هر قېدي دوسیې بیا کتلې څو وګوري چې هغه باید لدې امله قېدي وي چې "امریکا او د هغې اتحادیانو ته خطره لري" او که "د ارزښت وړ استخباراتي معلومات ورسره شته." دې ادارې سپارښتنه کولای شوه چې یو قېدي دې باید بند وي او که نه د امریکا د بند نه دې انتقال شي.[41]

ګڼ شمېر پخوانیو قېدیانو وویل چې امریکایي چارواکو ورته هیڅکله دا وضاحت نه و کړی چې په ګوانتانامو کې ولې بندیان کړای شوي دي. او نه ځینو ته دا معلومه وه چې ایا د جنګیالي د حېثیت معلومولو عدالت به یې کله قضیه واوري. نور د یو "وکیل" چې د دوی د مفادو استازیتوب به کوي (د کوم چې اجازه نه وه) او د "شخصي استازي" چې پوځ ورته د جنګیالي د حېثیت د معلومولو د عدالت لپاره ورکاوه، ترمنځ په توپیر نه پوهېدل. ډېرو ځواب ورکوونکو د هغه "وکیل" یادونه وکړه چې، د دوی په

یاد، عموماً به یې د دوی نه پوښتنه کوله چې په عدالت کې به په خپله خبره کوي که غواړي چې استازی یې دوسیه وړاندې کړي. د ډېرو په نظر کې د حېثیت د معلوملو دا طریقه مجهوله وه. دا عام احساس د یو پخواني قېدي د دې څرګندونو نه معلومېږي چې ویل یې د دغو عدالتونو په اړه ورته په لومړي ځل هغه وخت معلومه شوه چې ساتونکو د قاضیانو د یوې ډلې مخې ته راوړ. کمو قېدیانو ته د هغو تورونو تفصیل یاد و چې په دوی لګېدلي وو. یو وویل "هلته د کاغذ یوه پاڼه وه چې ټول تورونه پرې لیکل شوي وو... د القاعده سره تړاو، د طالبانو سره تړاو. هغه [کاغذ] ما سره و، خو یو ځل یې د تالاشۍ پر مهال رانه واخیست، نو اوس ما ته دقیق یاد نه دي چې نور پکې څه وو."

یو پخواني قېدي د خپلو دوو ساعتونو لنډیز داسې بیان کړ: "په لومړۍ موقع هغوی ما ته یو خط راکړ او راته وې ویل چې ته د امریکایانو دښمن یې او په دویم ځل یې یو کاغذ راکړ او راته وې ویل چې ته ازاد یې." نور پخواني قېدیان داسې محسوسوي چې د خپلې قضیې د وړاندې کولو او یا د ځانونو د دفاع لپاره موقع نه وه ورکړای شوې ځکه چې تورونه مبهم وو. ډېرو پخوانیو قېدیانو وویل چې دوی ته د دوی د غوښتنې باوجود د دوی خلاف ثبوتونه نه وو ښودل شوي. یو ځواب ورکوونکي وویل هغه پوهېده چې په خلاف یې دوه ډوله تورونه دي، یو دا چې د طالبانو سره اړیکې لري، او بل تور "پټ و." هغه زیاته کړه، "کله چې به ما د هغوی نه د خپل پټ جرم په

اړه پوښتنه وکړه نو هغوی به ما ته ځواب نه راکاوه او عموماً به يې ويل چې دا محفوظ او پټ دی. دا يو راز و." يو پخواني قيدي، چې د نورو ځواب ورکوونکو د احساساتو ازانګې پکې وې، دا کيسه داسې بيان کړه:

> دا يو ساده عدالت و او ما ته وويل شول چې ته طالب او تروروست يې – خو دغو نومونو زما لپاره نورې مانې لرلې. ما ورته وويل: "زما دلته درې کاله وشول، نو زما جرم څه دی؟ که زه ګناهګار يم نو ثبوت راته وښايئ او که زه تروروست يم، يا زه د طالبانو د بغاوت سره اړيکې لرم، نو ثبوت راکړئ... وضاحت راته وکړئ." خو هغوی وضاحت ونکړای شو.

په جون ۲۰۰۸ کې سترې محکمې د *بومېډيان په مقابله د بوش*[42] د قضيې پرېکړه وکړه او ښکاره يې کړه چې د ګوانتانامو قيديان په مرکزي محکمو کې د خپل قيد د قانونيت د چېلنج کولو او د بې ځايه قيد د عريضو د ورکولو ايني حق لري. د *رسول* د قضيې نه وروسته د نورو قانوني چېلنجونو له امله د قيديانو کوم ساعت نه و شوی. د *بومېډيان* په پرېکړه کې محکمې امر وکړ چې د جنګيالي د حېثيت د معلوملو د عدالتونو د پرېکړې په اړه د کانګريس لخوا د جوړې شوې قضايي محکمې کتنه نقص او د قيديانو د ساعت لپاره "ناکافي صلاحيت" لري.[43] محکمې په ځانګړې توګه هغو محدوديتونو ته اشاره وکړه چې د قيدي په دې توان باندې ايښودل شوي دي چې د حکومت د تورونو

د رد کولو لپاره گواهان راوغواړي يا ثبوتونه وړاندې کړي.[44]

بالعموم، قېديانو په دې يقين نه لارۀ چې دوى ته د خپلو ساعتونو پر مهال د شاهدانو د رابللو موقع وه، او نورو چې د دې [شاهدانو د راغوښتلو] کوښښ کړى و نو رد شوى و. يو وويل، "مونږ ته د کوم گواه د ښودلو اجازه نه وه." يو بل تن د دوو شاهدانو درخواست کړى و کوم چې د هغه په وېنا تايېدولاى شي چې هغه د القاعده يا طالبانو سره اړيکې نلري، خو دا درخواست يې رد شوى و. نتيجتاً هغه بل ساعت ته د ورتللو نه انکار وکړ. وروسته د اى ار بي بورډ د هغه د خوشې کولو سپارښتنه وکړه.

د دې پوښتنې په ځواب کې چې په گوانتانامو کې د دوى په بقا کې څه شي ورسره مرسته کړې، ډېرو ځواب ورکوونکو وويل لدې امله چې بې گناه وو نو يقين يې لارۀ چې بالاخر به خوشې شي. دا عام احساس يو پخواني قېدي داسې څرگند کړ: "ما هيڅ جرم نه و کړى. زه پوهېدم چې بې گناه يم، او زه پوهېدم چې يوه ورځ به خوشې کېږم."

## خوشې کېدل

گوانتانامو د جنوري ۲۰۰۲ راهيسې په افغانستان کې د جگړې تر ۷۷۰ زيات قېديان ساتلي دي. د دوى نه تر ٦٥ فيصدو زيات خوشې شوي دي. د هغو کسانو چې مونږ ورسره مرکې کړي په دې کمپ کې د قېد اوسط وخت درې کاله و، د ټولو نه کم پنځه مياشتې او د ټولو نه زيات شپږ کاله

و. تقریباً ۲۵۵ قېدیان پکې پاتې دي، چې ځینې پکې تر شپږو کالو زیات وخت نه پراته دي.[45]

د ځواب ورکوونکو غټ شمېر وویل دا خبر د دوی لپاره د ډېرې حېرانتیا وړ و چې ډېر ژر به د ګوانتانامو نه خوشې شي. د یو قېدي د خوشې کېدو د خبر د راتلو څو سرچینې وې، په ګډون د همدردو ساتونکو، پوځي افسرانو، او پلټونکو. خو ډېرو به د دې خبرونو په حقیقت شک کاوه. یو تن وویل: "دا زما لپاره ډېره ګرانه وه چې په یو امریکایي باور وکړم. نو کله چې هغوی ما ته [د خوشې کېدو] خبر راکړ، ما پرې یقین نه کاوه."

قېدیان د خوشې کولو لپاره د چمتو کولو هم یو شمېر طریقې وې. لومړی د دوی بشپړه طبي معاینه کېدله او د نویو جامو جوړې ورکول کېدې، چې په هغې کې یو واسکټ او یوه جوړه لېوي پتلونونه شامل وو. ډېرو ځواب ورکوونکو بالاخره په خوشې کېدو او کور ته د تللو په احساس د بې حده خوشحالۍ یادونه وکړه. خو څو تنو خپګان او ملامتي احساس کړه ځکه چې ملګري یې لا په قېد کې وو. یو پخواني قېدي دا خبره داسې وکړه:

یو خوا زه ډېر خوشحال وم ځکه چې کور ته روان وم. بل خوا ته ډېر خپه وم چې دغه ځوان قېدیان په ګوانتانامو کې پاتې کېږي.... ځینې عربان وو چې د هیڅ یوې ډلې سره یې تړاو نه و، هغوی بس... اسلامي مبلغین وو.... او یو بل سړی و چې تل به یې ویل، "ای خدایه، زه مور لرم، ښځه او ځوی لرم، او د کوڅې، بازار نه یې نیولی یم." ما یو بل قېدي هم

پېژندل چې د جلال اباد و. هغه يو قصاب و چې غواګانې به يې اخيستې او خرڅولې، او هغه د غلطو معلوماتو پر بنسټ نيول شوی و. ...نو زه خوشحال وم چې خوشې کېدم خو د هغو لپاره چې شاته پاتې کېدل ډېر خپه وم.

د روانېدو څخه يوه ورځ مخکې، قېديانو ته د امريکا د دفاع د محکمې لخوا يو خط ورکول کېده او ورته ويل کېده چې د خوشې کېدو لپاره بايد په دې امضاء وکړي. په خط کې راغلي وو، "لدې امله چې امريکا او اتحاديان يې د نړيوالې تروريستي شبکې القاعده او د هغې د ملاتړو طالبانو سره په يوه وسله واله جګړه کې ښکېل دي؛ او... [دا فرد] د دغې جګړې پر مهال د دښمن جنګيالي په توګه نيول شوی و" نو دا فرد د د ده د خوشې کولو لپاره د يو شمېر شرطونو سره اتفاق کوي چې په هغې کې دا شامل دي چې دا قېدي به د القاعده [او يا د هغې د ملاتړو طالبانو] ملګرتيا نه کوي او نه به د متحده اياالتو او د هغې د اتباعو او اتحاديانو پر ضد څه اقدام کوي. که خوشې شوي قېدي د دې شرطونو خلاف ورزي وکړه نو هغه متفق دی چې "بيا به نيول کېږي."

ګڼ شمېر ځواب ورکوونکو وويل چې دغه خط يې امضاء کړی دی ځکه چې بله لار يې نه ليدله. يو پخواني قېدي وويل، "زه د دغه ځای نه د ځان ايستلو لپاره د هر څه امضاء کولو ته تيار وم. هغوی ما ته وويل چې دا به امضاء کوې ګڼې نه شې تللای. نو بالکل، ما امضاء وکړه."

خو ځينو نورو د امضاء كولو نه انكار وكړ، ځكه ويل يې د دې مطلب به دا وي چې د گناه اعتراف كوي:

ما هغه خط نه شو لوستلای. نو ما ژباړن ته وويل چې كه راته يې واوروي. كله چې ما خط واورېد، نو ما فكر وكړ چې په دې كې داسې څه وو چې گوندې زه د القاعده يا طالبانو سره اړيكې لرم او داسې ذكر پكې و چې زه تروريست وم. او پكې ويل شوي وو چې كه ما په مستقبل كې دا او دا جرم، غلطي، يا گناه وكړه، نو بيا به مې نيسي او بندوي به مې. چې دا خبرې مې واورېدلې، نو ما د امضاء كولو نه انكار وكړ.... ما هغوی ته وويل چې ما هيڅ تروورستي فعاليتونه ندي كړي، او ما د القاعده د كوم تروريست غړي هيڅ مرسته نه ده كړې.... ما د دغه خط امضاء كول نه غوښتل، ځكه چې كه امضاء مې كړې وای، نو زه گناهگار وم. هغوی ما ته وويل چې كه امضاء مې ونكړه نو ما به افغانستان ته بېرته ونه لېږي او ټول عمر به مې قېد كړي.... نو ما ورته وويل چې زه به وليكم چې زه په هيڅ ډول تروورستي فعاليتونو كې ككړ نه وم او دا چې ما د القاعده او طالبانو سره هيڅ ډول اړيكې نه لرلې. لدې وروسته ما امضاء وكړه او هغوی زه خوشې كړم.

خو ځينو نورو دا هم وويل چې د امضاء نه يې قطعاً انكار وكړ او بيا هم خوشې شول.

زياتو ځواب وركوونكو وويل گوانتانامو يې په همغه لاره پرېښوده په كومه چې ورته راغلي وو - د امريكا په

ترانسپورتي الوتکو کې. ځینو وطني حکومتونو اډې ته الوتکې ورولېږلې چې قېدیان وطن ته ورسوي. په داسې حال کې چې ځینې قېدیان الوتکو ته په زنځیرونو کې تړلي او په سرونو خلتې تړلې خېژول شوي وو، ځینې نور د دې نه بغېر لېږل شوي وو. یو ځواب ورکوونکي خپل د هغه وخت احساس بیان کړ چې امریکایي عسکرو یې زنځیرونه ورخلاص کړل او د هغې الوتکې په لور روان شو چې د هغه وطني حکومت کور ته د وړلو لپاره ورته رالېږلې وه:

> ما فکر، "انتظار کوه، زه په زنځیرونو نه یم تړلی. دا غلطه ده. زه باید په زنځیرونو کې وای.... دا غلطه ده چې دوی یې له ما سره کوي." [بیا زما د وطن پولیس والا راته] وویل، "نېغ روان شه، شا ته مه گوره." ما غوښتل چې ځواب ورکړم، ما غوښتل چې یو څه وکړم، چې خپلې گوتې په امریکایانو کې ورکړم. خو زه بس نېغ د الوتکې په لور روان شوم. کله چې زه په خپل سیټ کېناستم، هغوی راته وویل، "کله چې ته پاڅېدل غواړې نو مونږ ته ووایه، او ته پاڅېدلای او په دې ځای کې گرځېدلای شې." خو زه اوس هم نه پوهېدم. پکار ده چې په ما باندې زنځیرونه وای؟ ځکه دا نورمال وه چې په زنځیرونو کې تړلی وای، خو بیا هغوی لاړل، او هر څه ختم شو.

یو پخواني قېدي ته له ډېر انتظار وروسته روانېده ټوکه ښکاره شوه:

> مونږ ټول په داسې بسونو کې خېژول شوي وو چې ښيښې یې توري کړای شوې وې او هوايي مېدان ته

یوړل شو. په دغو موټرو کې هر یو د پنځوسو کسانو ځای لاره، او ټول ډک وو، خو په قیدیانو نه. نور ټول کسان عسکر وو. او یو ځل بیا هغه اوږده پروسه وه: زما قید په دې اوږده پروسه پیل شوی، او اختتام یې هم په دې اوږده پروسه کیده.... زه بیا په هغه تش په نامه "درې بره جامو" کې ووم، خو دا ځل خلته او سترګی نه وې. یو کولپ و، غټ پېر کولپ، په زنځیرونو باندې، تاسې پوهیږئ چې بس د ضرورت له مخې، لګېدلی و، ما کوښښ وکړ چې د ازادئ په لور منډه وکړم.

# پنځم باب: واپسي: د ګوانتانامو ورثه

تر اکتوبر ۲۰۰۸ پورې، متحده ایالاتو شاوخوا ۵۲۰ قیدیان د ګوانتانامو ټاپو د قیدخانې نه د دیرشو هېوادونو د حکومتونو په واک کې ورکړي وو.[1] زمونږ د دې څېړنې ګڼ شمېر ځواب ویونکو وویل چې ګوانتانامو نه د خوشې کېدو په خبر بېحده خوشحاله شول. د هغوی په ذهن کې وه چې د ګوانتانامو نه "خوشې کېدل" د دوی د بې ګناهۍ د دعوو ثبوت او خپل ژوند ته بېرته د ورتګ موقع وه. د متحده ایالاتو لخوا په دې قیدیانو کې په یو باندې هم تورونه ثابت شوي نه وو. هغه وخت دوی داسې پوه شوي وو چې د امریکا پالیسي "خوشې کول" نه بلکې د نورو دولتونو بند ته د دوی "انتقال" و. ګڼ شمېر پخوانیو قیدیانو ته په راتلونکو اونیو او میاشتو کې معلومېده چې د "ګوانتانامو" باب د هغوی په ژوند کې په بشپړه توګه بند شوی نه دی: بس په یوه بله ځمکه "په ګوانتانامو پسې پړاو" ته داخل شو.

د وخت په تېرېدو سره د امریکا حکومت بهرنیو دولتونو سره د قیدیانو د انتقال د شرایطو په اړه خبرې وکړې. د ګوانتانامو د قیدیانو د خوشې کولو په لړ کې د امریکا د ټولو نه غټه غوښتنه د دې خبرې یقیني کول وو چې قیدي به "په متحده ایالاتو او اتحادیانو یې د نورو بریدونو خطره نه زیاتوي."[2] په ځینو دوسیو کې دا پرېکړې چې یو قیدي "نور خطره نه دی" یا "نور استخباراتي ارزښت نلري" د حیثیت د معلومولو په کلیزو کتنو کې وشوې.[3]

خو، یو امریکایي چارواکي چې د دې راپور لپاره ورسره مرکه شوې، وویل چې حکومت د حېثیت د معلومولو د کلیزو کتنو د نتایجو د پروا نه بغېر د قېدیانو د انتقال په اړه خبرې کوي او ښایي د قېدیانو انتقال د دې پروا نه بغېر صورت نیولی وي چې د حېثیت د کتنو اداري یې د "بې گناهۍ" یا خوشې کولو په اړه څه ویلي که نه.[4]

د امریکا حکومت د مذاکراتو د برخې په توگه د قېدیانو د ترلاسه کوونکو حکومت نه ضمانت اخلي چې داسې "تدابیر به جوړوي چې دا خبره یقیني کړي چې قېدي به نوره خطره نه پېدا کوي."[5] په دې تدابیرو کې اکثر نور قېد یا محاکمه کېدل شامل وي، خو امریکا دا پرېکړې هیڅکله نه ښکاره کوي.[6] په دې توگه قېدیان گوانتانامو نه د وتلو پر مهال د خپل برخلیک څخه خبر نه وي. کېدای شي چې دوی په سمدستي توگه خوشې شي، "قېد کړای شي او یا پرې نور بندېزونه ولگول شي"،[7] او یا د خپل وطن د قانون له مخې محاکمه شي. یو امریکایي چارواکي دا هم وویل چې یو قېدي چې د کتنې د اداري لخوا بې گناه گڼل شوی وي، کېدای شي چې د دفاع محکمه یې د کافي امنیتي ضمانت د نه ترلاسه کېدو په صورت کې بیا هم قېد وساتي. پر دې برسېره، هغه قېدیان چې د خوشې کېدو پرېکړه یې شوې کېدای شي په هغه صورت کې په قېد کې پاتې شي چې د امریکا حکومت پوه شي چې په خپل اصلي وطن کې د تشدد یا محاکمې سره مخ کېدونکي دي او د امریکا حکومت د هغوی د استوگنې لپاره د کوم درېم حکومت سره په معاهده لا ندی توانېدلای. تر اکتوبر ۲۰۰۸ پورې، امریکا تر شپېتو زیات داسې قېدیان

بند ساتلي چې پخپله مني چې خپل یا کوم دریم هېواد ته د انتقال یا خوشې کولو حقدار دي.[8]

## قېد او محاکمه

تر ۵۰۰ زیاتو هغو قېدیانو نه چې متحده ایالاتو د ګوانتانامو څخه د خپلو وطني حکومتونو په لاس ورکړي دي، ګڼ شمېر پکې د "نور قېد، پلټنې او/یا محاکمې" په برخلیك اخته شوي.[9] امریکا وایي چې دا د قېدیانو د ترلاسه کوونکو هېوادونو نه "دیپلوماتي باور" غواړي چې قېدیانو سره به انساني چلند کوي.[10] په داسې حال کې چې ګوانتانامو نه د قېدیانو له خوشې کېدو وروسته په خپلو وطنونو کې د هغوی د حالت او پروسې په اړه کوم رسمي او جامع معلومات نشته، د بشري حقوقو ادارو خپلو وطنونو کې په دغو قېدیانو باندې د تشدد د پېښو، د خپلسري او اوږدمهاله قېد او محکمې، او د غېر عادي جنایي محاکمې راپورونه ورکړي دي.

زمونږ مثال چې کوم دی، نو لس ځواب ورکوونکي خپلو وطنونو ته د رسېدو سره سم نیول شوي او د مختلفو وختونو لپاره په بند کې ساتل شوي چې د درېو میاشتو نه تر دوو کلونو رسېږي. ځینې په امنیتي زندانونو کې د کورني ترهګری ضد قانون له مخې ونیول شول او وروسته خوشې شول. نور بې له کومې محاکمې خوشې کړای شول. یو قېدي چې ګوانتانامو نه له خلاصېدو وروسته په خپل وطن کې یو نیم کال قېد و، وویل: "دا داسې وه لکه د یو ډارووونکي خوب

نه چې بل ته لاړ شي." خو بیا هم هغه د دغه قېد پر مهال د حکومت لخوا د ورکړای شویو مشورو منندوی و، او وې ویل چې دغه قېد ورته په خپل وطن کې بېرته د ځان ځای کولو لپاره وخت ورکړ. هغه وایي چې د هغه د خپل وطن د زندان اروا پوهان هغسې نه وو لکه چې په ګوانتانامو کې وو. د دوی ترمنځ یو معالجوي تړون جوړ شو چې هغه ته یې ګټه ورکړه: "زما په نظر دا ښه وه چې زه بېرته له راستنېدو وروسته زندان ته لاړم ځکه د څه نه چې زه په ګوانتانامو کې تېر شوی وم نو کېدای شي چې په بهرنۍ نړۍ کې مې سمدستي ځان نه وای ځای کړای."

یو څو ځواب ورکوونکو وویل چې وطن کې د قېد پر مهال ورسره زیاتی شوی دی. یو پکې وویل چې په زندان کې د داخلي امنیتي کسانو لخوا وهل شوی او داسې دوایانې په زور ورکړای شوې وې چې بد بد وهمونه به ورته کېدل او لیدل به یې چې "د ځمکې د لاندې نه ماران راوځي." هغه بې له کوم ثبوته نیول شوی و او دا تور پرې لګول شوی و چې د امریکایانو لپاره یې جاسوسي کړې ده. یو بل ځواب ورکوونکی د ابتدایي پلټنو پر مهال وهل شوی او د چارواکو لخوا ترې غوښتنه شوې چې د یوې تروریستي شبکې د غړیتوب لرلو اعتراف وکړي. هغه اته میاشتې وروسته بې له کومې محاکمې خوشې کړای شو.

د پخوانیو قېدیانو خپلو وطنونو ته له ستنېدو وروسته په هغوی باندې د تشدد په اړه ګڼ شمېر راپورونه ورکړای شوي دي.[11] د بېلګې په توګه، هیومن رایټس واچ د روس[12] او تونس د حکومتونو لخوا په پخوانیو قېدیانو باندې د

تشدد دستاویزات جوړ کړي دي. د تونس په قضیه کې، محکمې د ګوانتانامو له تر لږه لس قېدیان غایبانه په سزاو محکوم کړي وو.[13] په جون ۲۰۰۷ کې، د هغوی نه چې محکوم شوي وو دوه تنه د امریکا د قېدخانې څخه د تونس زندان ته انتقال کړای شول. د یو نه دوه ورځې پلټنې شوې وې، د کومو پر مهال چې چارواکو د هغه د ښځې او لورګانو سره د زنا کولو ګواښ ورته کړی و، او پخپله هغه یې بې خوبه کړی و؛[14] دوهم ته د هغه په وېنا د ابتدایي پلټنو پر مهال د تشدد ګواښ شوی و. د هیومن رایټس واچ له مخې، دواړو کسانو ورتلونکو پېوازانو ته وویل چې په دغه نوې قېدخانه کې شرایط دومره خراب دي چې هغوی بېرته ګوانتانامو ته تلو ته ترجیح ورکوي.[15]

د ۲۰۰٦ او ۲۰۰۷ په اواخرو کې، د امریکا حکومت دوه قېدیان وروسته له هغې د لیبیا حکومت ته وسپارل چې وایي دا باور یې ترلاسه کړ چې انساني چلند به ورسره کېږي. دواړه کسان تر یو کال زیات وخت وشو چې په زندان کې دي، او هیڅ تورونه پرې معلوم ندي او قانونپوهانو او د بشري حقوقو د ادارو استازو ته هم لاسرسی نلري.[16]

ګڼ شمېر پخوانیو قېدیانو چې د دې څېړنې لپاره ورسره مرکې شوې دي او خپلو وطنونو ته له رسېدو سره سم په رسمي توګه تورن شوي یا د څو میاشتو لپاره په قېد کې ساتل شوي وو، وویل چې کله یې پرېښودل نو بیا یې هم تر نظارت لاندې ساتلي وو. د ځینو نه پاسپورټونه په قبضه کې اخیستل شوي وو؛ نورو باندې په وطن دننه د سفر په

اړه او یا هر وخت چاروا کو ته د راپور ورکولو سخت شرایط وو.

## له رسېدو سره سم خوشې کېدل

د دفاع د محکمې له مخې، زیاتره د ګوانتانامو د هغو قېدیانو نه چې د خپلو هېوادونو قېد ته سپارل شوي وو، وروسته ژر خوشې شوي وو.[17] دا زمونږ د تحقیقاتو سره سمې خوري. د دې څېړنې د اکثریت ځواب ویونکي، یانې د ٦٢ نه ٤٥ تنه، خپلو حکومتونو ته له سپارل کېدو وروسته په دوه اویا ساعتونو کې دننه خوشې شوي وو. یو شمېر پکې، د بېلګې په توګه، په لومړي سر کې د ترهګرۍ ضد د داخلي قانون سره سم نیول شوي وو، خو له پوښتنو ګرویږنو وروسته ژر کورونو ته لېږل شوي وو.

## بېرته ابادېدل او د ټولنې لخوا قبلېدل

د یو تن نه علاوه، نه هغه قېدیان چې مونږ ته یې ځوابونه راکړي،[18] او نه هغه چې تراوسه پورې د ګوانتانامو نه خوشې شوي دي، د امریکا د حکومت لخوا نه محکوم شوي او نه ورته سزاوې ورکړای شوې دي. او نه یې د خپلې بې ګناهۍ کوم رسمي سند ترلاسه کړی دی. د امریکا حکومت د دې په وېنا ویلي چې د قېدیانو د خوشې کولو پرېکړه دا منل نه دي چې دوی بې ګناه دي او هیڅ غلطي یې نه ده کړې او یا امریکایي ځواکونو د دوی په نیولو او بیا ګوانتانامو کې په قېد کولو غلطي کړې ده. لدې

املـه چې د دوی نـه کـوم ډول رسمي بـخښـنـه نـه ده غـوښـتـل شوې، نـو د ځیـنـو ټولـنـو خلك چې پـخـوانـي قېديـان ورتـه ستانـه شوي دوی تـه د شك، او ان خـپـلې ټولـنې تـه د خطر پـه سترګـه ګـوري.

د دې څېړنې زيـاتـو ځواب ويـونـكـو وويـل چې كـومـو ټولـنـو تـه ورستـانـه شوي هلـتـه يې ګډوډ هركـلـی شوی دی. هر څو كـه عمـومـاً خپـلـو كـورنـيـو لـه سينې سره نـيـولي، خو د ټولـنې ځيـنې نـور خلك چې پـوهېږي چې پـه ګـوانـتـانـامـو كې يې وخت تېر كړی نـو ځان تـرې سـاتـي.

ځيـنـو ځواب ويـونـكـو چې لـويـديځو اروپـايـي هېوادونـو تـه ستانـه شوي، پـه تـلـيـفـون ورتـه د مـرګ ګـواښـونـه شوي، پـه ګـاونډ كې يې د دوی د غـنـدنې لـوحې لـيـدلې دي، او پـه لارو كـوڅو كې د خلـكـو د فـحش ښـكـنځـلـو سره مـخ شوي دي. يـو مـركـه شوي تـن وويـل چې د هغـه ان پـخـوانـي يـاران تـرې پـه دې ګـومـان چې ګـونـدې د الـقـاعـده تـروريـست بـه وي، ډاريږي. يـو بـل وويـل چې د مـسلمـانـې ټولـنې د ځيـنـو خلـكـو نـه ورسره غېر مسلمـانـان ښـه چلند كـوي. يـو دا هم وويـل چې ځيـنـو خـاصو ځايـونـو تـه د يـواځې ورتـګ پـر مـهـال ځان ارام نـه احساسوي. هغـه اعتراف وكړ چې، "بـس دا خلك چې پـه كـومـه طريـقـه مـا تـه ګـوري، زه ځان ارام نـه احساسوم."

د ۲۲۱ افـغـانـانـو (د ټولـو نـه لـويـه ډلـه) څخـه چې پـه ګـوانـتـانـامـو كې قېد وو، ۱۹۲ وطن تـه ستـانـه شوي دي.[19] د دوی لـه مخې افـغـانـستـان تـه پـه ستنېدو د ګـواښـونـو سره مـخ شوي، چې زيـات يې د پـخـوانـيـو دښـمـنـانـو لخوا وو. نـور چې د غريـبـو سيـمـو څخـه دي، وايـي چې بېرتـه پـه راستنېدو هماغسې

هېر کړای شوي دي، څنګه چې له نيول کېدو مخکې وو. يو ځواب ويونکي وويل، "زما په سيمه کې نورو خلکو سره زما په اړيکو کې څه بدلون ندی راغلی ځکه چې زه يو غريب سړی يم او څوک مې دومره پروا نه ساتي." دوو افغاني ځواب ويونکو وويل چې په ګوانتانامو کې د جنسي تېري افواهاتو په دوی داغ لګولی دی او د واده لپاره د ملګرې په پېدا کولو کې د مشکل سره مخ دي. دوی کې په يو باندې د امريکا د جاسوس تور هم لګول شوی او لدې امله د طالبانو د بريد ښخه په ډار کې دی.

خو، ګڼ شمېر افغان ځواب ويونکو د ياد وړ او مختلف هرکلي تجربه کړې ده: په ستنېدو يې په کليو کې غټې غونډې شوې دي. د يوې کورنۍ خپلوانو خو دې ډول يوې لمانځنې ته پوليس هم راغوښتلي وو. په دې يو بل سره کلکو تړل شويو ټولنو کې، ځواب ويونکو وويل چې د هغوی په بې ګناهۍ کله چا شک نه دی کړی. يو وويل: "زمونږ په ټولنه کې، د خلکو ترمنځ زما شهرت ندی خراب شوی. خلک اوس هم پوهېږي چې زه غدار نه يم." يو بل پخواني قېدي، چې له نيول کېدو وړاندې د سيمې د تر دوو سوو زياتو ماشومانو استاد و، وويل چې له نيول کېدو وړاندې هم او وروسته هم د هغه "ښه عزت" دی. يو بل پخواني قېدي، چې پخوا شپونکی و، د خپلې ټولنې لخوا ډېری همدريانې ترلاسه کړې دي. "کله چې زه په لارو کوڅو کې روان يم او د ځينو خلکو سره وينم، نو هغوی عموماً راته وايي، "مونږ ستا په اړه خپه يو...." [زما په قبيله کې] ټول پوهېږي چې زه بې

گناه يم، دا چې زه په هيڅ ډول سياسي فعاليتونو کې لاس نلرم."

په ۲۰۰٦ کې، اته پخواني قېديان چې خپل اصلي وطن ته له دې داره نه شو ستنېدلای چې تشدد به پرې وشي، البانيا ته انتقال کړای شول.[20] دا پخواني قېديان د هغو نه د مختلفو چېلنجونو سره مخ شول کوم چې خپلو وطنونو ته ستانه شوي وو. امريکايي چارواکو، د البانيا حکومت، د ملګرو ملتونو سيمه ايزو مقاماتو او د ځواب ويونکو ځينو څارنوالانو دوی ته وويل چې په البانيا کې به د خپلو فاميلونو سره بېرته يو ځای کولای شي او کورونه او نوکرۍ به ورته ورکولای شي خو حقيقت بېخي بدل و. د خپلو فاميلونو نه پرله پسې او تر نامعلوم وخته جلاوالي په دې مهاجرينو ژور اغېز وکړ. يو وويل، "زه به بېرته د تلو هيڅکله توان ونلرم. زه هغوی دلته نشم راوړلای. زه نور خپل ټول عمر خپل فاميل نشم ليدلای." د ګڼ شمېر قېديانو کورنيو ته د هغوی د وطني حکومتونو چارواکي ورغلي وو او پوهېدل چې دا سړی په ګوانتانامو کې و او اوس په خارج کې ژوند کوي نو يو شمېر مهاجرين د خپلو کورنيو د تحفظ په اړه انديښمن وو. د يو قېدي د کورنۍ يو غړي ته دړکه ورکړای شوې وه چې د تقاعد معاش به يې بند کړای شي حال دا چې د دغې کورنۍ اتکاء په هم دې پېسو وه.

په دې مهاجرينو کې يو هم په البانيې ژبه خبرې نه شوې کولای، چې له امله يې د دې خلکو ټولنيز تګ راتګ په ځانګړې توګه مشکل شوی و. البانيا ته رسېدلو دغو نويو کسانو د ژبې د زده کولو کوښښ وکړ، خو د مهاجرينو

په مرکز کې ورته د ورکړای شوي روزنيز کورس دوام دوه ځل مات شو. د دې مرکو پر مهال په دغو مهاجرينو کې يو هم کار نه لاره او د نوکرۍ چانس يې تت و، په ځانګړې توګه له دې امله چې هيڅا هم نه غوښتل داسې خلک نوکران کړي چې د ګوانتانامو په قيد کې پاتې شوي دي. د ګوانتانامو مهاجرين لومړی د دې هېواد د پلازمينې سره نژدې د يو دولتي مهاجرکمپ په کوټو کې اوسېدل، خو د ۲۰۰۸ د سپرلي په اول سر کې د دې ژمنې سره اپارتمانونو ته يوړل شول چې د البانيا حکومت به يې د دوو کلونو کرايه ورکړي. خو بيا هم، له کار روزګار پرته، د هغوی د ځان ساتلو توان يقيني نه دی. او، لکه يو پخوانی قيدي چې وايي، د ګوانتانامو داغ پرې اوس هم پاتې دی: "دا پروا نلري چې زه بې ګناه يم. دا هم پروا نلري چې هغوی زما په خوښې کولو زه بې ګناه اعلان کړی يم. مونږ اوس هم دغه غټه خولۍ په خپلو سرونو لرو چې تروريستان يو."

## په سعودي عربيه کې د بيا ابادۍ پروګرام[21]

ګوانتانامو نه د خپلو اتباعو د ترلاسه کولو په لړ کې د سعودي عربيه چلند د نورو هېوادونو څخه جلا دی. د ۲۰۰۶ په پای او د ۲۰۰۷ په پېل کې د سعودي حکومت د معلومو اسلامي بنسټپالو لپاره د بيا ابادۍ او بيا استقرار د مځکې نه په موجود پروګرام کې د ګوانتانامو پخواني قيديان هم شامل کړل. متحده ايالاتو سره د يو

ناخپور شوي تېرون د برخې په توګه، راپورونه وايي د سعودي حکومت متفق شو چې د امریکا د قېد نه د خوشې کېدو په صورت کې به قېدیان په دې پروګرام کې داخلولای شي.[22] د سعودي د حکومت د پروګرام بنسټ په دې مفکوره و چې دا بنسټپالان په ځینو غلطو عقیدو "دوکه" کړای شوي وو، او اصلاح او روزنه یې کېدای شي.[23] د ګوانتانامو پخواني قېدیان د شپږو اونیو په یو پروګرام کې داخلیږي چې علماء ورته پکې زده کړه کوي.[24] د پروګرام د بشپړولو نه وروسته پخواني قېدیان ریاض سره نژدې د منځنۍ درجې یو کور ته وړل کیږي. هلته د "بیا ابادولو او پاملرنې د مرکز" په ودانۍ کې د ګوانتانامو پخواني قېدیان د هغو سعودیانو څخه جلا ساتل کیږي چې د سخت دریځه نظریاتو له امله یې زندان تېر کړی وي. ستانه شوي قېدیان چې "ګټه اخیستونکي" بلل کیږي، د څو میاشتو لپاره په یوه تر نظارت لاندې ودانۍ کې ساتل کیږي چېرته چې ورته ګڼ شمېر امتیازات ورکول کیږي. دوی مذهبي او اروایي مشورې ترلاسه کوي، چې په هغې کې معالجه هم شامله ده، او لمبلای شي، فوټبال کولای شي، او په سپورتي چېنلو ځان مشغولولای شي.[25] له خوشې کېدو وروسته د سعودي حکومت پخواني قېدیان تشویقوي چې واده وکړي او د سعودي په ټولنه کې ځای پر ځای شي او مالي مرسته یې کوي او روزګار ورکوي.[26] حکومت ادعا کوي چې تر سلو زیات کوم قېدیان خوشې شوي دي، یو هم بېرته ندی نیول شوی.[27]

# فامیل

له نیول کېدو وړاندې، د نیمو نه زیات ځواب ورکوونکي واده وو او لږ تر لږه یو ماشوم یې لاره. ځینو ځانونه د خط و کتابت له لارې د فامیل د چارو نه خبر ساتلي وو، خو نور داسې وو چې په ګوانتانامو او افغانستان کې د قېد پر مهال خپلو فامیلونو سره برابر تماس ورته مشکل ښکارېده. ځینو فامیلونو فکر کړی و چې نیول شوی غړی یې مړ دی او د هغه د ژوند نه صرف له خوشې کېدو وروسته خبر شول.

د ګوانتانامو د ګڼ شمېر پخوانیو قېدیانو لپاره بېرته په خپلو کورنیو کې خپلوی جوړول ګران وو، او د ځینو نورو لپاره د مرګونو او اختلافونو په وجه ناممکن. یو پخواني قېدي خپله تجربه د Cast Away په نامه فیلم د اتل کرکټر سره پرتله کړه، چې ټام هانکس لوبولای دی، څوک چې په یوه جزیره کې څو کاله له ورکېدو وروسته کور ته ستون شي نو د هغه چنغلې واده کړی وي او یو ماشوم یې هم وي. دا پخوانی قېدي چې کور ته ورسېدو نو ورته معلومه شوه چې ښځې یې طلاق اخیستی دی، او یو بل چې کور ته لاړو نو معلومه شوه چې پلار یې وژل شوی دی او ښځه یې د خپلو بچو سره د هېواد یوې بلې برخې ته جلا شوې ده. هغه وویل، "زه د ګوانتانامو په دوزخ کې اوسېدم. او چې کور ته ستون شوم نو هغه بل دوزخ و." د افغاني ځواب ورکوونکو څخه اته داسې وو چې کورونو ته لاړل نو ورته معلومه شوه چې یو نژدې خپلوان یې "رواني ناروغي پېدا کړې،" او د دې لامل د هغوی په فکر د دغه قېد فشار و.

نورو د خپلو فامیلونو د غړیو جسماني ناروغۍ د دوی د کور نه د لیرې والي سبب وباله.

ګڼ شمېر خوشې شویو قېدیانو په ماشومانو باندې کور نه د دوی د لیرې والي د اغېز خبره وکړه. زیاتو ویل چې ماشومان یې د پېسو د نشتوالي له امله د ښوونځیو نه وتلي وو او یا د دوی د لیرې والي په وجه په زده کړه کې وروسته پاتې شوي وو. یو تن په خواشینۍ سره وویل چې ځامنو "مې تعلیم زما له وجې پریښی، او اوس به هغوی بې سواده وي." پر دې برسېره نور مشکلات هم وو. لکه یو پخواني قېدي وویل چې، ماشومانو ته یې په ځانګړې توګه دا خبره سپینول چې پلار یې په ګوانتانامو کې دی، ګرانه وه، ځکه چې هغوی به په معصومیت سره ویل، "زمونږ پلار په زندان کې دی." هغه وویل: "ته یو ماشوم ته دا خو نه شې سپینولای چې په دې دنیا کې یو ځای داسې هم شته چې "قېد بې له محکمې" ورته ویل کېږي، چېرته چې د قانون حاکمیت نشته." د هغه په فکر د هغه ماشومان صرف په دې پوهېدل چې "که ته په زندان کې یې نو ته به خامخا بد یې، ځکه چې په ټولنه کې خو همداسې وي."

ځینو پخوانیو قېدیانو وویل چې کورنیو یې د هغوی د خوشې کولو لپاره غټې قربانۍ ورکړې دي. ګڼ شمېر فامیلونو د خپلو سړو د راخلاصولو لپاره پراخ کوښښونه کړي دي، چې اکثر به ورسره د سیمه ایزو یا نړیوالو مرستندویه ټولنو، لکه د بخښنې نړیواله اداره (ایمنسټي انټرنېشنل)، لخوا مرسته کېدله. یو تن وویل، "زه پوهېږم چې زه نه وم نو زما د مور او پلار ژوند په ټپه درېدلی

و." هغه زياته کړه چې فاميل يې اوس په دې موضوع خبرې نه کوي، ځکه هغوی نه غواړي چې د هغوی د ژوند په ګډوډولو باندې دی ملامتي احساس کړي. يوولسو افغاني ځواب ويونکو وويل چې کورنۍ يې د شتمنيو خرڅولو، پېسې په پور پېدا کولو او/يا د روزګارونو پرېښودلو ته اړ شوې وې څو د دوی د راخلاصولو لپاره هڅې وکړي. يو پخواني قېدي وويل چې ورونو يې خپل کارونه پرېښودل او خپل ځانونه يې په بشپړه توګه دې ته وقف کړل چې په هېواد او امريکا کې چارواکو پسې د ده د راخوشې کولو لپاره منډې ووهي.

پنځو افغانانو شکايت وکړ چې خپلوانو يې فاسدو چارواکو ته رشوتونه هم ورکړي وو او هغوی ورسره د مرستې ژمنې کړې وې خو په پای کې يې هېڅ ونکړل. يو تن وويل چې حکومتي افسرانو د هغه د يو ورور سره تماس ونيو او ژمنه يې وکړه چې که يو موټر ورته واخلي نو د ورور په راخلاصولو کې به يې مرسته وکړي. ورور يې ومنله او ورته وويل شول چې په درې ورځو کې دې په يو هوټل کې د چارواکو سره وګوري او خپل ورور دې بوځي. خو کله چې هغه هلته لاړ، نو د هغه په وېنا د "ګڼ شمېر پوليسو" لخوا ووهل شو او د نيولو ګواښ يې ورته وکړ. وروسته يې د ورور سره يوې بلې ډلې تماس ونيو، او بيا يې ژمنه وکړه چې ورور به يې ورته راخلاص کړي خو که څلور زره ډالر ورکړي او يو بل ښار ته ورسره لاړ شي. هغه خپل موټر خرڅ کړ او ټاکل شوي ځای ته د تللو خبره يې ومنله څو خپل ورور له ځانه سره راولي. خو هغو کسانو وروسته

اعتراف وکړ چې په دې هم ندي خبر چې د ده ورور چېرته دی. اوس نو هغه زړه ماتی شو، او مجبور شو چې کور ته د تللو لپاره د چا نه پور واخلي.

د ګڼ شمېر نورو افغاني کورنیو لپاره د خپل فامیل د غړي د راخلاصولو په لړ کې شوي مالي تاوانونه د دې نه ډېر جیګ وو، خو بې له کومې ښې نتیجې. ځینو پکې کورني جایدادونه له لاسه ورکړل. یو تن وویل، "زما پلار خپله ځمکه خرڅه کړه چې ما پرې راخلاص کړي." او یو بل وویل: "ما سره چې څه پېسې په کور کې وې هغوی زما په لټولو ولګولې.... او اوس زه په کور کې هیڅ نلرم چې خپل ژوند پرې ښه کړم او ژوندی پاتې شم." او دریم د خپل یو ورور کیسه وکړه چې افغانستان ته د دې لپاره ستون شو چې د ناروغه مور علاج او د هغه لټون وکړي. هغه وویل چې کورنۍ یې د هغه په راخلاصولو شاوخوا شپېته زره امریکایي ډالر لګولي دي.

## مرسته او معاش

زیاتو ځواب ویونکو وویل چې د ګوانتانامو د قېد تر ټولو غټ وروسته اغېز اقتصادي ستونځې وې. یو تن دا خبره داسې وکړه: "د ټولو نه غټ ضرورت مالي دی، ځکه چې د یو سړي، یو ځوی، یو پلار په توګه، زه باید د خپل فامیل مرسته وکړم." د ځواب ویونکو د قېد اقتصادي اغېز د یو بل سره توپیر درلود. د اروپا زیاتره پخواني قېدیان ځوان او ناواده وو، او وې ویل چې د هغوی لیرې والي د

هغوی کورنۍ د اقتصادي ضرورتونو څخه بې برخې کړي نه دي. ګڼ شمېر غېر اروپايي ځواب ويونکو وويل د ګوزارې کولو کوښښ يې کاوه، خو د مرستې لپاره يې په خپلو کورنيو اتکاء وه. خو، تقريباً ټولو خوشې شويو افغاني بنديانو وويل چې د دوی د قېد له امله يې د کورنيو شتمنۍ په بشپړه توګه ختمې شوې وې.

يو څو ځواب ويونکو وويل چې د نادولتي سرچينو لکه د سيمه ايزو ډلو، مذهبي ادارو، يا نادولتي موسسو لکه د بخښنې د نړيوالې ادارې او سرۀ صليب لخوا ورسره مرستې شوې دي. خو د ٦٢ څخه ٤٥ تنو وويل چې خپل اصلي وطن يا دريم هېواد ته په رسېدو ورسره کومې ډلې - که دولتي وي او که شخصي - هيڅ مرسته نه ده کړې. د اروپا څخه د دې څېړنې يو ځواب ويونکي ته معلومه شوې وه چې محاکمه شوي مجرمانو سره د هغه نه زياته مرسته کېدله. د ګوانتانامو نه خوشې شوي کسان په افغانستان کې د ملي امنيت د ځواکونو لخوا ژر تر ژره په کابل کې سولې او پخلاينې د کميسيون يوې غونډې ته وړاندې کړل. سرۀ صليب دوی ته تش په نامه څه پېسې (د راپورونو له مخې د پنځو سوو نه تر دوه زره افغانيو پورې) ورکړې چې د پلازمينې نه پرې کور ته لاړ شي. دوو افغانانو وويل چې حکومت د دې معمولي خېرات نه علاوه هيڅ نه دي ورکړي. ځينو نورو وويل چې دا هم نه دي ورکړای شوي.[28] زياتو ځواب ويونکو وويل چې حکومت يې په ناقانونه توګه د قبضه شويو ځمکو د بېرته ترلاسه کولو او د دولتي کارونو د بېرته نيولو په هڅو کې ورسره مرسته نده کړې. دوه پېښې داسې وې چې پخوانيو

قېدیانو وویل چې کله پرې د طالبانو د غړیتوب تور ولګول شو نو فاسدو دولتي چارواکو يې په ځمکو قبضې وکړې. دواړو وویل چې د خپلو ځمکو د بېرته ترلاسه کولو لپاره يې بیا رشوتونه ورکړل.

ګڼ شمېر پخوانیو افغان قېدیانو وویل چې د غریبۍ له امله يې د لاسه ورکړیو شتمنیو د بېرته لاس ته راوړلو هیله نه لرله. لکه چې مونږ ولیدل، دوی په څو طریقو خپلې شتمنۍ له لاسه ورکړې وې: شتمنۍ يې د نیول کېدو پر مهال یا له منځه وړل شوې او یا دولتي شوې وې او یا هم د دوی په غیاب کې قبضه شوې وې، یا د فامیل د غړیو لخوا خرڅې شوې وې چې د دوی لټون پرې وکړي یا په رشوتونو کې تلې وې. ځینو پکې دا هم وویل چې په ګوانتانامو کې د اروايي روغتیا لپاره ورته د لیکل شویو دوایانو د بازار نه د اخیستلو کوښښ يې کړی و. یو افغان داسې وویل: "زه اوس محتاج او غریب یم... اوس زه خلکو نه د دوایانو لپاره هم پېسې په پور غواړم." ځینې داسې دي چې د ناروغتیاو له امله د پورونو په خلاصولو او د خپلو کورنیو په ساتلو کې د مشکل سره مخ دي. یو پخواني قېدي نه یواځې دا چې د امریکا د قېد پر مهال خپل کاروبار له لاسه ورکړ او فامیل يې پوروړی شو، بلکې د نیول کېدو پر مهال يې په یوه پښه کې د زخم او بیا د علاج نه کېدو له امله پښه هم د استعمال نه ووتله.

څلورو افغاني ځواب ویونکو وویل چې له نیول کېدو وروسته يې جایداد حکومت قبضه کړی و. یو تن وویل چې د دوایانو دوکان يې لدې امله چور شوی و چې امریکایي او

افغان ځواکونو يې د دوکان دروازې خلاصې پرېښې وې "نو ټوله شتمني، دوايانې، تر دې چې د دوکان کتابچې هم ورکې شوې." ځينو نورو وويل چې د نيول کېدو پر مهال يې کورونه ړنګ شوي او يا هم ويجاړ شوي وو. يو تن وويل چې امريکايي او افغان امنيتي ځواکونو د هغه په کور د چاپې پر مهال "تقريباً هر څه برمته کړل،" په ګډون د پنځه څلوېښت زره نغدو ډالرو. د هغه ورور په دې اړه چارواکو ته شکايت وکړ، خو څه ګټه يې ونکړه. هغه وويل: "هيچا په دې خبره غوږ ونه ګراوه." يو څو تنو وويل چې کوم چارواکو – امريکايي، پاکستاني، يا افغاني – دوی نيول، نو پيسې، ساعتونه، او نور شخصي شيان يې هم تر قبضه کول. عموماً د دوی نه اخيستل شوي شيان بېرته نه ورکول کېدل: خو يو تن وويل چې امريکايي چارواکو ورته د ده هغه ساعت، فلش لايټ او شل امريکايي ډالره بېرته ورکړل چې څلور کاله وړاندې د نيول کېدو پر مهال يې ترې اخيستي وو. يو شمېر پخواني افغاني قېديانو وويل چې کورنيو يې د ژوندي پاتې کېدو لپاره خپل جايدادونه خرڅ کړي وو. يو وويل: "کله چې زه ونيول شوم، نو بل داسې هيڅوک نه وو چې زما د بچو او مېرمنو د ساتنې مسووليت په غاړه واخلي نو هغوی زما ټوله ځمکه او جايداد خرڅ کړل." يو بل پخواني قېدي ته معلومه شوه چې کورنۍ يې زراعتي ځمکه د دې لپاره خرڅه کړې ده چې د خپلو مريضانو علاج پرې وکړي. هغه اوس د ځان لپاره ځمکه نشي اخيستلای او نه د خپلې مور د هغې رواني ناروغۍ د

علاج لپاره پېسې لري چې د ده د قېد پر مهال ورته پېدا شوې ده.

زياتې کورنۍ ډېرې پوره وړې شوې. لږ تر لږه دیارلسو پخوانیو قېدیانو وویل چې کورنیو یې پور اخیستی دی، دا داسې قرض دی چې اوس یې دوی خلاصوي. یو وویل، "په ما قرض دی، او قرضداري هره ورځ کور ته راځي." یو بل داسې وویل: "زما د پنځو تنو فامیل دی. نو چې کله زه په ګوانتانامو کې وم زما د فامیل ګوزاره ډېره ګرانه وه. او اوس رابانديې قرض دی. هغوی د خوراك او اوړو د رانیولو لپاره قرض اخیستی." یو بل بیا دا ستونځه بیان کړه: "زه کاروبار نه لرم. اوس مې ځمکه هم نشته. اوس کور هم نلرم. او زه دومره غټ فامیل لرم او بل هیڅوك نشته چې د دوی مرسته وکړي. زه نه پوهېږم چې څه وکړم. بس دغه مسئله ده."[29]

## روزګار

زمونږ د څېړنې څلور دېرشو ځوابوونکو وویل چې بې کاره دي او شپږو نورو وویل چې مستقیم کاروبار لري (پاتې نورو د خپل روزګار حېثیت مشخص نه کړ). یواځې یو تن، چې د لویدیځې اروپا اوسېدونکی دی، د خپل اقتصادي راتلونکي په اړه هیله مندي وښودله. د لویدیځې اروپا یو شمېر ځوانو ځواب ویونکو وویل چې په روزنیزو پروګرامرونو کې په دې هیله داخل کړای شوي وو چې په پای کې به نوکري ترلاسه کړي. اوو تنو وویل چې د کار د

پېدا کولو لپاره يې ناکامې هڅې کړې دي. يو تن وويل چې اوښيار نوکري ورکوونکي يې د کار په تاريخ کې د درېو کالو د تشې په اړه ترې پوښتنه کوي. کله چې دی ورته ووايي چې د امريکا په قېد کې يې وخت تېر کړی، نو هغوی ورته بيا هيڅکله ځواب نه کوي.

د ګوانتانامو داغ د ګڼ شمېر پخوانيو افغاني قېديانو د خپلو پخوانيو کارونو د بېرته ترلاسه کولو توان خراب کړی دی. هغوی چې په دولت کې يې کار کاوه ورته معلومه شوه چې بېرته خپل کار ته نشي تللای. يو وويل، "دولتي چارواکي فکر کوي چې مونږ تروروستان يو." يو بل چيغې کړې، "زه خپله نوکري بېرته غواړم. زه خپل حقونه غواړم، لکه هغه معاشونه چې ما ته راکول کېدل، او زه ترفيع غواړم." يو بل ځواب ويونکي، چې لوړې زده کړې لري، په ناهيلۍ سره وويل چې د ګوانتانامو قېد يې د تل لپاره شهرت او مسلکي پوهه بدنامه کړې ده. هغه يو په کار بوخت معالج و، او له نيول کېدو وړاندې يې يو کتنځی درلود. اوس نو هغه اړ دی چې "يو ځل بيا د درملو دوکان پېل کړم څو خلک راباندې باور وکړي."

## جسماني زيان او صدمه

مونږ د ځواب ويونکو څخه وغوښتل چې راته تشريح کړي چې ګوانتانامو نه له خوشې کېدو راوروسته په جسماني او اروايي توګه څنګه احساسوي څو اندازه واخلو چې دغه قېد پرې څومره اغېز کړی دی. لکه چې وړاندې ليدل شوي،

ځېرونکو نه خو د هغو پخوانيو قېديانو چې د دې راپور لپاره ورسره مرکې شوې دي طبي معاينې کړې دي او نه يې د هغوی طبي ريکارډ کتلی دی. نه يې د هغوی د اروايي ناروغتياو جاج اخيستی دی. خو د هغوی په ځوابونو کې يو شمېر هغه مشکلات ښودل شوي دي چې تر خوشې کېدو وروسته ورسره قېديان مخ شوي دي. د هارورډ [پوهنتون] د ارواپوه جوديت هيرمان له مخې، "کومو کسانو ته چې په ترتيب سره صدمه رسېدلې وي، هغوی ښايي د جسماني سکون "اصلي حالت" له لاسه ورکړي، او نه يواځې د "بې خوبۍ او اضطراب"، بلکې د "ګڼ شمېر" جسماني ناروغتياو شکايت هم وکړي، لکه "فشار، د سر درد، د معدې او کولمو مسلې، او د خېټې، ملا او خاصرې درد."[30]

ګڼ شمېر ځواب ويونکو د يو شمېر داسې جسماني زيانونو يادونه وکړه چې د امريکايي قېد پر مهال ورته رسېدلي وو. د ټولو نه عامه ناروغتيا پکې د ډېر وخت لپاره په زنځيرونو د تړل کېدو او په سختو حالتونو کې د ځړول کېدو له امله د مړوندونو، پنډيو، ملا او ښنګريو دردونه وو. يو بل شکايت د نظر د خرابوالي و. نورو د زاړه درد، ستړيا او عمومي کمزورۍ يادونه وکړه چې د ډېر ساعت لپاره د جسماني کار توان يې له لاسه ورکړی دی. يو تن چې خپل اوسنی حالت يې ګوانتانامو نه د تخکيني حالت سره پرتله کاوه، وويل، "زه يو مضبوط سړی وم. خو اوس هيڅ نه يم." د دې ناروغتياو باوجود، کم شمېر قېديان داسې وو چې له خوشې کېدو وروسته يې علاج شوی وي، حال

دا چې ځینې پکې د دې مرکې نه کلونه وړاندې خوشې شوي دي.

په دریو کې تقریباً دوه برخې ځواب ویونکو وویل چې ګوانتانامو نه له وتلو وروسته احساساتي ستونځې ورته پېدا شوې دي.[31] د ډېرو په ذهنونو کې په زنځیرونو د تړل کېدو، سخت ټمپرېچر سره د مخامخ کېدو او د ساتونکو د تشدد د لیدلو یادونه اوس هم تازه دي. یو پخواني قېدي وویل چې یو اروایوه يې د صدمې نه وروسته د فشار تکلیف تشخیص کړی و.[32] یو بل وویل چې په اسانۍ د خپګان او ناهیلۍ سره مخ کېږي: "دا سوچ راته راځي چې که دا کوټه مې پرې نه ښوده نو مړ به شم او وبه چوم... لکه د بم په څېر." یو بل سړي وویل چې کلونه وروسته يې هم د ګوانتانامو انځورونه مخې مخې ته کېږي، او ورته معلومه شوې چې د زړ غوصه کېدو مرض پرې لګېدلی دی. "زه فکر کوم چې زه دې ژوند ته هغسې فعال نه یم راستون شوی څنګه چې زه پخوا وم." یو شمېر ځواب ویونکو وویل چې یاداښت يې کمزوری شوی دی. نورو وویل چې خراب خراب خوبونه ویني. یو تن چې څو کاله پخوا خوشې شوی دی، وویل، "زه اوس هم خوبونه وینم، په خوب کې وایم چې اوس هم هلته په زنځیرونو تړل شوی یم او خلك راته ښکنځاوې کوي."

یو بل ځواب ویونکي وویل چې په ګوانتانامو کې ورته د پاکوالي سودا لګېدلې، چې دا د هغه لپاره یوه نوې تجربه ده. "ما به هلته بس هر وخت ځان پاکولو، ځان به مې پاکولو، ځان به مې پاکولو. لدې امله چې نور هیڅ کار نه و، نو بس ځان به مې پاکولو." د ټولې مرکې پر

مهال، د هغه په وېنا، د هغه فکر د لمبلو د طشت د هغه نل سره و چې هغه يې د پاکولو وخت نه و پېدا کړی او اوس هلته د ورتللو او د هغه د پاکولو خواهش يې کنټرولولو. يو بل خوشې شوي قېدي وويل چې څنګه د هغه د قېد تجربه اوس هم هغه د خپلو دوستانو او خپلوانو نه جلا کوي. د "يواځې والي" او "قېد" په څېر تورو د هغه لپاره بېخي نوې مانې پېدا کړې دي. هغه د خپل احساس په اړه وويل چې په " يوه داسې نړۍ کې اوسي چېرته چې خلک بس نه پوهېږي." يو شمېر ځواب ويونکو وويل چې ځينې وخت يې دې ته سخته اړتيا ليدلې چې خپل ځانونه د خپل چاپېريال نه وباسي او بېخي ځانله شي.

دا چې هغه قېديان چې وايي اروايي ستونځې ورته پېدا شوي د صدمې نه وروسته د فشار د تکليف د ستونځو سره مخ شوي او يا به ورسره مخ شي که نه، يوه پرانستې پوښتنه ده.[33]

## په مذهبي عقيده کې بدلونونه

يو ځواب ورکوونکي هم دا ونه ويل چې ګوندې د قېد له امله يې په عقيده کې څه خلل راغلی. اسلام د قسمت يوه مفکوره لري، چې له مخې يې خدای ډېر لوي دی، او دا چې د انسان قسمت د مخکې نه ټاکل شوی دی خو هر تن د عمل لپاره د سمې لارې په ټاکلو کې اختيار لري.[34] د يو ځواب ويونکي له مخې، ګوانتانامو "د قسمت ازمېښت" و. دوه ويشتو پخوانيو قېديانو وويل چې په مذهبي سوچ کې يې هيڅ

فرق نه و راغلی، او یویشتو وویل چې دې قېد یې ایمان لا پسې مضبوط کړی دی. لکه یو داسې وویل: "زه په هماغه درجه او هماغه حالت کې یم، او زه مسلمان یم، او تل به مسلمان یم." یو څو افغاني قېدیانو وویل چې قران یې په ګوانتانامو کې زده کړ. دوه اروپایي قېدیان، هر څو که په اسلامي کورنیو کې زیږېدلي وو، خو وې ویل چې د قېد نه وړاندې یې مذهبي چارې نه ترسره کولې. د ځینو نورو لپاره، که په چلند کې یې څه تغیر راغلی نه هم و خو، مذهبي چارو ورته د خپل ژوند د بیا جوړولو د هڅو توان ورکاوه.[35]

## د احتساب په اړه عقیده

مونږ د دې پوښتنې سره چې "ستاسې په فکر په ګوانتانامو کې ستاسې د قېد او چلند عاملین څوک دي؟" دا پوښتنه هم وکړه چې "دغو عاملینو سره، که څه کېږي، نو باید څه ورسره وشي؟" یو شمېر ځواب ویونکو غوښتل چې د هغوی د قېد عاملین باید په جنایي محکمو کې محاکمه شي. یو دا نظر لرلو چې یواځې یو څو د لاندې درجې پوځیان قېدیانو سره د ظلم مسوول ګرځول شوي دي. زیاته یې کړه چې د دغو پوځیانو د اعمالو کرښه "د ډونالډ رمسفیلډ په څېر خلکو چلند" او د امریکایي چارواکو هغو بیانونو ته رسېږي چې ویل یې په ګوانتانامو کې نیول شوي خلک "تروریستان" او "قاتلان" دي.[36]

ځينو ځواب ويونکو وويل چې دې ډول ټاپو ساتونکو او نورو کارکوونکو ته په قېديانو د تشدد او ورته د سزاو ورکولو د جواز اشاره ورکوله. يو ځواب ورکوونکی هم د دې نه خبر نه و چې کومو کسانو پرې تشدد کړی هغوی دې د عاملينو په توګه نيول شوي وي.

زياتو افغاني قېديانو په تاکيد سره وويل چې غواړي چارواکي په افغانستان کې هغه افراد ونيسي او سزا ورکړي کومو چې د دوی په اړه راپورونه ورکړي وو. يو دا خبره د دې دليل سره وکړه:

که زه تا ته معرفي شم او درته وويل شي چې ما يو جنايت کړی دی، نو دا ستا مسووليت دی چې پلټنه وکړې چې ايا ما دغه جنايت کړی دی که نه. که تا په ما کې ګناه پېدا کړه، بيا راته سزا راکړه. خو که زه بې ګناه ثابت شوم، نو بايد چې خوشې شم او بيا ستا کار دا دی چې هغه تن په نښه کړې چې زه يې دغه ډول تا ته معرفي کړی وم او دا ستا حق دی چې هغه ته د دې غلطۍ سزا ورکړې.

يو ځواب ويونکي په واضحه توګه د انتقام خبره وکړه. هغه غوښتل چې د ګرفتارۍ او قېد عاملين يې د هېواد په زندان کې واچول شي څو "د تشدد او تکليف خوند وګوري." يو بل تن وويل چې عاملين دې په ګوانتانامو کې واچول شي "چې پته ورته ولګي،" خو بيا يې زياته کړه چې هغه په چا تشدد کول نه غواړي.

# د کفارې او اعادې اقدامات

اته دېرشو ځواب ویونکو فکر کاوه چې، د هغوی په وېنا، د غلط قېد، د نقصانونو، او په ګوانتانامو کې ورسره د شوي چلند مالي معاوضه به ورکړای شي.[37] درېو وویل چې هیڅ معاوضه یې نه غوښتله. هر څو که زیاتو ځواب ویونکو ویل چې د معاوضې حق لري، خو ډېرو کمو د دې لپاره هڅې کولې. څو هغه کسان چې په اروپا کې اوسېدل، د امریکایي چارواکو خلاف د شویو قانوني اقداماتو نه خبر وو، خو د بریالیتوب زیاته هیله یې نه لرله. په ۲۰۰۸ کې د امریکا یوې مرکزي محکمې د ګوانتانامو د هغو پخوانیو قېدیانو چې د امریکایي چارواکو پر ضد یې د قېد پر مهال د تشدد او زیاتي له امله د اعادې دعوا کړې وه، د دوی د دعوې د رد کولو پرېکړه تایید کړه.[38] یو ځواب ویونکي هم د ورسره شوي چلند معاوضه نده ترلاسه کړې. ګڼ شمېر افغان ځواب ورکوونکي د سره دا فکر نه کوي چې معاوضه غوښتلای شي یا به چارواکي څه ځواب ورکړي. یو څو تنو د دې څېړنې د محققینو نه پوښتنه وکړه چې ایا دوی به د معاوضې په غوښتلو کې ورسره مرسته وکړي. دوو تنو پخوانیو قېدیانو څرګنده کړه چې د خپلو غوښتنو په اړه یې په افغانستان

کې دولتي یا امریکایي چارواکو سره تماس نیولی و، خو رد کړای شوي دي.

د یو څو تنو نه علاوه، نورو ځواب ویونکو د خپلو حکومتونو په ځای غوښتل چې امریکایي چارواکي معاوضه ورکړي. یو پخواني قیدي وویل، "که هغوی په ما کې څه گناه لیدلې وای... نو وژلی دې وای. که هغوی زما په اړه کوم ثبوت لري، او که اوس هم په ما کې گناه ویني، نو زه سزا ته تیار یم؛ که داسې نه وي نو باید معاوضه راکړي."

زیات شمېر ځواب ویونکو خپل بدتر حالت ته په اشارې کولو سره د معاوضې غوښتنه منصفانه وبلله. یو پخواني قیدي وویل، "ما د گوانتانامو د قید له امله هر څه له لاسه ورکړي دي. زما جایداد تللی. زما نوکري تلې. زما لېوالتیا ورکه شوې.... په افغانستان کې زما لپاره هیڅ کار نشته." هغه ته په گوانتانامو کې درمل لیکل شوي خو اخیستلای یې نه شي. هغه په لوړ غږ پوښتنه وکړه، "نو زه څه وکړم؟" یو بل غریب او بې کاره ځواب ویونکي وویل چې فامیل یې له کوره وویست، او مېرمن یې د مرستې د ترلاسه کولو لپاره پلار کره لاړه. هغه وویل، "ما سره یوه پلاستیکي خلته ده چې خپل شیان پکې هر وخت گرځوم. او هره ورځ په بدل جومات کې اوده کېږم. بس دغه زما حالت دی."

یو شمېر ځواب ویونکو وویل چې متحده ایالات دې په رسمي توگه د هغوی د بې گناهۍ اعلان وکړي. یو وویل، "که هغوی راشي او ووایي: "دا خلک بې گناه وو. غلطي ټوله

زمونږ وه." نو دې سره به کار وشي." یو بل دا خبره داسې وکړه:

زما د ژوند چې کوم څلور نیم کاله برباد شول، هغه چې څوك يې بېرته راته نشي راوړلای، هغه خو وشو، او زه خپل ژوند بېرته نشم ترلاسه کولی. خو، تر دې دمه د امریکا حکومت دا ندي ویلي چې د دې هر څه عامل هغه و، او تر اوسه پورې يې هیڅ ډول بخښنه نه ده غوښتې، او نه يې زما پروا کړې.

یو بل تن وویل، "زه بس د نړۍ خلکو ته دا ښودل غواړم چې زه بې ګناه وم، او زه د امریکایانو نه معاوضه غواړم." ډېر فکر کوي چې امریکا د دوی په خوښې کولو سره دا منلې ده چې دوی بې ګناه وو، او لدې امله اوس د معاوضې حق لري: "څنګه چې هغوی مونږ بې ګناه ومونده، نو دا اوس د هغوی مسوولیت دی چې مونږ ته معاوضه راکړي."

خوشې شوي قېدیان عموماً دومره معاوضه غواړي چې د "نورمال ژوند" د راګرځولو لپاره کفایت وکړي. زیاتو افغاني قېدیانو وویل چې د لاسه وتلي جایداد او د اقتصادي زیانونو معاوضه غواړي. نور فکر کوي چې امریکا باید دومره څه ورکړي چې راتلونکی يې ګوزارې والا شي. د ځینو نورو په فکر پخوانیو قېدیانو ته باید د دې لپاره معاوضه ورکړل شي چې د امریکا خلاف د کومې کرکې پرته خپل ژوند مخ په وړاندې بوځي.

گڼ شمېر ځواب ویونکو دا هم وویل چې چارواکي د هغه څه معاوضه نشي ورکولای چې دوی له لاسه ورکړي دي. په ځانګړې توګه، د دېرو په فکر، وخت داسې دی چې بېرته نشي راګرځول کېدای. یو پخواني قېدي د دې څرګندونه داسې وکړه:

زما د ژوند څو کلونه هلته عبث لاړل. ما د یو انسان په توګه د ژوند کولو چانس له لاسه ورکړ، زما د فامیل غړو پلار او خاوند سره د ژوند کولو چانس له لاسه ورکړ، زما وخت زما د مېرمنې او بچو نه بغېر تېر شو، ژوند خو تېرېږي، ته یې بېرته نشې راوستلای.

یو بل تن وویل، "زه هغه مهال نولس کلن وم، نو... هغوی زما د ژوند یوه برخه واخیستله، او هغه هم د ژوند تر ټولو مهمه برخه، د ۱۹ او ۲٤ ترمنځ. بالکل، هیڅوک راته دا بېرته نشي راکولای."

## د پخوانیو قېدیانو نظر او سوچ

د پخوانیو قېدیانو څخه په یو شمېر موضوعاتو د هغوی نظرونه غوښتل شوي وو، په شمول د دې چې د هغوی د خپلو حکومتونو او د امریکا د حکومت په اړه یې څه نظر دی؛ امریکایي ولس ته څه پېغام ورکول غواړي؛ او د ګرفتارۍ، قېد او واپسۍ د تجربو نه یې څه مانا اخیستې. د هغوی ځوابونه د ډول ډول سوچونو څرګندونه کوي او پیچلتیا او تنوع رامخې ته کوي. د ځینو پوښتنو د ځواب ورکولو څخه

د انکار په ګډون، د ځوابونو تنوع دا ښيي چې پخواني قېديان په خپلو نظرونو کې مخلص وو.

## کورنۍ حکومت

ځواب ويونکو د خپلو حکومتونو په اړه د ډول ډول نظرونو څرګندونه وکړه. زياتو ويل چې ګوانتانامو کې د قېد پر مهال يې حکومتونه د دوی په وکالت کولو کې بېخي ناکام شوي وو. يو تن وويل چې خپل حکومت ورسره "دوکه" کړې ده. هغه دا تمه لرله چې حکومت به يې تحفظ وکړي، خو وايي چې د هغه د خوشې کېدو هڅې يې هله وکړې چې د هغه کورنۍ د ايمنسټي انټرنېشنل په مرسته په ولسي کچ کمپاين وچلولو. يو بل په دې مايوس و چې حکومت يې هغه شواهد نه وو راغونډ کړي چې امريکايي نيوونکو ته يې د هغه بې ګناهي ښودلې وای: "امريکايانو ته زما په اړه هيڅ نه وو معلوم، خو زمونږ حکومت کولای شول چې زما په اړه يې د خلکو نه معلومات راغونډ کړي وای. ولې يې داسې ونکړل؟" په عين حال کې، يو شمېر پخواني اروپايي قېديان منندوی وو چې حکومتونو يې د هغوی د راخوشې کولو لپاره هڅې کړې وې، هر څو که دا کسان ګوانتانامو نه له خوشې کېدو وروسته خپلو حکومتونو هم بنديان کړي وو. يو وويل، "بلې، دا به عجيبه ښکاري ځکه چې بېرته راغلم نو دلته مې هم په زندان کې وخت تېر کړ، خو زه د خپل حکومت ډېر مشکور يم."

پخوانيو افغان قېديانو د خپل حکومت په اړه ګډوډ نظرونه لرل. يو وويل چې هغه د مؤقت حکومت ملاتړ کړی و،

او پکار ده چې د هغه لخوا يې مداخله کړې واى. نورو په دې لړ کې د افغانستان د حکومت ناکامي په دې خبره وبخښله چې د امريکا په مقابله کې بې وسه دى. يو وويل، "حکومت سره دومره طاقت نشته چې امريکايانو ته يې ويلي واى چې ما ګوانتانامو ته نه وړي." يو شمېر نورو وويل چې امريکايي ځواکونو سره د سيمه ايز سياست په اړه پوره معلومات نه وو چې د هغو کسانو د غلطو معلوماتو نه يې ځان ساتلاى واى چې د پخوانيو لانجو د رابرسېره کولو موقعه په لاس ورغلې وه. بل پلو، ځينو پخوانيو افغان قېديانو په عمومي توګه د خپل حکومت څخه د ملاتړ څرګندونه وکړه او وې ويل فکر کوي چې وطن يې د څو کاله خپلمنځي جګړې وروسته د ښه والي په لور روان دى.

## متحده ايالات

د هغو کسانو نه چې دې پوښتنې ته يې ځواب ووايه، ۳۱ وويل چې په امريکايي قېد کې د شويو تجربو له امله يې د متحده ايالاتو په اړه مثبت نظر په منفي اوښتى. پنځلسو وويل چې په دې اړه يې په سوچ کې کوم توپير ندى راغلى او مثبت فکر لري. د هغو نه چې مونږ ورسره مرکې کړي پنځو دې پوښتنې ته د ځواب ويلو نه انکار وکړ او يا يې وويل چې په دې اړه هيڅ نظر نلري.

دېرو ځواب ويونکو په دې اړه تُند احساسات څرګند کړل چې، د هغوى په وېنا، متحده ايالاتو د قانون حاکميت او بشري پرينسپونو ته درناوى نه کاوه. يو وويل، "مونږ

هيڅکله دا تصور نه و کړی چې امریکایان، یا هغه هېواد چې د دموکراسۍ دفاع کوي، به د خلکو سره دا ډول چلند وکړي." یو افغان ځواب ویونکي وویل چې کله افغان ځواکونه د روسانو پر ضد جنګېدل نو امریکا یې مرسته کوله خو له یوولسم سپټمبر وروسته یې په همدې خلکو راکېښوده. هغه اوس د امریکایي تولیداتو نه مقاطعه کړې، او وې ویل، "دا د انسانیت او نړۍ لپاره ډېره ښه ده چې د تروورزم او بدو خلکو نه ځان خلاص کړي. خو زما په فکر د جنګ جګړو، سړکونو او ښوونځیو ورانولو، زمونږ د ماشومانو او فامیلونو د وژلو په ځای تروریزم ته د ماتې ورکولو نورې لارې شته." نورو هم دا ډول سخت نظرونه لرل، خو بیا یې ومنله چې غواړي خپلې اندېښنې په امنناکه توګه وښیي. یو تن وویل سره د دې چې په امریکایي قېد کې ورسره بد چلند شوی، بیا هم: "زه د کوم برید پلان نلرم.... زه پوهېږم چې په امریکا کې تاسې اداري او محکمې هم لرئ او تاسې یو قانوني سیستم لرئ چې ښه کار کوي، او زما خوښه دا ده چې د همدغې لارې خپله ستونځه حل کړم او د معاوضې دعوه وکړم."

ګڼ شمېر ځواب ویونکو غوښتل امریکایانو ته باور ورکړي چې د هغوی خلاف په زړه کې کومه بده جذبه نلري. دوو تنو په ځانګړې توګه وویل د هغو امریکایانو مننه کول غواړي چې په ګوانتانامو کې د امریکا د تګلارو خلاف یې احتجاجونه کړي دي. یو پخواني قېدي، چې د امریکا په اړه یې نظر نه دی بدل شوی، په ګوانتانامو کې د ساتونکو سره د خپلو صادقانه مکالمو یادونه وکړه. هغه

وویل: "هغوی په دې د پوهېدو کوښښ کاوه چې زه ولې هلته وم او د څه لپاره راوړل شوی وم. او څنګه چې هغوی زما په اړه د پوهېدلو کوښښ کاوه، همدغسې ما هم د هغوی په اړه د پوهېدلو کوښښ کاوه." په پایله کې، هغه وایي چې، "زه پوه شوم چې وضعه ډېره زیاته پېچلې ده، او مسوولیتونه دواړو خواوو ته شته." نورو صرف دا غوښتل چې امریکایي ولس د دوی بې ګناهي ومني. یو ځواب ویونکي دا خبره داسې وکړه: "زه هغوی ته ویل غواړم چې زه هغسې وحشي ځناور نه یم څنګ چې ورته زما په اړه ویل کېږي."

نورو ځواب ویونکو ګونګ غوندې تنقید وکړ، هغوی په دې عقیده وو چې امریکایي ولس ته ناسم معلومات ورکول کېږي او د حکومت غلطې پالیسۍ نه شي سمولی. ګڼ شمېر کسانو د دې نظر څرګندونه وکړه چې ګوانتانامو د امریکا شهرت د یوې سترې دموکراسۍ په توګه خراب کړی دی. نهو ځواب ویونکو وویل چې د امریکا د خلکو او سیاسي مشرانو ترمنځ توپیر کوي او زیاته یې کړه چې یواځې امریکایي چارواکو ته په قهر دي. د یو په وینا، "اوس به هم زه خوښ شم که امریکا ته لاړ شم.... زه د امریکا د خلکو خلاف هیڅ نلرم، هیڅ نه.... هېواد ما سره هیڅ بد نه دي کړي. افرادو کړي دي. نو سړی ټول ملک ته خو بد نشي ویلای."

د دفاع محکمې ادعا کړې چې (د څه دپاسه ۵۰۰ نه) شاوخوا ۳۷ پخواني قېدیان بېرته د "جنګ مېدان" ته ستانه شوي دي، دا د تکرارِ جرم د کچ شپږ فیصده ده.[39] دا شمېر ډېر زیات متنازعه دی. د حکومت لخوا ورکړای شویو

معلوماتو کفایت نه کاوه چې په خپلواکه توگه د دې پېښو تصدیق وکړي او نقادان وایي چې حکومت په دې لیست کې "هغه کسان هم شامل کړي دي چې په ولس کې یې د امریکا خلاف بیانونه ورکړي دي،" لکه "Tipton 3" (پخواني برتانوي قېدیان چې تجربې یې "د گوانتانامو ته لار" په نامه یو فیلم کې انځور شوې دي)، او د "یوگر" ډلوال چې نړیوالو رسنیو سره یې مرکې کړې دي او په خلاف یې بل هیڅ ثبوت ندی وړاندې کړای شوی.[40] په داسې حال کې چې د پخوانیو قېدیانو یو شمېر خپرې شوې مرکې ښیي چې گوانتانامو کې د قېد پر مهال هغوی سخت دریځي شوي دي،[41] خو زمونږ د څېړنې په ځوابونکو کې هیچا هم دا ډول نظر څرگندونه ونکړه.

## د پاتې قېدیانو برخلیک

د هغو قېدیانو سره به څه کېږي چې اوس هم په گوانتانامو کې دي؟ تقریباً نیمو د هغو کسانو (د ۲۹ نه دیارلسو) نه چې دې پوښتنې ته یې ځواب ووایه چې پاتې قېدیانو باندې تورونه دې ثابت کړای شي او محاکمه دې شي او، که کوم ثبوت نه وي، نو باید چې خوشې کړای شي. یو یې داسې وویل، "زه فکر کوم چې متحده ایالات دې د خپل قانون او این سره سم لاړ شي. که دا قېدیان گناهگار وي نو محاکمه یې کړئ، د څو کاله یا ټول ژوند یا هر څه چې وي د زندان سزا ورکړئ. او که نه وي، که بې گناه وي، نو پکار ده چې خوشې شي." یو څو ځواب ویونکو وویل چې د

پاتې قېدیانو محاکمه دې په کومه نړیواله محکمه کې وشي ځکه چې هغوی فکر کوي چې د امریکا په محکمو باور نشته.

په داسې حال کې چې ځینو ځواب ویونکو فکر کاوه چې په ګوانتانامو کې پاتې قېدیان بې ګناه دي او خوشې دې شي، نورو یواځې د خپلو هېوادونو د اتباعو په اړه خبرې وکړې. یو تن داسې وضاحت وکړ: "زه افغاني قېدیان پوره پېژنم ځکه چې زه استاد وم، او هغوی [په ګوانتانامو کې] زما شاګردان وو. زیاتره د هغوی نه د شخصي شخړو پر بنسټ نیول شوي دي." یو شمېر ځواب ویونکو وویل چې کوم قېدیان اوس هم په ګوانتانامو کې دي هغوی باید د خپلو وطني حکومتونو لخوا محاکمه شي. یو وویل، "په ګوانتانامو کې [قېدیان] ساتل بې انصافي او غلط کار دی. هغوی باید په هر صورت هلته نه وای، په تېره چې په قانوني لحاظ دا نه ده ثابته شوې چې هغوی کوم جرم کړی دی."

## انعکاس

د جودیت هیرمان له مخې، د هغې صدمې نه چې په قېد کې چا ته رسېدلې وي رغېدنه عموماً په څو پړاوونو کې کېږي: لومړی د تحفظ سوچ جوړېږي، بیا یاد او غم، او په پای کې عام ژوند سره تړاو پېدا کېږي. د دې پړاوونو پرمختګ تل په همدې کرښو نه وي او د یو شمېر حقایقو د اثر لاندې وي.

یو څو تنو، چې زیات یې ځوانان وو، د امریکا په قېد کې د خپلو کلونو پر مهال د غوصې یا ترخې لهجې څرګندونه

وکړه. ګوانتانامو د دوی لپاره د بلوغت یوه توره تجربه وه چې دوی ته یې د طاقت د غلط استعمال یوه بشپړه منظره وړاندې کړه. یو ځوان تن وویل، "زه په ګوانتانامو کې پاتې شوی یم ځکه ما ته پته ده.... د هغه تشدد چې امریکایانو کړی." هغه وویل غوښتل یې چې تېر وخت هېر کړي، خو داسې یې ونکړای شول: "زه په ګوانتانامو کې یواځې دوه کاله بندي وم. زه په ۲۳ کلنۍ کې د ګوانتانامو نه ووتلم. خو دې زه د ټول عمر لپاره په غم کې اچولی یم."

زیاتو پخوانیو قېدیانو په ګوانتانامو کې د خپل وخت او چې دغه وخت څنګه د دوی اوسنی وخت اغېزمن کړی، که قهرېدلی نه و نو یو تت انځور ترسیم کړ. یو وویل، "هغه څه چې ما سره وشول زما د ژوند تر ټولو بدتر یادښت دی." یو بل، چې هغه وخت یې یاداوه، وویل چې په ګوانتانامو کې یې د انسان په توګه د ژوند ظرفیت له لاسه ورکړی و. نورو په امریکایي قېد کې خپل وخت د یو تور خوب په توګه یاد کړ. یو پکې وویل، "کله چې ما ته ګوانتانامو رایاده شي نو داسې احساس راته کېږي لکه اوس چې د قبر نه راپاڅېدلی یم."

ځینو په قېد کې د صبر د ګټې د یادولو خبره وکړه. لکه یو داسې وویل: "مونږ زده کړل چې څنګه سم صبر وکړو او دا هغه څه دي چې ما یې مخکې ته نه لرله." یو بل وویل، "هغه ټول وختونه چې مونږ به پوره خوراک نه درلود، هغه کنګل کوونکی یخ ټمپرېچر، او میاشتې میاشتې بې لمبلو. هغه ټول شیان چې مونږ یې هلته تجربه کړې، اوس چې زه

ورته بېرته فکر کوم نو اصلاً خپل صبر ته حېرانېږم." او یو بل وویل: "الله زما په ژوند کې دغه وخت راوستی و. زه [د دې لپاره] په هیڅ بد نه وایم." نورو د خپلې دې ارزو څرګندونه وکړه چې تېر وخت ه‌ېر کړي او خپل ژوند په وړاندې بوځي. لکه یو داسې وویل: "ګوانتانامو یو غټ بد خوب و. اوس بس زه غواړم چې دغه پاڼه بنده کړم او د خپل فامیل او بچو سره یوه نوې پاڼه پرانیزم." خو یو بل پخواني قېدي په سادګۍ سره وویل چې د ګوانتانامو باب لا ختم نه دی: "زه اوس هم د خپل ژوند د لارې لټون کوم."

هرمان لیکي چې د صدمې نه راوتلي لږ شمېر خلک د رغېدنې په اخري پړاو کې ښايي په ټولنیزو فعالیتونو کې برخه واخلي څو د تېر وخت تکلیفونو ته یو څه مانا او ارزښت ورکړي. ګوانتانامو کې د خپل وخت د انعکاس پر مهال، یو شمېر پخوانیو قېدیانو نظر ورکړ چې دغې تجربې ورته د تصمیم او هوډمنتیا احساس ورکړی دی. یو شمېر پخوانیو قېدیانو ګوانتانامو د دې هوډ سره پرېښې وه چې د نړۍ په هر ګوټ کې به د بې انصافه قېد او چلند خلاف غږ پورته کوي. ځینو نورو وویل چې د هغو سختیو له امله چې دوی زغملې وې لا زیات اصول خوښي شول. یو تن وویل، "زه چې اوس څه یم داسې به نه وم. او ما به د نړۍ هیڅ پروا نه کوله.... او تر څه حده دې لپاره زه د امریکا مننه کوم."

خو د یو څو تنو مثبت احساسات د ناهیلۍ او بې یقینۍ په هغو جذباتو پرده نشي اچولای چې ګڼ شمېر هغه قېدیان

يې لري كومو سره چې مونږ مركې كړې دي. ځينې په داسې حال كې كورونو ته ورسېدل چې فاميلونو يې په غياب كې د هغوى له مرستې پرته بد وخت ليدلى و. فاميلي شتمنۍ كمې شوې او يا هم بېخي له لاسه وتلې وې. د كلونو جلاوالي د فاميل بېرته يو ځاى كېدل مشكل كړي وو. ډېرو ويل چې "د ګوانتانامو داغ" يې د مناسب روزګار د موندلو په لار كې خنډ دى. ځينو كوښښ كړى و چې خپل ژوند مخ په وړاندې بوځي خو په امريكايي قېد كې د تشدد بوږنوونكو يادونو رنځ وراړولى و. كه ټولو سره نه و، نو زياتو سره دا احساس و چې د ګوانتانامو ورثه لا هم پاتې ده.

## شپږم باب: پایلې او سپارښتنې

### پایلې

زمونږ څېړنه د بوش د ادارې لخوا په جوړ شوي هغه سیستم کې سخت درزونه رابرسېره کوي چې د طالبانو او القاعده د شکمنو غړیو چې د ۲۰۰۱ د یوولسم سپتمبر څخه وروسته په امریکایي بند کې ساتل شوي دي د نیولو، بندي کولو، پلټنو او خوشې کولو لپاره يې جوړ کړی دی. د دې د دېرو ناوړه اړخونو څخه یو د ۲۰۰۱ د سپتمبر څخه د ۲۰۰۳ د اپرېل پورې په لوړ کچ د فرمانونو د هغې لړۍ صادرول وو چې پکې "د پلټنې د پراخو تخنیکونو" د استعمال اجازه ورکړل شوې وه.[1] د پلټنو په داسې دېرو طریقو – که هغه په شخصي توګه استعمال شوي او که په اوږد وخت کې یو ځای استعمال شوي – کې ښکاري چې د تشدد او یا د نورو ظالمانه، غېر انساني او تحقیري چلند په اړه د نړیوالو او کورنیو ممانعتونو خلاف ورزي شوې ده. "د مټو د رانغښتلو" د سوچ[2] په خپلولو سره د متحده ایالاتو لوړوپوړو ملکي او نظامي مشرانو د افغانستان، ګوانتانامو ټاپو او نورو ځایونو په امریکایي زندانونو کې بندیانو سره د چلند داسې لارې جوړې کړې چې محکې يې مثال نه درلود. دې ازادانه ماحول امنیت ساتونکو او تحقیقکارانو ته اجازه ورکړه – که داډ يې نه وي ورکړی – چې بندیان سپک کړي، او په ځینو قضیو کې، تشدد پرې وکړي.[3] په مجموع کې دې تجربې د پخوانیو بندیانو – چې حکومتي چارواکي وايي دېر يې په غلطۍ سره بندیان شوي ول – په ژوند ژور اغېز وکړ. د بند د داغ د لګېدو له امله، د دې بندیانو یو غټ شمېر د کارونو په

موندلو کې د ستونځو سره مخ دي، او د ځینو په اړه ویل کیږي چې د ذهني او اروايي تشدد نښې پرې اوس هم پاتې دي.

زمونږ څیړنه د هغه طریقه کار په اړه ناکراره کوونکې پوښتنې راپورته کوي په کوم چې امریکایي پوځ د القاعده او طالبانو جنګیالي او ظاهراً د هغوی پلویان نیولي او پلټلي دي. په ځانګړې توګه، د امریکا د حکومت لخوا نغدو انعامونو په افغانستان او نورو ځایونو کې د نیولو یو داسې نامشخص او نامحتاط جال خور کړ چې له امله يې په زرګونو خلك ونیول شول، چې ډېر پکې ښکاري د القاعده او طالبانو سره يې هیڅ اړیکې نه لرلې او د امریکا امنیت ته هیڅ خطر نه وو.

یو ځل چې امریکایي قېد ته دننه شول، نو د بندیانو د پلټنو طریقه کار د جنګیالیو څخه د ملکي خلکو په جلا کولو کې پاتې راغی. په ځای د دې چې د بندیانو د جنګي حېثیت د معلومولو لپاره د مېدان جنګ هغه سماعت شوی وای چې ژنیوا معاهدو اجازه ورکړې وه،[4] ولسمشر بوش دا یوطرفه پرېکړه وکړه چې د "ترهګری په وړاندې جنګ" کې نیول شوي ټول بندیان "قانون ضد دښمن جنګیالي" دي او تر نامعلوم وخت پورې په بند کې ساتل کېدای شي.[5] خو اداره د تحفظ په یو داسې بشپړ طریقه کار جوړولو کې ناکامه شوه چې په دغه درجه کې د خلکو د اچولو په اړه په غلطیو کې کمی راولي. بالاخر د القاعده او طالبانو د شکمنو غړیو د نیولو شوق ته د هغه احتیاط او تحقیق څخه زیاته ترجیح ورکړای شوه چې په دقیقه توګه د دې خبرې د معلومولو لپاره ضروري و چې د چا بندي کول پکار دي او د چا نه.

لا وختي په سپتمبر ۲۰۰۲ کې، لوړپوړي امریکايي چارواکي په پوځي او استخباراتي کړیو کې دننه د دې اندېښنې څخه خبر وو چې ایا کوم کسان د ګوانتانامو ټاپو په امریکايي بحري مرکز کې نیول شوي وو په هغوی کې اصلاً څومره د القاعده او طالبانو خطرناک جنګیالي وو. د امریکا د استخباراتو د مرکزي ادارې (سي ایي ای) یو مشر تجزیه نګار چې د منځني ختيځ ډېرې تجربې لري د ۲۰۰۲ په دوبي کې د دغه مرکز د بندیانو په اړه معلومات وکړل او په یو ډېر پټ راپور کې يې ولیکل چې د دوی تقریباً دریمه برخه - یانې هغه مهال د شپږو سوو بندیانو څخه دوه سوو - د تروریزم سره هیڅ اړیکې نلرلې.[6] هغه وویل چې ډېر د دوی نه "د راښکلو په جال کې نیول شوي وو. دوی جنګیالي نه وو، دوی جهاد نه کاوه. دوی دغلته نه وو پکار."[7] د ګوانتانامو قوماندان، برید جنرال ډونلاوي، د هغه سره اتفاق وکړ او وروسته يې اندازه ولګوله چې په کمپ کې ساتل شوي نیم خلک په غلطۍ سره نیول شوي وو.[8] د تحقیق د مرکزي ادارې (اېف بي ایي) د ترهګرۍ ضد یو ماهر تر دې هم وړاندې لاړ او د ملي امنیت د شورا کمېټې ته يې وویل چې یواځې شاوخوا پنځوس بندیان داسې دي چې په ګوانتامو کې د ساتلو وړ دي.[9]

د ناسمې پېژندګلو نتایج خراب وو. بندیان په ګوانتانامو کې د کلونو کلونو بند سره مخ شول او هیڅ داسې مناسبه موقع يې نه لرله چې وښيي په غلطه نیول شوي دي. په جون ۲۰۰۸ کې، تر اتو کالو زیات وروسته له هغې چې لومړنی بندي ګوانتانامو ته ورسېد، سترې محکمې د *بومېډیان په مقابله د بوش* قضیه کې پرېکړه وکړه چې کوم بندیان هلته نیول شوي دي هغه د امریکا محکمو ته د لاسرسي حق لري څو د دوی د پرله پسې قېد قانوني

بنسټ وکتل شي، خو تر دې تاريخه پورې د بنديانو په موجودګۍ کې کومه اورېدنه نه ده شوې.[10]

په اکتوبر ۲۰۰۸ کې د ترلاسه شويو معلوماتو سره سم، د دفاع محکمه وايي چې شاوخوا ۲۵۵ قېديان په ګوانتانامو کې پاتې دي.[11] په همدې توګه، تر ۵۲۰ تنو زيات بنديان د کمپ نه خوشې شوي دي او شاوخوا ٦۰ بنديان اوس هم په داسې حال کې بند ساتل شوي دي چې د پوځي حېثيت ادارو يې د خوشې کولو سپارښتنه کړې ده.[12] د ۷۷۰ نه زياتو هغو کسانو چې په ګوانتانامو کې د څه وخت لپاره بنديان شوي دي، د امريکا حکومت پکې تر اکتوبر ۲۰۰۸ پورې يواځې درويشت تنه په جنګي جرمونو تورن کړي دي.[13] دا اعداد و شمار د يوې بشپړې پلټنې غوښتنه کوي چې معلومه کړي څنګه او ولې امريکا دومره زيات خلک د دومره اوږد وخت لپاره د کوم مناسب قانوني تحفظ نه بغېر ساتلي دي.

زمونږ څرنګيز معلومات او نورې سرچينې ښيي چې زيات شمېر هغه بنديان چې د افغانستان د باګرام او کندهار په امريکايي زندانونو کې ساتل شوي دي په پرله پسې توګه يې جسماني زياتی، محروميت، سپکاوی او بد حالت ليدلی دی. هغه شرايط چې بنديان پکې نيول شوي وو، او همدارنګه په دې بنديخانو کې ورسره شوی چلند، بنديانو سره د بشري چلند د نړيوالو لارښودنو سره په ټکر کې و، د سرِعام بربنډتيا په خلاف د بنسټيزو کولتوري او مذهبي ممانعتونو خلاف و، په ديني افعالو کې مداخله وه، او يوه داسې فضا يې منځ ته راوړله چې جسماني او اروايي ناکراري او بې چيني يې تر اخري درجې ورسوله. په ځانګړې توګه هغو بنديانو چې په باګرام کې ساتل

شوي وو، وويل د وهل کېدو، سختو حالتونو، لاسونو نه د اوږد وخت لپاره د زوړندولو، د خوب نه د محرومولو، تهديد، او د سپو په واسطه د ترورولو په ګډون تېري وربانديې شوي دي.

په ګوانتانامو کې پوځي قوماندانانو په ښکاره د کمپ اداره او طريقه کار د پلټنې تر ترجيح لاندې راوستل او په دې توګه يې په بندو بلاکونو کې د نګرانۍ او مداخلې يو داسې روان ماحول پېدا کړ چې بنديان پکې تحقيرېدل. د دې لپاره په لار اچول شوی خيال دا و چې د کمپ شرايط بايد د بنديانو دفاعي قوت کمزوری کړي او تحقيق کوونکي په دې وتوانوي چې دوی په اروايي توګه مات کړي. بې شکه، د کمپ د سيستم هره برخه - د پېژندګلو د لمبرونو له استعمال څخه تر ځانله بند پورې - داسې جوړه شوې وه چې د کمپ د تحقيق کوونکو واک او ځواک زيات کړي او د بنديانو د يواځې والي، بې وسۍ او ناکرارۍ احساس ته وده ورکړي.

د کمپ طريقه کار داسې جوړ شوی و چې د تحقيق کوونکو د کار ملاتړ وکړي؛ خو د قېديانو او د کمپ د کارکوونکو ترمنځ شخړو او مخالفت ته يې هم لمن وهله. کله چې د بنديانو خپلواکي او کنټرول تر دومره زيات حده کم کړای شو، نو يوه د هغو څو لارو نه چې دوی پکې د دغو شرايطو خلاف احتجاج کولای شو، شريک مقاومت و. هغو کسانو چې مرکې ورسره شوي وويل دوی په ځانګړې توګه هغه وخت سپکاوی او خپګان احساساوه چې کله به ساتونکو قران شريف غلط ونيو، يا به ترې پرېوت او يا به يې په ځمکه ګوزار کړ. داسې پېښو اکثر د نه خوړو د اعتصاب په ګډون اجتماعي مقاومت راپاراوه. د بنديانو مقاومت اکثر دکمپ د کارکوونکو لخوا د عکس العمل سره مخ کېده، دې کار

بندیان نور راپارول، داسې یوه ناوړه لړۍ پېل کېده چې نتیجه یې د ساتونکو لخوا د جسماني زور څخه کار اخیستل او د بندیانو ځانله ساتل راوتله.

د ګوانتانامو بندیان، چې د خپل بند د قانونیت د چېلنج کولو کومه اغېزمنه لاره یې نه لرله، د خپل برخلیك بې یقینۍ، چې اکثر د تحقیق کوونکو په وجه پېدا کېدله، راخیستي وو. د جنورۍ ۲۰۰۲ څخه تر جون ۲۰۰٤ پورې، د ګوانتانامو بندیانو محکمو یا قانونپوهانو ته لاسرسی نه لارۀ. په دې کې په ۲۰۰٤ کال کې د *رسول په مقابله د بوش* قضیه کې د سترې محکمې د پرېکړې، چې د بندیانو مرکزي محکمو ته د لاسرسي د اجازې غوښتنه یې وکړه تر څو په خپله د حاضرېدو په واسطه د خپل بند قانونیت چېلنج کړي، وروسته هم څه ماناخیز بدلون رانغی.[14]

پر دې برسېره، هغه تګلارې چې د *رسول* د قضیې د پرېکړې پر مهال جوړې شوې چې معلومه دې کړای شي چې بندیان "دښمن جنګیالي" دي که نه او لدې وروسته د اوږد وخت لپاره بندي پاتې کېدای شي، هم بې اغېزې او په بنسټیزه توګه له غلطیو ډکې وې. دېرو کسانو چې مرکې ورسره شوي وویل دوی د جنګیالیو د حېثیت د معلومولو عدالتونه او د انتظامي کتنې کلیزې اداري نه پېژني. نور یواځې په دې ښه پوهېدل چې دې تګلارو دوی ته کومه مناسبه موقع په لاس نه وه ورکړې چې د خپلې بې ګناهۍ ادعا ثابته کړي. بندیانو څارنوال ته لاسرسی نه درلود، د ګواهانو د ترلاسه کولو توان ورسره نه و، او په عمومي توګه هغو شواهدو ته د لاسرسي اجازه نه ورکول کېده چې

د دوی خلاف وو، نو د قانون د حاکمیت نه په اغېزمنه توگه بهر وساتل شول.

پخوانیو بندیانو په مرکو کې د "چټي"، "اندېښمن"، "بې وسه" او "ناهیلي" توري د دې لپاره استعمال کړل چې په گوانتانامو کې د قېد پر مهال خپل احساسات منعکس کړي. څرنگه چې میاشتې په کلونو واوختلې، نو د اوږدمهاله بند، د ماحول سره د تړلو فشارونو، او د تشدد د نورو شکلونو اجتماعي اغېز په ډېرو بندیانو باندې په اروایي توگه د فشار راوستل پېل کړل. د سرۀ صلیب نړیوالې کمېټې د گوانتانامو د بندیانو په اروایي روغتیا باندې د بند خطرناکو اغېزو په اړه اندېښنې وښودلې.[15] د بېلگې په توگه، کله چې ایي سي ار سي په جون ۲۰۰٤ کې د گوانتانامو څخه ولیدل، نو لویه اندازه دماغي مرضونه یې په قېدیانو کې بیاموندل چې د اوږدمهاله گوتبندۍ د فشار له امله پېدا شوي وو.[16] د دې تر څنگ، د ځانوژنې د هڅو هغه شمېره چې د دې څېړنې لپاره مرکه شویو پخوانیو بندیانو بیان کړې او لیدلې، د غور وړ ده.

د هغو ٥٥ تنو څخه چې په گوانتانامو کې د پلټنو په مجلسونو یې خبرې وکړې د څېړنې تر نیمو زیاتو ځوابوونکو (۳۱ تنو) ورته "تذلیل" وویلو او پاتې نورو (۲٤ تنو) وویل چې دوی د کومې ستونځې سره ندي مخ شوي. په زنځیرونو د کلک تړلو، سختو حالتونو کې د ساتلو، د اوږد وخت لپاره د ځانله کولو، او د اوږد وخت لپاره په سخت یخ کې د ساتلو په گډون هغه تشدد چې دې بندیانو بیان کړی کوم چې بالاخر خوشې شول – زیاتره یو شان دی. په ځینو مواقعو کې، دا تاکتیکونه د ډېري

تېزې موسيقۍ او په تېزۍ سره د بلېدونکې او مړې کېدونکې رڼا په ګډون دا ډول حساس تېري سره يو ځاى استعمالېدل.

د کمپ مسوولينو کوښښ وکړ چې په ګوانتانامو کې د پلټنې په پروسه کې طبي عمله ورګډه کړي، دې کار د امريکن مېډيکل ايسوسي ايشن او د امريکن سايکاټريک ايسوسي ايشن دواړه اداري په ۲۰۰٦ کې داسې بيانونو ورکولو ته اړ ايستلې چې خپل غړي يې په پلټنو کې د برخې اخيستلو څخه منع کړل.[17] په سپتمبر ۲۰۰۸ کې، امريکن سايکالوجيکل ايسوسي ايشن په ګوانتانامو او يا هغو تش په نوم تورو ځايونو کې چې سي ايي اى چلول د اروا پوهانو د بنديانو څخه د پلټنو يا مشورو کولو نه د منع کولو لپاره رايه ورکړه.[18] د دغه مرکز پخوانيو طبي کارکوونکو ويلي دي چې د دوه زره درېم کال پر مهال (او ښايي وروسته هم) تحقيق کوونکو د بنديانو طبي ريکارډ ته لاسرسى لارۀ او څه چې معلومول هغه يې بنديانو نه د معلوماتو د رايستلو لپاره استعمالول. پر دې برسېره، د ۲۰۰۲ د پاى څخه راوروسته، پوځي اروا پوهانو او د اروايي ناروغيو کارپوهانو چې د بيهوريل ساينس کنسلټېشن (بي ايس سي) ټيمونو سره يې کار کاوه په ګوانتانامو کې د پلټنې د تګلارو په ټاکلو او پر مخ وړلو کې فعال رول ترسره کړى دى.[19]

په ګوانتانامو کې د پلټنو معيارونه او تګلارې د وخت سره بدلې شوې، خو معلومات ښيي چې ځينې اقدامات په هغه ټوله موده کې فعال پاتې شول چې د دې څېړنې لپاره مرکه شوي کسان هلته وو (د جنوري ۲۰۰۲ څخه تر جنوري ۲۰۰۷ پورې). په داسې حال کې چې په ګوانتانامو کې د پلټنو د مشخص تخنيک د رابرسېره کولو په اړه نور کار ته اړتيا شته، داسې ښکاري ډېرې هغه

طریقې چې بندیانو ترې په سختۍ سره شکایت کاوه - په ځو کوټو کې په زنځیرونو کلک تړل کېدل، د اوږدمهاله ځانله بند سره یو ځای - د امریکا د پوځي پلټنو د هغو لارښودنو له مخې ورته اجازه ورکړای شوې وه چې د اپریل ۲۰۰۳ څخه تر سپتمبر ۲۰۰٦ پورې نافذ وې.[20] دا اقدامات د ۱۹٤۹ د ژنیوا د هغو معاهدو سره په ټکر کې وو چې متحده ایالاتو په ۱۹۵۵ کې منلې وې. خو ولسمشر بوش دا ممانعتونه په جنوري ۲۰۰۲ کې هغه مهال یوې خوا ته کړل چې هغه وګڼل چې د ژنیوا دریمه معاهده، چې د جنګي بندیانو سره د چلند په اړه د ژنیوا د تړون په نامه هم پېژندل کېږي، د طالبانو او القاعده په هغو شکمنو غړیو نه تطبیقېږي کوم چې په افغانستان کې نیول شوي دي.[21]

تر دې تاریخ پورې د کمپ د کارکوونکو او همدارنګه د چارواکو د هغه رول د معلومولو په اړه چې د ملکي او نظامي قوماندې په کړیو کې یې په ګوانتانامو کې د پلټنې د تخنیکونو د تطبیق او جوړولو په اړه لوبولی دی، هیڅ خپلواک او بشپړ تحقیق ندی شوی. تراوسه پورې کوم ښکاره تحقیق دا ندي ویلي چې ایا دغه چارواکي دې د هغو جنایتونو، چې ښایي دوی یا د دوی لاندې کسانو ترسره کړي، مسوول وبلل شي او که نه.

زیات شمېر هغو کسانو چې مرکې ورسره شوي وویل چې له ګوانتانامو تر خوشې کېدو او خپل اصلي وطن یا بل هېواد ته له رسېدو وروسته دوی د ګڼ شمېر ستونځو سره مخ شول. یواځې د ګوتو په شمېر پخوانیو بندیانو وویل چې دوی مناسبه یا اغېزمنه مرسته ترلاسه کړې ده. دوی ګوانتانامو په داسې حال کې پرېښوده چې د "ګناه د تور" په کفن کې انغښتي او د "بدو نه د بدتر" ټاپه پرې لګېدلې وه، خصوصاً دا چې د دوی ګناه

يا بې ګناهي د کومې قانوني محکمې لخوا نه وه ثابت شوې. ځينو ځواب ورکوونکو دې حالت ته د "ګوانتانامو داغ" په ويلو سره اشاره وکړه او وې ويل چې د نوکرۍ د موندلو او په خپلو ټولنو کې بېرته د ځان ځای کولو په چارو کې دې داغ د دوی ستونځې نورې پسې زياتې کړې دي. وطن ته په رسېدو بنديانو ته معلومه شوه چې د دوی کورنيو خپلې شتمنۍ له لاسه ورکړې دي او لوي پور پرې اوښتی دی. ځينې پکې د لويدلي جسماني او ذهني صحت سره وطن ته ستانه شول، او د بيا رغېدنې خدماتو وس يا ورته د لاسرسي توان يې نه و. تر دې دمه متحده ايالاتو د ګوانتانامو د يو بندي د قېد او ورسره د شوي چلند په اړه هم خپلې غلطۍ او ناسم اقدامات په رسمي توګه ندي منلي. يو پخواني قېدي ته هم د دغه بند له امله د رسېدلي نقصان او زيان معاوضه نه ده ورکړای شوې.

## سپارښتنې

دا راپور د هغو پخوانيو بنديانو نړۍ ته لومړنۍ سيستماتيکه کتنه ده چې په افغانستان او ګوانتانامو ټاپو کې د امريکا په بند کې ساتل شوي وو.[22] خو دا يواځې يوه کتنه ده، البته ناکراره کوونکې کتنه. د معلومولو لپاره نور هم ډېر څه شته، او زمونږ هيله دا ده چې په دې پسې به نورې پلټنې او څېړنې د رسمي راز د هغه کفن د اخوا کولو د مقصد سره وشي چې د ولس د بشپړې څارنې څخه يې هغه څه پټ کړي چې په ګوانتانامو او نورو بنديخانو کې ترسره کېدل.

د لومړي گام په توګه، مونږ د يو خپلواک، بې طرفه کميسيون د جوړولو سپارښتنه کوو چې پلټنه وکړي او په عوامي کچ په هغه بند او هغو بنديانو سره په شوي چلند خبره وکړي چې د ۲۰۰۱ د سپتمبر د يوولسمې د بريدونو څخه وروسته په افغانستان، عراق، ګوانتانامو ټاپو او نورو ځايونو کې ساتل شوي دي. کميسيون سره دې دومره پراخ اختيار وي چې په دې اړه هم پلټنه وکړي چې څنګه دې بنديخانو د پخوانيو بنديانو خپلو وطنونو او نورو هېوادونو ته بېرته تګ او پکې شاملېدل اغېزمن کړي دي.

دا کميسيون بايد د لوړ استعداد لرونکيو شخصيتونو څخه جوړ شي، چې د هغوی شرافت، اعتبار او خپلواکي معلومه وي. د کميسيون په غړو کې بايد د امريکا د پوځ پخواني غړي او د امريکا د ايني او پوځي قانون، د نړيوال بشري او د بشري حقوقو د قانون، د عامې روغتيا، ارواپوهنې او طب ماهرين شامل وي. د دې لپاره چې د غړو استعداد يې نور هم ښه وي، دا کميسيون بايد په کاري ډلو باندې وويشل شي چې په جلا جلا موضوعاتو تمرکز وکړي.

کميسيون بايد د ګواهانو د راغونډلو واک او د هغو بنديانو د نيولو، قېد، پلټنې او خوشې کولو، چې د امريکا په بند کې ساتل شوي دي، په اړه پټو موادو ته لاسرسی ولري. کميسيون ته بايد مناسبه بودجه او ماهر کارکوونکي ورکړل شي چې خپل کار په ښه طريقه وکړي. د کميسيون غړي او کارکوونکي بايد خپل کار په تېزۍ سره وکړي څو ضروري امنيتي تصفيې او ټولو اړوندو موادو ته لاسرسی ترلاسه کړي. او تر ټولو مهمه خبره، کميسيون بايد دا واک ولري چې د ملکي او

پوځي قوماندې په هره کچه د هغو تورنو کسانو په اړه د جنايي پلټنو سپارښتنې وکړي کوم چې د دې تشدد عاملين دي او يا يې د دې د ترسره کېدو اجازه ورکړې ده. د دې کميسيون کار دې په تشدد کې د ککړو کسانو داحتساب نه د ساتلو لپاره هغوی ته د بخښنو، معافيانو او نورو داسې اقداماتو په کولو کمزوری نه کړای شي.

د کميسيون په واک کې دې په لاندې برخو کې تحقيق کول شامل وي - خو دې پورې دې محدود نه وي:

- **نيول او پلټل.** د شکمنو "قانون ضد دښمن جنګياليو" د پلټلو لپاره څه تګلارې استعمال شوي او ايا دا قانوني، مناسب او اغېزمنې وې؟ که نه وې، نو د شکمنو دښمن جنګياليو د پلټلو صحيح طريقه کار څه پکار دی؟ ايا امريکايي پوځ داسې کسان نيولي او ګوانتانامو ته وړي دي چې د القاعده او طالبانو سره يې اړيکې نلرلې يا په بله مانا د امريکا امنيت ته هيڅ خطر نه وو؟ ايا مالي انعامونو د داسې خلکو په نيولو او پلټلو کې لاس لرۀ چې پکار ده امريکا هيڅکله نه وای بنديان کړي؟ د ژنيوا د معاهدو د نه تطبيقولو پرېکړې د بنديانو نيول او پلټل څرنګه اغېزمن کړل؟
- **د قېد شرايط او چلند.** ايا په افغانستان او ګوانتانامو کې د امريکايي بنديځانو شرايط د چلند د بشري معيارونو سره برابر دي؟ ايا د ژنيوا معاهدو د نه تطبيقولو پرېکړې د بنديانو د بند شرايط اغېزمن کړي؟ امريکا د هغې "طلايي قاعدې" د معيار څخه څنګه

واوړېده چې د مېدان جنګ په نظامي نصاب کې ښودل شوی او پکې ویل شوي چې هیڅ یو تحقیق کوونکی دې داسې تخنیکونه نه استعمالوي چې دغه تحقیق کوونکی یې د امریکایي پوځي خلاف استعمالول نه غواړي[23] قېدیانو سره په شوي چلند کې طبي او د اروایي ناروغیو کارپوهانو څه رول لوبولی؟ ایا دوی مسلکي قوانین مات کړي او یا یې د کوم قانون خلاف ورزي کړې ده؟

- **پلټنې.** ایا د امریکا د پلټنې طریقه کار د تشدد، ظالمانه او بشرضد وضعې په ګډون قېدیان د تذلیلوونکي چلند سره مخ کړي دي؟ وروسته له هغې چې ولسمشر بوش د ۲۰۰۱ د سپتمبر په شلمه "د تروریزم په ضد جګړه" اعلان کړه د پلټنې تګلارې او طریقې څرنګه مخ په وړاندې لاړې؟ او د دې تګلارو په جوړولو او تطبیقولو کې د ملکي او نظامي چارواکو رول څه و؟

- **بېرته تګ او رغېدنه.** په هغو چې د ګوانتانامو نه خوشې شوي د مجهول بند اجتماعي اغېز څه و؟ هغه څه پروسه وه چې معلومه کړي چې د یو بندي بهرني حکومت ته سپارل خوندي دي که نه؟ څه حفاظتي اقدامات شوي وو، او ایا کفایت یې کاوه؟ ایا کوم پخواني بندیان چې نورو حکومتونو ته سپارل شوي دي د ظالمانه او بشرضد چلند سره مخ شوي دي؟ پخواني بندیان په خپلو اصلي وطنونو او یا نورو هېوادونو کې په بیا شاملېدو او ځای په ځای کېدو کې څومره بریالي شوي دي؟ دوی د کومو خنډونو سره مخ دي؟ که کوم بېرته تللي کسان امنیت ته خطره پېښوي، نو په دې اړه څه اقدامات شوي او د دوی د

ترلاسه کوونکیو حکومتونو سره څه تړونونه شوي چې دا خطره کمه کړای شي؟ که مناسبه وي، نو کمیسیون دې د (۱) شکمنو دښمن جنګیالیو د نیولو او پلټلو د پروسې د ښه کولو، (۲) د سپکوونکي بند او پلټونکو اقداماتو د مخنیوي، او (۳) د پخوانیو قیدیانو امریکایي قید څخه تر خوشې کېدو وروسته د علاج د نګرانۍ لپاره د اییني اصلاحاتو او نورو اقداماتو سپارښتنه وکړي.

که کمیسیون په دې نتیجه ورسېږي چې د امریکا حکومت د هغو خلکو حقوق پایمال کړي چې د دې په قید کې وو، نو باید د تادیبي اقداماتو سپارښتنه وکړي، په شمول د بخښنې د غوښتلو، د معاوضې ورکولو، او د دغه تن د نوم د بې ګناه اعلانولو لپاره د یوې ښې طریقې د غوره کولو. که کېدلای شي نو کمیسیون باید د قوماندې د کړۍ په هر کچ د هغو خلکو د نور جنایي تحقیق سپارښتنه وکړي چې په جرمونو کې یې لاس لرلی دی.

په داسې حال کې چې یوه نوې امریکایي اداره راتلونکې ده، دا یو ښه وخت دی چې تګلارې وکتلای او سمې کړای شي او، که اړتیا ورته وي، داسې اییني اصلاحات وشي چې دا خبره یقیني کړي چې د امریکا د امنیت تحفظ د امریکایي اقدارو او د امریکا د کورني او نړیوال قانون تر مخه وي.

# ضميمې

ضميمې الف نه تر ث پورې هغه منتخب دستاويزات دي چې د سنا د نظامي خدماتو کمېټې ته د امريکا په قېد کې قېديانو باندې د استعمال شويو جارحانه تحقيقي طريقو په اړه د کمېټې د جون ۲۰۰۸ د ساعت په تړاو ورکړای شوي وو.

# ضميمه الف

## د مقاومت د مقابلې د ستراتيژۍ د غونډې تفصيلات

# ضمیمه ب

## جسماني فشارونه چې د مقاومت په ټرېننګ او د امریکایي قېدیانو او بندیانو خلاف استعمال شوي

## ضمیمه ث

### د جی ټي اېف-۱۷۰ د مقاومت د مقابلې د ستراتیژیو اندازه او د سي ایي ټي اېف په مشن او پرسونل یې مهمې اغېزې

د جنایي تحقیق ځواك (سي ایي ټي اېف) د هغو پوځي پلټونکو د قوماندې د یوې جلا کړی څخه کار کاوه چې په گوانتانامو کې یې ټاکنه شوې وه. دې هم د قېدیانو څخه پلټنې کولې خو تمرکز یې یواځې د قانوني طریقه کار لپاره د معلوماتو په راغونډولو و، نه هغه معلومات چې د اوسنیو خطرو په اړه وو، او قېدیانو څخه د پلټنې د طریقو په اړه یې اندېښنې ښودلې وې.

# ضمیمه د

## قېدیانو سره د چلند په اړه منتخب راپورونه او د رسنیو کیسې

حکومتي راپورونه

د متحده ایالاتو د انصاف محکمه، د جنرال انسپکټر دفتر، په *ګوانتانامو ټاپو، افغانستان او عراق کې د بندیانو په نګرانۍ او پلټنو کې د ایف بي ایي لاس لرنې ته یوه کتنه*، مئ ۲۰۰۸، ["او ایي جي/ډي او جی راپور].

ګډ استخباراتي ځواک - د تروریزم پر ضد جګړه کوونکی، د *دفاع تجزیاتي راپور-تروریزم*، دسمبر ٤، ۲۰۰۷.

ایل ټي سي جوسف فیلټر او جاريټ براچمېن، *سي ټي سي راپور: د ٥١٦ حېثیت معلوموونکو عدالتونو (سي ایس ار ټي) جاج ناخفیه لنډیزونه*، جولای ۲٥، ۲۰۰۷.

د دفاع د محکمې د جنرال انسپکټر دفتر، *قېدیانو سره د تشدد په اړه د دفاع د محکمې په مشرۍ پلټنو ته کتنه*، ۲٥، ۲۰۰٦.

پوځي قاعده ١٥-٦: *اخري راپور، د کیوبا په قېدخانه، ګوانتانامو ټاپو کې بندیانو سره د زور زیاتي په اړه د ایف بي ایي د تورونو تحقیق*، اپرېل ١، ۲۰۰٥، ترمیم شو په جون ۹، ۲۰۰٥.

ايډمرل البرټ ټي. چرچ، دریم، د *دفاع د محکمې نیوونکو عملیاتو او د بندیانو د تحقیق طریقو ته کتنه: بشپړ لنډیز*، مارچ ١١، ۲۰۰٥.

محترم جېمز ار. شلېزینګر او نور، د *دفاع د محکمې د قېد د فعالیتونو د کتلو د خپلواکې ډلې اخري راپور*، تقدیم شوی په اګست ۲٤، ۲۰۰٤.

*د دفاع محکمې د قېد عملیاتو ته د خپلواکې ډلې د کتنې اخري راپور*، اګست ۲۰۰٤.

د پوځ محکمه، *ماده ١٥-٦ د پوځي پولیسو د اته سوم کنډک پلټنه*، مئ ۲، ۲۰۰٤.

کتابونه او خپلواک راپورونه

ایمنسټي انټرنېشنل، د امریکا متحده ایالات، ظالم او غېر انساني: د ګوانتانامو په ټاپو کې د بندیانو د ځانله قېد شرایط، اپریل ٥، ٢٠٠٧، ١٩ (AI Index: AMR 51/051/2007).

ایمنسټي انټرنېشنل، ظالم او غېر انساني، مونږ ټول سپکوي: په "ترهګرۍ ضد جګړه" کې تشدد او ناسم چلند بند کړئ، ٢٠٠٥.

معظم بېګ (د ویکټوریا برېټان په ملګرتیا)، دښمن جنګیالی: په ګوانتانامو، باګرام او کندهار کې زما قېد (نیو یارك: دي نیو پریس، ٢٠٠٦).

مارك پي. ډینبیکس او نور، قاضي سکالیا، د دفاع محکمه، او د یوې مدني افسانې دوام: د ګوانتانامو د خوشې شویو قېدیانو د تکرارِ جرم حقیقت، سیټن هال لا سکول، اګست ٤، ٢٠٠٨.

مارك پي. ډینبیکس او نور، د "مېدان جنګ" مانا: د "مېدان جنګ" د ګرفتارۍ او د ګوانتانامو د قېدیانو د "تکرارِ جرم" په اړه د حکومت د بیانونو جاج، سیټن هال لا سکول، دسمبر ١٠، ٢٠٠٧.

ډینبیکس او نور، په ګوانتانامو کې د لسم جون ځانوژنې: د حکومت اقوال او افعال پرتله شول، سیټن هال لا سکول، ٢٠٠٦.

ډینبیکس او نور، د ګوانتانامو د قېدیانو په اړه راپور: د دفاع د محکمې د معلوماتو په واسطه د ٥١٧ قېدیانو عمودي انځور، سیټن هال لا سکول، ٢٠٠٦.

بیل ګرټز، ماتېدل: څنګه د امریکایي استخباراتو د ناکامۍ له امله د ١١ سپتمبر پېښه وشوه (ډوور، انګلستان: ریجینسي پریس، ٢٠٠٢).

الیکس ګینبي (رئیس)، تیارۀ اړخ ته ورتګ (٢٠٠٦)، ډاکومنټري فیلم (نقل یې د برکلی د کالیفورنیا پوهنتون د بشري حقوقو د مرکز، او د برکلی د کالیفورنیا پوهنتون د نړیوالو حقوقو د قانوني کتنځي سره شته).

کارین جی. ګرینبرګ او جوشوا ایل. ډراټېل، د ظلم فرمانونه: د ابو غریب لاره (کامبرج: کامبرج یونیورسټي پرېس، ٢٠٠٥).

هیومن رایټس فرسټ، حنا شمسي، د قوماندې مسوولیت: په امریکایي قېد کې د بندیانو مړینې، ٢٠٠٦.

هیومن رایټس فرسټ، خپلسری انصاف: په افغانستان کې د باګرام او ګوانتانامو د قېدیانو محاکمې، اپرېل ٢٠٠٨.

هیومن رایټس واچ، په لمبرو: قېدیانو سره د تشدد او احتسابي پروژې پلټنې، اپرېل ٢٠٠٦.

هیومن رایټس واچ، پېرې قېدي: دوه کاله د سي ایي ای په پټه قېدخانه کې، فبروري ٢٠٠٧.

هیومن رایټس واچ، *"د ګوانتانامو ټاپه": د هغو اوو تنو کیسه چې امریکا ته د روس په دیپلوماتي باورونو دوکه شول*، مارچ ۲۰۰۷، ۲۰.
هیومن رایټس واچ، *بدبخته ستنېدونکي: تاوانونو لپاره د تونس د یوې قضیې څېړنه*، سپتمبر ۲۰۰۷.
هیومن رایټس واچ، *ځانله کولپ شوي: په ګوانتانامو کې د قېد شرایط او دماغي روغتیا*، جون ۲۰۰۸.
هیومن رایټس واچ، *امریکا په کابل کې پټ "تور زندان" جوړ کړی*، دسمبر ۱۹، ۲۰۰۸.
د سرهٔ صلیب نړیواله کمېټه، *د قېدیانو څخه لیدل: نتیجې په یوه شیبه کې نه ترلاسه کېږي...*، اګست ۱۳، ۲۰۰٤.
جمیل جعفر او امریت سنګهـ، *د ظلم اداره: د واشنګټن څخه تر ابوغریب او ورهاخوا ډاکومنټري ریکارډ* (نیو یارك: کولمبیا یونیورسټي پرېس، ۲۰۰٦).
لېري سي. جېمز (په ملګرتیا د ګریګوري ای. فریمان)، جوړ شوی دوزخ: *یو پوځي ارواپوه ابو غریب ته مخامخ کېږي* (نیو یارك: ګرانډ سنټرل پبلشنګ، ۲۰۰۸).
مهوېش رخسانه خان، *زما د ګوانتانامو یادښتونه* (نیو یارك: پبلك افیئرز، ۲۰۰۸).
مورات کورناز، *زما د ژوند پنځه کاله، یو بېګناه سړی په ګوانتانامو کې* (نیو یارك: پالګرېو مکلین، ۲۰۰۸).
جېن مایر، *تیارهٔ اړخ: داخلي کیسه چې څنګه د تروریزم په وړاندې جګړه د امریکې د غوره اهدافو پر ضد جګړه بدله شوه* (نیو یارك: ډبل ډې، ۲۰۰۸).
کریس ماکي او ګریګ میلر، *پلټونکي: د ۵۰۰ ځواك او د القاعده خلاف د امریکا پټه جګړه* (نیو یارك: بېك بي بکز، ۲۰۰۵).
سټیون ډي. مایلز، "په عراق او افغانستان کې د جنګي قېدیانو د وژنو طبي تحقیقات"، ترلاسه کېدای شي په [http://pubmedcentral.nih.gov/articlerender.fcgi?artid=1681676](http://pubmedcentral.nih.gov/articlerender.fcgi?artid=1681676).
پروېز مشرف، *د اور په کرښه: یو یادښت* (نیو یارك: فري پریس، ۲۰۰٦).
فزیشنز فار هیومن رایټس، *مات یې کړئ: د امریکایي ځواکونو لخوا د ارواېي تشدد سیستماتیك استعمال*، ۲۰۰۵.
فزیشنز فار هیومن رایټس، *مات شوي قوانین، مات شوی ژوند*، جون ۲۰۰۸.

فیلیف سېنډ، د *تشدد ډله: د رمسفیلډ یادانښت او د امریکایي اقدارو سره دوکه*، (نیو یارك: پالگریو مکمیلین، ۲۰۰۸).
انډي ورتینگټن، د *گوانتانامو دوسیې: د امریکا په غیر قانوني زندان کې د ۷۷٤ قیدیان کیسې* (لندن، فلوټو پریس، ۲۰۰۷).
جېمز یي، د *خدای او وطن لپاره: عقیده او وطنپالنه په اور کې* (نیو یارك: پبلیك افیئرز، ۲۰۰۵).
جان یُو، جگړه په *نورو ذریعو: د ترهگرۍ پر ضد د جگړې داخلي کیسه* (نیو یارك: اټلانټك منتهلي پریس، ۲۰۰٦)، ۱٤۲.
لیلا زیروگي او نور، *په گوانتانامو کې د قیدیانو حالت*، م م دستاویز اي/سي این.٤/۲۰۰٦/۱۲۰، ۲۰۰٦.
فیلف زیمبارډو، *ابلیسي اغېز: په دې پوهېدل چې څنگه ښه خلك په بدو اوړي* (نیو یارك: رانډم هاوس، ۲۰۰۷).

<u>لیکنې</u>

ایچ ایس انډرسن او نور، "د توقیف شویو قیدیانو په اړه اوږده څېړنه: په ځانله او ناځانله قید کې اروایي حالتونه، واقع کېدل یې، او علم یې،" *اکټرا سایکاټریکا سکانډیناویکا* ۱۰۲ (۲۰۰۱).
ایسوسي ایټډ پریس، "د امریکا د جنگي جرمونو د محاکمو کار تېز کړای شو،" *ملیټري گلوبل الائډ فورسز*، اگست ۸، ۲۰۰۸.
ایم. گریگ بلوچی او جوناتهن ایچ. مارکس، "په گوانتانامو ټاپو کې ډاکټران او پلټونکي،" *نیو انگلېنډ جرنال اف مډیسن* ۳۵۳ (۲۰۰۵).
بېنډیکټ کېري، "اروا پوهان د پلټنو د مشورو د ختمولو لپاره رایه ورکوي،" *نیو یارك ټایمز*، سپتمبر ۱۸، ۲۰۰۸.
سي بي ایس [تلویزیوني چېنل]، "د ویلي برانډ نظامي محاکمه"، *سکسټي مېنټز* [پروگرام]، مارچ ٥، ۲۰۰٦.
کریسټوفر کوفر، "د نیولو پلان: په گوانتانامو کې، د ځنډ له امله د قیدیانو پرېشاني،" *وال سټریټ جرنال*، جنوري ۲٦، ۲۰۰٥.
عمر العکاد، "مونږ دلته قیدیان نلرو،" *گلوب اینډ مېل*، اپرېل ۱۹، ۲۰۰۸.
محمد فاضل، "د گوانتانامو پخواني قیدیان د تشدد، د قران د سپکاوي ادعا کوي،" *اژانس فرانس پریس*، نومبر ۱۷، ۲۰۰٥.
"پخوانیو قیدیانو سره خپلو وطنونو کې زیاتی شوی: "د دې نه ښه ده چې بېرته گوانتانامو ته لاړ شم،"" *سپیگل انلاین انټرنېشنل*، سپتمبر ٦، ۲۰۰۷.

پسلي ډوډز، "قانونپوهان د هغو قېديانو تاوان غواړي چې په گوانتانامو کې د تشدد تور لگوي،" ايسوسي ايټډ پريس ورلډ سټريم، اکتوبر ۷، ۲۰۰٤.

کېټهي گانن، "پاکستاني قېدي چې د گوانتانامو نه خلاص شوی د معاوضې لپاره د امريکا د حکومت خلاف د قانوني اقدام گواښ کوي،" *ايسوسي ايټډ پريس ورلډ سټريم*، دسمبر ۲۸، ۲۰۰۲.

جېمز ايف. گېبارټ، "د ابو غريب لاره: د امريکا د پوځ د گرفتارۍ او تجربې مفکوره،" *ميلټري ريويو* (جنوري-فبروري ۲۰۰۵) : ٤٤-۵۰.

جيري جی. گيلمور، "رمسفيلډ د کيوبا په کمپ ايکسری کې د امريکايي پوځيانو سره وليدل او د هغوی مننه يې وکړه،" *امريکن فورسز پريس سرويس*، جنوري ۲۷، ۲۰۰۲.

ويليم گلېبرسن، "د سرهٔ صليب مبصرين د گوانتانامو نه منع کړای شول،" *نيو يارک ټايمز*، نومبر ۱٦، ۲۰۰۷.

ټيم گولډن او ډان وان ناټه، "د جگړې غځونه: راپورونه دي چې امريکا د گوانتانامو د بنديانو د ارزښت په اړه مبالغه کوي،" *نيو يارک ټايمز*، جون ۲۱، ۲۰۰٤.

ټيم گولډن، "د امريکا راپور، د دوو افغاني قېديانو د بې رحمانه وژنې تفصيلات،" *نيو يارک ټايمز*، مئ ۲۰، ۲۰۰۵.

سټوارټ گراسيان، "د ځانله قېد اروايي اغېزې،" *واشنگټن يونيورسټي جرنال اف لا اېنډ پاليسي* ۲۲ (۲۰۰٦).

"گوانتانامو ټاپو: ځرگندونې،" *بي بي سي*، مارچ ٤، ۲۰۰٦.

"د گوانتانامو د قېديانو پرېشاني،" *بي بي سي نيوز*، اگست، ۲۳، ۲۰۰۳.

"گوانتانامو "د ځانوژنې" جنگي اقدامات،" *بي بي سي نيوز*، جون ۱۱، ۲۰۰٦.

"د گوانتانامو نوی زندان،" *بي بي سي نيوز*، اپرېل ۳۰، ۲۰۰۲.

حېټم هډاډين، "پنځه کويتيان د گوانتانامو نه کور ته ځي،" *رويټر نيوز*، نومبر ۳، ۲۰۰۵.

پيټرجېن هونيسبرگ، "د دښمن جنگياليو تعقيب کول او د نړيوال قانون نه ځان بچ کول: د ناروا تشدد لپاره اجازت نامه،" *يو سي ايل ای جی. انټرنېشنل ايل اېنډ فارن افيئرز*، ۱۲ (۲۰۰۷).

"*د ځانله قېد په استعمال او اغېزو د استنبول بيانيه*،" تشدد ۱۸ (۲۰۰۸).

ټام لاسيټر، "اورپکي هغه کسان جلبوي چې گوانتانامو کې په غلطۍ قېد کړای شوي وو،" مکلاچي نيوزپېپرز، جون ۱۷، ۲۰۰۸.

لاسيټر، "د افغانستان په اډو کې بنديانو باندې د امريکايانو تشدد معمول و" *مکلاچي نيوزپېپرز*، جون ۱۷، ۲۰۰۸.

نيل ای. ليويس، "سور صليب د گوانتانامو په بند کې تشدد وموند،" *نيو يارک ټايمز*، نومبر ۳۰، ۲۰۰٤.

ايرک لېټبالو او سکاټ شېن، "د گوانتانامو په تاکتيکونو د اختلاف د تفصيل راپور،" *نيو يارک ټايمز*، مئ ۲۱، ۲۰۰۸.

مونا لېنچ، "د قېدي لمبر #۸۵۲۷۱ تصفيه: د يوې عادي سزا په اړه معلومات،" *سټډيز ان لا، پالېټيکس اېنډ سوسايټي* ۲۰ (۲۰۰۰).

جېن ماير، "ياداښت،" *نيو يارکر*، فبروري ۲۷، ۲۰۰٦.

ريچارډ جی. مکنالي، *د صدمې يادول* (کامبريج، ايم ای: هارورډ يونيورسټي پريس، ۲۰۰٤).

پي بي ايس، "د تشدد يوه پوښتنه،" *فرنټ لاين*، اکتوبر ۱۸، ۲۰۰۵.

ډانا پريسټ او ډان ايگن، "شکمن ترهگر د تشدد تور لگوي: قېدي وايي چې امريکا گوانتانامو ته له وړلو مخکې مصر ته لېږلی،" *دي واشنگټن پوسټ*، جنوري ٦، ۲۰۰۵.

پريسټ او هيام، "په گوانتانامو کې، په زندان کې زندان: چارواکي وايي، سي ايي ای د ځينو القاعده قېديانو لپاره يوه پټه قېدخانه چلولې،" *واشنگټن پوسټ*، دسمبر، ۱۷، ۲۰۰٤.

هارون رشيد، "يو پاکستاني د گوانتانامو د عذاب يادونه کوي،" *بي بي سي*، مئ ۲۲، ۲۰۰۳.

هيرنان رييس، "بدتر داغونه خو په دماغو کې دي: اروايي تشدد،" *انټرنېشنل ريويو اف دي رېډ کراس* ۸۹، لمبر ۸٦۷ (۲۰۰۷).

کاتهلين ټي. ريم، "گوانتانامو کې قېديان په ډول ډول شرايطو کې ژوند کوي،" *امريکن فورسز پريس سرويس*، فبروري ۱٦، ۲۰۰۵.

ډاوېډ روز، "هغوی زه د يو ځناور په څېر وتړلم او بيا يې لتې راکول شروع کړل،" *دي ابزرور*، مئ ۲۷، ۲۰۰٤.

کريگ سميتهـ او سواډ ميکنېټ، "الجزايری د امريکا په لاس د تور وخت کيسې کوي،" نيو يارک ټايمز، جولای ۲، ۲۰۰٦.

پېټر شراف سميتهـ، "د زندانيانو د ځانله قېد اغېزې: د دې د ادبياتو يو لنډ تاريخ،" *کرايم اېنډ پنشمېنټ* ۳٤ (۲۰۰٦).

ايرک شميت او ټيم گولډن، "امريکا په افغانستان کې د نوي غټ زندان پلان جوړوي،" *نيو يارک ټايمز*، مئ ۱۷، ۲۰۰۸.

سکاټ شېن، په گوانتانامو کې هغه پلټنې چې روحيه يې د چين نه اخيستل شوې،" *نيو يارک ټايمز*، جولای ۲، ۲۰۰۸.

کېترا‌ین شرېډر، "امریکا د ترهګرۍ ضد جګړه کې ۸۳۰۰۰ زره تنه نیولي،" *ایسوسي ایټډ پریس*، نومبر ۱۶، ۲۰۰۵.
جیفري ټوبین، "کمپ انصاف،" *دي نیو یارکر*، اپرېل ۱٤، ۲۰۰۸.
ډیل کوینټن ویلبر، "قاضي په امریکا کې د چینایي مسلمانانو د خوشې کولو امر ورکړ،" واشنګټن پوسټ، اکتوبر ۷، ۲۰۰۸.
کارول جی. ویلیمز، "نوي تحرکات د ګوانتانامو د قېدیانو په تعقیب کې،" *لاس انجلز ټایمز*، اګست ۳، ۲۰۰۸.
باب ووډورډ، "سي ای اي ته ویل شوي چې د بن لادن د وژلو لپاره "هر څه چې ضروري" وي ودې کړي،" *واشنګټن پوسټ*، اکتوبر ۲۱، ۲۰۰۱.
*شینا خبري اژانس*، "د ګوانتانامو پخوانی پاکستانی قېدي د امریکا خلاف قانوني جګړې ګټلو ته هیله من دی،" جولای ۲۰، ۲۰۰۳.

# لیکوالان او مننې

لاریل فلیچر او ایرک سټوور د دې راپور د سر لیکوالان او د دې څېړنې مرکزي څېړنکاران وو. لاریل فلیچر، ایرک سټوور، سټیفن پال سمتهـ، الیگزا کونېگ، زلېخه عزیز، الیکسیس کیلي، سارا سټاویټیگ، او نوبوکي میزاگوچي دا راپور تصنیف کړی. انډریو موس، راچل شینکېن، جامي او کانل، نیلم احسان الله، ایمیل رای، او ریم صلاحي د راپور په څېړنه کې کار کړی دی. کامیل کریټنډن په ایډیټري چارو کې نوره مرسته کړې ده. باربرا گروب د راپور په ډیزاین او تیارولو کې همکاري کړې. د ایینې حقوقو د مرکز سمویل میلر، شایانه کادیدل، ایمي مکلین، او ډیبورا پوپوسکي ارزښتناک نظرونه ورکړي دي. د برکلی د کالیفورنیا پوهنتون د ایمریټس کلینیکل پروفیسر اف لا کېرولین پاټې بلم د راپور په بېلابېلو مسودو د نظر او دې پروژې سره په مرسته کولو کې د ځانگړې مننې حقداره ده. ډین کریسټوفر ایډلي کشر د دې پروژې سره په زړه پورې مرسته کړې ده.

## مصنفین

لاریل فلیچر د برکلی، د کالیفورنیا پوهنتون، د نړیوالو بشري حقوقو د قانوني کتنځي رییسه او د قانون په ښوونځي کې د قانون طبي پروفېسره ده.

ایرک سټوور د برکلی، د کالیفورنیا پوهنتون، د بشري حقوقو د مرکز د فاکولټې رییس او د قانون او عامې روغتیا افتخاري پروفېسر دی.

سټیفن سمتهـ د برکلی، د کالیفورنیا پوهنتون، په سوشیالوجي کې د پي ایچ ډي کاندید او په قانون کې د جی ډي کاندید دی.

الیگزا کونېگ د برکلی، د کالیفورنیا پوهنتون، د فقې او ټولنیزې تگلارې د پي ایچ ډي محصله ده.

زلېخه عزیز د برکلی، د کالیفورنیا پوهنتون، د قانون د ښوونځي د ۲۰۰۸ فارغ التحصیله ده.

الیکسیس کیلي د برکلی، د کالیفورنیا پوهنتون، د قانون د ښوونځي د ۲۰۰۸ فارغ التحصیل دی.

سارا سټاویټیګ د برکلی، د کالیفورنیا پوهنتون، په سوشیالوجي او نفوس شمېرنه کې د پي ایچ ډي کاندیده ده.

نوبوکي میزاګوچي د برکلی، د کالیفورنیا پوهنتون، په نفوس شمېرنه کې د پي ایچ ډي کاندید دی.

د برکلی د کالیفورنیا پوهنتون د محصلینو لاندې ډلې د رسنیو په معلوماتغونډ کې معلومات دننه کړي دي: امیر عبادي، سټیفاني هن، لي ډینګ، سانګیټا ډیواسکر، سام هیفټ نیل، روشا جونز، هیرا خان، کرسټین روسل، ډانیل سیور، چارلس ټېلر، البرټ وانګ، او جېنګ وانګ.

ګڼ شمېر ادارو او شخصیاتو د خپل کار په ساحه کې د محققینو سره ارزښتناکه مرسته کړې ده، په ګډون د بشري حقوقو لپاره د نړیوال اتحاد (ایف ایي ډي ایچ) کلیر ټیکسیر او ایزابیل براچیټ؛ د بشري حقوقو د فرانسوي ادارې (ایل ډي ایچ) ماري اګنیس کابیسک؛ د افغانستان د بشري حقوقو د سازمان (ای ایچ ار او) کارکوونکي، په ګډون د دې سازمان د مشر لال ګل "لال،" د ای ایچ ار او مشاور غلام فاروق "ساپي،" د ای ایچ ار او مشیر ډاکټر ابن امین "خالد،" د ای ایچ ار او پلټونکي دوست محمد او محمد جمیل، او د ای ایچ ار او داوطلب کارکوونکي ډاکټر ننګیالی "ابراهیمي" او نور رحمان "ابراهیمي؛" په کیج پرېسنرز کې مریم حسن، معظم بېګ، او عاصم قرېشي؛ د ریپریو کارکوونکي؛ د حقوقو او ازادئ د دفاع د ملي سازمان (هوډ) کارکوونکي؛ او د بحرېن د بشري حقوقو د مرکز مشر نبیل رجب.

د ناتهن کمینګز فاونډېشن د ګریګ او لیز لوټز [او ویرنیر او میمي ولفن] د دې راپور د خپرېدو د مرستې لپاره یوه برخه عطیه ورکړې. د دې راپور د ژباړلو او تیارولو لپاره مرسته کړې اوپن سوسایټي انسټیوټ، نېشنل سیکوریټي او هیومن رایټس کمپاین.

## حوالې

# بشپړ لنډیز

[1] دا ټولپوهنتنې د برکلی، د کالیفورنیا پوهنتون د بشري حقوقو د مرکز، او د برکلی، د کالیفورنیا پوهنتون د بشري حقوقو د قانوني کتنځي څخه ترلاسه کېدای شي.

[2] وګورئ ضمیمه الف، "بندیانو سره د چلند په اړه منتخب راپورونه او د رسنیو کیسې."

[3] همدا.

[4] په دوی کې شامل دي (۱) د ۲۰۰۱ د سپتمبر په ۱۷مه د ولسمشر بوش یو پټ امر، چې د استخباراتو مرکزي ادارې (سي ایي ای) ته یې د "پلټنو د طریقه کار د یو متبادل جوړښت" د ګومارلو واک ورکړ؛ د ۲۰۰۲ د دسمبر په ۲مه د دفاع د سکرتر ډونالډ رمسفیلډ لخوا یو امر چې پکې د څلریشت ساعته پلټنو، په یو وخت د دېرشو ورځو لپاره د ځانله قېد، د زور اچولو لپاره د "شخصي ډار" (لکه د سپو نه ویره) څخه د ناوړې ګټې اخیستلو واک ورکول، کوم چې وروسته د ۲۰۰۳ د جنورۍ په ۱۵مه منسوخ شو؛ او (۳) د ۲۰۰۳ د اپریل په ۱٦مه د دفاع د محکمې یو امر، چې د چاپېرچل د خرابولو، د خوب د برابرولو، او د ځانله قېد د پراخولو په ګډون د څلریشت ساعته پلټنې د طریقو واک پکې ورکړای شو. دا فرمانونه په لوړ کچ په هغو قانوني لارښودنو بناء وو چې د انصاف د محکمې د کارکوونکو لخوا جوړ شوي وو. وګورئ *د دفاع د محکمې جنرال کونسل ته د لوي څارنوال د نایب مرستیال جان یُو یادښت*، جنوري ۹، ۲۰۰۲، بیا خپور شوی په کارین جی. ګرینبرګ او جوشوا ایل. ډراټېل، *د ظلم فرمانونه: د ابو غریب لاره* (کامبرج: کامبرج یونیورسټي پرېس، ۲۰۰۵)، ۳۸-۷۹؛ *د سپینې ماڼۍ کونسل البرټو ګونزالیز ته د لوي څارنوال د مرستیال جی ایس. بایبي یادښت*، جنوري ۲۲، ۲۰۰۲، بیا خپور شوی په ګرینبرګ او ډراټېل، *د ظلم فرمانونه*، ۸۱-۱۱۷؛ او *ولسمشر جارج ډبلیو. بوش ته د سپینې ماڼۍ د کونسل البرټو ګونزالیز یادښت*، جنوري ۲۵، ۲۰۰۲، بیا خپور شوی په جمیل جعفر او امریت سنګهـ، *د ظلم اداره: د واشنګټن څخه تر ابوغریب او ورهاخوا ډاکومنټري ریکارډ* (نیو یارک:

کولمبیا یونیورسټي پرېس، ۲۰۰۶)، الف-۱-۳؛ د *سپینې مانۍ کونسل البرټو گونزالیز ته د لویي څارنوال د مرستیال جې ایس. بیابي یادښت*، اگست ۱، ۲۰۰۲، بیا خپور شوی په گرینبرگ او ډراتېل، د *ظلم فرمانونه*، ۱۷۲؛ د *سپینې مانۍ کونسل البرټو گونزالیز ته د لویي څارنوال د نایب مرستیال جان یُو یادښت*، اگست ۱، ۲۰۰۲، بیا خپور شوی په گرینبرگ او ډراتېل، د *ظلم فرمانونه*، ۲۱۸.

[5] د سي ایي ای د ترهگرۍ ضد مرکز مشر کوپر بلېک د سپتمبر په ۱۶مه، ۲۰۰۲، د کانگریس یو ساعت ته وویل، "د یوولسم سپتمبر څخه وروسته مټې راونغښتل شوې." *د سپتمبر د یوولسمې په اړه گډ تحقیق: د پارلیمان او سنا په وړاندې گډ ساعت*، ۱۰۹م کانگریس (۲۰۰۲) (د سي ایي ای د ترهگرۍ ضد مرکز د پخواني مشر کوپر بلېک بیان).

[6] وگورئ د ملکي او سیاسي حقوقو په اړه نړیوال تړون، دسمبر ۱۶، ۱۹۶۶، ماده ۷، ۹۹۹ یو این ټي. ایس. ۱۷۱، *تطبیق شو په* مارچ ۲۳، ۱۹۷۶، او د تشدد او نورو ظالمانه، غېر انساني، یا تحقیري چلند یا سزا په ضد د م.م. تړون، جي.ای. ریس. ۴۶/۳۹، م م جي ای او ار. ۳۹مه ناسته، ضمیمه لمبر ۵۱، *تطبیق شو په* جون ۲۶، ۱۹۸۷، م م ډاکومنټ ای/ریس/۳۹/۴۶، ترلاسه کېدای شي په http://www.unhcr.ch/menu3/b/h cat39.htm (په سپتمبر ۳۰، ۲۰۰۸ وکتل شو). د ۱۹۴۹ د ژنیوا معاهدو درېمه ماده (تر دې وروسته عامه ماده ۳) هم وگورئ، چې "د ژوند او شخصیت سره زیاتي، په ځانگړې توگه د هر ډول وژنې، اندامونو پرېکولو، ظالمانه چلند او وهلو" او "په شخصي احترام تېري کولو، په ځانگړې توگه د سپکاوي او تحقیري چلند" څخه ممانعت کوي. په ځانگړې توگه، وگورئ، جنگي قېدیانو سره د چلند په اړه د ژنیوا معاهده، په گډون د پایڅوړ ۱- پنځم، ماده ۳، اگست ۱۲، ۱۹۴۹، ۶ یو.ایس.ټي. ۳۳۱۶، ۷۵ یو این ټي.ایس. ۱۳۵ (تر دې وروسته ژنیوا معاهدې III)، ترلاسه کېدای شي په http://www.unhcr.ch/html/menu3/b/91.htm (په اکتوبر ۸، ۲۰۰۸ وکتل شو).

[7] په جنوري ۱۹، ۲۰۰۲، د دفاع سکرتر ډونالډ رمسفیلډ د دواړو پوځونو مشرتابه ته د یو امر په لېږلو سره وویل چې پوځ د القاعده او طالب بندیانو په ساتلو کې نور د ژنیوا د تړونونو پېروۍ ته اړتیا نلري. بله ورځ هغه په

افغانستان کې د ایتلافي ځواکونو د قوماندان جنرال ټومي فرانکس هغه امر منسوخ کړ چې د نیول شویو کسانو د پلټنې لپاره یې د پنځمې مادې سره سم سماعتونه کول. اوس چې متحده ایالاتو نور د ژنیوا د تړونونو پېروي نه کوله نو د پنځمې مادې سره سم سماعتونو ته هم اړتیا نه وه. وګورئ ډونالډ رمسفیلډ، *د ګډو پوځونو مشر ته یادښت*، جنوري ۱۹، ۲۰۰۲، ترلاسه کېدای شي په http://www.defenselink.mil/news/Jun2004/d20040622doc1.pdf (په سپتمبر ۳۰، ۲۰۰۸ وکتل شو). وګورئ د ژنیوا معاهدې III ماده ۵، ترلاسه کېدای شي په http://www.unhcr.ch/html/menu3/b/91.htm (په سپتمبر ۳۰، ۲۰۰۸ وکتل شو.

[8] ولسمشر جارج ډبلیو. بوش، "د نومبر ۱۳، ۲۰۰۱ پوځي امر: د تروریزم په وړاندې جګړه کې د خاصو غېر اتباعو نیول، چلند او محکمه،" ترلاسه کېدای شي په http://www.law.uchicago.edu/tribunals/exec_order.html (په سپتمبر ۳۰، ۲۰۰۸ وکتل شو).

[9] جېن مایر، *تیاره اړخ: داخلي کیسه چې څنګه د تروریزم په وړاندې جګړه د امریکې د غوره اهدافو پر ضد جګړه بدله شوه* (نیو یارک: ډبل ډې، ۲۰۰۸)، ۱۸۳؛ همدارنګه وګورئ ټېم ګولډن او ډان وان ناټه، "د جګړې غځونه: راپورونه دي چې امریکا د ګوانتانامو د بندیانو د ارزښت په اړه مبالغه کوي،" *نیو یارک ټایمز*، جون ۲۱، ۲۰۰٤؛ کریسټوفر کوفر، "د نیولو پلان: په ګوانتانامو کې، د ځنډ له امله د قېدیانو پرېشاني،" *وال سټریټ جرنال*، جنوري ۲٦، ۲۰۰۵.

[10] مایر، *تیاره اړخ*، ۱۸۳.

[11] همدا، ۱۸٤.

[12] همدا، ۱۸۷.

[13] د اکتوبر ۲۰۰۸، په ۷مه نېټه یو قاضي حکومت ته امر وکړ چې د ۱۷ بندیانو یوه ډله په متحده ایالاتو کې د خوښې کولو لپاره د هغه محکمې ته وړاندې کړي، خو د دې راپور د لیکل کېدو تر وخت (اکتوبر ۱۳، ۲۰۰۸) پورې د هغوی د دعوو د پرېکړې لپاره کومه اورېدنه نه ده شوې. د قاضي ریکارډو ایم. اوربینا سره د پروسې وړه داخله وکړای شوه: د وړاندیز اورېدنه په ۲۰۰۸/۷/۱۰ وشوه، په *بېرته: د ګوانتانامو د بند مرافعه*، لمبر ۰۵:۱-سي وي-

۱۵۰۹ (ډي.ډي.سي. ۲۰۰۸) کې. همداراز وګورئ ډیل کوینټن ویلبر، "قاضي په امریکا کې د چینایي مسلمانانو د خوشې کولو امر ورکړ،" واشنګټن پوسټ، اکتوبر ۷، ۲۰۰۸. دا قیدیان د چین نسلي اقلیت یوغیرس یوه ډله وه چې د دغه حکومت لخوا شکنجه شوي وو. محکمې د دوی د خوشې کولو امر ځکه وکړ چې حکومت دوی نور "دښمن جنګیالي" نه ګڼل.
حکومت په سمدستي توګه د قاضي د امر په اړه مراجعه وکړه.
ویلبر، "قاضي د خوشې کولو امر."

[14] د متحده ایالاتو د دفاع محکمه، خبري اعلامیه: د بندیانو انتقال اعلان شو، اکتوبر ۸، ۲۰۰۸، ترلاسه کېدای شي په
http://defenselink.mil/releases/release.aspx?releaseid=12275 (په اکتوبر ۸، ۲۰۰۸ وکتل شو).

[15] دا بندیان "ګېر" پاتې دي یا خو لدې امله چې امریکا د دوی د وطني حکومتونو سره د خوشې کولو د شرایطو په اړه په خبرو اترو نده توانېدلې او یا لدې امله چې که خپلو اصلي هېوادونو ته ستانه کړای شي نو هلته به تشدد پرې وشي او امریکا د کوم بل هېواد سره د دوی د ځای کولو په اړه کومې معاهدې ته نده رسېدلې.

[16] د امریکې حکومت ویلي دي چې دا به د تقریباً ۸۰۰ هغو بندیانو چې د جنوري ۲۰۰۲ څخه په ګوانتانامو کې ساتل شوي، څخه د شپېتو یا زیاتو په اړه د جنګي جرمونو ثبوتونه وړاندې کړي. ایسوسي ایټډ پریس، "د امریکا د جنګي جرمونو د محاکمو کار تېز کړای شو،" *ملیټري ګلوبل /لائیډ فورسز*، اګست ۸، ۲۰۰۸، ترلاسه کېدای شي په
http://www.militaryglobal.com/forum/index.php/topic,5268.0.html (په سپتمبر ۱۳، ۲۰۰۸ وکتل شو). د دفاع محکمې د رویشتو قېدیانو خلاف تورونه چمتو کړي او یا ثبت کړي دي. د متحده ایالاتو د دفاع محکمه، "نظامي کمیسیون: د کمیسیون قضیې،"
http://www.defenselink.mil/news/commissionsCo-conspirators.html (په اکتوبر ۱۲، ۲۰۰۸ وکتل شو).

[17] د *رسول پرېکړې* د امریکا حکومت دې اقدام ته اړ کړ چې د جنګیالیو د حېثیت د معلومولو عدالتونه او کلیز کتنپلاوي په دې خاطر جوړ کړي چې وګوري ایا یو قېدي باید "قانون ضد دښمن جنګیالی" وګڼل او قېد کړای شي که نه. هغه مرافعه چې د دې حېثیت د معلومولو سیستم یې

چېلنج کړ او د کانګریس په واسطه د دې د معلوملو
پروسې له امله ستړې محکمې په ۲۰۰۸ کې د *بومېډیان په مقابل د بوش* پرېکړه وکړه، ۵۵۳ متحده ایالات __ (۲۰۰۸).

[18] د ۲۰۰۳ په اواخرو کې، د سره صلیب نړیوالې کمېټې (ایي سي ار سي) د متحده ایالاتو اداري ته وویل چې د مجهول قېد په ګډون د هغو شرایطو مجموع چې قېدیان پکې په ګوانتانامو کې ساتل شوي وو، د ډېرو قېدیانو د اروایي حالت د اندېښمن خرابي لامل شوي وو. وګورئ نیل ای. لیویس، "سور صلیب د ګوانتانامو په بند کې تشدد وموند،" *نیو یارک ټایمز*، نومبر ۳۰، ۲۰۰۴.

[19] همدا. ګڼ شمېر څېړنو د هغو قېدیانو د دماغي ستونځو په اړه راپورونه ورکړل چې په ځانله بند کې ساتل شوي وو. وګورئ سټوارټ ګریشین، "د ځانله قېد اروایي اغېزې،" *جرنال اف لا اینډ پالیسي* ۲۲ (۲۰۰٦): ۳۲۷-۳۸۰. سټوارټ لیکي چې په دماغي ستونځو کې "د اضطراب ګډوډ حالت، د تشریفاتي سرسامۍ اړخونه، د وسوسې او ځان مریض ګڼلو سخت حالتونه، او هم ناګهاني، اضطراري، او اکثر په خپله جوړ شوی تشدد" شاملېدای شي. همدا راز وګورئ هیرنان ریاس، "بدتر داغونه خو په دماغو کې دي: اروایي تشدد،" *انټرنېشنل ریویو اف دي ریډکراس* ۸۹، لمبر ۸٦۷ (سپتمبر ۲۰۰۷): ٦۰٦-٦۰۸. په ۲۰۰٦ کې، یو ځل بیا ایي سي ار سي "د بندیانو د برخلیک په اړه بې یقینۍ د دوی دماغي او جذباتي درد زیات کړی دی چې ډېرو بندیانو او د هغوی کورنیو ته یې تجربه شوې ده." ایي سي ار سي، *اپرېشنل اپ ډېټ*، دسمبر ۳۱، ۲۰۰٦، په حواله د ایمنسټي انټرنېشنل، د امریکا متحده ایالت، ظالم او غېر انساني: د ګوانتانامو په ټاپو کې د بندیانو د ځانله قېد شرایط، اپریل ۵، ۲۰۰۷، ۱۹ ( AI Index: AMR .(51/051/2007

[20] وګورئ امریکن میډیکل ایسوسي ایشن کونسل ان ایتهیکل اینډ جوډیشل افیئرز، د *بندیانو د پلټلو په اړه بیان*، جولای ۷، ۲۰۰٦، ترلاسه کېدای شي په http:// pn.psychiatryonline.org/cgi/content/full/41/13/4-a (په جولای ۳۰، ۲۰۰۸ وکتل شو). د امریکن میډیکل ایسوسي ایشن بیان وایي: "معالجین دې نه پلټنې وکړي نه دې پکې نېغ په نېغه برخه واخلي، ځکه چې د معالج-پلټونکي رول د

يو رغوونکي په توګه د معالج رول کمزوری کوي او لدې املـه په معالج-پلټونکي او د طب مسلك دواړو باندې باور کموي. معالجين بايد په طريقه کار کې د مداخلې په نيت د پلټنو نګراني ونکړي، ځکه چې دا په پلټنه کې نېغ په نېغه مداخله جوړوي. معالجين بـايي د پلټنو په هغو اغېزمنو ستراتيژيو کې ګډون وکړي چې جبري ندي بلکې انساني دي او د فرد د حقوقو درناوی کوي." همداراز وګورئ امريکن سايکاټريك ايسوسي ايشن، د *بنديانو په پلټنه کې د ارواپوه ګډون*، می ۲۱، ۲۰۰٦، ترلاسه کېدای شي په http://pn.psychiatryonline.org/cgi/content/full/41/13/4-b (په جولای ۳۰، ۲۰۰۸ وکتل شو). د امريکن سايکاټريك ايسوسي ايشن قرارداد وايي: "هيڅ يو اروپاوه بايد نېغ په نېغه د هغو کسانو څخه په پلټنه کې ګډون ونکړي چې د نظامي يا ملکي استخباراتي يا قانون نافذوونکو چارواکو په بند کې دي، که په متحده اياړتو کې وي او که بل چېرته. نېغ په نېغه ګډون کې د پلټنې په خونه کې موجودګي، د سوالونو پوښتل يا وړاندې کول، يا چارواکو ته د خاصو قېديانو د پلټنې لپاره د مشخصو تخنيکونو د استعمال مشوره ورکول، شامل دي. خو، اروپاوهان ښايي د هغو کسانو د پېژندلو او فعالولو چې دماغي مريضتيا ولري په اړه نظامي يا ملکي استخباراتي يا قانون نافذوونکو چارواکو ته روزنه ورکړي، او يا د خاصو بنديانو څخه د پلټنې او د هغوی د حالت په اړه، او يا د هغوی د مسلکي مهارت دننه په نورو ځايونو کې، چارواکو ته د ځانګړيو تخنيکونو د طبي او اروايي اغېز په اړه مشوره ورکړي."

[21] دا ريفرانډم اروپاوهان په هغو ځايونو کې د کار کولو څخه منع کوي چېرته چې "کسان يا د نړيوال قانون (يانې د تشدد پر ضد د م م معاهده يا ژنيوا تړونونه) او يا د امريکا د اساسي قانون څخه بهر، يا په خلاف ورزی کې ساتل شوي وي،" تر څو چې دوی د يو بندي يا د بل کوم اړخ استازيتوب ونکړي. د ايسوسي ايشن ضمني قوانين غوښتنه کوي چې خپله پاليسي په راتلونکې کليزه غونډه کې په اګست ۲۰۰۹ کې جوړه کړي. وګورئ بېنډيکټ کېري، "اروپاوهان د پلټنو د مشورو د ختمولو لپاره رايه ورکوي،" *نيو يارك ټايمز*، سپتمبر ۱۸، ۲۰۰۸.

[22] د پوځي اروا پوهانو د پلټنې د تخنیکونو بنا د بقا، ځان بچ کولو، مقاومت او ځان ایستلو (ایس اي ار اي) د تاکتیکونو په "شاتلونکې طریقه" وه. ایس اي ار اي یو پروګرام دی چې د امریکایي پوځ لپاره جوړ شوی څو د تشدد او تحقیري پلټنې سره مقاومت وکړي. د بېلګې په توګه وګورئ فزیشنز فار هیومن رایټس، *مات يې کړئ: د امریکایي ځواکونو لخوا د اروايي تشدد سیستماتیک استعمال*، ۲۰۰۵؛ ایم. ګریګ بلوچي او جوناتهن ایچ. مارکس، "ډاکټران او پلټونکي په ګوانتانامو ټاپو کې،" *نیو انګلېنډ جرنال اف مېډیسن* ۳۵۳ (۲۰۰۵): ۶ - ۸. همدارنګه وګورئ لېري سي. جېمز (په ملګرتیا د ګریګوري ای. فریمان)، جوړ شوی دوزخ: *یو پوځي اروا پوه ابو غریب ته مخامخ کېږي* (نیو یارک: ګرانډ سنټرل پبلشنګ، ۲۰۰۸).

[23] وګورئ پوځي قاعده ۱۵-۶: د کیوبا د ګوانتانامو ټاپو په بندیخانه کې په بندیانو باندې د تشدد په اړه د ایف بي اي د تورونو د څېړنې اخري راپور، اپریل ۱، ۲۰۰۵، بدلون پکې وشو په جون، ۹، ۲۰۰۵، ۹-۱۰ (تر دې وروسته شمېټ-فرلو راپور) (واضحه کوي چې د خراب ماحول استعمال په ګوانتانامو کې د پلټنې د تاکتیک په توګه د دفاع د محکمې لخوا په اپریل ۱۶، ۲۰۰۳، منظور شوی و)؛ همدارنګه وګورئ د متحده ایالاتو د انصاف محکمه، د جنرال انسپکټر دفتر، *په ګوانتانامو ټاپو، افغانستان او عراق کې د بندیانو په نګرانۍ او پلټنو کې د ایف بي اي لاس لرنې ته یوه کتنه* (می ۲۰۰۸)، ۵۸-۵۹ ("او اي جي/ډي او جی راپور) (تشریح کوي چې د خراب ماحول استعمال د پلټیز تخنیک په توګه د لومړي ځل لپاره د دفاع د محکمې د اپریل ۱۶، ۲۰۰۸، د نېټې په یادابنت کې منظور شوی و او دا چې دا یادابنت تر سپتمبر ۲۰۰۶ پورې نافذ و، تر هغې چې د متحده ایالاتو پوځ د مېدان جنګ یو نوی نصاب خپور کړ په کوم کې چې د پلټنو د روا تخنیکونو حدود وښودل شول). وګورئ د پوځ مرکزي محکمه، ایف ایم ۲-۲۲,۳ (ایف ایم ۳۴-۵۲)، هیومن انټېلجنس کولیکټر اوپریشنز (سپتمبر ۲۰۰۶) [تر دې وروسته ایف ایم ۲-۲۲,۳].

[24] ژنیوا تړونونه III، ماده ۳. همداراز وګورئ د *ولسمشر جارج ډبلیو. بوش لخوا یادابنت*، فبروري ۷، ۲۰۰۲، بیا خپور شو په جعفر او سنګهـ، *د تشدد اداره*، ای-۶،

چې ترلاسه کېداى شي په
http://www.pegc.us/archive/White House/bush memo 20 020207 ed.pdf (په اکتوبر ۸، ۲۰۰۸ وکتل شو). (وايي چې د القاعده او طالبانو بنديان د ژنيوا تړونونو III والا جنگي بنديان نه دي).

[25] مکلاچي نيوزپيپرز د گوانتانامو د ٦٤ پخوانيو بنديانو ژوندليکونه راغونډ کړي دي او د کمپ او پخوانيو بنديانو په اړه يې گڼ شمېر ليکنې خپرې کړې دي چې بنسټ يې په ۲۰۰۷ او ۲۰۰۸ کې په شويو مرکو دى، دا ترلاسه کېداى شي په
http://www.meclatchydc.com/259/story/40334.html (په سپتمبر ۱۲، ۲۰۰٦ وکتل شو).

[26] ايف ايم ۲-۳,۲۲ او ٥-٧٦.

## لومړى باب: پېژندگلو: "نوى مثال"

[1] ولسمشر بوش لومړى دا "نوې جگړه" په سپتمبر ۲۰، ۲۰۰۱، "د کانگريس او امريکايي ولس گډې ناستې ته په وېنا" کې تشريح کړه، دا ترلاسه کېداى شي په
http://www.whitehouse.gov/news/releases/2001/09/print/20010920-8.html (په جولاى ۱۸، ۲۰۰۸ وکتل شو).

[2] د مرستيال ولسمشر ډيک چيني مباحثه په امريکا باندې د حملو او تروريزم ته د متحده اياﻻتو د ځواب په اړه په *اين بي سي نيوز ټرانسکرپټز* (سپتمبر ١٦، ۲۰۰۱) کې محفوظه شوې ده: ٥، ترلاسه کېداى شي په
http://www.whitehouse.gov.vicepresident/news-speeches/speeches/vp20010916.html (په اگست ۳۰، ۲۰۰۸ وکتل شو).

[3] جېن ماير، *تياره اړخ: داخلي کيسه چې څنگه د تروريزم په وړاندې جگړه د امريکې د غوره اهدافو پر ضد جگړه بدله شوه* (نيو يارک: ډبل ډى، ۲۰۰۸)، ٥١-٥٢.

[4] همدا.

[5] وگورئ بيلز گريټز، *ماتې: د امريکا د استخباراتو ناکامۍ څرنگه د يوولسم سپتمبر پېښه رامنځته کړه* (ډوور، برتانيه، ريجنسي پريس، ۲۰۰۲).

[6] د دې حواله د فيليف سېنډ په *د تشدد ډله: د رمسفيلډ يادابښت او د امريکايي اقدارو سره دوکه* کې ورکړاى شوې ده، (نيو يارک: پالگريو مکميلين، ۲۰۰۸)، ۱۸۸.

[7] ولسمشر بوش د دې فرمان موجودګي کلونه وروسته، په سپتمبر ٦، ٢٠٠٦ د خپلې وينا پر مهال ومنله: "د دې پروګرام ډېر مشخصات، په شمول د دې چې بنديان چېرته نيول شوي او چېرته قېد وو، تفصيلات نشي ښکاره کېدلای.... نو په دې توګه سي ايي ای د طريقه کار يو متبادل سيستم استعمال کړ.... زه هغه مشخصې طريقې چې استعمال شوي نشم تشريح کولای - فکر کوم تاسو پوهېږئ چې ولې - که مې تشريح کړ، نو دا به ترورستانو سره په دې معلومولو کې مرسته وکړي چې څنګه د پوښتنو مقاومت وکړي او هغه معلومات زمونږ نه پټ وساتي چې مونږ په خپل هېواد د نويو بريدونو د مخنيوي لپاره ورته اړتيا لرو." جارج ډبليو. بوش، "ولسمشر د شکمنو ترورستانو د محاکمې لپاره د نظامي کميسنونو د جوړولو په اړه خبرې وکړې،" *دي وهايټ هاوس*، ترلاسه کېدای شي په http://www.whitehouse.gov/news/releases/2006/09/20060906-3.html (په سپتمبر ١٢، ٢٠٠٨ وکتل شو).

[8] باب ووډورډ، "سي ايي ای ته ويل شوي چې د بن لادن د وژلو لپاره "هر څه چې ضروري" وي ودې کړي،" *واشنګټن پوسټ*، اکتوبر ٢١، ٢٠٠١.

[9] جنګي قېديانو سره د چلند په اړه د ژنيوا تړون، ماده ٣، اګست ١٢، ١٩٤٩، ٦، يو. ايس. ټي. ٣٣١٦، ٧٥ يو. اين. ټي. ايس. ١٣٥ [لدې وروسته ژنيوا تړون III]، ترلاسه کېدای شي په http://www.unhcr.ch/html/menu3/b/91.htm (په سپتمبر ١٢، ٢٠٠٨ وکتل شو).

[10] همدا.

[11] وګورئ د *دفاع د محکمې جنرال کونسل ته د لوي څارنوال د نايب مرستيال جان يُو يادداښت*، جنوري ٩، ٢٠٠٢، بيا خپور شوی په کارين جی. ګرينبرګ او جوشوا ايل. ډراتيل، *ظالمانه فرمانونه: د ابو غريب لاره* (کامبرج: کامبرج يونيورسټي پريس، ٢٠٠٥)، ٣٨ - ٧٩؛ او د *سپينې ماڼۍ کونسل البرټو ګونزاليز ته د لويي څارنوال د مرستيال جی. ايس بيابي يادداښت*، جنوري ٢٢، ٢٠٠٢، بيا خپور شوی په ګرينبرګ او ډراتيل، *ظالمانه فرمانونه*، ٨١ .١١٧

[12] ولسمشر جارج ډبليو. بوش ته د سپينې ماڼۍ د کونسل البرټ ګونزاليز يادداښت، جنوري ٢٥، ٢٠٠٢، بيا خپور شو

په جمیل حعفر او ارمیت سنگهـ، *د ظلم اداره: د واشنګټن څخه تر ابوغریب او ورهاخوا ډاکومنټري ریکارډ* (نیو یارك: کولمبیا یونیورسټي پرېس، ۲۰۰٦) ای-۱-۳.

[13] همدا. همداراز وګورئ د *ولسمشر جارج ډبلیو. بوش لخوا یادښت*، فبروري ۷، ۲۰۰۲، بیا خپور شوی په جعفر او سنګهـ، د ظلم اداره، ای-٦، چې په http://www.pegc.us/archive/White House/bush memo 20 020207 ed.pdf باندې هم کتل کېدای شي، (په سپتمبر ۳۰، ۲۰۰۸ وکتل شو).

[14] مایر، *تیاره اړخ*، ۸. مایر د پولټیزار د جایزې ګټونکي مورخ او ټولنیز نقاد ارتهر شیلزینګر کشر د یوې مرکې پر مهال، یو بیان بیا لیکلی دی. مایر د شلیزینګر نه پوښتنه کوي چې هغه د "تشدد په اړه د ولسمشر بوش د پالیسۍ" په اړه څه فکر کوي، او شیلزینګر ورته ځواب وایي "هیڅ یو اقدام په نړۍ کې د امریکا شهرت دومره ندی خراب کړی، هیڅکله هم."

[15] د *ولسمشر جارج ډبلیو. بوش لخوا یادښت*، فبروري ۷، ۲۰۰۲، بیا خپور شو په جعفر، سنګهـ، *د ظلم اداره*، ای-٦.

[16] معلوماتي دستاویز، د ګوانتانامو د بندیانو حېثیت، فبروري ۷، ۲۰۰۲، ترلاسه کېدای شي په http://www.whitehouse.gov/news/releases/2002/02/200 20207-13.html (په سپتمبر ۱۲، ۲۰۰۸ وکتل شو).

[17] د بوش ادارې د لومړي ځل لپاره د القاعده او طالبانو جنګیالیو ته د "دښمن جنګیالي" په ویلو سره اشاره په مارچ ۲۱، ۲۰۰۲، پېنټاګون کې د یو مجلس پر مهال وکړه، په کوم کې چې د دفاع د محکمې ویلیم جی. هاینز دویم اعلان وکړ چې "مونږ ښایي دښمن جنګیالي د جګړې پر مهال قېد کړو" بې له دې غمه چې که په نظامي محکمه کې بري شوي هم وي. وګورئ پیټرجېن هونیسبرګ، "د دښمن جنګیالیو تعقیب کول او د نړیوال قانون نه ځان بچ کول: د ناروا تشدد لپاره اجازت نامه،" *یو سي ایل ای جی. انټرنېشنل ایل اېنډ فارن افیئرز*، ۱۲ (۲۰۰۷). خو دا اصطلاح په رسمي توګه تر هغې تشریح نه کړای شوه تر څو چې په ۲۰۰٤ کې د جنګیالیو د حېثیت د معلوموملو عدالتونه جوړ نه شول، کومو چې بندیانو ته اجازه ورکړه چې د خپل ځان په اړه د دښمن جنګیالیو تشخص چېلنج کړي. د بحري

پوځ سکرتر ته د جنګیالیو د حیثیت د معلوموملو د عدالت د جوړولو د امر په اړه د دفاع د مرستیال سکرتري پال ولفوویټز یادابښت، جولای ۷، ۲۰۰٤، ترلاسه کېدای شي په http://www.defenselink.mil/news/Jul2004/d20040707review.pdf (په سپتمبر ۱۲، ۲۰۰۸ وکتل شو).

[18] جان یُو، *جګړه په نورو ذریعو: د ترهګرۍ پر ضد د جګړې داخلي کیسه* (نیو یارك: اټلانټك منتهلي پریس، ۲۰۰٦)، ۱٤۲.

[19] یُو، *جګړه په نورو ذریعو*، ۱٤۲. همدا راز وګورئ د دفاع د محکمې جنرال کونسل ویلیم جی. هاینز دویم ته د لوي څارنوال د نایب مرستیال پیټرك پیلبین او د لوي څارنوال د نایب مرستیال جان یُو یادابښت، دسمبر ۲۸، ۲۰۰۱، بیا خپور شو په ګرینبرګ او ډراټیل، *ظالمانه فرمانونه*، ۲۸-۳۷.

[20] د کیوبا په ګوانتانامو ټاپو کې د امریکا د بحري اډې په اړه د نورو معلوماتو لپاره وګورئ http://www.globalsecurity.org/military/Guantanammo-bay.htm (په سپتمبر ۲۳، ۲۰۰۸ وکتل شو).

[21] په ګوانتانامو کې ځینو نورو خلکو او ادارو هم پلټنې کړې دي، په ګډون د بهرنیو حکومتونو د استازو او یو غټ شمېر نظامي ادارو.

[22] د امریکا د دفاع محکمه، د انسپکټر جنرال دفتر، *په ګوانتانامو ټاپو، افغانستان او عراق کې د بندیانو په نګرانۍ او پلټنو کې د ایف بي ای لاس لرنې ته یوه کتنه* (مې ۲۰۰۸)، ٦۳-٦٤ [تر دې وروسته او ایي جي/ډي او جی راپور]، ترلاسه کېدای شي په http://www.dodigo.osd.mil.fo/Foia/ERR/06-INTEL-10-PublicRelease.pdf (په اګست ۲۲، ۲۰۰۸ وکتل شو).

[23] همدا.

[24] همدا.

[25] په مئ ۲۰۰۸ کې، سي ایي ای د محکمې په امر د نیولو او پلټلو د پروګرام په اړه د دې اداري دستاویزات ښکاره کړل. د امریکن سول لیبرټیز یونین "خبري اعلامیه": ای سي ایل یو ته د واټربورډنګ په اړه د سي ایي ای لیکل شوي درانه دستاویزات په لاس ورغلل،" مئ ۲۷، ۲۰۰۸، ترلاسه کېدای شي په

http://www.aclu.org/safefree/torture/35454prs20080527.html (په اکتوبر ۸، ۲۰۰۸ وکتل شو).

26 وگورئ (د مقاومت د ستراتیژۍ د مقابلې د غونډې تفصیلات،" ۳، چې د امریکا د دفاع د محکمې د جنایي تحقیق د ځواك مرستیال قوماندان مارك فالن ته د یو بریښنالیك سره پېوست وو، کوم چې د جنایي تحقیق د ځواك مشر سام مکاهن ته په اکتوبر ۲۸، ۲۰۰۲ لېږل شوی، پکې د پوځ لخوا پلټنو لپاره د وړاندیز شویو تخنیکونو او د مقاومت د ستراتیژۍ د مقابلې د غونډې په اړه د فالن اندېښنې لیکل شوې دي.

27 وگورئ جعفر او سنگهـ، *د ظلم اداره*، ۳؛ فزیشنز فار هیومن رایټس، *مات شوي قوانین، مات شوی ژوند: د امریکایي کارکوونکو د تشدد طبي ثبوت او د دې اغېز*، جون ۲۰۰۸، ۹۵-۹۸.

28 د بشري حقوقو کایناتي اعلامیه، G.A. Res. 217A, at 71, U.N. GOAR, 3d Sess., 1st plen. mtg., U.N. Doc. A/810 (1948)

29 د ملکي او سیاسي حقوقو په اړه نړیواله معاهده، ماده ۷، دسمبر ۱۶، ۱۹۶۶، ۹۹۹ یو.این.ټي.ایس. ۱۷۱، *تطبیق شوه په* مارچ ۲۳، ۱۹۷۶.

30 په هر تړون کې دریمه ماده ("عامه دریمه ماده") ممانعت کوي د "تشدد په ژوند او شخصیت، په ځانگړې توگه د هر ډول وژنې، غوڅولو، ظالمانه چلند او زور زیاتي" او "په شخصي عزت باندې د تېري، په ځانگړې توگه د تحقیري او تذلیلي چلند." د بېلگې په توگه، وگورئ د ژنیوا تړوون III، دریمه ماده.

31 د تشدد او نور ظالمانه، غېر انساني، یا تحقیري چلند یا سزا په وړاندې د م م تړون، G.A. Res. 39/40, U.N. GOAR. ۳۹مه ناسته، ضمیمه لمبر ۵۱، تطبیق شو په جون ۲۶، ۱۹۸۷، د م م دستاویز A/Res/39/46، ترلاسه کېدای شي په http://www.unhcr.ch/html/menu3/b/h cat39.htm (په سپتمبر ۱۲، ۲۰۰۸ وکتل شو).

32 په دې لړ کې یوه له غټو عدالتي پرېکړو څخه د *فیلارټیگا په مقابله د پینا-ایرالا* د قضیې پرېکړه ده، ۶۳۰ ایف، دویم، ۸۷۶، ۸۸۴ (دویم خپراوی ۱۹۸۰)، ۵۷۷ ایف. ضمیمه ۸۶۰ (اي. ډي. این. وائي. ۱۹۸۴) ته وسپارل شوه. محکمې ولیکل: "تشدد د هغه په نظر لکه د قزاق او د

غلامانو د سوداگر جوړ شوی دی، د ټول انسانیت دښمن."
همدا، ۸۹۰.

[33] په دې لړ کې، متحده ایالاتو په ۲۰۰۲ کې د تشدد پر ضد د م م کمېټې ته لاندې بیان ورکړ:
تشدد په متحده ایالاتو کې په قانون کې منع کړای شوی دی. دا د پالیسۍ د معاملې او د ریاستي واکمنۍ د آلې په توگه په واضحه توگه غندل شوی دی.... د تشدد هر اقدام چې د [م م] د تړون په مانا کې راځي د موجوده مرکزي او ریاستي قانون له مخې غېرقانوني دی، او هر څوک چې داسې کوي د هغو جزاوو وړ گرځي چې په جنایي قواعدو کې مشخصې شوې دي.... تشدد ته د استثنایي حالاتو په بهانه جواز نه شي ورکړای کېدای.
*د امریکا متحده ایالات، په هغو راپورونو غور چې د م م د تشدد پر ضد کمېټې ته، د تړون د نهمې مادې لاندې د ریاستونو لخوا وړاندې شوي دي.* Add., at 6, 100, U.N. Doc. CAT/C/28/Add.5, 2005، ترلاسه کېدای شي په http://www.1.umn.edu./humanrts/cat/cat-reports2000html (په سپتمبر ۱۲، ۲۰۰۸ وکتل شو).

[34] د تشدد د بلهاریانو د تحفظ قانون، ۱۹۹۱، Pub. L. No. 102-56, 106 Stat. 73 (1992) (codified at 28 U.S.C. § 1350 (2007).

[35] د تشدد د تړون د تطبیق قانون، ۱۹۹٤، Pub. L. No. 103-326, 106 Stat. 463 (1994) (codified at 18 U.S.C. §§ 2340, 2340A (2004).

[36] د جنگي جنایتونو قانون، ۱۹۹٦، Pub. L. 104-192, § 2(a), 110 Stat. 2104, Aug. 21, 1966 (codified as amended at 18 U.S.C. § 2441 (2006)

[37] قېدي سره د چلند قانون، ۲۰۰۵، Pub. L. No. 109-148, 119 Stat. 2739 (2005) to be codified in scattered sections of 10, 28, and 42 U.S.C.)

[38] د پوځ د کمیسیونونو قانون، ۲۰۰٦، Pub. L. No. 109-366, 120 Stat. 2600 (2006). (amending 18 U.S.C. § 2441).

[39] د جنگي جرمونو قانون § ۲(a). خو، د نظامي کمیسیونونو قانون چې په ۲۰۰٦ کې منظور شو، د جنگي جرمونو د قانون لاندې په جنایي مسوولیتونو کې پراخ استثنائات لري. د ۲۰۰٦ د نظامي کمیسیونونو قانون، د Pub. L. No. 109-366, 120 Stat. 2600-2636 (2006).

بېلګې په توګه، د نظامي کمیسیون قانون د جنګي جرمونو قانون تایید کړ څو د درېیمې عامه مادې یواځې "سختې غلطۍ" د محاکمې سبب جوړې شي، حال دا چې تر دې وړاندې، د درېیمې عامې مادې څخه هر ډول سرغړونه د محاکمې سبب کېدای شوه. 120. Stat. 2632 § 6(a)(2).

[40] د دفاع د محکمې د جنرال انسپکټر دفتر، قېدیانو سره د تشدد په اړه د دفاع د محکمې لخوا شویو تحقیقاتو ته کتنه، اګست ۲۵، ۲۰۰، ترلاسه کېدای شي په http://www.dodig.osd.mil/fo/Foia/ERR/06-INTEL-10-PublicRelease.pdf (په اګست ۲۲، ۲۰۰۸ وکتل شو) [تر دې وروسته ډي او ډي/ایي جي راپور].

[41] همدا.

[42] ضمیمه ث د دفاع د سکرتر د جنرال کونسل د دفتر د مشر ډانیل بامګارټر لخوا یو دستاویز دی، *هغه جسماني فشارونه چې په مقاومتي روزنه او د امریکایي قېدیانو او بندیانو خلاف استعمال شوي،* جولای ۲۵، ۲۰۰۲. دا دستاویز چې د سي اي ار اي تاکتیکونو ته یوه کتنه ده، د ۲۰۰۲ د جولای په ۲۶مه د بامګارټر لخوا د یو یاداښت سره تړل شوی و چې سرلیک یې و "ناجایزه ګټه او جسماني فشارونه،" د سي اي ار اي روزنې په اړه د هغو پوښتنو د ځوابولو لپاره تیار شوی و چې د جی پي ار ای او د دفاع محکمې د جنرال کونسل ترمنځ په یوه غونډه کې راپورته شوې وې. د ایس اي ار اي د تخنیکونو بېلګې هم په یو چارټ کې ورکړای شوې وې کوم چې په اصل کې البرټ ډي. بایډرمېن په ۱۹۵۷ کې مشهور کړی و، کوم چې د کوریا د جنګ پر مهال د کمونستانو د پلټنو د هغو تخنیکونو تفصیل بیانوي چې د امریکایي پوځیانو خلاف استعمال شوي وو. دا تخنیکونه د امریکایي پوځیانو نه د اعترافاتو په اخیستلو، چې زیاتره یې درواغ وو، کې بریالي پاتې شوي وو. د دې تاکتیکونو استعمالول د سناتور کارل لیوین لخوا غندل شوی و: "کوم شی چې دا دستاویز ډېر زیات حېرانوونکی جوړوي دا دی چې دا تاکتیکونه د درواغ اعترافاتو د اخیستلو لپاره وو." سکاټ شېن، په ګوانتانامو کې هغه پلټنې چې روحیه یې د چین نه اخیستل شوې،" *نیو یارک ټایمز،* جولای ۲، ۲۰۰۸. دا دستاویزات په ټولیزه توګه ښیي چې په ګوانتانامو کې د قېدیانو خلاف د ایس اي ار اي تاکتیکونو او د تخنیکونو په اصلیت کې د کمونستي

پلټنو د طریقو د ژر بېرته په شا کولو کې د دفاع محکمې لاس درلود.

[43] ډي او ډي/ایي جي راپور، ۲۵.

[44] وګورئ مایر، *تیاره اړخ*، ۱۹۸-۹۹.

[45] وګورئ د جنرال جېمز هیل حلفیه بیان، اکتوبر ۷، ۲۰۰۵، ترلاسه کېدای شي په http://images.salon.com/ent/col/fix/2006/04/14/fri/HILL/pdf (په اګست ۳۰، ۲۰۰۸ وکتل شو).

[46] وګورئ "د مقاومتي ستراتیژۍ د مقابلې د غونډې تفصیلات،" ۳.

[47] وګورئ د مرستیال څارنوال جی. ایس. بیابي لاربښود، د سپینې ماڼۍ کونسل البرټو ر. ګونزالیز ته، په اړه د پلټنو د چارو د معیارونو، د ۱۸ یو .ایس.سي. § ۲۳٤۰ ای، اګست ۱، ۲۰۰۲، لاندې، ترلاسه کېدای شي په http://news.findlaw.com/hdocs/docs/doj/bybee80102ltr6.html (په اګست ۳۰، ۲۰۰۸ وکتل شو) [تر دې وروسته د تشدد یادابښت]. د بوش اداري دا یادابښت په دسمبر ۲۰۰٤ کې منسوخ کړ.

[48] همدا.

[49] همدا. د صدمې نه وروسته د ذهني فشار د تعریف لپاره چې په *ډایګناسټک اینډ سټټیسټیکل مېنول اف مېنټل ډیس ارډرز (ډي ایس ایم-IV)* کې ورکړای شوی دی، وګورئ http://www.mental-health-today.com/ptsd/dsm.htm (په اکتوبر ٦، ۲۰۰۸ وکتل شو). د صدمې نه وروسته د ذهني فشار د تشخیص او اغېز په اړه یوه مباحثه، د بېلګې په توګه، وګورئ ریچارډ جی. مکنالي، *د صدمې یادول* (کامبریج، ایم ای: هارورډ یونیورسټي پریس، ۲۰۰٤)؛ جوډیتهـ هیرمېن، *صدمه او تري رغېدل: د تشدد نتایج - د کورني زور زیاتي څخه تر سیاسي ترور پورې* (نیو یارك: بېسیك بکز، ۱۹۹۲)؛ او ایرك سټوور او ایلینا او. نایټ اینګل، *د جسمونو او ذهنونو ماتول: تشدد، اروایي زیاتی، او د مسلکونو روغتیا* (نیو یارك: ډبلیو. ایچ. فریمېن او کمپني، ۱۹۸۵).

[50] د تشدد یادابښت.

[51] همدا.

[52] وګورئ په جون ۲۰۰۸ کې په ګوانتانامو او نورو امریکایي بندیخانو کې بندیانو باندې د پلټنو لپاره د استعمال شویو جارحانه طریقو د اصلیت په اړه د سنا د

نظامي خدمتونو د کمېټې سماعت ته د سناتور کارل لیوین پرانستونکې وینا. د هغه پرانستونکې وینا د امریکا د حکومت ګڼ شمېر یادداښتونو او دستاویزاتو چې د پلټنې طریقې یې بحث کړې دي، حوالې ورکوي. کارل لیوین، امریکایي سناتور، "*خبري اعلامیه: د سنا د نظامي خدمتونو د کمېټې سماعت: د پلټنې د جارحانه طریقو اصلیت*،" جون ۱۷، ۲۰۰۸ [تر دې وروسته د لیوین پرانستونکې وینا] ترلاسه کېدای شي په http://levin.senate.gov/newsroom/release.cfm?id=299242 (په جولای ۱۷، ۲۰۰۸ وکتل شو). همدارنګه وګورئ سانډز، د تشدد ډله، ۲۱۰-۳۲

[53] وګورئ د لیوین پرانستونکې وینا.

[54] دا دستاویز د پوځ دننه د اندېښنو یوه بېلګه ده؛ د ډي او ډي سي ایي ټي ایف مشر قانوني مشیر سام مکاهون د ۲۰۰۲، د نومبر په ٤مه یو یادداښت خپور کړ چې د پلټنو وړاندیز شویو "پراخو" تخنیکونو یې تنقیدي اندازه اخیستې، په کوم کې چې هغه د داسې تخنیکونو د "قانونیت او استعمال" په اړه پوښتنې کوي.

[55] وګورئ د *عمل یادداښت* چې تایید یې د دفاع سکرتر ډونالډ رمسفیلډ لخوا په نومبر ۲۷، ۲۰۰۲ شوی دی، ترلاسه کېدای شي په جعفر او سنګهــ، *د ظلم اداره*، ای-۸۳ کې. همدارنګه وګورئ ایډمرل البرټ ټي. چرچ دریم، *د دفاع د محکمې نیوونکو عملیاتو او د بندیانو د تحقیق طریقو ته کتنه: بشپړ لنډیز*، مارچ ۱۱، ۲۰۰۵، ۲۰۱ [تر دې وروسته چرچ راپور]؛ ډي او ډي ایي جي راپور، ۱۵-۱٦، ۲۷.

[56] وګورئ د *عمل یادداښت*، ای-۸۳. همدارنګه وګورئ چرچ راپور، ۲۰۱؛ ډي او ډي ایي جي راپور، ۱۵-۱٦، ۲۷.

[57] د دفاع د محکمې د جنایي تحقیقاتو د ځواک د قوماندان بریټن مالو بریښنالیک، "*بېرته: د پلټنو په ستراتیژیو او تخنیکونو وغېره کې د سي ایي ټي ایف ګډون او بحث*،" بیا خپور شوی په جعفر او سنګهــ، *د ظلم اداره*، ای-۱٤٥.

[58] وګورئ جعفر او سنګهــ، *د ظلم اداره*، ۱۲-۱۳. همدارنګه وګورئ البرټو جی. مورا، *د بحریې د محکمې جنرال انسپکټر ته یادداښت*، جولای ۷، ۲۰۰٤، ۳ [تر دې وروسته د مورا یادداښت]، ترلاسه کېدای شي په http://www.aclu.org/pdfs/safefree/mora_memo_july_20

04.pdf (په اګست ۳۰، ۲۰۰۸ وکتل شو)؛ جېن ماير، "ياداښت"، *نيو يارکر*، فبروري ۲۷، ۲۰۰٦.

[59] د مورا يادښت، ۷.

[60] ډونالډ رمسفيلډ، *د دفاع د سکرتر ډونالډ رمسفيلډ لخوا د امريکا د جنوبي قوماندې لپاره يادښت: بېرته: د مقاومت د مقابلې تخنيکونه*، جنوري ۱۵، ۲۰۰۳، ترلاسه کېدای شي په جعفر او سنګهــ، *د ظلم اداره*، ای-۱٤٦.

[61] وګورئ سانډز، د تشدد ډله، ۱۵۰-۵۱.

[62] *د دفاع د سکرتر ډونالډ رمسفيلډ لخوا د امريکا د جنوبي قوماندې قوماندان جېمز ټي. هيل لپاره يادښت: بېرته: د مقاومت د مقابلې تخنيکونه*، اپرېل ۱٦، ۲۰۰۳، بيا خپور شو په ګرينبرګ او ډراتېل، *ظالمانه فرمانونه*، ۳٦۰-٦۳.

[63] په دې راپورونو کې غټ دا دي: (۱) د *دفاع محکمې د قېد عملياتو ته د خپلواکې ډلې د کتنې اخري راپور*، اګست ۲۰۰٤ [لدې وروسته ډي او ډي راپور]. د ډي او ډي راپور د دفاع د محکمې لخوا د جوړې شوې ډلې هغه لاس ته راوړنې ښيي چې په افغانستان، ګوانتانامو ټاپو او عراق کې د دفاع د محکمې د قېد عملياتو ته کتنه کوي. ډاکټر جېمز ر. شيلزينګر د دې ډلې مشر و. دا راپور وايي: "د پلټنې هغه طريقې چې يواځې د ګوانتانامو لپاره وې په افغانستان او عراق کې هم استعمال شوې دي. په هغو طريقو کې چې په ګوانتانامو کې کارول شوي سخت حالتونه، د دېرشو ورځو پورې ځانله قېد او جامې ترې ايستل پکې شامل دي." د ډي او ډي راپور، ٦۸. (۲) د چرچ راپور د دفاع د محکمې هغو ۱۸۷ فعاليتونو ته کتنه کړې چې په افغانستان، ګوانتانامو ټاپو، او عراق کې بنديانو سره د تشدد تورونه پکې لګول شوي دي. "د ۷۱ څخه اته فعاليتونه په جي ټي ايم او کې ترسره شوي، چې ټول يې د جسماني تشدد له اړخه نسبتاً واړه دي، خو دوه پکې داسې دي چې اجازه يې نه وه ورکړل شوې، پلټونکو پکې د جنسي چلند نه کار اخيستی، او دې د کولتوري او مذهبي حساسيتونو سره اړوندې ستونځې راپېدا کړې دي." (۳) پوځي قاعده ۱۵-٦: *اخري راپور، د کيوبا په قېدخانه، ګوانتانامو ټاپو کې بنديانو سره د زور زياتي په اړه د ايف بي ای د تورونو تحقيق*، اپرېل ۱، ۲۰۰۵، ترميم شو

په جون ۹، ۲۰۰۵ [تر دې وروسته د شمیت-فرلو راپور]. د شمیت-فرلو راپور د دفاع د محکمې د برید جنرال رانډال شمیت او تورنجنرال جان فرلو لاس ته راوړنې ښيي. د دې کار د درېو کالو په موده (سپتمبر ۲۰۰۱ نه تر جولای ۲۰۰٤ پورې) او ګوانتانامو کې تقریباً د څلیرویشت زره پلټنو باندې دی. د دې مصنفینو "د تشدد یا غېر انساني چلند کوم ثبوت ونه موند" خو دا يې وموندل چې د پلټنو درې اعمال د پوځ د نصاب ۳٤-۵۲ او د ډي او د ډي د لارښودنې څخه خلاف وو؛ دا چې د ۲۰۰۲ په اواخرو کې د لوړ ارزښت د یو بندي څخه پلټنه د تذلیل او زوروونکي چلند درجې ته رسېدلې ده؛ او دا چې یو بل بندي ته ورکړل شوې دړکې د نظامي عدالت د یونیفارم کوډ خلاف وې.

[64] د چرچ راپور، ۱۳.

[65] د یو تاکتیک بېلګه چې اجازه يې ورکړای شوې وه د ایف بي ايي دا تور و چې یوې ښځینه تحقیق کوونکې "یو قېدي ته وویل چې د هغې په لاس باندې سور رنګ د هغې حېض وینه ده او بیا يې خپل لاس د قېدي په څنګل پاك کړ." د راپور مصنفینو وویل چې د دې اجازه د "چټي توب" د تاکتیك (یو داسې "عمل چې قېدي پکې خپل حالت چټي محسوس کړي") بېلګه ده. شمیت-فرلو راپور، ۸.

[66] او ايي جي/ډي او جی راپور.

[67] همدا، ۱۷۱. ۸,۱ باب په ۱۷۲-۷۳ مخونو باندې د هغو پوښتنو د ځوابونو لنډیزونه دي چې ګوانتانامو کې د پلټنو د خاصو تخنیکونو په اړه شوي دي.

[68] همدا. برسېره پر دې، د ایف بي ايي ایجنټانو په ګوانتانامو کې د "جنګي جرمونو دوسیه" جوړه کړه تر څو هغه زور زیاتی پکې ثبت کړي چې دوی لیده. خو په ۲۰۰۲ کې یو وخت دوی ته امر وشو چې دا دوسیه بنده کړي ځکه چې "بندیانو سره د زور زیاتي تحقیقات کول د ایف بي ايي کار نه دی." وګورئ ایرك لیټبالو او سکاټ شېن، "د ګوانتانامو په تاکتیکونو د اختلاف د تفصیل راپور،" *نیو یارك ټایمز*، مئ ۲۱، ۲۰۰۸؛ او ايي جي/ډي او جی راپور .xxii

[69] د بېلګې په توګه، په داسې حال کې چې د شمیت-فرلو راپور مصنفینو معلومه کړه چې په ګوانتانامو کې څه نا څه زورزیاتی کېده، دوی دا نتیجه راوویستله چې د

تخنیکونو د ناوړتیا باوجود پوځي نصاب په دې پلټنو کې د زیاترو اجازه ورکړې ده. شمیت-فرلو راپور، ۸.
[70] د متحده ایالاتو د دفاع محکمه، خبري اعلامیه: د بندیانو انتقال اعلان شو، اکتوبر ۸، ۲۰۰۸، ترلاسه کېدای شي په
http://www.defenselink.mil/releases/release.aspx?releaseid=12275 (په اکتوبر ۸، ۲۰۰۸ وکتل شو).
[71] لږ تر لږه ښودل شوی وخت درې ورځې او زیات يې اته ویشت اونۍ و.
[72] په دې پروژه کې د مرکه شویو کسانو د پېژندګلوی ریکارډ نه دی ساتل شوی. هغه محققین چې د کمزورو خلکو سره کار کوي لکه د جنسي تېري بلهاریان، ځپل شوي ماشومان، ارواپي ناروغان، د محکمو شاهدان، او یا بندیان اکثر د مرکه شویو کسانو نومونه پټ ساتي تر څو هغوی د نور نقصان نه خوندي وي.
[73] د کوډولو د بندې او خلاصې پروسې کارولو محققینو ته اجازه ورکړه چې قیاسات تجربه کړي او د پخوانیو بندیانو د تجربو په اړه نوي خیالات پېدا کړي.
[74] په دې معلوماتغونډ کې د اژانس فرانس پریس، د ایسوسي ایټډ پریس، د بي بي سي (انلاین)، د نیو یارک ټایمز، د رویتر خبري اژانس، د واشنګټن پوسټ او د چین د خبري ادارې شینا لیکنې شاملې وې. ټولې لیکنې د جنوري ۱، ۲۰۰۲ او دسمبر ۳۱، ۲۰۰۶ ترمنځ خپرې شوې وې.
[75] وګورئ هیومن رایټس ډاټا انالیسسز ګروپ، بنسټیزې مفکورې، ترلاسه کېدای شي په
http://www.hrdag.org/resourcess/core concepts.shtml (په اګست ۱۸، ۲۰۰۸ وکتل شو).
[76] په څېړنه کې د مرستیالانو ډلې ته د کوډولو د باوري کولو لپاره د یوې میاشتې ټرېننګ ورکړه ای شو، چې یو ځای هغه لیکنې کوډ کړي چې د یوشانوالي د باور مناسبې درجې ته رسېدلې وي. دا پروژه په برابر شمېر کې اویا فیصده د یوشانوالي د باوریت درجې ته ورسېدله. په برابر شمېر کې د یوشانوالي د باوریت لپاره کوم واضح معیار معلوم ندی ځکه چې دا په مختلفو طریقو موازنه کېدلای شي. د معلوماتغونډ د سایز او جوړښت (یوه لیکنه په نورمال توګه دوه سوه مېدانونه جوړوي) له امله، هغه وخت چې د کوډ کوونکو په ټرېننګ او د رسنیو په راپورونو کې د

مجهولې ژبې د ژباړلو په کار کې ولګول شو، د یوشانوالي د باوریت اویا فیصده کافي وګڼل شو. وګورئ رومیش سلیوا، "په لوي کچ د بشري حقوقو د سرغړونو د دستاویز کولو لپاره د یو شانوالي د باوریت اندازه"، د امریکن سټیټیسټیکل ایسوسي ایشن او ایسوسي ایټډ سوسایټیز د احصاییو په اړه د ګډو غونډو ګزارشونه، اګست ۲۰۰۲.

77 شافسونیرسټیټ وین: ویانا یونیورسټي اف ایکانومکس اېنډ بزنس ایډمنسټرېشن، د اعداد و شمار او حساب کتاب څانګه، *د اعداد و شمار د کمپیوټري کولو لپاره د "ر" پروژه*، ترلاسه کېدای شي په http://www.r.project.org (په اګست ۳۰، ۲۰۰۸ وکتل شو). د راپورونو د بیا نقل کولو څخه د ځان بچ کولو لپاره، هغه قېدیان چې د رسنیو په راپورونو کې یاد شوي وو، په نوم، تابعیت او د زیږېدنې د کال، که دا معلومات په لاس کې وو، سره وکتل شو. لدې امله چې عربي نومونه په انګلیسي کې په څو ډوله لیکل کېږي او روایتاً د شجره نسب اوږده سلسله لري د بندیانو نومونه د رسنیو په مختلفو راپورونو کې اکثر بدل یا نابشپړ لیکل شوي وو. وګورئ ای. ایف. ایل. بیسټن، *عربي نومښود* (اکسفورډ: یونیورسټي پریس، ۱۹۷۱)، ترلاسه کېدای شي په http://www.lib.umich.edu/area/Near.East/cmenas520/BeestonNomen.pdf (په اګست ۳۰، ۲۰۰۸ وکتل شو). د یو نسلاً عرب تن د مشورو په رڼا کې، د بندیانو نومونه په راپورونو او د بندیانو د خوشې کېدو په لیست کې د نومونو د معلومولو د یو خاص سیستم "ساونډیکس الګوریتم" په استعمالولو سره وکتل شو. د متحده ایالاتو د دفاع محکمه، "د هغو اشخاصو د نومونو لیست چې د دفاع د محکمې لخوا د کیوبا په ګوانتانامو ټاپو کې قېد کړای شوي دي،" د اییني حقوقو د مرکز لخوا تازه کړای شوی.

78 نومونه هغسې څرنګه چې د امریکا د دفاع د محکمې لخوا د هغوی په "د هغو اشخاصو د نومونو لیست چې د دفاع د محکمې لخوا د کیوبا په ګوانتانامو ټاپو کې قېد کړای شوي دي،" کې ښودل شوي او څرنګه چې د اییني حقوقو د مرکز لخوا تازه شوي دي.

79 څرنګه چې د مرکه شویو کسانو د عمرونو جوړښت په شانداره توګه د اوسنیو او پخوانیو بندیانو سره یو شان و (کوم کسان چې مرکه شوي د هغوی د نیول کېدو پر مهال

اوسط عمر ۲۹ کاله و)، د مرکې بېلګه د افغانانو او لویدیځو اروپایانو په نظر کې نیولو سره جوړه شوې وه.

[80] مرکه کوونکو د دوی د پوښتنو ځوابوونکو ته سیمه ایزو نادولتي موسسو سره د تماس نیولو معلومات ورکړل څو د بشري حقوقو په مسلو، او یا هم که اړتیا ورته وي نو، په اروایي چارو کې مرسته ځینې ترلاسه کړي.

[81] د رسنیو د مرکو برعکس، چېرته چې د وخت او ځای فشار، او بېلابېلې ګټې د دې لامل کېږي چې د ژورنالستانو لیکنې د بندیانو د تجربو یوه وړه برخه راواخلي، دا څېړنیزه مرکه وتوانېدله چې د هر بندي څخه یو شان پوښتنې وکړي. په دې دلیل، مونږ تمه لرو چې دا څېړنیزه مرکه به د بشپړو ژورنالستي کیسو په ځای د قېدي د تجربو یو پوره انځور وړاندې کړي.

## دویم باب: افغانستان: د اوږدهٔ سفر پېل کېدل

[1] مارک ډینبیکس او نور، د ګوانتانامو د بندیانو په اړه راپور: *د دفاع د محکمې د معلوماتو په رڼا کې د ۵۱۷ بندیانو عمودي انځور*، سیټن هال لا سکول، ۲۰۰۶، ۲۵، ترلاسه کېدای شي په http://law.shu.edu/news/Guantanamo report final 2 0 8 06.pdf (په اګست ۲۰، ۲۰۰۸ وکتل شو). همدارنګه وګورئ اینډي وارتینګټن، *د ګوانتانامو دوسیې: د امریکا په غېرقانوني زندان کې د ۷۷٤ بندیانو کیسې* (این اربر: پلوټو پریس، ۲۰۰۷)؛ هربرټ ای. فریډمېن، "په افغانستان کې اروایي عملیات،" http://www.psywarrior.com/Herbafghan02.html (په جولای ۲۵، ۲۰۰۸ وکتل شو). د سټن هال د راپور مصنفینو د ګوانتانامو د ۵۱۸ بندیانو د قضیو چې پوځ ورته کتنه کړې، په اړه د پورته هر چا ته په لاس ورتلونکو تحقیقي معلوماتو حواله ورکړې ده. د راپور مصنفینو دا معلومات ترلاسه کړل چې "یواځې پنځه فیصده بندیان د امریکایي ځواکونو لخوا نیول شوي" او "شپږ اتیا فیصده قېدیان یا خو پاکستان او یا شمالي ایتلاف نیولي او بیا یې امریکا ته سپارلي دي." ډینبیکس، *د ګوانتانامو د بندیانو په اړه راپور*، ۱. خو په ویسټ پواینټ کې د امریکا د پوځي اکادمۍ په یو راپور کې همدا معلومات کتل شوي او په دې

نتيجه رسېدلی چې پکې د بنديانو د غوټې برخې د نيول کېدو د ځايونو په اړه هيڅ معلومات نشته. ايل ټي سي جوسف فيلټر او جارېټ براچمېن، سي ټي سي راپور: د ٥١٦ *جنگياليو د حېثيت د معلوموليو عدالتونو (سي ايس ار ټي) د ښکاره لنډيزونو يوه تجزيه*، جولای ٢٥، ٢٠٠٧، ١٣.

2 وگورئ پروېز مشرف، د اور په کرښه: يو ياداښت (نيو يارک: فري پريس، ٢٠٠٦)، ٢٣٧. مشرف ليکي، "مونږ د مليونونو ډالرو انعامونه گټلي دي. هغوی چې د دې تور لگولو عادت لري چې د ترهگرۍ ضد جگړه کې مونږ "پوره کار ندی کړی" د سي ايي ای نه دې پوښتنه وکړي چې د پاکستان حکومت ته يې په انعامونو کې څومره پېسې ورکړې دي." د دې کتاب د اردو ژباړې څخه ويل کېږي چې مشرف "د انعامونو پېسې" او "د مليونونو ډالرو د انعامونو گټلو" حوالې ايستلې دي. قدسيه اخلاق، "مشرف د "انعامونو" برخه ويستله: د ژوندليک اردو ژباړه،" *ډان انټرنېټ خپرونه*، اکتوبر ٢٣، ٢٠٠٦.

3 ځينې په کندهار او باگرام دواړو کې ساتل شوي وو. وگورئ معظم بېگ (د ويکټوريا برېټان په ملگرتيا)، *دښمن جنگيالی: په گوانتانامو، باگرام او کندهار کې زما قېد* (نيو يارک: دي نيو پريس، ٢٠٠٦). همدا راز وگورئ فزيشنز فار هيومن رايټس، *مات شوي قوانين، مات شوی ژوند: د امريکايي کاروونکو د تشدد طبي ثبوت او اغېز يې*، جون ٢٠٠٨، ٦٢.

4 وگورئ کريس ماکي او گريگ ميلر، *پلټونکي: د ٥٠٠ ځواک او د القاعده خلاف د امريکا پټه جگړه* (نيو يارک: بېک بي بکز، ٢٠٠٥).

5 ايرک شميت او ټيم گولډن، "امريکا په افغانستان کې د نوي غټ زندان پلان جوړوي،" *نيو يارک ټايمز*، مئ ١٧، ٢٠٠٨.

6 کېتراين شرېډر، "امريکا د ترهگرۍ ضد جگړه کې ٨٣٠٠٠ زره تنه نيولي،" *ايسوسي ايټډ پريس*، نومبر ١٦، ٢٠٠٥.

7 جېمز ايف. گېبارټ، "د ابو غريب لاره: د امريکا د پوځ د گرفتارۍ او تجربې مفکوره،" *ميلټري ريويو* (جنوري-فبروري ٢٠٠٥): ٤٤-٥٠.

8 همدا، ٤٨.

9 همدا، ٩٢-٩٣.

10 همدا، ٩٢.

11 همدا. ۹۲-۹۳.

12 ماکي او میلر، *پلټونکي*، ۳.

13 همدا، ٤.

14 وګورئ الیکس ګیني (رئیس)، تیارهٔ اړخ ته ورتګ (۲۰۰٦)، ډاکومنټري فیلم (نقل یې د برکلی د کالیفورنیا پوهنتون د بشري حقوقو د مرکز، او د برکلی د کالیفورنیا پوهنتون د نړیوالو حقوقو د قانوني کتنځي سره شته). د دې ډاکومنټري په اړه بنسټیز معلومات انلاین ترلاسه کېدای شي http://www.taxitothedarksidefilm.com (په اګست ۷، ۲۰۰۸ وکتل شو).

15 ماکي او میلر، *پلټونکي*، ٤.

16 همدا، ٤.

17 همدا، ٥.

18 وګورئ هیومن رایټس واچ، *امریکا په کابل کې پټ "تور زندان" جوړ کړی*، دسمبر ۱۹، ۲۰۰۸؛ کریګ سمیتهـ او سواډ میکنېټ، "الجزایری د امریکا په لاس د تور وخت کیسې کوي،" نیو یارک ټایمز، جولای ۲، ۲۰۰٦.

19 هیومن رایټس واچ د دې "تور زندان" د موجودګی دستاویزات جوړ کړي دي. وګورئ هیومن رایټس واچ، *امریکا په کابل کې پټ "تور زندان" جوړ کړی*، دسمبر ۱۹، ۲۰۰۵.

20 مورات کورناز، *زما د ژوند پنځه کاله، یو بې‌ګناه سړی په ګوانتانامو کې* (نیو یارک: پالګرېو ماکمیلن، ۲۰۰۸)، ٥٤.

21 وګورئ د سره صلیب نړیواله کمېټه، د بندیانو کتل: نتیجې په یوه شپه کې نه راوځي...، اګست ۱۳، ۲۰۰٤، ترلاسه کېدای شي په http://www.icrc.org/web/eng/siteeng0.nsf/html/63AGHE (په اګست ۷، ۲۰۰۸ وکتل شو).

22 په ۲۰۰٤ د امریکا د دفاع سکرتر ډونالډ رمسفیلډ یوه ډله وټاکله چې په افغانستان او عراق کې د امریکایي بند طریقې وګوري. دې ډلې، چې مشري یې د دفاع پخواني سکرتر جېمز ار. شلېزینګر کوله، د زور بربنډول د قېدیانو د بشري اوصافو څخه د محرومولو سره وتړل: "د جامو اغوستل طبعاً ټولنیز عمل دی، او لدې امله بې جامو کېدل په غېر ارادي توګه قېدیان د هغو خلکو په نظر کې تحقیر کړي چې د دوی سره یې لیده کاته کېږي... د انسان د

تحقیرولو دا پروسه هغه اخلاقي او کولتوري بندېزونه لیرې کوي چې عموماً نورو سره د ظالمانه چلند مخنیوی کوي."
وگورئ جېمز ار. شلېزینگر، *د دفاع د محکمې د قېد د فعالیتونو د کتلو د خپلواکې ډلې اخري راپور*، تقدیم شوی په اگست ۲۴، ۲۰۰٤، ضمیمه جي: اروایي زوروني، ۷ [تر دې وروسته شلېزینگر راپور]، ترلاسه کېداى شي په http://www.defenselink.mil/news/Aug2004/d20040824finalreport.pdf (په اگست ۲۰، ۲۰۰۸ وکتل شو).

[23] قران، څلېرویشتم سورت، دېرشم ایت.

[24] عبدالوهاب بوډیبا، *جنسیت په اسلام کې* (لندن: روټلیج اېنډ کیگن، ۱۹۸۵).

[25] بېگ، *دښمن جنگیالی*، ۱۲۲.

[26] جان ایل. ایسپوسیټو، *هغه څه چې هر څوک یې د اسلام په اړه پېژندلو ته اړتیا لري* (نیو یارك: اکسفورډ یونیورسټي پریس، ۲۰۰۲).

[27] وگورئ فیلف زیمبارډو، *ابلیسي اغېز: په دې پوهېدل چې څنگه ښه خلك په بدو اوړي* (نیو یارك: رانډم هاوس، ۲۰۰۷)؛ سټانلی میلگرام؛ *د اولوالامر اطاعت: یو تجرباتي نظر* (لندن: پینټر اېنډ مارټن لمېټډ، ۲۰۰٤). همداراز وگورئ ای. بانډورا، بي. انډرووډ او اېم. اي. فرومسون، د مسوولیت د طوالت او د بلهاریانو د تذلیل له لارې جارحیت ته مخه ورکول"، *جرنال اف ریسرچ ان پرسنالټي*، ۹ (۱۹۷۵): ۲۵۳-٦۹

[28] البرټو جی. مورا، *د بحري د محکمې د جنرال انسپکټر لپاره یادانښت: د ریکارډ بیان: د پالټنو په مسلو کې د جنرال کونسل د دفتر لاسلرنه*، تقدیم شو په جولای ۷، ۲۰۰٤، ٤ [تر دې وروسته د مورا یادانښت]. د مورا یادانښت وایس اډمرال البرټ چرچ ته تقدیم شوی و چا چې وروسته په گوانتانامو کې د تشدد په اړه د پېنټاگون د یوې څېړنې مشري کړې وه.

[29] وگورئ ټېم گولډن، "د امریکا راپور، د دوو افغاني قېدیانو د بې رحمانه وژنې تفصیلات،" *نیو یارك ټایمز*، مئ ۲۰، ۲۰۰۵، ترلاسه کېداى شي په http://www.nytimes.com/2005/05/20/international/asia/20abuse.html?pagewanted=all (په سپتمبر ۲۳، ۲۰۰۸ وکتل شو).

[30] *وگورئ تیارۀ اړخ ته سفر.*

[31] وګورئ ټام لاسيټر، "د افغانستان په اډو کې بنديانو باندې د امريکايانو تشدد معمول و" *مکلاچي نيوزپېپرز*، جون ۱۷، ۲۰۰۸.

[32] ګوانتانامو کې په جون ۲۰۰٤ کې د امريکا پوځي محققينو د سعودي د يو قېدي سره خبرې وکړې او هغه وويل چې په باګرام کې د ډامين ايم. کورسيټي په نامه يو پلټونکي "په [قېدخانه] کې د پلټنې پر مهال خپله خوټه راوويستله، د قېدي مخ ته يې ونيوله او د جنسي تېري دړکه يې ورکړه." وګورئ ګولډن، "د امريکا راپور، د دوو افغاني قېديانو د بې رحمانه وژنې تفصيلات." کورسيټي په دې پېښه تورن شوی و خو ټول تورونه پرې ثابت نه شول.

[33] وګورئ *تياره اړخ ته سفر*. د حبيب الله د طبي معاينې راپور په http://action.aclu.org/torturefoia/released/102405/3146.pdf ترلاسه کېدای شي (په سپتمبر ۲۳، ۲۰۰۸ وکتل شو). همداراز په انلاين طبي ژورنال MedGenMed کې وګورئ سټيون ډي. مايلز، "په عراق او افغانستان کې د جنګي قېديانو د وژنو طبي تحقيقات"، ترلاسه کېدای شي په http://pubmedcentral.nih.gov/articlerender.fcgi?artid=1681676 (په سپتمبر ۲۳، ۲۰۰۸ وکتل شو).

[34] وګورئ سي بي ايس [تلويزيوني چېنل]، "د ويلي براونډ نظامي محاکمه"، سکسټي مينټز [پروګرام]، مارچ ٥، ۲۰۰٦، ترلاسه کېدای شي په http://www.cbsnews.com/stories/2006/03/02/60minutes/main1364163_pages3.shtml (په سپتمبر ۲۳، ۲۰۰۸ وکتل شو). په دې پروګرام کې، د باګرام هغه ساتونکي او پلټونکي چې د اليکس ګېبني لخوا ورسره "*تياره اړخ ته سفر*" لپاره مرکې شوې وې تشريح کړه چې څنګه د زندان پرسونل په زنځيرونو د تړل شويو بنديانو لاسونه د هغوی د سرونو نه پورته غځول. همداراز وګورئ ګولډن، "د امريکا راپور، د دوو افغاني قېديانو د بې رحمانه وژنې تفصيلات." په دې ليکنه کې د تهوماس وي. کرټيس چې په باګرام کې د نظامي پوليسو د يو ټولګي مشر و، يوه خاکه شامله ده چې د دلاور او نورو قېديانو په اړه بيانوي چې څرنګه د دوی د کوټو په چتونو او دروازو پورې تړل کېدل.

[35] د بېلګې په توګه مورات کورناز د خپل کتاب *"زما د ژوند پنځه کلونه، یو بېګناه سړی په ګوانتانامو کې"* وايي چې تقریباً پنځه ورځې د لاسونو نه تړل شوی و.

[36] الیکس ګېبني په خپل ډاکومنټري فیلم *"تیارۀ اړخ ته سفر"* کې د دغې تختې عکسونه ښودلي چې په باګرام کې د قېدیانو د کوټو د یو بلاك په درشل کې پرته ده.

[37] وګورئ *تیارۀ اړخ ته سفر*.

[38] د کندهار یو پخواني قېدي فزیشنز فار هیومن رایټس (د بشري حقوقو طبیبان) ته وویل چې هغه ته "یو ځل جنراتور ته قصداً د دیکه کولو په واسطه برېښنایي شاټ ورکړای شوی و." هغه وویل داسې یې محسوس کړه "لکه چا چې زما رګونه بهر ته راښکلي وي." هغه ته د نورو برېښنایي شاټونو د ورکولو ګواښونه هم شوي وو خو همدا یو ځل شاټ ورکړای شوی و." وګورئ فزیشنز فار هیومن راټیس، مات شوي قوانین، مات شوی ژوند، ٥٦-٥٧.

[39] د پوځ د محکمې مرکز، *ایف ایم ٣٤-٥٢: استخباراتي پلټنې* (سپتمبر ١٩٩٢) [تر دې وروسته ایف ایم ٣٤-٥٢]؛ ایف ایم ٢-٣,٢٢: *"د بشري استخباراتو راټولونکي عملیات"* په سپتمبر ٦، ٢٠٠٦ د ایف ایم ٣٤-٥٢ په ځای راغی. ایف ایم ٣٤-٥٢ د ابو غریب له تماشې وروسته بیا وکتل شو ځو د ٢٠٠٥ بندیانو سره د چلند د قانون (DTA) -Pub.L.No.109 148, §§ 1001-1006 (2005) د هغو بندېزونو سره یې برابر کړي چې د ظالمانه، غېر انساني او تحقیري چلند ممانعت کوي.

[40] ایف ایم ٣٤-٥٢، ٨.

[41] همدا، ٩.

[42] ماکي او میلر، *پلټونکي*، ٨٥.

[43] ډامین ایم. کورسیټي، *په تیارۀ اړخ ته سفر* کې یې حواله راغلې.

[44] ماکي او میلر، *پلټونکي*، ٨٥.

[45] جېن مایر، *تیارۀ اړخ: داخلي کیسه چې څنګه د تروریزم په وړاندې جګړه د امریکې د غوره اهدافو پر ضد جګړه بدله شوه* (نیو یارك: ډبل ډې، ٢٠٠٨)، ١٨٣.

[46] ماکي او میلر، *پلټونکي*، ٨٦.

[47] همدا، ١٩٤-٩٥.

[48] بېګ، *دښمن جنګیالی*، ١٩٠.

## درېيم باب: ګوانتانامو: د ماتې په لور ورودل

[1] د دفاع د محکمې یو لیست چې انلاین ترلاسه کېدای شي د ۷۵۹ قېدیانو په اړه معلومات ورکوي چې د جنوري ۲۰۰۲ او مئ ۱۲، ۲۰۰٦ ترمنځ نیول شوي دي. د امریکا د دفاع محکمه، "د دفاع د محکمې لخوا د کیوبا په ګوانتانامو ټاپو کې د هغو اشخاصو لیست چې د جنوري ۲۰۰۲ څخه تر مئ ۱۲، ۲۰۰٦ پورې نیول شوي دي،" ترلاسه کېدای شي په http://www.defenselink.mil/pubsss/foi/detainees (په اکتوبر ۸، ۲۰۰۸ وکتل شو). خو د دې لیست یوه وروستۍ بڼه چې د ایيني قوانینو د مرکز لخوا په ۹ اکتوبر ۲۰۰۸ تازه کړای شوای دی د ۷۷۸ بندیانو په اړه معلومات لري.

[2] د امریکا د دفاع محکمه، "د دفاع د محکمې لخوا د کیوبا په ګوانتانامو ټاپو کې د هغو اشخاصو لیست چې د جنوري ۲۰۰۲ څخه تر مئ ۱۲، ۲۰۰٦ پورې نیول شوي دي"، د ایيني حقوقو د مرکز لخوا تازه کړای شوی دی.

[3] د امریکا د دفاع محکمه، "خبري اعلامیه: د قېدیانو انتقال پوره شو،" جولای ۱۸، ۲۰۰۳.

[4] د امریکا د دفاع محکمه، "خبري اعلامیه: د قېدیانو د انتقال اعلان وشو،" اکتوبر ۸، ۲۰۰۸، ترلاسه کېدای شي په http://www.defenselink.mil/releases/.aspx?releaseid=12275 ( په اکتوبر ۸، ۲۰۰۸ وکتل شو).

[5] هیومن رایټس واچ، *ځان له کولپ شوي: په ګوانتانامو کې د قېد شرایط او ذهني روغتیا*، جون ۱۰، ۲۰۰۸، ۱٤.

[6] Global Security.org، "د ګوانتانامو ګډ ځواکونه." http://www.globalsecurity.org/military/agency/dod/jtf-gtmo.htm (په اګست ۲٤، ۲۰۰۸ وکتل شو)؛ فیلف سېنډز، *د تشدد ډله، د رمسفیلډ یادانښت او د امریکایي اقدارو سره دوکه* (نیو یارک: پالګرېو ماکلین، ۲۰۰۸)، ۳۷.

[7] جېمز یي، *د خدای او وطن لپاره: عقیده او وطنپالنه په اور کې* (نیو یارک: پبلیک افیئرز، ۲۰۰۵)، ۵۵.

[8] فیلف زیمبارډو، *ابلیسي اغېز: په دې پوهېدل چې څنګه ښه خلک په بدو اوړي* (نیو یارک: رانډم هاوس، ۲۰۰۷)، ٤۱٤.

[9] د نیویارکر یو خبریال جېن مایر چې په پي بي ایس [تلویزیون] یې حواله ورکړای شوې، "د تشدد یوه پوښتنه،" *فرنټ لاین*، اکتوبر ۱۸، ۲۰۰۵.

[10] وګورئ الیکس ګینبي (رئیس)، تیارۀ اړخ ته ورتګ (۲۰۰٦)، ډاکومنټري فیلم (نقل يې د برکلی د کالیفورنیا پوهنتون د بشري حقوقو د مرکز، او د برکلی د کالیفورنیا پوهنتون د نړیوالو حقوقو د قانوني کتنځي سره شته).

[11] د پوځ محکمه، د ۸۰۰ *نظامي پولیسو د ډلې د تحقیق ۱۵-٦ ماده*، مئ ۲، ۲۰۰٤، ۸-۹.

[12] کاتهلین ټي. ریم، "ګوانتانامو کې قېدیان په ډول ډول شرایطو کې ژوند کوي،" *امریکن فورسز پریس سرویس*، فبروري ۱٦، ۲۰۰۵؛ د کمپ ډیلټا د کار معیاري چارې (مارچ۱، ۲۰۰٤) § ۸-۷(a) [تر دې وروسته ۲۰۰٤ ایس او پي].

[13] ریم، "ګوانتانامو کې قېدیان په ډول ډول شرایطو کې ژوند کوي؛ ۲۰۰٤ ایس او پي، § ۸-۷(٤).

[14] ایس او پي، § ۸-۷.

[15] په مئ ۲۰۰٤ کې د هغه مهال د امریکایي پوځونو د ګډې قوماندې قوماندان جنرال لانس ایل. سمیتهـ د سنا یوې غونډې ته وضاحت وکړ چې د پلټنو هغه شل تخنیکونه چې میلر يې په ګوانتانامو ټاپو کې اجازه ورکړې وه وروسته پرې په عراق کې بندیز ولګول شو، ځکه چې، د ګوانتانامو برعکس، هلته قېدیانو ته د ژنیوا د تړونونو سره سم تحفظ ورکړل شوی و. وګورئ ډاوېډ روز، "هغوی زه د یو ځناور په څېر وتړلم او بیا يې لتې راکول شروع کړل،" *دي ابزرور*، مئ ۲۷، ۲۰۰٤.

[16] د سرۀ صلیب نړیواله کمېټه، د ۱۲ *اګست، ۱۹٤۹ ژنیوا تړونونه، لومړنۍ څرګندونې*، ۱۲، ترلاسه کېدای شي په http://www.icrc.org/Web/eng/siteeng0.nsf/htmlall/57JNJG?OpenDocument&View=defaultBody&style=custo print (په ۳ اکتوبر، ۲۰۰۸ وکتل شو). دا تړونونه په جګړه کې د ښکېلو غاړو نه غوښتنه کوي چې په جنګیالیو او ملکي وګړو کې دې توپیر وکړي. هغو جنګیالیو سره چلند چې په جګړه کې نیول شوي د ژنیوا په درېم تړون کې بحث شوی دی. د سرۀ صلیب نړیواله کمېټه، *تړون (III) جنګي قېدیانو سره د چلند په اړه. ژنیوا ۱۲ اګست ۱۹٤۹*، ترلاسه کېدای شي په http://www.icrc.org/ihl.nsf/7c4d08d9b287a42141256739003e63bb/6fef854a3517b75ac125641e004a9e68 (په اکتوبر ۳، ۲۰۰۸ وکتل شو). ملکي وګړو سره د چلند په

اړه د ژنیوا څلورم تړون دی. د سرهٔ صلیب نړیواله کمېټه، تړون (IV) د جګړې په وخت کې د ملکي خلکو د تحفظ په تړاو، ۱۲ اګست، ۱۹٤۹، ترلاسه کېدای شي په http://www.icrc.org/ihl.nsf/385ec082b509e76c4125673 9003e636d/6756482d86146898c125641e004aa3c5 (په اکتوبر ۳، ۲۰۰۸ وکتل شو). ملکي وګړو او هغو جنګیالیو چې وسلې یې غورځولې وي سره باید انساني چلند وشي. همدا، درېمه ماده.

[17] د ژنیوا تړون III، ماده ۳، ۱۷، ۹۹.

[18] وګورئ د *ولسمشر جارج ډبلیو. بوش یادابنت*، فبروري ۷، ۲۰۰۲، بیا خپور شو په جمیل جعفر او ارمیت سنګهـ، *د ظلم اداره: د واشنګټن څخه تر ابوغریب او ورهاخوا ډاکومنټري ریکارډ* (نیو یارک: کولمبیا یونیورسټي پرېس، ۲۰۰٦) ای٦، چې ترلاسه کېدای شي په http://www.pegc.us.archive/White House/bush memo 20 020207 ed.pdf (په جولای ۱۵، ۲۰۰۸ وکتل شو).

[19] همدان په مقابله د رمسفیلډ، ۵٤۸ متحده ایالات ۵۵۷، ترلاسه کېدای شي په http://www.supremecourtus.gov/opinions/05pdf/05-184.pdf (په جولای ۱۵، ۲۰۰۸ وکتل شو).

[20] په *"بېرته د ګوانتانامو ټاپو مرافعه"*، لمبر ۱-۰۵-سي وي-۰۱۵۰۹-یو این ای (ډي.ډي.سي ۲۰۰۸) کې، د یادابنت نظر د عارضي بندېز د امر لپاره د درخواست ورکوونکي درخواست ردوي او د ابتدایي امتناعي حکم لپاره د درخواست ورکوونکي درخواست ردوي.

[21] د کمپ ډیلټا معیاري عملیاتي پروسه (مارچ ۲۸، ۲۰۰۳)؛ ۲۰۰٤ ایس او پي. ځینې نور معیاري نصابونه پوځ جاري کړي، خو ډېر زیات شیان ترې ویستل شوي دي. یوه بېلګه هغه معیاري نصاب دی چې په اړه کې د طبي اسانتیاو په اړه بحث کوي. وګورئ د کیوبا د ګوانتانامو ټاپو د قېدیانو د روغتون عملیاتي پروسې (ایس او پیز)، ترلاسه کېدای شي په http://www.dod.mil/pubs/foi/detainees/GITMO Medical SOPs.pdf (په سپتمبر ۱۳، ۲۰۰۸ وکتل شو).

[22] ایس او پي، § ٤-۲۰.

[23] ویلیم گلېبرسن، "د سرهٔ صلیب مبصرین د گوانتانامو نه منع کړای شول،" *نیو یارک ټایمز*، نومبر ١٦، ٢٠٠٧، ترلاسه کېدای شي په http://www.nytimes.com/2007/11/16/washington/16gitmo.html?_r=1&oref=slogin&ref=world&adxnnlx=1195330242-K/tH1ClxRqCZd%20GtREMw%20A&pagewanted=print (په اگست ١، ٢٠٠٨ وکتل شو).

[24] Globalsecurity.org، گوانتانامو ټاپو - ایکسری کمپ، http://www.globalsecurity.org/military/facility/Guantánamo-bay_x-ray.htm (په اگست ٢٥، ٢٠٠٨ وکتل شو).

[25] عمر العکاد، "مونږ دلته بندیان نلرو،" *گلوب اېنډ مېل*، اپرېل ١٩، ٢٠٠٨.

[26] "د گوانتانامو نوی زندان،" *بي بي سي نیوز*، اپرېل ٣٠، ٢٠٠٢، ترلاسه کېدای شي په http://news.bbc.co.uk/2/hi/americas/1960154.stm (په اگست ٢٥، ٢٠٠٨ وکتل شو).

[27] ویل کېږي چې په کمپ ایکو کې قېدیانو د ورځې درویشت یا څلیرویشت ساعته په ځانله قېدکوټو کې په داسې حال کې تېرول په پرله پسې توگه به ورته سترگې پړقوونکې رڼا لگېدلې وه. کمپ ایکو په ٢٠٠٤ کې وتړل شو، خو ویل کېږي چې د هغو قېدیانو د ساتلو لپاره بیا خلاص شو چې "د څلورم لمبر کمپ په شریک جوړښت کې د ساتلو لپاره نامناسب" گڼل کېدل. هیومن رایټس واچ، *ځانله کولپ شوي: په گوانتانامو کې د قېد شرایط او دماغي روغتیا*، جون ١٠، ٢٠٠٨، ١٤. د کمپ ډیلټا دروازې د سیخانو په داسې تمبو بدلې کړای شوې چې دننه پکې یو څه طبعي رڼا تلله. وگورئ ایمنسټي انټرنېشنل، *ظالمانه او غېر انساني: په گوانتانامو ټاپو کې د قېدیانو د یواځې کولو شرایط*، اپرېل ٥، ٢٠٠٧، ٨. په مئ ٢٠٠٨ کې اندازتاً پنځه ویشت قېدیان په کمپ ایکو کې اچول شوي وو. هیومن رایټس واچ، *ځانله کولپ شوي*، ١٤.

[28] هیومن رایټس واچ په یو راپور کې ویلي چې په مئ ٢٠٠٨ کې اندازتاً شپږ قېدیان په درېیم لمبر کمپ کې اچول شوي وو. هیومن رایټس واچ، *ځانله کولپ شوي*، ٩.

[29] داسې ښکاري چې دویم لمبر کمپ تړل شوی وي. وگورئ هیومن رایټس واچ، *ځانله کولپ شوي*.

[30] کارول جی. ویلیمز، "نوي تحرکات د ګوانتانامو د قېدیانو په تعقیب کې،" *لاس انجلز ټایمز*، اګست ۳، ۲۰۰۸؛ "د ګوانتانامو ټاپو دننه،" *بي بي سي نیوز*، ترلاسه کېدای شي په http://news.bbc.co.uk/2/shared/spl/hi/guides/457000/457023/html/nn2page1.stm (په اګست ۲۵، ۲۰۰۸ وکتل شو).

[31] Globalsecurity.org، "ګوانتانامو ټاپو، کمپ ډیلټا،" http://www.globalsecurity.org/military/facility/Guantánamo-bay delta.htm (په اګست ۲۵، ۲۰۰۸ وکتل شو)؛ "د ګوانتانامو ټاپو دننه،" *بي بي سي نیوز*. دې قېدیانو ته داسې پردې ورکړای شوې دي چې د هغو رڼاګانو نه پرې ځانونه پناه کړي کومې چې شپه ورځ هر وخت بلېږي. دوی یو داسې صنف ته لاسرسی لري چې څه لاربښودنې ورته کېږي او د هر مېز پښې پکې ځمکې سره په زنځیرونو تړل شوې دي. بهر ترېنه د باسکټ بال یو جال او په خاورو کې د فوټبال یو سخت مېدان دی. العکاد، "مونږ دلته بندیان نلرو."

[32] وګورئ هیومن رایټس واچ، *ځان له کولپ شوي*، ۱۷-۲۳. په مئ ۲۰۰۸ کې د ترلاسه شویو معلوماتو له مخې، د ګوانتانامو تقریباً شپېته فیصده قېدیان په پنځم او شپږم لمبر کمپونو کې وو. پنځم لمبر کمپ چې د ۲۰۰٤ په پای کې یې د جوړېدو کار پوره شوی، تر سلو زیات د ځانله ساتلو خونې لري، چې رڼاګانې پکې څلیرویشت ساعته بلې ساتل کېږي. قېدخانې یې یو کټ او یو اوسپنیز کیناراب لري. په دېوال کې د واسکټ زوړندولو مېخ شته، خو که یو څو کیلو وزن پرې ورواچول شي نو د سویچ مېخ په څېر راپرېوځي، دا د دې لپاره چې قېدیان پرې چېرې ځانونه اعدام نه کړي. د خړې ښېښې والا کړکۍ له څه طبعي رڼا دننه پرېږدي خو بهر ترې نشي کتل کېدای. قېدیان هره ورځ د دوو ساعتو نه زیات "تفریح" ته نه پرېښودل کېږي. شپږم لمبر کمپ په دسمبر ۲۰۰٦ کې پرانیستل شو. د دې په قېدکوټو کې قېدیان له تر لږه دوه ویشت ساعته ساتل کېږي او د تفریح لپاره ځانله یوې بلې کوټې ته ځي چې اوچت کنکریټي دېوالونه لري او د پاسه پرې د اوسپنې جال لګېدلی وي. کوم قېدیان چې د قېدکوټو په دروازو کې په هغو سورو کې چې ډوډۍ پرې ورکول کېږي یو بل ته نارې وهي

ښايي د انتظامي اقدام سره مخ شي. وګورئ ایمنسټي انټرنېشنل، *ظالمانه او غېر انساني*، ٥. د ایمنسټي انټرنېشنل له مخې په دې کمپ کې ځانله قېد ډېر سخت دی: "په شپږم کمپ کې د انساني تماس نشتوالی د فعالیت په نورو پروسو پوره کولای شي. د قېدکوټو دروازې په ریموټ کنټرول کار کوي، او هغه ساتونکي چې قېدیان ورزش ته بوځي راولي پېږې دستانې يې اغوستې وي.... راپورونه وايي چې ساتونکي قېدیانو سره د دغه ډول تماس پر مهال زیاتره وخت غلي وي. قېدیان چې هرکله هم د قېدکوټې نه بهر وړل کېږي نو په زنځیرونو کې وي. څارنوالانو سره د دوی لیدنې په یوه وړه، بې کړکۍ کوټه کې ترسره کېږي، او ویل کېږي چې د دې لیدنو پر مهال قېدیان په ځمکه په زنځیرونو تړل شوي وي." ایمنسټي انټرنېشنل، *ظالمانه او غېر انساني*، ٥. هغو څارنوالانو چې د دې څېړنې لپاره ورسره مرکې شوي وویل چې په پنځم او شپږم لمبر کمپونو کې د دوی د مؤکلینو دماغي حالت ښه نه و او په دې وجه د هغوی لپاره ګرانه وه چې په قانوني قضیو کې په اغېزمنه توګه برخه واخلي. ویل کېږي چې پوځ پلان لري چې د دې بندېزونو نه ځینې اسان کړي او هغو بندیانو ته چې تابعداري کوي اجازه ورکړي چې لیدنې او ورزش په شریکه وکړي. ویلیمز، نوي تحرکات د ګوانتانامو د قېدیانو په تعقیب کې."

[33] ویلیمز، نوي تحرکات د ګوانتانامو د قېدیانو په تعقیب کې؛"هیومن رایټس واچ، *ځانله کولپ شوي*، ۲٤-٤٠.

[34] وګورئ هیومن رایټس واچ، *ځانله کولپ شوي*، ١٤.

[35] "د ګوانتانامو د قېدیانو پرېشاني،" *بي بي سي نیوز*، اګست ۲۳، ۲۰۰۳، ترلاسه کېدای شي په http://news.bbc.co.uk/2/hi/americas/3175501.stm (په اګست ۲٥، ۲۰۰۸ وکتل شو).

[36] وګورئ په څلورم باب کې "د صحیح طریقې نشتوالی او ناتشریح قانوني حېثیت" برخه.

[37] د امریکې د دفاع محکمه، "د هغو اشخاصو لیست چې د دفاع د محکمې لخوا د کیوبا په ګوانتانامو ټاپو کې نیول شوي دي،" د ایيني حقوقو د مرکز لخوا تازه (update) شوی. د ۷۷۸ اوسنیو او پخوانیو بندیانو څخه اکثریت چې پېژندل شوي د افغانستان (۲۲۱)، سعودي عربیه (١٤٠)، یمن (١١٠)، پاکستان (۷٠)، الجزایر (۲٦)، چین (۲۲)، یا مراکش

(۱۵) تابعیت لرونکي دي. د بل کوم هېواد تر پنځلسو زیات وګړي ندي پکې راغلي.

[38] د بېلګې په توګه، هغه ٦٢ تنه چې مرکې ورسره شوي، درېمه برخه (۲۰تنه) يې بې سواده وو او بلې درېمې برخې (۲۰ تنو) يې ثانوي ښوونځی ويلی و. له تر لږه پنځو تنو پکې د ثانوي ښوونځي نه زیاتې زده کړې لرلې. په داسې حال کې چې ټول مسلمانان وو، لسو پکې وويل چې مذهبي چارې يې اوس اوس پېل کړې دي. د قېديانو ترمنځ د ژبو تنوع پراخ و. د نيمو نه زياتو (۳۲تنو) پښتو ويله؛ يواځې دولسو تنو وويل چې په عربۍ ازادې خبرې کولای شي او نهو نورو وويل چې په انګليسي پوره پوهېږي (لسو نورو وويل چې په انګليسي "لږ څه" خبرې کولای شي."

[39] Globalsecurity.org، "د ګوانتانامو ګډ ځواک،" http://www.globalsecurity.org/military/agency/dod/jtf-gtmo.htm (په اګست ۲۵، ۲۰۰۸ وکتل شو).

[40] ايروينګ ګوفمېن، *پناه اخيستل: د ذهني مريضانو او نورو قېديانو د ټولنيز حالت په اړه ليکنې* (نيو يارک: اينکر بکز، ۱۹٦۱)، ۷؛ همدارازوګورئ د سټينفورډ د زندان تجربه، http://www.prisonexp.org (په اګست ۲۵، ۲۰۰۸ وکتل شو).

[41] ۲۰۰٤ ايس او پي §٦-۲۱(a): "پوځي او ملکي کارکوونکي به قېديانو ته د هغوی د قېدکوټې په لمبر غږ کوي."

[42] هغې دا هم وويل چې کله ساتونکو د قېديانو ترمنځ توپير کول پېل کړل نو چلند يې "نرم" شو.

[43] ګوفمېن، *پناه اخيستل*، ۹٤.

[44] ۲۰۰٤ ايس او پي §۱-۷(۷).

[45] *قېديانو سره د چلند د قواعدو معيار* ٤۲مه ماده وايي چې "څومره چې ممکنه وي، هر قېدي ته بايد اجازه ورکړای شي چې د خپل مذهبي ژوند د اطمينان لپاره هغه خدمتونه ترلاسه کړي چې په اساسي قانون کې اجازه ورکړای شوې ده او د خپل مذهبي کتابونه او د ارزښت وړ لارښودنې ځان سره وساتي." دا معيارونه د جرمونو د مخنيوي او مجرمانو سره د چلند په اړه په لومړنۍ غونډه کې منل شوي وو چې په ۱۹۵۵ کې په ژنيوا کې شوې وه، او د اقتصادي او ټولنيزې شورا لخوا په قرارداد ٦٦۳ سي (XXIV) جولای ۳۱، ۱۹۵۷ او ۲۰۷٦ (LXII) مئ ۱۳، ۱۹۷۷ کې منظور شول. د

دې قواعدو یو نقل په http://www.unhcr.ch/html/menu3/b/h comp34.htm ترلاسه کېدای شي (په اگست ۲۵، ۲۰۰۸ وکتل شو).

46 ژنیوا تړون IV، ماده ۳٤.

47 ۲۰۰٤ ایس او پي §۱٦-۱٤.

48 ۲۰۰٤ ایس او پي §٦-٤.

49 په دې معلوماتغونډ کې گوانتانامو څخه د خوشې شویو ۲۱۹ بندیانو په اړه د اوو غټو خبري ادارو ۱۲۱۵ راپورونه دي چې د جنوري ۱، ۲۰۰۲ او دسمبر ۳۱، ۲۰۰٦ ترمنځ خپاره شوي دي. د دې معلوماتغونډ د طریقه کار او ورسره د قېدیانو د معلوماتو د کتلو لپاره وگورئ لومړی باب. د رسنیو په دغه معلوماتغونډ کې د ۲۱۹ پخوانیو قېدیانو څخه څوارلسو (شپږ فیصده) لږ تر لږه یوې غټې خبري سرچینې ته د معلوماتو د ورکولو پر مهال ویلي چې په گوانتانامو کې ساتونکو د دوی لپاره د لمانځه په ادا کولو کې مشکلات پېدا کول.

50 د امریکا د انصاف محکمه، د جنرال انسپکټر دفتر، *په گوانتانامو ټاپو، افغانستان او عراق کې د قېدیانو په پلټنه کې د ایف بي ایي گډون او نگرانۍ ته یوه کتنه*، مئ ۲۰۰۸ [تر دې وروسته او ایي جي/ډي او جی راپور]، ترلاسه کېدای شي په http://www.dodig.osd.mil/fo/Foia/ERR/06-INTEL-10-PublicRelease.pdf (په اگست ۲۲، ۲۰۰۸ وکتل شو). دا راپور وایي چې د ایف بي ایي دوو اجنټانو د پلټنو پر مهال قران سره تحقیري چلند نېغ په نېغه لیدلی دی. پر دې برسېره، د ایف بي ایي ۳۱ اجنټانو ویل چې دوی د پلټنو د ځایونو نه بهر، د بېلگې په توگه د قېدکوټو د تلاشۍ پر مهال، قران سره د ناوړه چلند د تورونو نه خبر دي. همدا، ۱۸۷-۸۸.

51 یي، *د خدای او وطن لپاره*.

52 همدا، ۱۱۰-۱۲.

53 همدا، ۱۱۵-۱۱٦.

54 *شینا خبري اژانس*، "د گوانتانامو پخواني پاکستاني قېدي د امریکا خلاف قانوني جگړې گټلو ته هیله من دی،" جولای ۲۰، ۲۰۰۳.

55 "گوانتانامو ټاپو: څرگندونې،" *بي بي سي*، مارچ ٤، ۲۰۰٦، ترلاسه کېدای شي په

(په http://news.bbc.co.uk/2/hi/americas/4773396.stm اگست ۲۶، ۲۰۰۸ وکتل شو).

[56] کریسټوفر کوفر، "د نیولو پلان: په ګوانتانامو کې، د ځنډ له امله د قیدیانو پریشاني، کوم قیدیان چې د خوشې کېدو انتظار کوي بې یقینۍ نیولي دي،" *وال سټریټ جرنال*، جنوري ۲۶، ۲۰۰۵.

[57] لېري سي. جېمز (په ملګرتیا د ګریګوري ای. فریمېن)، *جوړ شوی دوزخ: یو پوځي ارواپوه ابو غریب ته ځامخ کېږي* (نیو یارک: ګرانډ سنټرل پبلشنګ، ۲۰۰۸)، ۵۷.

[58] پوځي ارواپوه لېري جېمز په خپل کتاب *جوړ شوی دوزخ* کې د یو پلټونکي سره د یوې مباحثې ذکر کوي چې هغه پکې دی تشویقوي چې د یو قېدي د زیاتې همکارۍ لپاره د ساتونکو سره یو ځای کار وکړي. همدا، ۶۰-۶۲.

[59] د پوځ د محکمې مرکزي دفتر، *ایف ایم ۳۴-۵۲، استخباراتي پلټنه* (سپتمبر ۱۹۹۲)، باب ۸ [تر دې وروسته ایف ایم ۳۴-۵۲] (د علاج او سرچینو په اړه د ژنیوا د تړونونو د اطاعت غوښتنه کوي)؛ د پوځ د محکمې مرکزي دفتر، ایف ایم ۲-۲۲,۳ (ایف ایم ۳۴-۵۲)، *د انساني معلوماتو د راټولولو عملیات* (سپتمبر ۲۰۰۶) §۵-۷۵ [تر دې وروسته ایف ایم ۲-۲۲,۳] ("د [پلټنو] د اقداماتو د ممانعتونو" تفصیل ورکوي؛ ایف بي ایي راپور، ۵۹، ۶۳.

[60] وګورئ ایم. ګریګ بلوچی او جوناتهن ایچ. مارکس، "ډاکټران او پلټونکي په ګوانتانامو ټاپو کې،" *نیو انګلینډ جرنال اف مېډیسن*، ۳۵۳ (۲۰۰۵): ۶-۸.

[61] جېمز، *جوړ شوی دوزخ*، ۳۹.

[62] همدا، ۷۲.

[63] بلوچی او مارکس، "ډاکټران او پلټونکي په ګوانتانامو ټاپو کې."

[64] همدا.

[65] همدا. بلوچی او مارکس لیکي: په مئ ۲۰۰۴ کې د پوځ د طبي قوماندې په یو یادښت کې د قیدیانو د روغتیایي حالت مسوولینو ته لارښودنه شوې چې "د طبي ریکارډ نه د اړوندو اقتباساتو تشریح" د "پلټنې په پروسه کې د مرستې" لپاره ورکړي. هغه یادښت چې مونږ ته د پوځ د سرچینو لخوا راکړل شوی د دې غېر معالجوي رول ذکر کوي، په دې مېدان کې د کارکوونکو روغتیایي مسلکیانو څخه غوښتنه کوي چې د بېړني حالت څخه پرته د قیدیانو د علاج

نه ځان بچ وساتي." د بخښنې د نړيوالې اداري يا ايمنسټي انټرنېشنل له مخې، "داسې اعمال د نړيوالو معيارونو يوه ناوړه خلاف ورزي ده او وايي چې دا د روغتيايي کارکوونکو د طبي اخلاقو نقض دی چې قېديانو سره په يو داسې مسلکي تعلق کې پرېوځي د کوم يواځينی مقصد چې د هغوی د جسماني يا ذهني صحت اندازه لګول، تحفظ او ښه کول نه وي." ايمنسټي انټرنېشنل، *ظالمانه او غېر انساني*، ۲۳. همداراز وګورئ د *تشدد او نورو ظالمانه، غېر انساني او تحقيري چلند او سزا نه د قېديانو د تحفظ په لړ کې د روغتيايي پرسونل، په ځانګړې توګه د معالجينو، د رول په اړه د ملګرو ملتونو عمده طبي اصول* (عمومي شورا په قرارداد ۱۹٤/۳۷ په ۱۸ دسمبر ۱۹۸۲ کې تصويب کړي).

[66] جېن ماير، *تياره اړخ: داخلي کيسه چې څنګه د تروريزم په وړاندې جګړه د امريکې د غوره اهدافو پر ضد جګړه بدله شوه* (نيو يارك: ډبل ډی، ۲۰۰۸)، ۲۱۰.

[67] وګورئ د اخلاقي او عدالتي چارو په اړه د امريکن مېډيکل ايسوسي ايشن کونسل، د *قېديانو د پلټنو په اړه بيان* (جولای ۷، ۲۰۰٦)، ترلاسه کېدای شي په http://pn.psychiatryonline.org/cgi/content/full/41/13/4-a (په جولای ۳۰، ۲۰۰۸ وکتل شو). د امريکن مېډيکل ايسوسي ايشن بيان وايي: "معالجين دې نه پلټنې وکړي نه دې پکې نېغ په نېغه برخه واخلي، ځکه چې د معالج-پلټونکي رول د يو رغوونکي په توګه د معالج رول کمزوری کوي او لدې امله په معالج-پلټونکي او د طب مسلك دواړو باندې باور کموي. معالجين بايد په طريقه کار کې د مداخلې په نيت د پلټنو نګراني ونکړي، ځکه چې دا په پلټنه کې نېغ په نېغه مداخله جوړوي. معالجين ښايي د پلټنو په هغو اغېزمنو ستراتيژيو کې ګډون وکړي چې جبري ندي بلکې انساني دي او د فرد د حقوقو درناوی کوي." همداراز وګورئ امريکن سايکاټريك ايسوسي ايشن، د *بنديانو په پلټنه کې د اروايوه ګډون*، می ۲۱، ۲۰۰٦، ترلاسه کېدای شي په http://pn.psychiatryonline.org/cgi/content/full/41/13/4-b (په جولای ۳۰، ۲۰۰۸ وکتل شو). د امريکن سايکاټريك ايسوسي ايشن قرارداد وايي: "هيڅ يو اروايوه بايد نېغ په نېغه د هغو کسانو څخه په پلټنه کې ګډون

ونکړي چې د نظامي یا ملکي استخباراتي یا قانون نافذوونکو چاروکو په قېد کې دي، که په متحده ایالاتو کې وي او که بل چېرته. نېغ په نېغه ګډون کې د پلټنې په خونه کې موجودګي، د سوالونو پوښتل یا وړاندې کول، یا چاروکو ته د خاصو قېدیانو د پلټنې لپاره د مشخصو تخنیکونو د استعمال مشوره ورکول، شامل دي. خو، اروا پوهان ښايي د هغو کسانو د پېژندلو او فعالولو چې دماغي مریضتیا ولري په اړه نظامي یا ملکي استخباراتي یا قانون نافذوونکو چاروکو ته روزنه ورکړي، او یا د خاصو بندیانو څخه د پلټنې او د هغوی د حالت په اړه، او یا د هغوی د مسلکي مهارت دننه په نورو ځایونو کې، چاروکو ته د ځانګړیو تخنیکونو د طبي او اروايي اغېز په اړه مشوره ورکړي."

